
بسم الله الرحمن الرحيم

شیخ زاید پوهنتون

شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

د شیخ زاید پوهنتون علمي ـ څېړنیزه درې‌میاشتینۍ خپرونه

(ټولنیز او طبیعي علوم)

د ۱۴۰۵ل (۱۴۴۸ ق) کال لومړۍ گڼه، غبرګولی ــ پرله‌پسې ۴۲مه گڼه

۴۲

شیخ زاید پوهنتون

علمي څېړنو معاونیت

علمي مجلې آمریت

علمي مجلې عمومي مدیریت

د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون

مسؤول مدیر: پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب

علمي مجلې ډیزاین مدیر: نورمحمد انقلابي

علمي مجلې سمونګر مدیر: بخت الله ریحان

برېښنالیک: journals@szu.edu.af

کتنپلاوی	
پوهاند زرولي صدیقي	ټولنیزو علومو پوهنځی
پوهاند عبدالخلیل اقغاني	کرنې پوهنځی
پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب	ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پوهنوال محمد شفیق مندوزی	حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
پوهنوال محمد الله مندوزی	حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
پوهنوال عبدالتواب عزیزي	ښوونې او روزنې پوهنځی
پوهنوال امان الله خُدرانِ	حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
پوهنوال شفیع ګل شفیقي	کرنې پوهنځی
پوهنوال صالح خان صالح	کمپیوټر ساینس پوهنځی
پوهنوال سید کمال شاه بنوري	شرعیاتو پوهنځی
پوهنوال نقیب الله عطیش	ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی
پوهندوی ګوهرشاه ګوهري	کمپیوټر ساینس پوهنځی
پوهندوی غازي جان محمدي	ښوونې او روزنې پوهنځی

پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان

۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱۶۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷

د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او ځانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۲) سايز کې برېښنالیک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو له‌پاره دې (**SMART**) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟
- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې له امانتداری او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري لينديو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر

دې (۴۰۰۰ - ٦۰۰۰) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو او دری متن لەپاره (۱۲ **Bahij Zar**) (۱۲ساده)، فونټ، د عربي متن لەپاره (**Traditional Arabic**) (۱۲بولډ) او د انګلیسي متن لەپاره دې (**Time New Roman**) (۱۰ ساده) فونټونه وکارول شي.

- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه باید مشخصې مرجع ته وي او د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (**Abstract**) د لیک سایز دې (۱۰) ټایم رومان وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (**Abstract**) لاندې دې (**Key Words**) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (**Abstract**) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، ځانګه، برېښنالیک او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له پنځلسو (۱۵) کم نه وي، د ټولنیزو علومو مأخذونه دې د (**APA style**) کې او د طبیعي علومو مأخذونه دې د (**Vancouver Style**) کې راوړل شي.

ټولنيز علوم			
ګڼه	سرليکونه	ليکوال	مخګڼه
۱	د افغانستان او چين د تاريخي اړيکو لنډه مطالعه، پرتلنه، اغېز او اړتياوې	پوهاند زرولي صديقي پوهنمل حکمت الله سايل	۱
۲	د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلماتو استعمال	پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب پوهاند پښتون اقا شيرزاد	۱۵
۳	د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه	پوهنوال امان الله حُدرانِ	۳۱
۴	د اسلام له نظره د ټولنيزو ارتباطاتو اصول او ارزښتونه	پوهندوی فاروق جان منګل	۴۹
۵	د اپېسټېنزم نړيوالې دجالي شبکې فعاليتونو ته يوه کتنه	پوهندوی دکتور احمد جاوید شکیب	٦۳
٦	شريعت او سياست د الهي قانون او بشري اداري ترمنځ اړيکه او توازن	پوهندوی دکتور مفتي عزت نور	۸۵
۷	بررسی چند شاخصه خشکسالی در شمال افغانستان با استفاده از داده‌های ماهواره‌ای (۲۰۲۳-۲۰۰۰) مطالعه موردی ولایات بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان	پوهنمل عصمت الله سمیع الله خاکسار	۹۹
۸	د محصلينو پر ذهني روغتيا د ټولنيزو رسنيو اغېزې	پوهنمل دوکتور احسان الله احسان	۱۲۱
۹	په افغانستان کې د ډالري اقتصاد ستونزې او تشويشونه: لاملونه، اغېزې، او د کمولو لپاره يې عملي تګلارې	پوهنمل ګل ولي محمدزی پوهنيار شفيع الله سلطانزی	۱۴۳
۱۰	د حنفي فقهې له نظره د نفقې د وجوب او سقوط حالتونه	پوهنيار رباني وحدت	۱۵۷
۱۱	د عربي او پښتو ادب لنډې کيسې پرتليزه څېړنه	پوهنيار مسيح الله محب پوهنيار عبدالرشيد رشيد	۱۷۱
۱۲	د هېوادنۍ مېنې بنسټونه د اسلامي شريعت په رڼا کې	پوهنيار حبيب الرحمن حبيبي	۱۸۷
۱۳	په معاصر اقتصاد کې د انرژۍ بحران د کمښت عوامل او د اغېزو مديريت	پوهنيار توريالی سنګين	۲۰۳
۱۴	نقش رهبری در سازمان های اموزشي	پوهنيار شاه ولی محمدی	۲۱۹
۱۵	د خلفای راشدينو په دور کې له غير مسلمو اقليتونو سره تعامل	نوماند پوهنيار شاهين الله اميرزی	۲۳۹
۱٦	په حُينو روغتيايي احکامو کې د لا ضرر ولا ضرار فقهي قاعدې تطبيقات	نوماند پوهنيار شاهين الله اميرزی	۲۵۳
۱۷	د زيړوک ولسوالۍ د زده کوونکو د زده کړې پر کيفيت د تغذيوي وضعيت اغېزو څېړنه	مجيد هځاند	۲۷۱

طبيعي علوم			
۱۸	د انسان په بد ن کې د سود یم مرکباتو اهمیت	پوهنوال امرالله اصفي	۲۸۱
۱۹	په بربښنایي وسایلو باندې د ساکنې بربښنا اغېزې او د هغې د مخنیوي لارې چارې څېړل	پوهندوی توریالی همدرد	۲۹۹
۲۰	د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ د اړیکو څېړل	پوهندوی احسان االله همتي	۲۱۳
۲۱	د غنمو د لوڅ تورکي پېژندنه او هر اړخیز مدیریت	پوهنمل عبدالعزیز وزیري نامزد پوهنیار محمدرضا خوستی	۳۳۵

د افغانستان او چين د تاريخي اړيکو لنډه مطالعه، پرتلنه، اغېز او اړتياوې

پوهاند زرولي صديقي او پوهنمل حکمت الله سايل، شيخ زايد پوهنتون،ټولنيزوعلومو پوهنځی، تاريخ څانګه.
برېښنالیک:zarwalisediqi@gmail.com

لنډيز

د تاريخ په اوږدو کې افغانستان د چين له هېواد سره له ډېرې پخوا زمانې راهيسې اړيکې پاللې دي، چې مهال يې په افغانستان کې تر کوشانيانو او په چين کې د هان تر واکمنۍ رسيږي. په همدې اساس د دې څېړنې موخه د افغانستان او چين ترمنځ د اړيکو د بهير روښانه کول او د اوسني وضعيت سره د هغې پرتلنه ده؛ ځکه په لرغوني دوره کې د چين او افغانستان اړيکې د وريښمو د لار له طريقه پالل شوي او په منځنيو پېړيو کې هم دغه اړيکو دوام درلود؛ خو په معاصره دوره کې بيا له بېلابېلو پراوونو څخه په تېريدو تر اوس مهال رسيدلي دا چې اسلامي امارت يو پلا بيا واک ته ورسيده او امنيت د تېر په نسبت په يوځه ډاډمن دی؛ نو د نورو ګاونډيانو او د سيمې هېوادونو سره د دوه اړخيزو او متوازنو اړيکو اړتيا ده، چې د سوداګرۍ، سياست او ښه ګاونډيتوب په فضاء کې يو له بله سره پياوړې شي. په دې برخه کې په څانګړې توګه د چين هېواد ليوالتيا ته په کتو ډېره اړتيا ده، چې ياد بهير په کمال تدبر سره پرمخ ولاړې شي ؛ ځکه اوس مهال د افغانستان او چين ترمنځ اړيکو يوه نوې بڼه غوره کړې ده. له دې امله د تېرو دورو د اړيکو مطالعې ته په کتو اړينه ګڼل کېږي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې لا نږدې شي. د څېړنې ارزښت دا دی، چې د دواړو هېوادونو د اړيکو د دوامدارې اړتيا او اغېز په اړه علمي څېړنه وړاندې کوي.

کليدي کلمې: افغانستان، اغېز، تاريخي اړيکې، پرتلنه، چين، مطالعه

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم الحمدلله رب العالمین، والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

داچې د افغانستان او چین ترمنځ اړیکې اوږد تاریخ لري، چې په افغانستان کې کوشانیان او په چین کې د (هان) کورنۍ واکمنه وه. د دواړو هېوادنو ترمنځ یاده اوږده تاریخي پروسه په لرغونو، منځنیو او معاصرو دورو کې د دواړو هېوادونو له لورې پرمخ تللې ده؛ نو په همدې څېړنیزه علمي مقاله کې به د یادو دورو مطالعه، پرتلنه او اړتیاوې روښانه او هڅه به و شي، چې اوسنی اغېز یې هم څرګند شي.

د کوشانیانو پرمهال د چین سره د وریښمو لار د دواړو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي ډګر کې یو ځانګړې لرغونی مقام لري، چې په منځنیو او معاصرو پېړیو کې یې هم خپل اغېز ساتلی دی. یاد اغېز ته په کتو د دواړو هېوادونو لپاره اړینه ده، چې خپلې ملي اقتصادي پالیسۍ د خپل ځانګړې موقعیت څخه په استفاده د راتلونکو ټولنو په خیر او ګټه باندې وکاروي.

د افغانستان او چین ګاونډ او یو بل ته یو لړ اړتیاوې دا په ګوته کوي، چې د دواړو هېوادونو ګټه یو له بل سره په اندول ساتلو کې ده، چې له مخې یې اقتصادي موضوعات په بشپړ خپلواکۍ سره یوازې او یوازې په همدې اقتصادي محور و څرخیري او هغه خنډونه له منځه ولاړ شي، چې په دې اړه شتون لري.

د دې ترڅنګ جغرافیاوي عوامل هم د افغانستان او چین ترمنځ د ترانسپورت په برخه کې یو لوی خنډ دی؛ خو په تېر کې یاده ستونزه د سوداګریزو اړیکو مانع شوې نه ده. که اوس مهال له جدیدو امکاناتو کار واخیستل شي، ممکن ده، چې د چین د سینکیانګ ایالت به نېغ په نېغه د واخان دهلیز له لارې د افغانستان د بدخشان سره وصل شي او دا به په یویشتمه پېړۍ کې د دواړو هېوادونو لپاره یو نوی جغرافیاوي نوښت شي او په دې لار کې د خپلو اسلافو ستونزې ګالل به ورته یو الهام و اوسي.

ځکه د نن ورځې ټیکنالوژي او د چین وړتیا په دې باندې توانېدلی شي، چې د افغانستان سره یې تلل راتلل مستقیم شي او د واخان صعب العبوره لاره به د چین او افغانستان د تجارتي اموالو پرمخ له تېر سخت حالت څخه ووځي او د ننۍ نړۍ په امکاناتو سره به و رغول شي.

همدارنګه د افغانستان لپاره اړینه ده، چې د سوداګرۍ ترڅنګ د چین له زده کړو، اقتصادي نوښتونو او طبیعي زیرمو په استخراج کې د چین له نوو معلوماتو او تجربو څخه ګټه واخلي. داچې اسلامي امارت یو پلا بیا پر ګران هېواد افغانستان حاکمیت ترلاسه کړ د چین ګاونډي هېواد یې هم استقبال وکړ او خپلې دیپلوماتیکي

اړیکې یې ورسره ټینګې کړې او هم یې په خپل هېواد کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت استازو ته ورکړ.

داچې وړاندې هم ورته اشاره وشوه د افغانستان او چین ترمنځ اړیکې د یو پراخه تاریخ نوم دی او په دې اړه په ډیری معتبرو تاریخي سرچینو کې یاده موضوع په څرګند ډول لیدل کیږي لکه په تاریخ ګردیزي، د افغانستان لنډ تاریخ، افغانستان د تاریخ په تګلورې کې او د افغانستان پخوانی تاریخ کې ترې یادونه شوې ده.

داچې د هېوادونو سیاسي او اقتصادي اړیکې یو له بل سره مستقیم تړاو لري؛ نو په دې لیکنه کې به د دواړو هېوادونو د لرغونو او معاصرو اړیکو یو لنډ جاج واخیستل شي او هم به یې په راتلونکو مثبتو او منفي اغیزو یوه لنډه مطالعه او پرتلنه وشي او یاده موضوع به له ببلابېلو لید لورو و څېړل شي.

موخې

۱- د افغانستان او چین ترمنځ د لرغونې، منځنیو او معاصرو دورو د اړیکو اړونده معلوماتو ترلاسه کول.
۲- د افغانستان او چین ترمنځ د تېرو اړیکو او معاصرو اړیکو په پرتلنه پوهیدل.
۳- د افغانستان او چین ترمنځ تېرو اړیکو ته په کتو د اوس مهال اړتیا او د هغې د اغېز پېژندل.

کړنلاره او کار توکي

د دې علمي مقالې په ترتیب کې له معتبرو مسلکي او علمي کتابونو او سایټونو څخه استفاده شوې ده او اړونده مواد یې د کتابتوني څېړنې په بڼه راټول شوې او ترتیب شوې دي او هڅه شوې ده، چې په تاریخي لحاظ د تېرو دورو تعامل او اوسنیو شرایطو ته په کتو د راتلونکی مهال وړاندوینه وړاندې کړې.

په لرغونې دوره کې د افغانستان او چین اړیکې

د تاریخ په اوږدو کې ګران هېواد افغانستان د چین د لرغونې او متمدن هېواد سره له ډیرې پخوا زمانې راهیسې د سیاحت، سوداګرۍ، کولتور او مذهبي برخو کې یو له بل سره اړیکې درلودې. ترکومه، چې په تاریخي متونو کې ثبت دي د (۷۰) م پرمهال یوچي خلک تر امو راپوریوتل او د تخاریانو په مرسته یې باختر ونیو، چې له مخې یې د یوچي او تخاریانو ترمنځ یو ډول ګډون راغی او یو پیاوړی نژاد ترې رامنځته شو، چې د (کوشي، کوشانګ او کوشان) نامتو ټبر یې جوړ کړ. د حبیبي په اند په پښتو او دري ژبو کې د (کوچي) کلمه د همدې ریښې استازیتوب کوي. چې له همدې وروسته د کوشان کلمې د یوچي کلمې ځای و نیوه(حبیبي، ۱۳۷۸ ل، ص. ۷۰).

دا یادونه په دې موخه وړاندې شوه، چې د چین او افغانستان ترمنځ اړیکې له هماغه وخته شروع شوې، که څه هم چې یوچې قبایل یا کوشانیان چینایان نه و؛ خو د چین د اړونده سیمو سره یې تړاو درلود او له هغه ځایه افغانستان ته راغلي دي او دلته یې بیا د ا فغانستان په تمدن کې هم پراخه او رغنده رول ولوباوه(خلیل، ۱۳۹۶ ل:ص ۲۰).

له دغه توکمیز اشتراکه د اریانا جغرافیې په خپله طبیعي غیږه کې د یوې پراخه او ستړې امپراطورۍ اساس کېښود، چې د افغانستان په تاریخ کې د لویو کوشانیانو په نوم سره یادیږي او زمونږ د هېواد لپاره د تاریخ یو ځلانده دوره ګڼل کیږي.

د کهزاد په باور کوشانیان پنځوس کاله تر میلاد وړاندې د کابل او کاپیسا سیمو ته داخل شول او د یونانیانو د وروستي پاچا ځای یې ونیوه او په باګرام کې یې د یوناني ښار ترځنګ یو ستر او پیاوړی نوی ښار جوړ کړ، چې بیا د لویو کوشانیانو د دوبي پلازمینه شوه او د دې ترځنګ یې پېښور او ګندهارا هم د خپلو مرکزونو په توګه سره کارولي دي او بیا له دې ځایونو څخه د شمال ختیځ په لور چیني ترکستان(سنکیانګ) او د ختیځ په لور د هند تر نیمې وچې تللي دي(کهزاد، ۱۳۷۹ ل:ص. ۱۳۸).

له دې ځایه ده، چې په اریانا کې میشتو کوشانیانو د چین د سنکیانګ ایالت د کوشانیانو سره راکړه ورکړه او یو غوره تعامل درلود.

غبار هم د کوشانیانو عظمت ته په اشاره سره وایې، چې کنشکا د (۱۲۰-۱۶۰م) کلونو پرمهال په شمال ختیځ کې چیني ترکستان(کاشغر، یارکند او ختن) نیولي او یو شمېر چینایي شهزادګان یې هم یرغمل کړي وو(غبار، ۱۳۶۶ ل، ص. ۵۰).

استاد کهزاد هم یاده موضوع تاییدوي او زیاتوي، چې د کوشاني لړۍ مشهور پاچا کنشکا د همدې یرغملو لپاره، چې یو شمېر شهزادګان هم پکې شامل وو، ځانګړې پاملرنه کوله او د دې لپاره، چې دوي په راحت او خوشحالۍ و اوسي د خپلې امپراطورۍ په غوره او د موسم له لحاظه په مناسبو ځایونو کې یې ساتل، چې دوبي یې په کاپیسا او کوهدامن، سپرلی او منی یې په ګندهارا او ژمی یې په پېښور کې تېراوه او په خپلو دوه پلازمینو بګرام او پېښور کې یې یادو یرغملو ته هم ځانګړې مجلل او ظریف هستوګنځي جوړ کړې وو(کهزاد، ۱۳۸۷ ل، ص. ۴۵۰).

که د غبار او کهزاد پورتنیو معلوماتو ته دقت وشي، څرګندیږي، چې کوشانیان هغه مهال د نظامي او سیاسي نفوذ له لحاظه له چین سره په یو انډول کې شمېرل کېدل او د خپل مهال یوه منل شوې واکمني وه.

همدا مهال یعنې دویمه میلادي پیړۍ کې د ډاډمن امنیت له مخې په سوداګرۍ او د هېوادونو ترمنځ د اړیکو په رامنځته کولو کې د پام وړ پرمختګ رامنځته شو او له مخې یې د وریښمو لار درې امپراطورۍ (روم، چین او اریانا)، چې دا وروستۍ یې کوشانیانو اداره کوله او د جیو اکانومي له امله یې د تماس د نقطې په توګه رول لوبوه او د نومیالي مؤرخ تاین بي په حواله د فرهنګونو او مدنیتونو د یوځای کولو ځلور لارې ګڼل کېده (ځدران، ۱۴۰۴ل، ص. ۲۸۴).

په دې اساس ځرګندیږي، چې کوشانیانو د خپلو هم مهاله امپراطوریو سره له خپل موقعیت ځخه د پام وړ ګته اخیسته او د هغوي سره یې د سوداګرۍ ترځنګ خپلې اړیکې هم پاللې؛ خو داچې سوداګریزې اړیکې زیاتې مهمې وې؛ نو په اقتصادي لحاظ د وریښمو لارې ترڅو پېړیو پورې پر اوسني افغانستان، سیمه او ګاونډ زیاتې مثبتې اغیزې درلودې.

د دې لارې تر ایجاد وروسته بیا د چین او افغانستان ترمنځ اړیکې دوامداره شوې او له مخې یې چینایي سیاحان د دوه وو موخو لپاره افغانستان ته راتلل:

یو دا چې خپله سیاسي استازولي یې ترسره کوله او بل بودایي راهبان وو، چې د معابدو او ديني معلوماتو د حصول په موخه یې خپل سفرونه دلته ترسره کړي دي، په سیاسي برخه کې په چین کې د هان واکمنې لړۍ د (لیوچه) د واکمنۍ پرمهال له نورو هېوادونو سره د خپلو اړیکو د جوړولو لپاره خپل یو ځانګړی استازی (جانګ چیان) د یو پلاوي په مشرۍ د چین لویدیځو سیمو ته راواستوه او بیا له دې وروسته د چین او افغانستان ترمنځ لاره په تدریجي توګه سره د لرغونو وریښمو لارې یوه مهمه برخه شوه(هوی او هونګمی،ص. ۲۰۲۶)

همدارنګ کله چې جنرال (پان چاو) د چین لویدیځ کې د کاشغر سیمه ونیوله؛ نو چینایانو د امو له سیند او پامیر سره اړیکه پیدا کړه او له همدې ځای ځخه، چې هغه مهال یونانیانو له (سرینډ) یعنې (هند و چین) ځخه د بودا د مجسمو انځورونه له ځان سره یووړل، چې له مخې یې د چین امپراطور (منګ تي،۵۸-۷۵م) متاثر شو او وې غوښتل، چې د دې نوې دین اساسات باید و پېژني؛ نو له اریانا ځخه یې د بودایي دین مبلغین وغوښتل او کوشانیانو هم خپل دوه تنه تکړه پوهان د (مانتانګا او ګوبهارانا) په نومونو سره ورته واستول او یو شمېر مذهبي کتابونه یې هم ورته ورکړل او بیا د چین یاد امپراطور په (۶۴م) کې د بودا دین قبول کړ(کهزاد، ۱۳۸۷ ل،ص. ۴۸۲).

له پورتنیو تاریخي توضیحاتو داسې انګیرل کیږي، چې د دین په برخه کې هم هغه مهال د کوشانیانو لړۍ د چین لپاره د یو مخکښ په توګه سره پاتې شوې ده او په دې برخه کې یې بیا یو له بل سره خپلې دوستانه اړیکې پاللې دي.

د افغانستان د تاریخي جغرافیه په حواله (شي فاهیان) د چین مذهبي راهب په کال ۳۹۹م کې خپل ۱۴کلن سفر بشپړ کړ، چې د چین له چانګان څخه یې شروع کړی و او په کال ۴۱۴م کې بیرته نانکن ته وګرځید او بیا د ۸۶کلونو په عمر وفات شو. نوموړي زمور په هېواد کې له بنو، ګندهارا، د جلال آباد هډې او پیښور څخه لیدنه وکړه او په خپلو یاداښتونو کې یې دا ټول موضوعات ولیکل، همدارنګ سونګ ین په (۵۱۷-۵۱۸م) کلونو او هیونګ تسنګ(۶۲۹-۶۴۵م) کلونو کې افغانستان ته خپل سفرونه بشپړ کړې دي (حبیبي،۱۳۸۴ ل، ص. ۵۶).

له دې ځایه ویلای شو، چې په څلورمه، پنځمه، شپږمه او اوومه میلادي پیړیو کې د چین سیاحان او مذهبي زایرین په مکرره توګه افغانستان ته راغلې او د هغه مهال حالات یې هم په خپلو یاداښتونو کې له ځان سره وړي دي، چې تر اوسه د هغوی په لیکنو کې خوندي پاتې دي او د افغاني تاریخونو لپاره غوره منابع ګڼل کیږي.

د هیونګ تسنګ په اړه غبار لیکي، چې نوموړي د خپل دې سفر په ترڅ کې، چې له بلخ، کندوز، بامیان، کاپیسا، لغمان او ګندهارا څخه یې لیدنه کړې ده په خپلو یاداښتونو کې (۱۲۳۰) بودایي معبدونه او (۸۰۰) څخه زیات بودایي راهبانو څخه یادونه کوي(غبار، ۱۳۶۶ ل، ص. ۵۸).

نو په جوته توګه ویلای شو، چې د دې دواړو هېوادونو ترمنځ هغه مهال د وریښمو لار د سوداګرۍ ترڅنګ د مذهبي، کلتوري، سیاسي او ټولنیزو اړیکو د تبادلې لپاره هم په پراخه پایمانه سره کاریدلې ده؛ خو دا چې سوداګري یې تر ټولو مهمه وه او د چین وریښم د هغه مهال په صادراتو کې د ظرافت او اړتیا له مخې مهم صادرونکی توکی و؛ نو له دې امله یاده لار د وریښمو د لارې په نوم سره نومول شوې ده. په همدې لار بیا له افغانستان څخه قیمتي ډبرې او په ځانګړې ډول لاجورد د نړۍ تر ټولو لرغوني سوداګریزو توکو څخه شمېرل کېدل، چې هغه مهال په همدې لار تر مصر او روم هم رسیدلې دي.

د دې لارې په اوږدو کې هغه مهال زمور تاریخي ټاټوبی او ګران هېواد افغانستان د چین سربیره له اروپا، منځنۍ اسیا او هند سره هم وصل کېده او د یوې مهمې څلورلارې حیثیت یې درلود او په ډاګه سره ویلای شو، چې د لویدیځ او ختیځ ترمنځ د وچې له لارې یو ستر مهم مرکز ګڼل کېده.

په لنډه توګه ویلای شو، چې د کوشاني پېر افغانستان د ډاډمن امنیت ترڅنګ مترقي، اباد او مهمه يې دا چې د وخت د مطرحو امپراطوريو لکه روم او چین سره يې سیالي کوله.

په منځنۍ دوره کې د افغانستان او چین اړیکې

له کوشانیانو وروسته د غزنویانو پرمهال هم د چین سره اړیکو شتون درلود په دې اړه عبدالحی ګردیزي په خپل اثر تاریخ ګردیزي کې داسې توضیحات لري: د ختا او ختن شاهانو قیاخان او بغراخان خپل دوه دیپلوماتیک استازي قتلنکا او قاشي د غزني دربار ته په کال (۱۰۲۶م) کې واستول او له محمود غزنوي څخه يې د خپلوۍ غوښتنه هم وکړه. امیر يې ډیر درناوی وکړ او غوښتنه يې ورته ځکه و نه منله، چې د مسلمانانو او کافرو ترمنځ نکاح شرعي جواز نه درلود(ګردیزی، ۱۳۶۳ ل:ص. ۴۱۳-۴۱۴).

له دې نېټې وروسته په تاریخ کې بیا څه نه وینو؛ خو کله چې د هرات تیموریان واک ته ورسیدل او شاه رخ په هرات کې تر پلار وروسته په تخت کښیناست نوموړي د چین خاقان (دای مینګ) ته یو لیک واستوه او له هغه څخه يې و غوښتل، چې ترمنځ يې باید سوداګریزې اړیکې و اوسي او د خپل لیکلي پیغام په یوه برخه کې يې ولیکل: ((هیله لرم، چې له دې وروسته باید زموږ او ستاسو ترمنځ د سوداګرۍ اړیکې د تل لپاره برقرارې شي او له مخې يې سوداګر په اسانۍ او امنیت سره تلل او راتلل وکړي، چې دا کار په اصل کې د هېوادونو آبادي او د دنیا او اخرت نیکمرغي ده)). د شاه رخ د دې لیک په ځواب کې د ختا خاقان هم خپل میلان څرګند کړ او د لیک د ځواب په یوه برخه کې يې ولیکل: ((زه هم خپل استازي دراستوم، چې په دې اړه خپلې چارې ترسره کړي او د بیا لپاره مو لارې منقطع نه شي او له مخې يې سوداګري خپل ار موخه ترلاسه کړي)).(میرجعفري، ۱۳۸۹ ل،ص. ۲۲۲).

دا موضوع د تیموري دورې د مشهور مؤرخ کمال الدین عبدالرزاق له خوا هم تائید شوې ده، نوموړی د ختا خاقان د لیک په اړه وایي: خاقان د شاهرخ عظمت بیان کړی دی او د دوه اړخیزو اړیکو په ساتلو يې ټینګار کړی دی. کله چې دا پلاوی بیرته چین ته واپس کیدو؛ نو د شاهرخ له خوا ورسره شیخ محمد بخشي د رسمي استازي په توګه واستول شو(عبدالرزاق، ۸۷۵ل، ص. ۱۶۰).

له پورتنیو موثقو تاریخي معلوماتو بریښي، چې د منځنیو پېړیو پرمهال هم افغانستان خپل ستراتیژیک او اقتصادي پرستیج ساتلی او له مخې يې د چین واکمنانو هم اړتیا محسوسوله، چې د دوي سره خپلې اړیکې د دوستۍ او خپلوۍ تر کچې و غځوي؛ نو ځکه يې خپل استازي راستولي او د چین د دربار پیغامونه يې ورسره شریک کړي دي. دا مهال هم د چین او افغانستان ترمنځ پراخه اړیکې په اقتصادي، امنیتي او دیپلوماتیک ډګر کې تر سترګو

کېږي، چې د يو ځانګړې او د دواړو لورو له خوا په يو منل شوي ميکانيزم ترسره شوي دي او له ورايه د دواړو لورو يو بل ته اړتيا او د قوت انډول په ګوته کوي؛ نو له دې امله تر کومه چې په تاريخ او سياست پورې اړه لري اړتيا ده، چې د يادو اړيکو راتلونکی ته هم په ځانګړې ډول د افغانستان له لورې ځانګړې پاملرنه وشي او په دې اړه پرتو اندېښنو ته له ځان سره ځواب او اړونده تدابير ولري.

په معاصره دوره کې د افغانستان او چين اړيکې

د افغانستان په معاصر تاريخ کې سره له دې، چې د احمدشاه بابا زياته پاملرنه د هند او شمال په لورې وه؛ خو بيا يې هم په ډيپلوماتيک ميدان کې د چين سره ګاونډ او سوداګريز اغېز ته په کتو خپل يو استازی په کال ۱۷۶۲م کې د چين هېواد ته لېږلې و(صفاري، ۱۳۹۴ل، ص. ۱۸۷).

خو داچې د تيمورشاه وروسته د هغه د زامنو ترمنځ په هېواد کې خپل منځني جنګونه رامنځته شول او بيا د سدوزايانو او محمدزايانو ترمنځ کړکيچ اوج ته ورسيده او ورپسې په (۱۸۳۹-۱۸۴۲) کلونو کې د افغان او انګليس لومړی جګړه رامنځته شوه او په همدې کلونو کې چين هم د انګلستان سره د تاريا‌کو جګړه کې ښکېل و؛ نو دا مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د بهرنيو اړيکو مجال شتون نه درلود؛ خو کله چې په کال ۱۸۶۵م کې، چې د اميرشيرعلي خان دويمه پلا واکمني وه، د چين دربار ته يو ډيپلوماتيک پلاوی واستول شو او د چين امپراطور ته يې يو اس په ډالۍ کې ولېږه؛ خو داچې دلته بيا په کال ۱۸۸۰م کې د افغان او انګليس دويمه جګړه شروع شوه؛ نو له دې امله يادې پروسې دوامداره پاتې نه شوه (آريانفر، ۱۳۹۴ل، ص. ۶۹).

د افغانستان د معاصر تاريخ په لومړيو کې د چين سره د اړيکو درلودل په حقيقت کې د لرغونو او منځنيو پېړيو د دوه اړخيزو اړيکو يو ډول تسلسل ګڼل کېږي او په دې لړ کې بيا د شلمې پېړۍ څخه يادې اړيکې لکه د تېر په څېر او له هغې هم زياتې پراخيږي.

د افغانستان تر خپلواکۍ وروسته په کال ۱۹۲۲م کې د چين يو سياسي پلاوی د (چنک – لن يونک) په مشرۍ کابل ته راغلي او بيا د دويمې نړيوالې جګړې پرمهال چين د امريکا په اشاره هڅه وکړه، چې له افغانستان سره د دوستۍ تړون لاسليک کړي؛ ځکه د امريکا سره وېره وه، چې افغانستان په دغه جګړه کې له جرمنيانو سره يوځای نه شي؛ خو په دې جنګ کې افغانستان بې طرفه پاتې شو او د مؤدت ياد تړون په کال ۱۹۴۴م کې د افغانستان او چين ترمنځ لاسليک شو(خليل، ۱۳۹۶ل،ص. ۴۲).

له دې نېټې پنځه کاله وروسته، چې کله په کال ۱۹۴۹م د اکتوبر په لومړۍ نېټه په چین کې جمهوري نظام رامنځته شو؛ نو افغانستان یو له هغو لومړیو هېوادونو څخه و، چې د چین جمهوریت یې په رسمیت و پېژنده(صفاري، ۱۳۹۴ل،ص. ۱۸۸).

د چین او افغانستان ترمنځ پراخه اړیکې بیا له (۱۹۵۵) میلادي څخه شروع کېږي، چې د سردار محمد داودخان د صدارت مهال و، دا مهال چین له ټولې نړۍ سره خپلې نوې اړیکې پراخولې او په دې برخه کې یې مهم ګامونه ډی افغانستان هم په پام کې و، چې د دوي سره هم خپلې اړیکې لکه د تېر په څېر رامنځته کړي، داچې دا مهال په افغانستان کې د محمدزایي کورنۍ واکمني وه او د محمدظاهر شاه شاهي نظام قایم و د سردار محمد داودخان صدارت یاده پروسه د هر اړخیزې اړتیا په پام کې نیولو سره شروع کړه. عبدالصمدخان په چین کې لومړۍ افغان سفیر و او (تینګ وایو) په افغانستان کې لومړۍ چنایی سفیر و، چې په همدې کال یعنې ۱۹۵۵م کې افغانستان ته راغی او په کال ۱۹۵٦م کې دواړو هېوادونو د باندونګ په کنفرانس کې هم ګډون وکړ او اعلامیه یې صادره کړه. په کال ۱۹۵۷م کې داودخان چین ته سفر وکړ او بیا د چین لومړۍ وزیر(چو این لای) هم کابل ته راغی. په کال ۱۹۵۹م کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او د صدراعظم مرستیال محمدنعیم خان هم چین ته سفر وکړ، چې په پایله کې یې په کال ۱۹٦۰م کې یو له بل سره د دوستۍ ټرون لاسلیک کړ او بیا یې په کال ۱۹٦۴م کې په حسن نیت سره د دواړو هېوادونو ترمنځ پوله هم و ټاکله(خلیل، ۱۳۹٦ل،ص. ۵۵-۵٦).

د افغانستان او پاکستان د اختلافاتو پرمهال یعنې په کال (۱۹۵۹م)کې افغانستان د چین د جمهوریت پاملرنه ځانته جلب کړې وه؛ ځکه په کال (۱۹٦۰م) کې د چین هیواد د بهرنیو چارو وزیر او بیا په هغه پسې صدراعظم چوبي هم کابل ته سفرونه کړي وو(عطایی، ۱۳۸۳ل، ص. ۲۵۷).

داچې د شلمې پېړۍ له دویمې لسیزې د افغانستان او چین ترمنځ کوم تعاملات او ټرونونه د پولې تر بریده ترسره شوې په تمامه مانا د دواړو هېوادونو د ښه ګاونډیتوب استازیتوب کوي او په هره برخه کې یې د متقابل احترام پالیسي مراعت شوې ده.

لیکن د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایې کې کله چې له (۱۹۷۹-۱۹۹۱م) کلونو ترمنځ شوروي اتحاد پر افغانستان خپل نظامي یرغل وکړ؛ نو لکه د نورو برخو په بهرنیو اړیکو کې له چین سره هم مناسبات خراب شول او چین بیا دا مهال په غیر مستقیمه توګه د افغانستان له خپلواکۍ او له روسانو د وتلو څخه خپل سیاست او حمایت تعقیب کړ(صفاري، ۱۳۹۴ل، ص. ۱۸۸).

سره له دې، چې دا مهال د چين او شوروي اتحاد ترمنځ اړيکې ښې نه وي؛ خو له بل پلوه يې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا او غوڅ اکثريت پلوي هم په پام کې نيولې وه او ترڅنګ يې په دې اړه له نړيوال موقف څخه هم خپل ملاتړ کاوه، چې د شوروي اتحاد خلاف جبهه يې جوړوله.

د جهاد د کاميابۍ او په هېواد کې د داخلي جنګونو پرمهال هم يادې اړيکې ډيرې په زړه پورې نه وې او د تېر اسلامي امارت پرمهال؛ خو بيخې اړيکې قطع شوې او چې کله جمهوري نظام د حامد کرزي په مشرۍ رامنځته شو؛ نو يو پلا بيا په پراخه اندازه سره د افغانستان او چين په اړيکو کې پراختيا رامنځته شوه او په يوويشتمه ميلادي پېړۍ کې د لومړي ځل لپاره په کال (۲۰۰۳م) کې د چين او افغانستان ترمنځ لومړۍ سوداګريز ټرون لاسليک شو او د چين ولسمشر (هوجن تاو) له افغانستان سره خپله د يو ميلون ډالرو مرسته اعلان کړه(صفاري، ۱۳۹۴ل، ص. ۱۸۸).

د يوويشتمې پېړۍ پرمهال د افغانستان او چين د اړيکو په اړه د چين د بهرنيو چارو وزير وويل: د همالیا او پامير په څېر د موانعو سره سره د وريښمو لارې ثابته کړې ده، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکو ته اړتيا ده(سخنيار، ۱۳۸۴ل، ص. ۲۵).

يعنې د يوويشتمې پېړۍ شروع د افغانستان او چين د نوو اړيکو په پراختيا سره رامنځته کيږي. دا مهال چين د افغانستان د کانونو په برخه کې په ځانګړې توګه د مسو عينک لويه پروژه واخيسته او همدارنګه نورو برخو کې يې هم خپل کارونه شروع کړل د واخان دهليز خپل د اتصال ستراتيژيک اهميت بيا پيدا کړ او له مخې يې افغانستان د چين د نړيوالو سوداګريزو او ترانسپورتي پراختيايې پروژو يوه مهمه برخه وګرځيده.

په ټولېزه توګه ويلای شو، چې په جمهوريت کې د چين سره اړيکې پراخه شوې او د وريښمو د لارې په دوباره احيا کولو د داوړو لورو ترمنځ توافق وشو او په دې برخه کې چين د ځلويښتو ملياردو ډالرو د چمتو کولو ژمنه هم وکړه(خليل، ۱۳۹۶ل، ص. ۱۴۱).

خو د امريکا په حضور او افغانستان کې امنيتي ملحوظات هغه څه وو، چې د چين د ډيرې کارونو په وړاندې يې خنډونه ايجادول او څرنګه چې دواړو هېوادونو د خپلو ملي اقتصادي او سياسي ستراتيژيو غوښتنه وه، په هماغه توګه ورته د عمل ميدان مساعد نه و؛ نو ځکه په دې برخه کې زيات پرمختګ و نه شو؛ خو دواړو هېوادونو درک کړه، چې په يوويشتمه پېړۍ کې افغانستان او چين لکه د تېر په څېر د وريښمو د لارې دوباره احياء ته متقابله اړتيا لري.

داچې یو پلا بیا اسلامي امارت واک ته ورسېده او امنیت د ټبر په نسبت په یو څانګړي او ډاډمن شکل سره رامنځته شو او اسلامي امارت هم غواړي افغانستان په هره برخه کې لکه د ټبر مجد او عظمت څښتن وګرځوي او هڅه کوي د لرغونو او منځنیو پیړیو د مهال د وچې له لارې د نړۍ او ګاونډ سره خپلې اړیکې د تجارت، سیاست او ښه ګاونډیتوب په فضاء کې قایمې کړي؛ نو په دې برخه کې له چین سره هم د اقتصاد، امنیت او سیاست په برخو کې د ټرونونو د فعالولو لړۍ رامنځته شوې ده، چې په دې اړه د اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنۍ تګلاره او د چین لیوالتیا ته په کتو اړتیا ده، چې یاد بهیر په کمال تدبر او بصیرت سره پرمخ ولاړشي؛ ځکه اوس مهال د افغانستان او چین ترمنځ اړیکو یوه نوې بڼه غوره کړې ده. لکه په تعلیمي میدان کې زمور ډیرۍ افغانان په چین کې خپلې مسلکي زده کړې کوي او ترڅنګ یې چین او چینایې پوهان هم هڅه کوي، چې د افغانستان په تاریخ، کلتور او ژبه کې تخصصي زده کړې او معلومات ترلاسه کړي او په دې برخه کې یې په یو شمېر پوهنتونونو کې د پښتو څانګې هم ایجاد کړي دي، چې له مخې به ېې په راتلونکي کې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې نورې هم نږدې او دقیقې شي.

پایله

افغانستان او چین د لرغونو او معاصرو دورو په اوږدو کې د یو ښه ګاونډیتوب تاریخي مخینه لري. د تاریخ په دې اوږده جریان کې له کوشاني پېره څخه تر اوسه که دا مهال په دوه برخو وویشو، یعنې د وریښمو لرغوني تاریخي لار او د هغې بیاځلې احیاء د تاریخ په بېلابېلو مقاطعو کې د دواړو هېوادونو د سیاسي، اقتصادي او ګاونډي پالیسیو په پام کې نیولو یو له بل سره پرتله، مطالعه په اغېز او اړتیا یې بحث وکړو.

څرګندیږي، چې د دواړو لورو جغرافیوي او اقتصادي نږدیوالی یو د بل په ګټه دی. له دې امله اسلامي امارت هڅه کوي، چې په راتلونکي کې د دواړو هېوادونو ترمنځ یادې اړیکې پراخه او د متقابل احترام په اصل پرمخ ولاړې شي؛ خو داچې د چین نړیوال اقتصادي پرمختګ د امریکا په شمول د یو شمېر هېوادونو لپاره د منلو وړ نه دی؛ نو طبیعي ده، چې هغوي به یاده پروسه سبوتاژ کوي، چې پاملرنه ورته اړینه ده او بل داچې افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د خپلو دوه وو مقتدرو هېوادونو برتانوي هند او د شوروي جمهوري اتحاد سره په خپلو سیاسي او اقتصادي ټرونونو کې د پام وړ زیان لیدلی دی او زمور لپاره د ټبر تاریخ یوه ژوندۍ تجربه ده، چې له مخې یې افغانستان د دغو مقتدره ګاونډیو هېوادونو تر مستقیم نظامي یرغل لاندې راغلی؛ ځکه کله نا کله مقتدره هېوادونه د خپلو اقتصادي اړیکو تر عنوان لاندې خپلې سیاسي ګټې هم لټوي؛ نو اړتیا ده، چې د لویو ټرونونو په صورت کې له پوره دقت او عمیق فکر څخه کار واخیستل شي، چې له ګټو مو زیان زیات نه شي.

د تاریخ پورتنیو موضوعاتو او مطالعاتو ته په کتو په روښانه توګه څرګندیږي، چې د افغانستان او چین د هېوادونو ترمنځ یادې لرغونې تاریخي اړیکې تر اوس مهاله په تصادفي توګه سره نه دې رامنځته شوې؛ بلکې دا پراخه لړۍ، چې د وریښمو په سوداګریزه لاره شروع شوې، په ببلابېلو زماني مقاطعو کې يې وده کړې او اوږدمهاله کلتوري تبادله يې رامنځته کړې ده، چې د متقابل درناوي او ملاتړ له لارې دوام لري؛ خو دا چې د نن نړۍ د پرون سره په توپیر کې ده او یو لړ نوې موضوعات او سیاستونه يې پر سټیج ولاړ دي؛ نو سیمه ایز وضعیت يې پیچلی کړې دی. له دې امله اړتیا ده، چې د دواړو هېوادونو ولسونه په بشپړ احتیاط، تفاهم او همکارۍ سره د زرګونو کلونو یادې اړیکې دوامداره وساتي او اصطکاک يې کم کړي او په شریکه ملګرتیا په اوسني وخت کې هم لکه د تېر په څېر یو نوی څپرکی ولیکي.

ترکومه چې یاده څېړنه ښایي د افغانستان او چین هر اړخیزې ګټې او نیکمرغي د دواړو هېوادنو ترمنځ په ښه ګاونډیتوب، مساوات او د دواړو ولسونو ترمنځ په صادقانه اړیکو کې نغښتې دي.

د تاریخ په اوږدو کې تر اوسه لکه د نورو ګاونډیانو افغانستان له چین سره په کومه لویه ستونزه کې نه دی ښکېل شوی؛ خو دا چې د سیاسي موضوعاتو اټکل ګران وي او همیشه د وخت اړونده شرایطو ته په کتو تغیر کوي؛ نو له دې امله ماضي په راتلونکي باندې په تمامه مانا سره نه اټکل کېږي. ډېر ځل ښه بد شي او بد ښه؛ ځکه د تاریخ په حواله هیڅ یو سیاست وروستۍ خبره نه لري؛ بلکې تل د هېوادونو په ګټو څرخیږي.

وړاندیزونه

د نورو بهرنیو پالیسیو ترڅنګ اسلامي امارت ته د یوې ګاونډ محوره پالیسۍ د ایجاد اړتیا ده.

د چین سره د اړیکو په ساتلو کې د توازن، تعادل او د دوه اړخیزو اړتیاوو اصل په پام کې نیول.

د واخان دهلیز امنیت ته خانګړې پاملرنه او د سنکیانګ ایالت سره په وصل کېدو يې ژور فکر کول.

د اسلامي امارت مشرانو او د مسلک مینه والو ته په دې اړه د لا زیاتو څېړنو او معلوماتو حاصلول.

ځوانو څېړونکو ته د نوو څېړنو او په دې اړه د ستراتیژیو د جوړولو روحیه ورکول.

A Brief Study of the Historical Relations between China and Afghanistan: Comparison, Impacts and Needs

Professor Zarwali Sediqi[1], & Senior Teaching Assistant Hikmatullah Sayel[2], Shaikh Zayed University, Faculty of Social Science, Department of History.

Abstract

Throughout history, Afghanistan has maintained relations with China since ancient times, dating back to the Kushan Empire in Afghanistan and the Han Dynasty in China. Accordingly, the purpose of this study is to clarify the historical development of relations between Afghanistan and China and to compare them with the current situation. In the ancient period, relations between Afghanistan and China were maintained through the Silk Road, and these relations continued throughout the Middle Ages. However, in the contemporary period, they have passed through various stages and evolved into their present form. With the Islamic Emirate having returned to power and the security situation being relatively more stable than in the past, there is a need to establish balanced and bilateral relations with neighboring countries and other states in the region, so that these relations may be further strengthened through trade, political cooperation, and good-neighbourly relations. In this regard, particularly in view of China's interest, there is a strong need for this process to be pursued with great deliberation, as relations between Afghanistan and China have now assumed a new dimension. Therefore, it is considered necessary to examine the relations of previous periods in order to further strengthen the ties between the two countries. The significance of this study lies in providing a scholarly analysis of the necessity and impact of maintaining enduring relations between Afghanistan and China.

Keywords: Impact, Afghanistan, Historical Relations, Comparison, China, Study

ماخذونه

آریانفر، عزیز(۱۳۹۴ل). افغانستان و جهان(کشورهای اسیایی، افریقایی و استرالیا)، کابل: مرکز مطالعات استراتیژیک.

خدرانِ، محمدشریف(۱۴۰۴).د افغانستان لرغونې مدنیتونه، کابل: سهر مطبعه.

حبیبي، عبدالحی(۱۳۷۸). د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړن: محمد داود وفا، پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

حبیبي، عبدالحی(۱۳۸۴). جغرافیای تاریخی افغانستان، کابل: بنگاه انتشارات میوند.

خلیل، احمدبلال(۱۳۹۶).افغانستان او چین دوه اړخیزې اړیکې(۱۹۵۵-۲۰۱۵م)،کابل: د ستراتیژیکو سیمه ییزو څېړنو مرکز

سخنیار، غلام محمد(۱۳۸۴ل). روابط پنجاه ساله چین و افغانستان، کابل: انتشارات عازم.

صفاري، سلطان شاه(۱۳۹۴).د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، کابل: انتشارات مستقبل.

عبدالرزاق، کمال الدین(۸۷۵ق). مطلع سعدین و مجمع بخرین، اصفهان: مرکز تحقیقات رایانه قایمه.

عطایی، محمدابراهیم(۱۳۸۳ل). د افغانستان پرمعاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، جلاآباد: میوند خپرندویه ټولنه.

غبار، میرغلام محمد(۱۳٦٦). افغانستان درمسیرتاریخ، کابل: مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری.

کهزاد، احمدعلی(۱۳۷۹).افغانستان د تاریخ په رڼا کې، ژباړن: اورنگزیب ارشاد، پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

کهزاد، احمدعلی(۱۳۸۷).تاریخ قدیم افغانستان جلد اول، دوهم و سوم، کابل : بنگاه انتشارات میوند.

گردیزی، ابوسعیدعبدالحی ابن ضحاک(۱۳٦۳). تاریخ گردیزی، به تصحیح و تحشیه و تعلیق عبدالحی حبیبی، تهران: چاپخانه ارمغان.

میرجعفری، حسین (۱۳۸۹). تاریخ تحولات سیاسی، اجتماعی، اقتصادی، و فرهنگي ایران در دوره تیموریان و ترکمنان، اصفهان: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی(سمت).

هوی، یانگ جاو؛ هنگمي، هه.(۲۸، می،۲۰۲٦). د چین او افغانستان د خلکو ترمنځ د تبادلې تاریخ او نوی فصل. اخیستل شوي(تاند): https://taand.net/?p=269854

د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلماتو استعمال

پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب د شیخ زاید پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګې استاد.
پوهاند پښتون اقا شیرزاد د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګې استاد
ایمیل ادرس: subhanullah.shahab1364@gmail.com

لنډیز

رحمان بابا د خپل وخت له سترو عالمانو، صوفیانو او نومیالیو شاعرانو څخه و. هغه په دیني علومو کې لوړ مهارت او پوهه لرله. په عربي ژبه یې بشپړ تسلط درلود. د قرآن کریم، حدیث، تفسیر، فقهې او په نورو اسلامي علومو کې یې پراخه مطالعه کړې وه، له همدې امله یې په خپلو اشعارو کې عربي کلمې په طبیعي، هنري او په روانه ساده ژبه کارولې دي. د دې مقالې موخه د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلمو د استعمال، د هغو د ادبي، دیني او معنوي ارزښت او د کارونې د لاملونو څېړنه ده. د څېړنې کړنلاره تشـریحي ـ تحلیلي ده او د رحمان بابا د دیوان د بېلابېلو شعرونو د مطالعې او شننې پر بنسټ ترسره شوې ده. د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلمو د کارونې څرنګوالی، د هغو ادبي او معنوي اغېز، د ژبنې مهارت څرګندونه او د رحمان بابا د اشعارو په پوهېدنه کې مرسته کوي. د څېړنې موندنې ښیی، چې رحمان بابا عربي کلمې د مانا د پیاوړتیا، د شعر د فصاحت، بلاغت او موسیقیت د زیاتوالي لپاره په ډېر مهارت کارولې دي او دا کلمې د هغه د کلام مهمه برخه جوړوي. د څېړنې ستونزه دا وه، چې د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلمو د استعمال، د هغو د ډولونو، ارزښت او ادبي اغېزو په اړه څانګړې او هر اړخیزه څېړنه نه وه شوې؛ نو له همدې امله په دې څېړنه کې هڅه وشوه، چې تر یوه حده دغه تشه ډکه او د رحمان بابا د عربي کلمو د استعمال څانګړنې او ځایونه روښانه شي.

کلیدي کلمې : ادبي ارزښت، دیني علوم، رحمان بابا، شعري کلام، عربي کلمې

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم الحمدلله رب العالمین، والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

پښتو ادب د خپلو پخوانیو او نومیالیو شاعرانو د اشعارو له امله بډایه او له معنوي ارزښتونو ډک دی، چې په دې لړ کې رحمان بابا د پښتو ژبې له هغو سترو شاعرانو څخه دی، چې کلام یې د سادهګی، ژور فکر، عرفاني مفاهیمو او ادبي ښکلاوو له امله ځانګړی مقام لري. هغه نه یوازې یو شاعر و، بلکې د خپل وخت له عالمانو او صوفیانو څخه هم ګڼل کېږي. رحمان بابا د ديني علومو زده کړه کړې وه او په عربي ژبه یې پراخ علم او ښه تسلط درلود، له همدې امله د هغه په شعرونو کې ګڼ شمېر عربي کلمې په هنري او مناسب ډول کارول شوې دي.

عربي کلمې د رحمان بابا په کلام کې یوازې د ژبې د ښکلا لپاره نه دي راغلي، بلکې د مانا د ژورتیا، د ديني مفاهیمو د څرګندولو، د شعر د فصاحت او بلاغت د پیاوړتیا لپاره هم ترې ګټه اخیستل شوې ده. د هغه د اشعارو مطالعه دا ښیي، چې نوموړي عربي الفاظ د خپل فکر او پیغام د رسولو لپاره په داسې مهارت کارولي چې د شعر له روانۍ او ښکلا سره بشپړ سمون لري.

سره له دې چې د رحمان بابا په ژوند، فکر او د شاعرۍ په اړه ببلابېلې څېړنې شوې دي؛ خو د هغه په کلام کې د عربي کلمو استعمال، ادبي ارزښت او اغېزو په اړه ځانګړې څېړنه کمه تر سترګو کېږي. له همدې امله په دې څېړنه کې هڅه شوې ده، چې د رحمان بابا په اشعارو کې د عربي کلمو د کارونې ځانګړنې روښانه شي او د هغه د شعري ژبې په بډاینه کې د دغو کلمو ونډه په څرګنده توګه وښودل شي.

په دې مقاله کې کوښښ شوی دی، چې د رحمان بابا له دیوان څخه د ببلابېلو شعرونو په راټولولو او شننې سره هغه عربي کلمې وڅېړل شي، چې هغه په کلام کې کارولي دي، تر څو یې د ژبني مهارت او د عربي کلمو د ادبي استعمال ارزښت څرګند شي.

موخې

۱ .د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلمو د استعمال څرنګوالی جوت او څرګند شي.

۲ .د رحمان بابا په شاعرۍ کې د عربي کلمو ادبي، معنوي او ژبني ارزښت روښانه کول دي.

ستونزه

د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلمو د استعمال او ادبي اغېزمنتیا په اړه ځانګړې او هر اړخیزه څېړنه کمه وه؛ له همدې امله د دې موضوع د څېړلو اړتیا رامنځته شوه.

ارزښت

دا څېړنه د رحمان بابا د شعري ژبې، د عربي کلمو د هنري استعمال او د هغه د ژبني مهارت په ښه درک کې مرسته کوي. همدارنګه څرګندوي، چې نوموړي عربي کلمې د خپل شعر له مانا، روانۍ او ښکلا سره په ډېر مهارت کارولې دي. د دې څېړنې موندنې د پښتو ادب د محصلانو، ادبي څېړونکو، کره‌کتونکو او د ادب مینه‌والو لپاره ګټورې دي او د رحمان بابا د شاعرۍ د هنري او ژبني ځانګړنو په لا ښه پېژندنه کې مرسته کوي.

مېتود او کړنلاره

په دې څېړنه کې له تشریحي او تحلیلي مېتود ګټه پورته شوې ده، چې ډول يې کتابتوني دی، په څېړنه کې د رحمان بابا د دیوان څخه بېلابېل اشعار را اخېستل شوي دي او بیا پکې د عربي کلمې ښودل شوي، سپړل شوي او تشریح شوي دي.

تېرو آثارو ته کتنه

که مور د رحمان بابا وخت او زمان ته پاملرنه وکړو؛ نو پوهېرو، چې په دغه زمانه کې پښتانه د عربي ژبې تر تاثیر لاندې و او هر لیکوال به دا غوښتل چې په خپل لیک کې د عربي ژبې کلمې په زیاته پیمانه ورګډې کړې او همدارنګه خپله پوهه او وړتیا هم وښیی او دا هم په ډاګه کړي، چې دوی په اسلامي او دیني علومو کې هم د پوره صلاحیت خاوندان دي.

رحمان بابا یو صوفي شاعر و ، د هغه په کلام مذهبي رنګ زیات لیدل کېږي او په دې کې هېڅ شک نشته د بابا زیاتره شاعري د قرآن او احادیثو ترجماني کوي؛ نو له دې نه څرکندېږي، چې هغه د قرآن عظیم‌الشان ژوره مطالعه لرله او فقهي کتابونه يې هم لوستلي و، زیاتره پښتانه رحمان بابا د اسلامي تعلیماتو او نظریاتو د یو ښه واعظ په توګه پېژني، د ده دیوان د قرآن پاک او احادیثو نه وروسته یو سپېځلي مذهبي په تول تللی کتاب ګڼي او په مقدسو مذهبي کتابونو کې يې شمېري، د هغې وجه دا ده، چې د رحمان بابا شاعري د اسلامي تعلیماتو په اساس ولاړه ده او کلام يې د قرآن او احادیثو په رڼا منور دی؛ ځکه چې رحمان بابا د ټول انسانیت لپاره ښېګڼه لټوونکی دی او پیغام يې د عامو او خاصو انسانانو لپاره ګټور او ارزښتناک دی. عصمت سورانی لیکي:

دا یو څرګند حقیقت دی او هېڅوک تري انکار هم نه شي کولی، چې رحمان بابا یوازې د پښتون ولس لپاره شاعري نه ده کړې؛ بلکې د تمام انسانیت لپاره يې شاعري کړې ده، فلسفي، شیخ القرآن، شېخ الحدیث، او دغه شان د فقهي علومو هم ډېر ستر عالم و؛ ځکه چې عبدالرحمان بابا په خپله د دې سپیناوی کړی دی؛ لکه چې وایي:

دا چې زه وتاته وایم که یې خدای که
په آیات و په حدیث کې به څرگند وي
(کامل مومند، ۲۰۱۸م، ص. ۲۰۶)

همدا وجه ده، چې رحمان بابا د عامو خلکو په نظر کې کوم ځای نیولی دی، مثال یې نشته دی (سورانی، ۲۰۱۲م، ص. ۲۴۹)

لکه څنگه چې یادونه وشوه، چې د رحمان بابا کلام د قرآن او احادیثو په رڼا کې ویل شوی دی؛ نو له دې څخه څرگندېږي، چې هغه په عربي ژبه ښه پوهېده او سمه یې زده وه، که له یوه پلوه عربي ژبه د دیني زده کړو غوښتنه وه؛ نو له بل پلوه په هغه وخت کې د عربي ژبې زده کړه دود او دستور وه او د دویمې دورې د شاعرانو له شعرونو څخه هم ښکاري چې هغوی په عربي ژبه ښه پوهېدل، لکه داور خان داود چې وایي:

عربي زمور دیني او مذهبي ژبه ده، د دې ژبې زده کړه د خپل دین او مذهب (اسلام) په موخه د ځان د پوهولو لپاره اړینه وه، د فارسي سره سره عربي هم په دیني او مذهبي مکتبونو او مدرسو کې تدریسېدل او تر څنگ یې په مجلسونو او غونډو کې کارېدله؛ زمور زیاتره شاعران لکه: د فارسي او عربي ژبې استادان او عالمان وو، عربي ژبه به یې یوازې پخپله نه زده کوله بلکې نورو ته یې هم ښودله (داود، ۱۹۹۷م، ص. ۱۱۲)

رحمان بابا هم د هغه وخت د نورو شاعرانو په څېر په خپله شاعري کې د عربي ژبې کلمات استعمال کړي دي او د عربي ژبې اثرات یې په کلام او وینا کې په څرگنده توگه ښکاري؛ خو د نورو شاعرانو سره یې فرق دا دی، چې رحمان بابا د عربي ژبې هغه مروج کلمات په خپله شاعرۍ کې راوړي دي، چې هر لوستی او نالوستی پرې پوهېږي او د هغه د شاعرۍ خوند یې لا زیات کړی دی.

شیر شاه ترحوي هم په دې قایل دی، چې رحمان بابا په نورو ژبو پوهېده او د پوهې تر څنگ یې علمیت هم پکې درلوده؛ لکه چې وایي:

که د رحمان بابا په کلام نظر واچول شي؛ نو لوستونکي به په دې پوه شي او دا به محسوسه کړي، چې هغه په خپله شاعرۍ کې د عربي او فارسي ژبې کلمات ډیر په ښکلي انداز او ښه طریقه استعمال کړي دي؛ نو له دې نه دا ثابتیږي او جوتېږي چې رحمان بابا د عربي او فارسي علوم حاصل کړي وو او ښه پرې پوهېده (ترخوي، ۲۰۰۵م، ۷۳)

رحمان بابا چې په خپله شاعرۍ کې د عربي کوم کلمات استعمال کړي دي، دا د بابا د کلام خاص اعجاز دی او

نور شاعران له دې څخه عاجز دی، د نورو شاعرانو په کلام کې د عربي ژبې کلماتو سکته‌ګي او پېچېده‌ګي راوستې ده؛ خو د دې برعکس د بابا په کلام کې د عربي ژبې کلماتو ښکلا څو چنده زیاته شوې ده.په دې هکله عبدالکریم بریالی لیکي:

((په دیوان کې یې داسې آفاقي عربي الفاظ دي، چې سړی ورته حیران شي چې د الهام څخه په هیڅ ډول کم نه معلومیږي)) (بریالی، ۲۰۰۵م، ص. ۳۵)

د رحمان بابا په دېوان کې ډیر داسې شعرونه موجود دي، چې په هغې کې د عربي کلمات راوړل شوي دي، دلته یې د بېلګې په توګه څو بیتونه راوړو:

ګـــوره هســـــې کـــردګـــار دی رب زمـــا
چـــې صـــاحـــب د کـــل اخـــتـــیـــار دی رب زمـــا
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۵۲)

په دې بیت کې د (رب، صاحب، کل او اختیار) عربي کلمې کارول شوې دي، چې د الله تعالی د مطلق واک او مالکیت مفهوم په فصیحه او اغېزناکه بڼه څرګندوي.

هـــم صـــانـــع دی د جـــمـــلـــه و مصـــنـــوعـــاتـــو
هـــم ســـامـــع د هـــر ګـــفـــتـــار دی رب زمـــا
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۵۲)

په دې بیت کې رحمان بابا د (صانع، جمله، مصنوعات، سامع او رب) عربي کلمې کارولي، چې د الله تعالی د خالقیت او د هر څه د اوربدو صفت په فصیح او اغېزناک ډول څرګندوي.

کـــه ظـــاهـــر دی کـــه بـــاطـــن دی کـــه مـــابـــین دی
لـــــه هـــمـــــه و خـــبـــردار دی رب زمـــا
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۵۲)

په دې بیت کې (ظاهر، باطن او رب) عربي کلمات دي، چې د (ښکاره، پټ او پالونکي) مانا‌وې لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله بیانوي، چې الله تعالی پر هر څه پوهېږي، هغه که ښکاره وي یا پټ او که د دوو شیانو ترمنځ وي، بشپړ علم او خبرتیا پرې لري او هېڅ شی ترې پټ نه پاتې کېږي.

کـــه صـــورت د مـــحـــمـــد نـــه وای پـــیـــدا
پـــیـــدا کـــړې بـــه خـــدای نـــه وه دا دنـــیـــا
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۵۳)

رحمان بابا په دې بیت کې د (صورت، محمد او دنیا) عربي کلمې کارولي، چې د حضرت محمد ﷺ د لوړ مقام او د دنیا د پیدایښت له حکمت سره تړاو څرګندوي.

نبوت په محمد باندې تمام شه
نشته پس له محمده انبیا

(خلیل، ۱۳۸۴ل، ص. ۴۵)

رحمان بابا په دې بیت کې د (نبوت، محمد، تمام او انبیا) عربي کلمې کارولي، چې د حضرت محمد ﷺ پر ختمِ نبوت او د نورو انبیاوو د لړۍ پر پای ته رسېدو دلالت کوي.

که نبي دی که ولي دی که عاصي دی
محمدٌ دی د همه واړو پیشوا

(رسا، ۲۰۰۹م، ص. ۳)

رحمان بابا په دې بیت کې د (نبي، ولي، عاصي او محمد) عربي کلمې کارولي دي، چې حضرت محمد ﷺ د ټولو انسانانو لپاره د لارښود او مشر مقام څرګندوي.

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا

(سنګروال نیازی، ۱۳۸۵ل، ص. ۲۱۱)

په دې بیت کې (عشق او مخلوقات) عربي کلمات دي، چې د (مینې او پیدا شویو موجوداتو) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله بیانوي، چې دا نړۍ الله تعالی د مینې له مخې پیدا کړې ده او دا جهان د ټولو مخلوقاتو د اصل او بنسټ حیثیت لري.

په عاشق به هیخ دهشت د رقیب نه ؤ
که یې نه کړي له خوبانو اختلاط

(رسا، ۲۰۰۹م، ص. ۵۹)

په دې بیت کې (عاشق، دهشت، رقیب او اختلاط) عربي کلمات دي، چې د مینه کوونکي، وېرې، سیال او اړیکې (معاشرت) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله د عاشق حالت او د مینې د سیالي انځور وړاندې کړی دی.

ډیر یاران ؤ د ګل خان و جمال خان
پکار نه شه یو په وقت د زارستان

(شهاب، ۱۴۰۱ل، ص. ۱۵)

رحمان بابا وایي: چې ګل خان او جمال خان ډېر ملګري او یاران درلوده، خو د سختۍ او اړتیا په وخت کې یې یو هم مرسته ونه کړه. په دې بیت کې وقت عربي کلمه ده چې د (وخت، زمانې او مهال) مانا لري.

چې له آله له اولاده سره وسول
خداي دې نه کا څوک دا هسې مظلومان
(زېور، ۱۳۹۴ل، ص.۳۲۸)

په دې بیت کې (آل، اولاد او مظلوم) عربي کلمات دي، چې د (کورنۍ، بچیانو او بېوسه خلکو) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله د انسان د کورنۍ مینه او د مظلومۍ سخت حالت په ښکلي ډول بیان کړی دی.

الغیاث دی الغیاث دی الغیاث دی
چې انسان کا هسې ظلم په انسان
(خلیل، ۱۳۸۴ل، ص.۲۳۸)

په دې بیت کې (غیاث، انسان او ظلم) عربي کلمات دي چې د (مرستې، بشر او بېانصافۍ) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله د انسان له خوا پر انسان د ظلم درد او غندنې بیان کړی دی.

عزیزانو به په څه وبله وژلو
دا همه واړه تقدیر دی د سبحان
(خلیل، ۱۳۸۴ل، ص.۲۳۹)

په دې بیت کې (عزیزان، تقدیر او سبحان) عربي کلمات دي، چې د ګرانو کسانو، الهي فیصلې او پاک ذات (الله تعالی) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي چې د انسان په ژوند کې هره پېښه د الله تعالی په تقدیر او اراده ترسره کېږي.

هر چې اهل د دنیا دي حال یې دا دی
که سړی دی که پیری دی که حیوان
(خلیل، ۱۳۸۴ل، ص.۲۳۹)

رحمان بابا وایي: چې د دنیا د ټولو مخلوقاتو حال یو شان دی؛ که انسان وي، که پیری او که حیوان، ټول د دنیا د بدلونونو او پای ته رسېدو سره مخ دي. په دې بیت کې (اهل، دنیا او حال) عربي کلمات دي چې د (اوسېدونکو، نړۍ او حالت) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله د دنیا د ټولو مخلوقاتو ګډ حالت بیان کړی دی.

يـا بـه شـــهـد يـا بـه قـنـد يـا بـه نـبـات وي
هــر كــلام چــې لــه رحــمانــه شـــنـــيـــده شي
(حسرت، ۲۰۱۳م، ص. ۵۹)

په دې بیت کې (شهد، نبات، کلام، رحمان) عربي کلمې دي، چې د (شاتو، خوږو قندو، وینا) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، چې د ده خبرې دومره خوږې او اغېزناکې دي، لکه شهد، نبات او قند؛ ځکه د هغه کلام له حکمت او خوږوالي ډک دی.

چې رنګین رنګین مضـــمون پـرې ښـــکـلـی نـه وي
څــه پـــکـــار دی د بـــيـــاض ورق رنـــگـــين
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۲۱۱)

په دې بیت کې (مضمون، بیاض او ورق) عربي کلمات دي، چې د منځپانګې، کتابچې یا د شعرونو د ټولګې او پاڼې مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي که په کتاب یا د شعرونو په ټولګه کې ښکلی او ارزښتناک مضمون نه وي، نو د هغې د پاڼو رنګینوالی هېڅ ګټه نه لري.

قـنـاعـت مـې تـر خـرقـې لانـدې اطـلـس دی
پـټ د ټـول جـهـان بـادشـــاه ظـاهـر گـدا يـم
(واجد، ۱۳۹۵ل، ص. ۲۴۵)

په دې بیت کې (قناعت او ظاهر) عربي کلمې دي، چې د (بسانې او ښکاره) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، چې هغه که څه هم په ظاهره فقیر او ساده ښکاري؛ خو د قناعت له امله په زړه کې ډېر شتمن دی؛ ځکه د قناعت خاوند ځان د نړۍ له پاچاهی هم بې‌نیازه ګڼي.

غـرض خـوب دی کـه پـه حســـن وي يـا پـه خـاوره
څــه حـاجـت دی پــه بســـترو پــه بـالـين
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۲۱۲)

په دې بیت کې (غرض، حسن او حاجت) عربي کلمات دي، چې د موخې، ښکلا او اړتیا مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، چې د انسان اصلي موخه خوب او آرام دی، که په نرمه بستره وي او که پر خاوره؛ نو د قیمتي بسترې او بالښت ځانګړې اړتیا نشته.

چـې دنـيـا يـې کـړه د خـداې د پـاره تـرکـه
صـــد رحـمـت شـــه پـه روزگـار د درويشـــانـو
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۲۳۲)

په دې بیت کې (دنیا، ترک او رحمت) عربي کلمات دي، چې د فاني نړۍ د پرېښـودلو او لورینې مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، هغو کسانو چې د الله جل جلاله د رضا لپاره د دنیا مینه پرېښي ده، د درویشانو پر ساده او زاهدانه ژوند دې د الله جل جلاله ډېر رحمتونه وي.

کـه نـعـمـت دی خـو طـاعـت او وعـبـادت دی
گـنـه نشـتـه بـل نـعـمـت پـه دا دنـیـا

(رفیع، ۱۳۸۷ل، ص. ۱۶۷)

په دې بیت کې (نعمت، طاعت، عبادت، دنیا) عربي کلمې دي، چې د (لورینې، فرمانبرداری، بندګی او نړۍ) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، چې د انسان لپاره تر ټولو ستر نعمت د الله تعالی اطاعت او عبادت دی او له دې څخه په دنیا کې لوی نعمت نشته.

زوړنـد سر لـکـه غـنـچـه مـراقـبـه کـړې
پـټ دې نـقـش د زړه رخـت دی رنـگـیـنـه

(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۳۱۶)

په دې بیت کې (مراقبه او نقش) عربي کلمات دي، چې د فکر او نښـې مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسـیله څرګندوي، چې درویش د غنچې په څېر سر ټیټ نیســـي او په مراقبه کې ډوب وي؛ د هغه د زړه پټ رازونه او ښکلا د خلکو له سترګو پټ وي.

بـد کـردار، کـه صـد سـالـه شي و رحـمان تـه
څـرکـنـدېـږي لـکـه طـفـل شـبـیـنـه

(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۲۱۱)

په دې بیت کې (طفل او رحمان) عربي کلمات دي، چې د ماشـوم او ډېر مهربان مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، چې بدکاره انسان که هر څو کاله خپل بد کارونه پټ وساتي؛ خو بیا هم د هغه بدې کړنې څرګندېږي؛ لکه څرنګه چې ماشوم په شپه کې زر پېژندل کېږي.

تـه نـظـر پـه خـپـل هـنـر پـه عـقـل مـه کـړه
دا اسـبـاب پـه عـاشـقـی کـې اسـبـاب نـه دی

(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۳۶۱)

په دې بیت کې (نظر، عقل، اسباب او عاشقي) عربي کلمې دي، چې د فکر او لید، پوهې، وسایلو او مینې مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، چې د ریښتینې مینې په لار کې یوازې په خپل عقل، هنر او پوهې تکیه کول ګټه نه لري، ځکه په عاشقي کې د کامیابی اسباب عقل او هنر نه، بلکې اخلاص، مینه او د زړه

پاکوالی دی.

حـرام خـور د مـخـنـثـو پـه حسـاب دی
کـه پـه تـوره يـا پـه تـيـغ وي مـړني
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۴۸۱)

په دې بیت کې (حرام، مخنث او حساب) عربي کلمې دي، چې د ناروا، نرښځی او شمېر مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسـیله څرګندوي، چې څوک حرام خوري او ناروا روزي خپل عادت ګرځوي، هغه که هر څومره ځان زړور او جنګي وښيي، بيا هم د رښتينو مېړنو په ډله کې نه شمېرل کېږي؛ بلکې بې همته او کمزوری ګڼل کېږي.

ای رحـمانـه چـې بـد فـهـم بـدکـردار شي
راتـه وايـه سـپـی بـهـتر دی کـه سـړی
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۴۸۱)

په دې بیت کې (رحمان او فهم) عربي کلمې دي، چې د ډېر مهربان او پوهې مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسـیله څرګندوي، چې کله انسـان بې‌عقله او بدکرداره شي، نو خپل انسـاني ارزښـت له لاسـه ورکوي؛ ځکه انسان ته عزت د ښه فهم او نېک کردار له امله ورکول کېږي.

حـيران تـلـلـی وي پـه فـکـر
فـرامـوش يـې قـيـل وقـال شي
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۴۱۳)

په دې بیت کې (حیران، فکر، قیل او قال) عربي کلمې دي، چې د حیران، سوچ، وینا او خبرو مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسـیله څرګندوي، چې څوک د ژور فکر او معنوي تأمل په حالت کې وي، هغه د خلکو بې‌ګټې خبرې او شخړې هېرې کړي او یوازې په خپل فکر کې ډوب وي.

پـه ثـواب يـې غـلـط مـه شـه
پـه يـوه سـاعـت وبـال شي
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۴۱۶)

په دې بیت کې (ثواب، غلط، ساعت او وبال) عربي کلمې دي، چې د اجر، تېروتنې، وخت او زیان/بدې پایلې مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرګندوي، چې انسان باید د خپل عمل په اړه مغرور نه شي؛ ځکه یو کار چې د ثواب په نیت ترسره کېږي، که په ناسـم ډول وي، کېدای شي په لږ وخت کې د زیان او بدې پایلې سبب شي.

چې مشهور په صداقت وي
پوچ ګویي واخلي بطال شي
(هاشمي، ۱۳۹۳ل، ص. ۴۱۷)

په دې بیت کې (مشهور، صداقت، بطال) عربي کلمې دي، چې د نوموتي، ربښتینولی او بې‌کاره/ باطل کس مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله ځرګندوي، چې څوک په ربښتینولی مشهور وي، که وروسته بې‌ځایه او دروغ خبرې پیل کړي، نو خپل اعتبار له لاسه ورکوي او د بې‌ارزښته خلکو په ډله کې شمېرل کېږي.

د اوبو ثواب یې نه کېږي له لاسه
که په ګوټ اوبو یې عین د حج ثواب وي
(خلیل، ۱۳۸۴ل، ص.۳۸۲)

په دې بیت کې (ثواب، عین، حج) عربي کلمې دي، چې د اجر، هماغه/ اصلي او د حج (زیارت) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله ځرګندوي، چې د انسان هر نېک عمل که څه هم ډېر کوچنی ښکاري؛ خو بیا هم ارزښت لري؛ لکه یو چا ته چې د اوبو یو غړپ (ګوټ) ورکول د حج په شان ثواب لري

که وعده د یوې چاري یو ساعت کړې
د هغې چارې امید مې په کال نشته
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۱۴۸)

په دې بیت کې (وعده او ساعت) عربي کلمې دي، چې د ژمنې او وخت مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله ځرګندوي، که څوک د یوه کار ژمنه په لږ وخت کې وکړي؛ خو پر خپله ژمنه عمل ونه کړي، نو بیا د هغه کار د تر سره کېدو هیله نه شي کېدای.

د آفتاب په مخ کې هره ورځ زوال دي
ستا دحسن په آفتاب کې زوال نشته
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۱۴۹)

په دې بیت کې (زوال او حسن) عربي کلمې دي، چې د (له منځه تلو/کمېدو او ښکلا) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله ځرګندوي، چې د نړۍ هره ښکلا او ځلا د پای او کمېدو خوا ته ځي؛ لکه لمر چې هره ورځ لوېږي، خو د محبوب ښکلا تلپاتې وي یعنې زوال نه لري.

عاقبت به د اجل په مقراض غوځ شي
پیوسته به مدام نه وي تار د عمر
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۹۵)

په دې بیت کې (عاقبت، اجل، مقراض، مدام، عمر) عربي کلمې دي، چې د (پای، مرگ، قیچي، تل او ژوند) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرگندوي، چې د انسان د ژوند تار که هر څومره اوږد او پرلهپسې وي، بالاخره د مرگ په وسیله پرې کېږي؛ ځکه دنیاوي ژوند تلپاتې نه دی.

چې له سترگو مې خوناب د زړه عیان شه
له نظره مې هر سنگ در ومرجان شه
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۱۶۴)

په دې بیت کې (نظر او مرجان) عربي کلمې دي، چې د (لید او قیمتي ډبرې) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرگندوي، چې د ډبرې مینې او درد له امله د عاشق د زړه حال له سترگو څرگندېږي؛ او د محبوب د نظر په برکت عادي کانې هم دومره ارزښت پیدا کوي، لکه قیمتي مرجان.

علامت د استغنا به یې څرگند وي
هغه څوک چې تیر تر ځان و تر جهان شه
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۱۶۵)

په دې بیت کې (علامت او استغنا) عربي کلمې دي، چې د نښې او بېپروایی/ بېنیازی مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرگندوي، چې څوک د نفس او دنیا له غوښتنو پورته شي او له مادي شیانو بېنیازه ژوند وکړي، د هغه په شخصیت کې د استغنا نښې په ښکاره ډول لیدل کېږي.

دوست دښمن د سړي واړه خپل عمل دي
هم په دا مقدار یې اجر موي په موې شي
(غروال، ۱۳۹۱ل، ص. ۲۱۹)

په دې بیت کې (عمل، مقدار، اجر) عربي کلمې دي، چې د (کړنې، اندازې او بدلې) مانا لري. رحمان بابا د دغو کلمو په وسیله څرگندوي، چې د انسان دوست او دښمن په حقیقت کې د هغه خپل عملونه دي؛ ځکه هر څوک د خپلو کړنو په اندازه بدله او پایله ترلاسه کوي.

پایله

د دې څېړنې له پایلو څخه څرګندېږي، چې رحمان بابا د ژور علم، ديني پوهې او ادبي ذوق خاوند شـاعر و. د عربي ژبې له پوهې او اسـلامي علومو سره د هغه بلدتيا د دې سـبب شـوې وه، چې د عربي کلمې په خپل کلام کې په ډېر مناسـب او هنري ډول وکاروي. د هغه په شـعرونو کې عربي الفاظ يوازې د ژبې د ښـکلا لپاره نه دي راغلي؛ بلکې د فکر د ژورتيا، د ديني مفاهيمو د څرګندولو او د شـعر په رواني، سـاده‌والي او عام فهمه کولو کې هم مهم رول لري.

د شعرونو له سپړنې او شـننې څخه څرګنده شوه، چې رحمان بابا د عربي کلمو په انتخاب کې ځانګړی مهارت درلود او داسې الفاظ يې کارولي دي، چې له مانا، وزن او د شعر له روانۍ سره بشپړ سمون لري. دغه استعمال د هغه د کلام فصاحت او بلاغت لا پياوړی کړی دی.

همدارنګه دا څېړنه څرګندوي، چې د رحمان بابا په کلام کې د عربي کلمو څېړنه د هغه د شعري ژبې د ځانګړنو د پېژندلو لپاره مهمه ده او د هغه د ادبي مقام د لا ښـه درک زمينه برابروي. له همدې امله د عربي کلمو استعمال د رحمان بابا د شاعرۍ يوه مهمه ځانګړنه بلل کېدای شي.

وړاندیزونه

۱. د پښتو ادب څېړونکو ته وړاندیز کېږي، چې د رحمان بابا د کلام نورې ژبنۍ ځانګړنې هم په علمي ډول وڅېړي.

۲. د ژبو او ادبياتو پوهنځيو د پښتو ځانګو استادانو ته وړاندیز کېږي، چې محصلينو ته د رحمان بابا د شاعرۍ په اړه ببلابېلې کورنۍ دندې ورکړي، تر څو يې هغه خواوې هم وسپړل شي، چې لا کار پرې نه دی شوی.

۳. د علومو اکاډمۍ د پښتو برخې څېړونکو ته وړاندیز کېږي، چې د رحمان بابا په اشعارو کې د عربي او فارسي ژبو کلمات وڅېړي او که شوني وي د هېواد په سطحه دې، يو لوی کنفرانس پرې جوړ کړي، تر څو د هېواد او د هېواد څخه بهر ليکوالان پرې خپلې علمي مقالې وليکي او په کنفرانس کې يې وړاندې کړي.

The Use of Arabic Words in the Poetry of Rahman Baba

Associate Professor Dr. Subhanullah Shahab, faculty member, Department of Pashto, Faculty of Languages and Literature, Shaikh Zayed University.
Professor Pashtoon Aqa Shirzad, faculty member of Pashto Department, Faculty of Languages and Literature, Education University, kabul
Email: subhanullah.shahab1364@gmail.com

Abstract
Rahman Baba was one of the great scholars, Sufis, and renowned poets of his time. He possessed extensive knowledge and expertise in religious knowledge and had command of the Arabic language. He had studied the Holy Qur'an, Hadith, Tafsir, Islamic jurisprudence (Fiqh), and others. Consequently, he incorporated Arabic words into his poetry naturally, artistically, and in a fluent and simple manner. This article aims to explore the use of Arabic words in the poetry of Rahman Baba, with particular attention to their literary, religious, and spiritual significance and the reasons for their use. The study employs a descriptive-analytical research approach and is based on the analysis of selected poems from the *Diwan of Rahman Baba*. The significance of this study lies in its discussion of how Arabic words are used in Rahman Baba's poetry, their literary and spiritual effects, their reflection of his linguistic competence, and their contribution to understanding his poetic works. The findings indicate that Rahman Baba used Arabic words skillfully to strengthen meaning and enhance the eloquence, rhetoric, and musicality of his poetry. These words constitute an important component of his poetic language. The research problem arose from the lack of a dedicated and comprehensive study of the use, types, significance, and literary effects of Arabic words in Rahman Baba's poetry. Therefore, this study attempts to address this gap to some extent by identifying and clarifying the characteristics and contexts of Arabic-word usage in his poetic works.

Keywords: Literary Value, Religious Knowledge, Rahman Baba, Poetic Language, Arabic Words

ماخذونه

بریالی، عبدالکریم. (۲۰۰۵م). رحمان بابا پوهنه. درېیم جلد. (رحمان بابا د اجتماعي شعور څېړنې مقاله). پېښور: رحمان ادبي جرګه.

ترحوي، شیرشاه. (۲۰۰۵م). رحمان بابا پوهنه. درېیم جلد. (د رحمان بابا شعور مقاله). پېښور: رحمان ادبي جرګه.

حسرت، محمدزبیر. (۲۰۱۳م). د رحمان بابا فکري مکتب. پښتونخوا: کتابتون خپرندویه ټولنه.

داود، داور خان. (۱۹۹۷م). د رحمان بابا ژوند، تعلیمات او شاعري. پېښور: جدون پرنټنګ پریس.

رحمان بابا. (۱۳۸۴ل). د رحمان بابا کلیات. سریزه، یادښتونه او وییپانګه: حنیف خلیل. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

رحمان بابا. (۱۳۹۱ل). د رحمان بابا دېوان. مرتب او مهتمم: محمدعارف غروال. کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

رحمان بابا. (۱۳۹۳ل). د عبدالرحمان بابا کلیات. اوډنه او سریزه: سیدمحی الدین هاشمي. پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.

رحمان بابا. (۲۰۰۹م). د رحمان بابا دیوان. مقدمه: سید رسول رسا. پیښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

رحمان بابا. (۲۰۱۸م). د رحمان بابا کلیات. تحقیق، ترتیب او سمونه: دوست‌محمدخان کامل مومند. پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي.

رفیع، حبیب الله. (۱۳۸۷ل). رحماني خم. پېښور: د ختیزې سیمې لیکوالو او زورنالېستانو خپلواکه ټولنه.

زهور، زهورالدین. (۱۳۹۴ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ (منځنۍ دوره). کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

سنګروال نیازی، شهسوار. (۱۳۸۵ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور: الازهر خپرندویه ټولنه.

سورانی، عصمت. (۲۰۱۲م). رحمان پوهنه. څلورم ټوک. (رحمان بابا او حدیث مبارکه مقاله). پېښور: رحمان ادبي جرګه.

شهاب، سبحان الله. (۱۴۰۱ل). پښتو ادب تاریخ دویمه دوره (څلورمه برخه). جلال اباد: نیو کابل خپرندویه ټولنه.

واجد، عبدالواجد. (۱۳۹۵ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړنۍ، دویمه او درېیمه دورې). پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.

د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه

پوهنوال امان الله ځدران د شيخ زايد پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځي، د سياسي علومو ځانګې استاد
بريښنالیک: amanullah.zadran@gmail.com

لنډيز

په دې موضوع کې د جزايي اجراآتو اصولو پر مختلفو سيستمونو او د دوی پر ښيګنو او نيمګړتياوو باندې بحث شوی دی. دا سيستمونه عبارت دي له اتهامي، تفتيشي، مختلط او اسلامي. تر ټولو پخوانی او لومړنی د جزايي اجراآتو اصولو اتهامي سيستم دی. کله چې په اتهامي سيستم کې نيمګړتياوې وليدل شوې، تفتيشي سيستم د اتهامي سيستم د نيمګړتياوې د ليرې کولو په خاطر رامنځته شو. د جزايي اجراآتو اصولو په مختلط سيستم کې د اتهامي او د تفتيشي سيستمونو ښيګنې يو ځای شوي دي او د دوی له نيمګړتياوو څخه صرف نظر شوی دی. د جزايي اجراآتو اصولو اسلامي سيستم که څه هم دا سيستم په اصل کې د جزايي اجراآتو اتهامي سيستم سره ورته والي لري؛ اما دا نظام ځينې ځانګړتياوی لري چې ډيری د متهم د حقوقو رعايت او انساني اړخ لري، په دې معنا چې هم د فرد او هم د ټولنې حقوق پکښې رعايت کيږي. د نوموړي موضوع د ښې څيړنې لپاره مې د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه څېړلي دي. په دې مقاله کې چې کتابتوني (توصيفي ـ تحليلي) څېړنيزه مقاله ده دې پايلې ته ورسېدم، چې اسلامي شريعت او د جزايي اجراآتو اصولو اسلامي سيستم د انسانانو د ژوندانه په مختلفو برخو کې د عدالت په تآمين کې يو جامع او کامل سيستم دی، چې له الهي احکامو او نبوي احاديثو څخه الهام اخلي؛ نو ويلی شو چې د جزايي اجراآتو اصولو اسلامي سيستم د جزايي اجراآتو په اړه کامل، جامع او احکام لري.

کليدي ټکي: اتهامي، اسلامي، تفتيشي، جزايي، سيستم، مختلط.

سریزه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ، ۞**الحَمْدُ لِله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَ الْصَّلاةُ وَ الْسَّلامُ عَلى سيد الْمُرسَلِيْنَ وَ عَلى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.** جنايي قضيو ته د رسيدنې په موخه له ډيرو پخوا زمانو څخه د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه شتون لري، چې دا سيستمونو د يو لړ روشونو او اصولو څخه پيروي کوي او دې سيستمونو مختلف ډولونه لري. د هر هيواد او ټولنې مذهبي، سياسي، ټولنيزې، اقتصادي، فرهنګي، او جغرافيايي موقعيت ځانګړتياوې ته په پام سره د جزايي اجراآتو سيستمونو مختلف ډولونه درلودل او لري يې، چې د هغې ټولنې پر خلکو سرنوشت باندې دا سيستمونه حاکم دي او د همغې ټولنې د وګړو ترمنځ اړيکې تنظيموي، د جزايي اجراآتو اصول او مقررات هم په پورتنيو قواعدو کې شامل دي او په هر هيواد کې د جزايي اجراآتو اصول ځانګړي تګلاره موجوده ده، چې هغه د اړونده ټولنې د اړتياوو سره تناسب او سمون لري؛ نو ځکه په هر هيواد کې ځانګړي د جزايي اجراآتو اصول د منلو وړ ګرځيدلي دي. دا سيستمونه له يو بل سره ورته والي او توپيرونه لري او هم دا سيستمونو ځيني نيمګړتياوې او ښيګڼې هم لري. د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه پر څلورو ډولونو ويشل کيږي او هغه عبارت دي له اتهامي سيستم، تفتيشي سيستم، مختلط سيستم او اسلامي سيستم. د اتهامي او تفتيشي سيستمونه هم ځينې ښيګڼې لري او هم ځينې نيمګړتياوې لري؛ اما مختلط سيستم کې د اتهامي او تفتيشي سيستمونو د ښيګڼو او مزاياو څخه ګټه اخيستل شوي ده او د دې سيستمونو له نيمګړتياوو څخه ډډه شوي ده. دا چې د اسلام په مقدس دين کې د انسانانو د نيا او آخرت کاميابي نغښتي ده او اسلامي سيستم هم يو خورا مهم او ګټور سيستم دی، نو پر دې بنسټ، دې موضوع اهميت ته په کتو سره په دې څېړنه کې هڅه کېږي، چې پورته ذکر شوي هر يو سيستم په لاندې ډول تر بحث او څېړنې لاندې نيسوو:

د څېړنې موخې

۱- د دې څېړنې موخه دا ده، چې د جزايي اجراآتو سيستمونه او د جزايي اجراآتو سيستمونو ډولونه وپېژنو او د دوی ترمنځ توپيرونه وپېژنو همدارنګه د افغانستان د جزايي اجراآتو اصولو موقف او ځای د جزايي اجراآتو اصولو په سيستمونو کې وپېژنو.

۲- د افغانستان اسلامي امارت د جزايي اجراآتو اصولو سيستم د جزايي اجراآتو اصولو اسلامي سيستم پر بنسټ رامنځته شوی دی او په دې سيستم کې جزايي اجراآت په درپيو پراووونو کې ترسره کيږي او د هر پراو سره د مينه والو آشنا کول دي.

۳- د څېړنو د موخو څخه يوه د موضوع جذابيت دی او ومې غوښتل د دې مقالې په اساس د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه خلکو ته معرفي کړم.

کړنلاره او د کار توکي

دا مقاله کتابتوني (توصيفي ـ تحليلي) څېړنيزه مقاله ده او د هغه مأخذونو او منـابعو څخه استفاده شوي ده، چې په نړيوالـــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کېږي. او بله دا چې زما ليکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو د پښتو ژبې ټول ادبيات په نظر کې نېول شوي دي او هم په دې ليکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوي ده.

کوشش مې کړي دی هره موثقه مرجع چې د خپلې موضوع د تکميل په خاطر په لاس راغلي ده، ما ترې په قسم د اقسامو استفاده کړيده، دا معنا چې خپل انساني نهايي کوشش مې کړی دی؛ ترڅو موضوع له هرې نګاه څخه وڅېړل شي او لوستونکې يې په لوستلو کې نورو کتابونو ته اړ نه شي.

د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه په لاندې ډول توضيح کوو:

د جزايي اجراآتو اصولو تعريف

جزايي اجراآت: يو سلسله بحثونه چې کشفي، عدلي او قضايي ارګانونه د جرمونو د کشف، اثبات او پر مجرم باندې د جزاګانو تطبيق عملي کوي. (د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، ۱۳۸۷ ل، ص. ٦٩)

د جزايي اجراآتو اصولو سيستم تعريف: په يوه حقوقي چوکاټ کې د جزايي اجراآتو نهادونو او ارګانونو مجموعي ته د جزايي اجراآتو اصولو سيستم وايې. نوموړی تعريف بايد د دوه زماني او مکاني عواملو پربنسټ بشپړ کړل شي، ترڅو يوه دقيقه معنی ترلاسه شي، نو د جزايي اجراآتو اصولو سيستم په يو معين وخت کې د يو دولت په قلمرو کې د جزايي اجراآتو نهادونو او ارګانونو مجموعه ده. او يا په بل عبارت: د جزايي اجراآتو اصولو سيستمونه د هرې ټولنې سياسي، ټولنيز، اقتصادي، قضايي، فرهنګي، ديني، عاداتونو، سنتونو، ملي او تاريخي عناتو ته په پام سره د هغو قواعدو او مقرراتو ټولګې څخه عبارت دي، چې د هماغه ټولنې خلکو په برخليک حاکم دي او دا اصول او قواعد د مختلفو ټولنو خلکو د ژوند روشونه او شيوې تنظيموي او تعامل زمينې رامنځته کوي. (رسولي، ۱۳۹۴ هـ ش، ص. ۱۲)

پورته تعريف ته په پام سره د هرې ټولنې شرايطو همدارنګه وخت او زمان ته په پام سره د جزايي اجراآتو مختلف سيستمونه رامنځته شوي دي.

او اوس د جزايي اجراآتو اصولو له سيستمونو څخه لومړی اتهامي سيستم ورپسې نور سيستمونه په لاندې ډول توضيح کوو:

د جزايي اجراآتو اصولو اتهامي سيستم

تر ټولو پخوانی او لومړنی د جزايي اجراآتو اصولو اتهامي سيستم دی، چې په دې سيستم کې جزايي دعوی د مدعي د شکايت پر بنا تحريک کيږي او دولت د جرم د وقوع څخه؛ ترڅو چې مدعي شکايت نه وي کړي دولت مداخله نه کوي يعني کشفي ارګان مداخله نه کوي؛ اما محاکمه په علني ډول وه او د قاضي نقش او رول بې طرفه و؛ اما په دې سيستم کې د مدعي او مدعي عليه رول ډير فعال دی، قاضي په علني ډول حکم صادروي او د هغو دلايلو پر بنسټ يې صادروي چې هغې ته يې وړاندې کړي وي او د قاضي حکم د اعتراض وړ نه و. (دانش، ۱۳۹۸ل، ص. ۳۷).

د جزايي اجراآتو اصولو د اتهامي سيستم تاريخي شالید

اتهامي سيستم تر ټولو پخوانی او لومړنی سيستم دی، چې په قرون اولی يا لومړنيو پيريو کې د لرغوني روم په امپراطوری کې رامنځته شو، چې وروسته له هغې د نړۍ نورو اروپايي هيوادونو ته خپور شو. (فاريابي، ۱۳۹۳ ل، ص. ۸).

اتهامي سيستم په تاريخي لحاظ څلور مرحلې تيرې کړي دي.

الف - د شخصي اتهام مرحله.

ب- د خلکو د اتهام مرحله.

ج- د قضايي اتهام مرحله.

د- د عمومي اتهام مرحله (يوسفي، ۱۳۹۵ ل، ص. ۵۴).

د اتهامي سيستم ځانګړتياوې

د جزايي اجراآتو اصولو اتهامي سيستم يو لړ ځانګړنې لري چې تر ټولو ارزښتناک يې په لاندې ډول دي :

۱- د تعقيبي مقام نه شتون

له جرم څخه متضرر شخص کولای شول چې خپله حق العبدي دعوی په مدني محکمه کې او هم په جزايي محکمه کې اقامه کړي؛ اما که چيرې متضرر به و نه غوښتل چې دعوی اقامه کړي؛ نو دولت به جزايي دعوی نه اقامه کوله؛ ځکه په هغه وخت کې له يوې خوا د ټولنې او د افرادو د ګټو ترمنځ جدا والی نه و راغلی او له بله

پلوه دولتونو شتون نه درلود او یا دولتونه ډیر غښتلي او ځواکمن نه و؛ ترڅو دولت د خپل استازي له طریقه جزایي دعوی اقامه کړي. (علم ستانکزی، ۱۳۹۳ ل، ص. ۱۹).

۲- د محاکمې په جریان کې د قاضیانو نه لاسوهنه

اما په اتهامي سیستم کې د قاضي نقش بې تفاوته دی، یعنې د دعوی د طرفینو د دعوی او دفاعیو په نتیجه کې به یې خپل حکم صادرولو او د قاضي نقش غیر فعال و، او د شاهد او اوریدونکي په توګه یې مدعي او مدعی علیه ته کتل او د دعوی د هر لوري دلایل یې اوریدل او دا دلایل به یې یو د بل سره پرتله کول او په نتیجه کې د هر لوري دلایل به چې قوي و، خپل حکم به یې د هغه په ګټه صادر کړ. (آخوندي، ۱۳۹۵ ل، ص. ٦١).

۳- د قاضیانو نه مسلکي توب

نن ورځ د قضاوت د دندې او مسلک لپاره مسلکي او تخصصي زده کړې ډیرې اړینې دي او قاضي باید د خپل قضاوت په دنده کې کافي علم او معلومات ولري؛ اما په اتهامي سیستم کې دا اصل او شرط په نظر کې نه نیول کیده او د هغه وخت قاضیانو د قضاوت په چارو کې ډیر لږ معلومات درلودل؛ بلکې دوی به د ټولنیز رسوخ او نفوذ په اساس د قضاوت پر دنده مقرریدل.(یوسفي، ۱۳۹۵ ل، ص، ۵۴).

۴- د رسیدنې شفاهي والي

په اتهامي سیستم کې محاکمه شفاهي او غیر کتبي وه.،(رسولي، ۱۳۹۴ ل، ص. ١٦).

۵- د محاکمې علني والی

په اتهامي سیستم کې هم د علني محاکمې اصل منل شوی و، جزایي محاکمه په ټولیز ډول علني ترسره کیده، یعنې محاکمه به د ټرلو دروازو تر شا نه ترسره کیده؛ بلکې ټولو لیوالو اشخاصو ته اجازه ورکول کیده چې د محاکمې په وخت کې حاضر شي، د محاکمې جریان وګوري او هغه واوري. البته د محاکمې په پای کې د محکمې پریکړه هم علني اعلانیده. (غلامي، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۴).

٦- د محاکمې ترافعي والی یا تدافعي والی

په اتهامي سیستم کې هم د تدافعي والي او ترافعي والي اصل هم منل شوی و، او د قضیې هر لوري کولی شول چې خپل دلایل په کامله آزادۍ سره وړاندې کړي او د اوسني وخت تدافعي والي اصل سره توپیر په دې کې دی چې د اوسني وخت په جزایي دعوی او محاکمه کې قاضي مداخله کوي او کوښښ کوي چې ځان حقیقت ته ورسوي؛ اما په اتهامي سیستم کې قاضي لاسوهنه نه کوله او نقش یې غیر فعال و، او یوازې د دعوی د طرفینو

د دعواوو او دفاعیو په نتیجه کې یې خپله پریکړه صادروله او قاضیانو د مداخلې او بحث حق نه درلود. (آخوندي، ۱۳۹۵ ل، ص. ٥٦).

د اتهامي سیستم ښیګنې او نیمګړتیاوې

اتهامي سیستم هم نواقص او هم ښیګنې لري، چې مونږ د اتهامي سیستم ښیګنې د هغې په ځانګړتیاوې کې لټولی شو او هم د دې سیستم نیمګړتیاوې او نواقص د همدې جزایي اجراآتو اصولو اتهامي سیستم په ځانګړتیاوو کې پیدا کولی شو،

د اتهامي سیستم ښیګنې

اتهامي سیستم لاندې دوې مزایاوې او ښیګنې لري:

۱ -د محاکمې علني والې.

۲ -د محاکمې تدافعي والی یا ترافعي والی. (پرویز، ۱۴۰۰ هـ ش، ص. ٢٦)

د اتهامي سیستم نیمګړتیاوې

اتهامي سیستم لاندې ځلور نیمګړتیاوې لري:

۱ -د دولت له خوا د دعوی نه اقامه کیدل.

۲ -د محاکمې په جریان کې د قاضیانو نه لاسوهنه.

۳ -د محاکمې شفاهي والی، یا نه کتبي والی.

۴- د قاضیانو نه مسلکي توب.

که مونږ د اتهامي سیستم هم ښیګنو ته او هم نیمګړتیاو ته پام وکړو؛ نو لیدل کیږي چې دوې ښیګنې لري او ځلور نیمګړتیاوې لري، چې نیمګړتیاوې یې د ښیګنو دوه برابره دي. د اتهامي سیستم له لویو نیمګړتیاوو څخه یې یوه دا ده چې په دې سیستم کې د تورن ګټو او منافعو په نسبت د تولنې او دولت ګټو ته په کې رجحان او برتري ورکړل شوی دی او د دولت او د تولنې ګټې د فرد ګټو لپاره قرباني شوي دي؛ نو د دې نیمګړتیاو او نواقصو په نتیجه کې د اتهامي سیستم له زوال سره مخامخ شي او د وخت په تیریدو سره د اتهامي سیستم ترڅنګ یو بل سیستم چې د تفتیشي سیستم په نامه یادیږي رامنځته شي، چې د تفتیشي سیستم په لاندې ډول تر بحث او مطالعې لاندې نیسو. (دانش، ۱۳۹۸ ل، ص. ۴۱).

د جزايي اجراآتو اصولو تفتيشي سيستم

په تفتيشي سيستم کې دولتي ارګانونه کله چې د جرم د وقوع څخه اطلاع ترلاسه کړي، پرته له دې چې د متضرر يا کوم بل چا يا کوم ارګان شکايت ته منتظر پاتې شي، د جرم د مرتکب په لټه او تعقيب کې راوځي او د جرم د مرتکب محاکمه په تفتيشي سيستم کې په کتبي او غير علني ډول ترسره کيږي. تفتيشي سيستم په حقيقت دوهم سيستم دی، چې په اتهامي سيستم کې کله چې نيمګړتياوې وليدل شوې، ترڅنګ يې تفتيشي سيستم د اتهامي سيستم د نيمګړتياوې د ليرې کولو په خاطر رامنځته شو.

د تفتيشي سيستم تاريخي شاليد

تفتيشي سيستم د اتهامي سيستم څخه وروسته رامنځته شوی دی. د دغه سيستم ريښې د روم امپراطوری ته رسيږي. چون په هغه وخت کې طبقاتي سيستم و؛ نو ډيری د ټولنې ټيټ پوړي خلک او غلامان د تفتيشي سيستم د مقرراتو سره سم محاکمه او مجازات کيدل. (آشوري، ۱۳۸۴ ل، ص. ٦٦)

د تفتيشي سيستم ځانګړتياوې

د تفتيشي سيستم خصوصيات په کامل ډول د اتهامي سيستم د خصوصياتو سرچپه شکل دی، چې په لاندې ډول يې مطالعه کوو :

۱- د دولت له خوا د دعوی اقامه کيدل

په تفتيشي سيستم کې د اتهامي سيستم بر عکس، جزايي دعوی د دولت لخوا اقامه کيږي. په تفتيشي سيستم کې قاضي هم پر متهم باندې دعوی اقامه کوله او هم به يې پر متهم باندې حکم صادرولو، يعنې له يوې خوا يې د څارنوال دنده پر مخ بيوله او له بله پلوه د قاضي دنده يې هم پر غاړه درلوده او پر متهم باندې به يې حکم صادر کړ؛ نو په دا ډول سيستم کې د څارنوال او قاضي ترمنځ وحدت ليدل کيږي.

۲- د قاضيانو لاسوهنه

په تفتيشي سيستم کې د قاضي نقش او رول فعال دی او د دعوی د طرفينو په دلايلو باندې نه دی مقيد؛ بلکې قاضي کولای شو، چې د محاکمې په جريان کې لاسوهنه وکړي او د دعوی د لوريو څخه کولای شي توضيحات وغواړي او پوښتنې ترې وکړي. (آشوري، ۱۳۹۴ ل، ص. ٦٦)

۳- د قاضیانو مسلکي توب

اتهامي سیستم بر عکس، په تفتیشي سیستم کې هغه قاضیان به پر دنده ګمارل کیده، چې د قضاء په برخه کې به یې زده کړې او تخصص درلوده، یعنې مسلکي اشخاص او افراد به د قاضیانو په حیث مقرریدل.

۴- د محاکمې کتبي والی

اتهامي سیستم برعکس، په تفتیشي سیستم کې محاکمه په شفاهي ډول نه ترسره کیده؛ بلکې محاکمه به په کتبي او لیکلي ډول ترسره کیده، یعنې په دې سیستم کې د جزایي اجراآتو او محاکمې ټول پروسیجر او اجراآت به په لیکلي او کتبي توګه ثبت او لیکل کیده(صالحي، ۱۳۹۸ ل، ص. ۲۱).

۵- د محاکمې سري والی

د اتهامي سیستم برعکس، په تفتیشي سیستم کې محاکمه په سري او پټ ډول ترسره کیده او د نن ورځې په ځیر چې معمولاً محاکمه په علني شکل ترسره کیږي، په تفتیشي سیستم کې محاکمه غیر علني وه او د ټولو دروازو تر شا په پټه توګه ترسره کیده.

٦- د محاکمې غیر ترافعي یا تدافعي والی

د تفتیشي سیستم غیر ترافعي او غیر تدافعي والي ځانګړنه لري. (غلامي، ۱۴۰۰ ل، ص. ۵۸)

د تفتیشي سیستم ښیګنې او نیمګړتیاوې

د تفتیشي سیستم ښیګنې او نیمګړتیاوې هم د اتهامي سیستم د مزایاو او نواقصو معکوس او سرچپه بڼه لري. په دې معنا چې د اتهامي سیستم ښیګنې د تفتیشي سیستم نیمګړتیاوې دي همدارنګه د اتهامي سیستم نیمګړتیاوې د تفتیشي سیستم ښیګنې دي، چې مونږ د تفتیشي سیستم ښیګنې او نیمګړتیاوې په جلا جلا عنوانو کې تر بحث او مطالعې لاندې نیسو.

د تفتیشي سیستم ښیګنې

د تفتیشي سیستم مزایاوې او ښیګنې په لاندې ډول دي :

۱ -د محاکمې کتبي والی.

۲- د محاکمې په ترڅ کې د قاضیانو لاسوهنه

۳ -د دولت له خوا د جزایي دعوی اقامه کیدل

۴ -د قاضیانو مسلکي توب

د تفتيشي سيستم نيمګړتياوې

د تفتيشي سيستم مهمې نيمګړتياوې په لاندې ډول دي:

۱ -د محاکمې سرې والی

۲ -د محاکمې غير ترافعي والی

تفتيشي سيستم هم د وخت په تيريدو سره له زوال سره مخامخ کيږي او د هغه پر ځای يو بل سيستم رامنځته شي، چې د جزايي اجراآتو اصولو مختلط سيستم په نوم يادیږي، چې په لاندې ډول يې مطالعه او تر بحث لاندې نيسو.(علامه، ۱۳۹۸ ل، ص. ۳۹)

د جزايي اجراآتو اصولو مختلط سيستم او د هغې ځانګړتياوې

مختلط سيستم د تاريخی شالید له پلوه د فرانسې ستر انقلاب څخه وروسته رامنځته شي. مختلط سيستم د لومړي ځل لپاره په اتلسمه ميلادي پيړۍ کې په فرانسه کې رامنځته شو، په همدې خاطر ځيني حقوقپوهان هغې ته د جزايي اجراآتو اصولو فرانسوي سيستم هم وايي او مختلط سيستم د فرانسې هيواد څخه نورو هيوادونو ته خپور او عام شو، چې دا سيستم د مختلط سيستم په نامه ياد شو، يعنې په دې سيستم کې د دواړو سيستمونو له ښيګڼو څخه ګټه اخيستل شوې او د هغوی له نيمګړتياوو څخه ډډه شوې. (غلامي، ۱۴۰۰ ل، ص. ۵۸)

د مختلط سيستم ځانګړنې

په مختلط سيستم کې د اتهامي او د تفتيشي سيستمونو ښيګڼې يو ځای شوي دي او د دوی له نيمګړتياوو څخه صرف نظر شوی دی، مثلاً په مختلط سيستم کې د تفتيشي سيستم څخه ځيني ځانګړتياوې د جزايي دعوی څخه په وړاندې پراو يعنې د جرم کشف او تحقيق پراو کې لکه د جرم کشف، د جرم تحقيق او تعقيب او د قاضي مداخله د محاکمې په مرحله کې او داسې نور موارد اخيستلي دي او د اتهامي سيستم څخه يې د محاکمې علني والی، د محاکمې ترافعي والی، او شفاهي والي څخه ګټه اخيستل شوي ده (ايوبي، ۱۳۹۶ ل، ص. ۳۴).

پورته توضيحاتو ته په کتو سره، مختلط سيستم ځانګړنې په لاندې ډول دي:

۱- د محاکمې علني والی (له اتهامي سيستم څخه).

۲ -د محاکمې ترافعي والی (له اتهامي سيستم څخه)

۳ -د دولت لخوا د دعوی اقامه کيدل (تفتيشي سيستم)

۴ -د محاکمې په ترڅ کې د قاضيانو لاسوهنه (له تفتيشي سيستم څخه)

۵ -د قاضيانو مسلکي توب (له تفتيشي سيستم څخه)

٦ -د محاکمې کتبي والی (له تفتیشي سیستم څخه(آشوري، ۱۳۸۴ ل، ص. ٦٧)

د مختلط سیستم ښیګنې او نیمګړتیاوې

د مختلط سیستم د مزایاو او نواقصو واضح کولو په هدف، مونږ دواړه موضوعات په جلا جلا ډول تر بحث لاندې نیسو.

د مختلط سیستم ښیګنې

څرنګه چې مختلط سیستم د پخوانیو سیمستونو یعنې د اتهامي او تفتیشي سیستمونو د دواړو مثبتو ځانګړنو درلودونکي دي؛ نو د مختلط سیستم شپږ ځانګړنې لري، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

١ -د محاکمې علني والی (له اتهامي سیستم څخه)

٢ -د محاکمې ترافعي والی (له اتهامي سیستم څخه)

٣ -د دولت لخوا د دعوی اقامه کیدل (تفتیشي سیستم)

۴ -د محاکمې په ترڅ کې د قاضیانو لاسوهنه (له تفتیشي سیستم څخه)

۵ -د قاضیانو مسلکي توب (له تفتیشي سیستم څخه)

٦ -د محاکمې کتبي والی (له تفتیشي سیستم څخه)

د مختلط سیستم نیمګړتیاوې

څرنګه چې مختلط سیستم د اتهامي او تفتیشي سیستمونو له مزایاو او ښیګنې څخه جوړ د جزایي اجراآتو اصولو یو سیستم دی، او له نواقصو او نیمګړتیاو څخه یې ډډه شوي ده، چې په مجموعي توګه یاد سیستم نواقص او نیمګړتیاوې نلري. (دانش، ۱۳۹۸ ل، ص. ۴۷)

د جزایي اجراآتو اصولو اسلامي سیستم

د سیستمونو د ویشنې په ارتباط، علما عمدتاً دا سیستمونه پر درېو ډولونو ویشي؛ اما ځینې علماء په ځانګړي ډول اسلامي علماء د دغو دریو د جزایي اجراآتو سیستمونو تر څنګ، د جزایي اجراآتو اصولو اسلامي سیستم هم ذکر کوي، که څه هم دا سیستم په اصل کې د اتهامي سیستم سره ورته والي لري؛ اما دا نظام ځینې ځانګړتیاوی لري چې ډیری د متهم د حقوقو رعایت او انساني اړخ لري، په دې معنا چې هم د فرد او هم د ټولنې حقوق پکښې رعایت کیږي .

څرنګه چې اسلامي شريعت د انسانانو د ژوندانه په مختلفو برخو کې د عدالت په تآمين کې يو جامع او کامل سيستم دی، چې له الهي احکامو او نبوي احاديثو څخه الهام اخلي؛ نو ويلی شو چې اسلامي سيستم د جزايي اجراآتو په اړه کامل، جامع احکام لري. د دې لپاره چې عدالت په ښه توګه تآمين شي د اسلامي سيستم ټولې ښيګڼې او مزاياوې د شيرګونې ځانګړنې په شمول چې د جزايي اجراآتو اصولو په مختلط سيستم کې ورځخه يادونه وکړه، په ځان کې رانغاړي، چې مونږ به هم د اسلامي سيستم ځانګړنې په لاندې ډول د مطالعې لاندې ونيسو. (رسولي، ۱۳۹۷ ل، ص. ۵۰)

۱- د برائت الذمې اصل: ټول اشخاص بري الذمه ګڼل کيږي؛ مګر دا چې د دوی جزايي مسؤليت د دلايلو په وړاندې کولو سره ثابت شوي وي.

۲- د جزايي مسؤليت د منلو اصل: د جزايي اجراآتو اصولو اسلامي سيستم، هغه سيستم دی، چې په لومړي ځل يې د افرادو جزايي مسؤليت ته توجه کړي ده، ماشومان او مجانين که څه هم جرايم يې ترسره کړي وي، عمل يې جرم ګڼل کيږي؛ اما پر دوی باندې مجازات نه تطبيق کيږي؛ ځکه چې دوی جزايي مسؤليت نلري. اسلامي شريعت د قصد او ارادې مفاهيم ېې د جزايي مسؤليت قلمرو ته شامل کړل او هغه ېې د جرمي اعمالو د سنجولو معيار بولي. اسلامي شريعت د جرايمو او جزاګانو د قانونيت پرنسيپ يې منلی، همدارنګه د جزايي مسؤليت د شخصي والي پرنسيپ يې منلی.

۳- د جرم او جزا د مشروعيت اصل: د شرعي او قانوني نصوصو پرته نه کوم جرم شته او نه کومه جزا؛ نو کله چې يو څوک پر جرم باندې متهم کيږي، بايد په شرع او قانون کې هغه عمل جرم ګڼل شوی وي او پر داسې جزا باندې بايد محکوم شي، چې په شرع او قانون کې پر هغې باندې حکم شوی وي.

۴- د قاضي د وحدت سيستم يا په قضاوت کې د يو قاضي منل: په دې سيستم کې اصل دا دی، چې جزايي قضاياوې ته د يو قاضي لخوا رسيدنه کيږی.

۵- رسيدنه يوه مرحله يې ده: په دې معنا چې د يوې محکمې رسيدنه قطعي او نهايي ګڼل کيږي په اسلامي سيستم کې قضاياو، ته په يوه مرحله کې رسيدنه کيږي او کله چې حکم د همدې محکمې لخوا صادريږي قطعي او نهايي وي، په دې سيستم کې پر حکم باندې تجديد نظر، استيناف غوښتنه او تميز غوښتنه وجود نلري، او په دې سيستم کې منل شوي هغه قاضي چې حکم صادروي بايد يو عادل، متقي او د شرعي احکامو څخه آګاه شخص وي؛ نو کله چې حکم صادروي بايد دا حکم قطعي او نهايي وي او د اعتراض وړ نه وي.

٦- د جرم د ارتکاب په اثر دوو دعواوو ته رسیدنه کیږي، چې یوه یې جزایي دعوی او بله یې حق العبدي دعوی.

۷- د شبهې په موجودیت سره، د حدودو د جرایمو تطبیق سقوط کوي.

۸- د اثبات دلایلو ته ډیره پاملرنه کیږي.

۹- د جزایی دعوی لپاره د بیلې واکمنې مرجع ټاکنه: د جزایي اجراآتو اصولو اسلامي سیستم د جزایی دعوی اقامې لپاره د بیلې دولتي واکمنې مرجع له ټاکلو سره کومه ستونزه او مخالفت نه لري. په اسلامي هیوادونو کې چې د اسلامي محاکماتي سیستم څخه پیروي کوي، معمولاً جزایي دعوی دنده مدعي العموم پر غاړه لري.

۱۰ - د محاکمې په ترڅ کې د قاضیانو لاسوهنه:. په اسلامي محاکماتي سیستم کې قاضي حق لري، چې د محاکمې په ترڅ کې لاسوهنه وکړي او قاضي تر هغه وخته د پریکړې حق نلري؛ ترڅو پورې چې له مقابل لوري څخه یې پوښتنه نه وي کړې چې کوم بل دلیل لرې او که نه؟ او که چیرته بل دلیل شتون ولري، هغه هم باید د پریکړې له صدرو څخه وړاندې واوري؛ نو د جزایي اجراآتو اصولو په اسلامي سیستم کې د عدالت د سم تطبیق لپاره قاضي کولای شي، چې د دعوی او د قضیې د ښې او بهترې روښانتیا په خاطر د محاکمې په ترڅ کې مداخله وکړي او د دعوی د لوریو څخه پوښتنه وکړي.

د افغانستان په قضایي سیستم کې هم د اسلامي سیستم څخه په پیروی، د جزایي دعوی او محاکمې په ترڅ کې قاضي ته د لاسوهنې او د قضیې لورو څخه د پوښتنو حق په نظر کې نیول شوی دی.

۱۱- د قاضیانو مسلکي توب: په اسلامي سیستم کې د قاضي یو شرط د شرعي قضاوت په علم باندې د قاضي شرایطو، صفاتو او مسلکي توب دی او اسلامي شریعت د قاضي پر صفاتو او شرایطو دومره ټینګار لري، چې په بل هیڅ کوم حقوقي او د جزایي اجراآتو اصولو سیستمونو کې وجود نلري؛ ځکه قاضي د دې لپاره چې عدالت په ښه توګه تأمین کړي، ټولنه حمایه او دفاع شي او همدارنګه مجرم اصلاح او ټولنې ته سالم وړاندې شي؛ نو د افغانستان په قضایي سیستم کې هم په دې ټینګار شوی چې قاضي باید مسلکي وي، او په فقهي، حقوقي، جنایي علومو، همدارنګه د افغانستان په نافذه قوانینو او عرف او عاداتو باندې پوه او تسلط ولري او د حکم صادرولو په وخت کې د یادو شرچینو څخه ګټه پورته کړي. (آخوندي، ۱۳۸۵ ل، ص. ۷۲)

۱۲- د محاکمې کتبي والی: په صدر اسلام کې د خلفای راشدین په دوره کې قضایي پریکړې په کتبي او لیکلي شکل نه صادریدې، نه ثبت او نه راجستر کیدې؛ ځکه په هغه وخت کې له حقیقت څخه انکار نه کیده؛ اما د

حضرت معاويه بن ابوسفيان په وخت کې مصري قاضي، سليم بن عتر و. ياد قاضي کله چې د ميراث قضيې په اړه پريکړه صادره کړه، وروسته محکوم له انکار وکړ او بيا ځلې قاضي ته ولاړ، قاضي د دوهم ځل لپاره پريکړه صادره کړه او هغه يې وليکله.

د افغانستان د جزايي اجراآتو اصولو په سيستم کې هم د محاکمې کتبي والی منلی او قاضيانو ته يې سپارښتنه کړي چې خپلې پريکړې، که د قرار په شکل وي يا د پريکړې په ډول، په کتبي او ليکلې ډول صادرې کړي.

۱۳- د محاکمې علني والی: د جزايي اجراآتو اصولو په اسلامي سيستم کې د عدالت د ښه او بهتر تطبيق کې په علني محاکمې ټينګار شوی دی، او په ځيني استثنايي او ځانګړو حالاتو کې د ځينو مصالحو پر اساس لکه د ماشومانو جرايم، کورني جرايم او يا د ملي مصالحو او ملي امنيت پر وړاندې جرايمو کې محاکمه معمولاً په سري او کتبي ډول ترسره کيږي.

۱۴- د محاکمې ترافعي يا تدافعي والی: په اسلامي سيستم کې، د دعوی د طرفينو يو له ارزښناکو حقوقو سره د قاضي پر وړاندې د ترافعي والي او تدافعي والي حق ګڼل کيږي. اسلامي شريعت د دعوی د لوريو يو له ارزښتناکو حقوقو څخه د قاضي په حضور کې د مدافعې حق ګڼلی دی، چې دا په حقيقت کې د اسلامي سيستم د ترافعي يا تدافعي والي خصيصه ده او د افغانستان قوانينو هم د دعوی د طرفينو په دلايلو او د تورن د دفاع پر حق باندې تأکيد کړی دی. (رسولي، ۱۳۹۷ ل، ص. ۵۱)

د سيستمونو مقايسه او د هغې انطباق د افغانستان د جزايي اجراآتو له نظام سره

د افغانستان د جزايي اجراآتو اصولو سيستم، د اسلامي سيستم پر بنسټ رامنځته شوی دی، او دا اجراآت په دريو پړاونو کې ترسره کيږي، يعنې د جزايي دعوی څخه مخکې مرحله، د جزايي دعوی مرحله او د جزايي دعوې څخه وروسته مرحله کې. د بيلګې په ډول د جزايي دعوی څخه مخکښې مرحله کې لکه د کشف په مرحله کې د پوليسو يا امنيت ملي اجراآت او د دوسيې ترتيبول او د تحقيق او تعقيب په مرحله کې د مظنون او متهم د تحقيق او استنطاق کول او د اتهامنامې او صورت دعوی ترتيبول همدارنګه د محاکمې په مرحله کې د جزايي دعوی اقامه کول او د محاکمو لخوا د حکمونو صادرول او د جزايي دعوی څخه وروسته مرحله کې د محاکمو د صادره پريکړو تنفيذ باندې بحث کيږي، چې دا ټول پړاوونه د جزايي اجراآتو اصولو اسلامي سيستم پر بنسټ رامنځته شوي او د رسيدنې پړاونه يو له بله بيل شوي دي او هر يو پړاو د خپلو ځانګړو قواعدو تابع دی او د ځانګړو مراجعو لخوا سرته رسيږي. (د جزايي محاکمو اجراآت، ۱۴۰۴ هـ ش، ص. ۱۰)

پایله

د دې علمي مقالې په اوږدو کې دې پایلو ته ورسیدو چې:

هره ټولنه د خپلو دینونو، عقایدو، اصولو، عرفونو، رواجونو پر بنسټ خپلې جزایي او مدني شخړې او دعواوې حل او فصل کوي، چې په ټولنو کې د جزایي قضایاو د هوارولو په موخه ځانګړي سیستمونه تدوین شوي دي او دا سیستمونه متفاوت دي، چې په نړۍ کې اکثراً ځلور ډوله سیستمونه د جزایي دعوې پر مخ بیولو کې مشهوره دي، چې په ځینو سیستمونو کې د مظنون او متهم له حقوقو څخه تر ډیره بریده ملاتړ شوی او په ځینې نورو سیستمونو کې د ټولنې له ګټو څخه ملاتړ شوی وو، او په ځینو نورو سیستمونو کې هم د فرد او هم د ټولنې له منافعو څخه حمایت شوی دی چې دا سیستمونه له اتهامي، تفتیشي، مختلط او د اسلام له سیستمونو څخه عبارت دي. تر ټولو پخوانی او لومړنی د اتهامي سیستم دی. د جزایي اجراآتو اصولو تفتیشي سیستم په حقیقت کې د جزایي اجراآتو اصولو دوهم سیستم دی، چې د جزایي اجراآتو اتهامي سیستم کې کله چې نیمګړتیاوې ولیدل شوې، ترڅنګ یې دا د جزایي اجراآتو اصولو تفتیشي سیستم د اتهامي سیستم د نیمګړتیاوې د لیرې کولو په خاطر د هغې په څنګ کې رامنځته شو او کله چې په تفتیشي سیستم کې هم نیمګړتیاوې ولیدل شوې، د جزایي اجراآتو اصولو مختلط سیستم رامنځته شي، داچې د جزایي اجراآتو اصولو هم اتهامي او هم تفتیشي سیستمونو خپلې نیمګړتیاوې درلودې، چې د دې نیمګړتیاو په نتیجه کې د جزایي اجراآتو اصولو مختلط سیستم منځته راشي. د جزایي اجراآتو اصولو مختلط سیستم د جزایي اجراآتو اصولو اتهامي او د جزایي اجراآتو اصولو تفتیشي سیستم له ګډوالي او اختلاط څخه رامنځته شي؛ ځکه حقوقپوهان او علماء په دې عقیده شي د جزاي اجراآتو اصولو په دواړو سیستمونو (اتهامي او تفتیشي) کې نیمګړتیاوې وجود لري؛ نو د دواړو یادو جزایي اجراآتو اصولو سیستمونو له سګیګیو او مزایاو له اختلاط او یو ځای کیدو څخه، یو بل د جزایي اجراآتو اصولو سیستم رامنځته کړي، اما ځینې علماء په ځانګړي ډول اسلامي علماء د دغو دریو د جزایي اجراآتو سیستمونو تر څنګ، د جزایي اجراآتو اصولو اسلامي سیستم هم ذکر کوي، که څه هم دا سیستم په اصل کې د جزایي اجراآتو اتهامي سیستم سره ورته والي لري؛ اما دا نظام ځینې ځانګړتیاوی لري چې ډیری د متهم د حقوقو رعایت او انساني اړخ لري، په دې معنا چې هم د فرد او هم د ټولنې حقوق پکښې رعایت کیږي .

څرنګه چې اسلامي شریعت د انسانانو د ژوندانه په مختلفو برخو کې د عدالت په تآمین کې یو جامع او کامل سیستم دی، چې له الهي احکامو او نبوي احادیثو څخه الهام اخلي؛ نو ویلی شو چې د جزایي اجراآتو اصولو اسلامي سیستم د جزایي اجراآتو په اړه کامل او جامع احکام لري.

د افغانستان د جزايي اجراآتو اصولو سيستم، د جزايي اجراآتو اصولو اسلامي سيستم پر بنسټ رامنځته شوی دی، او دا اجراآت په دريو پړاونو کې ترسره کيږي، يعنې د جزايي دعوی څخه مخکې مرحله، د جزايي دعوی مرحله او د جزايي دعوې څخه وروسته مرحله کې. د افغانستان د جزايي اجراآتو اصول پر همدې بنسټ تنظيم شوي او زمونږ په هيواد کې د همدغه نظام پر بنسټ د جزايي عدالت پلي کولو ته سازمان ورکړل شوی دی.

وړانديزونه

۱- د جزايي نظام اړوند کارکوونکو، لکه قاضيانو، وکيلانو، او پوليسو لپاره د مسلکي روزنې پروګرامونه بايد جوړ شي ترڅو د دوی حقوقي او قضايي پوهه لوړه شي.

۲- د دې لپاره چې قوانين عامه فهمه او ساده وي او په آسانه توګه ورڅخه ګټه پورته شي، اسلامي امارت ته وړانديز کيږي، چې ټول متني جزايي قواعد په يوه کد کې او ټولې شکلي جزايي قواعد په يوه بل جلا جزايي کد تدوين کړي.

۳- د قاضيانو لپاره د فقهي او قانوني پوهه لوړه شي؛ ترڅو د جزايي اصولو په رڼا کې فيصلې وکړي.

۴- د متهمينو لپاره د مسلکي وکلاو موجوديت ته اړتيا ده، ترڅو هغوی د خپلو حقوقو څخه خبر وي او د خپل دفاع حق ولري.

۵- داسې يوه کامله او جامع د جزايي اجراآتو اصولنامه چې د اسلامي فقهې د اصولو (قرآن، سنت، اجماع او قياس) پر بنسټ بايد جوړه شي، چې د اجراآتو ټول جزئيات پکښې نغښتي وي.

Principles of criminal procedure systems

Associate professors Amanullah Zadran Law and Political Science Faculty،Department of Political Science and International Relations at Sheikh Zayed University, Khost - Afghanistan.
Email: amanullah.zadran@gmail.com

Abstract
This topic discusses the different systems of criminal procedure and the advantages and disadvantages of the systems of criminal procedure, which include accusative, investigative, mixed, and Islamic. The oldest and most primitive system of criminal procedure is the accusatory system of criminal procedure. When shortcomings were observed in the accusatory system of criminal procedure, the investigative system of criminal procedure principles was created to eliminate the shortcomings of the accusatory system. In the mixed system of criminal procedure principles, the advantages of the accusatory and investigative systems of criminal procedure principles are combined and their shortcomings are ignored. The Islamic System of Criminal Procedure Principles: Although this system is essentially similar to the accusatory system of criminal procedure, this system has some characteristics that mostly respect the rights of the accused and have a humane aspect, meaning that the rights of both the individual and the community are respected. To better understand this topic, I have examined the systems of criminal procedure principles. In this article, which is a bibliographic (descriptive-analytical) research article, I have come to the conclusion that Islamic Sharia and the Islamic system of criminal procedure principles are a comprehensive and complete system in ensuring justice in various aspects of human life. That Inspired by divine decrees and prophetic hadiths, it can be said that the Islamic system of criminal procedure principles is complete, comprehensive, and contains provisions regarding criminal procedure.

Keywords: Accusative, Criminal, Islamic, investigative, Mixed, System

مأخذونه

ايوبي، فضل الرحمن. (۱۳۹٦ هـ ش). د جزايي محاکمو اصول. (چ، ۱). کابل: ناشر، مستقبل خپرندويه ټولنه.

آخوندي، محمود. آيين داد رسي کيفري. ج۱. چ۱۲. تهران: وزارت فرهنگ او ارشاد اسلامي سازمان چاپ و انتشارات؛ ۱۳۸۵ هـ ش.

آشوري، محمد. آيين داد رسي کيفري. ج۱. چ۹. تهران: سازمان مطالعه و تدوين کتب علوم انساني دانشگاه ها (سمت)؛ ۱۳۸۴ هـ ش.

د جزايي محاکمو اجراآت، عدليې وزارت. (۱۴۰۴ هـ ش). رياست امور قانونگذاري و تحقيقات علمي ـ حقوق رياست مطالعه تشريح و آموزش قوانين.

دانش، حفيظ الله. (۱۳۹۸ هـ ش). د جزايي محاکماتو اصول. ج،۱. (چ،۱). جلال آباد: مسلم خپرندويه ټولنه.

رسولي، اشرف. (۱۳۹۴ هـ ش). شرح و توضيح قانون اجراآت جزايي. (چ،۲). کابل: انتشارات سعيد.

رسولي، اشرف. (۱۳۹۷ هـ ش).اصول محاکمات جزايي. (چ، ۱). کابل: انتشارات سعيد.

ستانکزی، پرويز. (۱۴۰۰ هـ ش). اصول محاکمات جزايي. (چ،۱). کابل: انتشارات نوی مستقبل.

ستانکزی، نصرالله. واصل، عبدالاقرار. نجيب، ظل الرحمن. رامز پور، ابوالاحرار. فريده، قادري. حکيمي، بريالی.(۱۳۸۷ هـ ش). د حقوقي اصطلاحاتو قاموش. (چ،۱). کابل: پروژه عدلي و قضايي افغانستان.

صالحي، محمد شفيع. (۱۳۹۸ هـ ش). اصول اجراآت و محاکمات جزايي. (چ، ۱). کابل: ناشر، انتشارات حامد رسالت.

علامه، غلام حيدر. (۱۳۹۸ هـ ش). اصول محاکمات جزايي افغانستان. (چ،۳). کابل: ناشر، دانشگاه ابن سينا.

علم ستانکزی، محمد ظريف.(۱۳۹۳هـ ش). د جزايي اجراآتو او د محاکماتو اصول. (چ،۱). کابل: خپرندوی، حامد رسالت ټولنه.

غلامي، حميدالله. (۱۴۰۰ هـ ش). شرح قانون اجراآت جزايي. ج،۲. (چ،۱). کابل: مؤسسه انتشارات مديقصو.

فاريابي، محمد عظيم. (۱۳۹۳ هـ ش). نحوه اجراآت اصول محاکمات جزايي. (چ، ۱). ناشر، انتشارات سعيد.

يوسفي، ايمان. آيين داد رسي کيفري. ج۱. چ۲. تهران: ناشر نشر ميزان؛ ۱۳۹۵هـ ش.

د اسلام له نظره د ټولنیزو ارتباطاتو اصول او ارزښتونه

پوهندوی فاروق جان منګل د شیخ زاید پوهنتون د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، د عامه اړیکو څانګې استاد
بریښنالیک: f.jmangal@gmail.com

لنډیز

اسلام مبارک دین یو بشپړ الهي نظام دی، چې د انساني ژوند د بېلابېلو فردي او ټولنیزو اړخونو لپاره جامع لارښوونې وړاندې کوي. دقرآن مجید د سورة المائدة په درېیم آیت کې داسې حکم شوی دی. الله جلَّ جلالُهُ فرمایي: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ (المائدة:۳). ژباړه (نن ورځ مو ستاسو لپاره ستاسو دین بشپړ کړ.) دا الهي دین د انساني ژوند د تنظیم لپاره روښانه اصول وړاندې کوي، ترڅو د ژوند په بېلابېلو برخو کې د انسانانو لپاره واضح او مستند لارښود واوسي. د دې څېړنې موخه د اسلام مبارک دین له نظره د ارتباطاتو د بنسټیزو اصولو پېژندنه او شننه ده، ترڅو څرګنده شي، چې اسلامي لارښوونې د اغېزمنو فردي، ټولنیزو او اداري اړیکو په پیاوړتیا کې څه رول لري. څېړنه د توصیفي او تحلیلي مېتود پر بنسټ ترسره شوې او معلومات یې د قرآن کریم، نبوي احادیثو او نورو معتبرو اسلامي سرچینو څخه راټول شوي دي. د څېړنې موندنې ښیي، چې اسلام د ارتباطاتو لپاره یو جامع باارزښته او اخلاقي چوکاټ وړاندې کوي، چې د رښتینولې، امانتداری، درناوي، عدالت، نرمۍ او د مسؤولیت پر بنسټ ولاړ دی. د دغو اصولو عملي کول د عامه پوهاوي په لوړولو، د سوء تفاهم او شخړو په کمولو، د ټولنیزو او اداري اړیکو په پیاوړتیا او د افرادو او سازمانونو د موخو په اغېزمن تحقق کې مهم رول لري. په پایله کې، څېړنه څرګندوي، چې د اسلام د ارتباطي اصولو عملي پلي کول د سالمې مفاهمې، ټولنیز ثبات او اداري اغېزمنتیا لپاره بنسټیز ارزښت لري او موندنې یې د څېړونکو او پالیسي جوړوونکو لپاره د علمي او عملي استفادې وړ دي.

کلیدي ټکي: اسلام، اسلامي ارتباطات، ارتباطات، چلند، قرآني لارښوونې، اخلاقي ارزښتونه، اسلامي ټولنیز اخلاق

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.

الله سبحان و تعالی په قرآن مجید کې په ځلونو د خبرو، تکلم او مفاهمې په ټراو ویلي دي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَ قُولُوا لِلنَّاسِ حُسْناً﴾ (البقرة :۸۳) ژباړه (او وکړی له خلکو سره نیکې خبرې.) دقرآن مجید دا آیت په ډېر صریحه او واضحه بڼه څرګندوي او فرمایي، چې له مور او پلار سره په حسینه او ښه بڼه خبرې وکړی. او په تعقیب یې ذی القربی د نورو لپاره هم ده، چې اقربا او نور وګړي پکې راځي، چې بیا یتیمان او مساکین دي، چې باید په نرمه او مناسبه لهجه او لهن ورسره خبرې اترې وشي.

ډېری عالمان او فیلسوفان پر دې نظر دي، چې پر انسانانو د حیوان ناطق اطلاق کېږي او دا د انسانانو یا د اشرف المخلوقات برتري ده، چې دوی ګویان دي، خبرې کولای شي او دا پر دوی د پروردګار لویه لورینه ده. داچې اشخاص، سازمانونه، ټولنې او هېوادونه د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره اړ دي، چې په بېلابېلو ډګرونو کې باید ارتباطات ټینګ کړي، د خبرو اترو له لارې له نورو سره په اړیکه کې شي او په نهایت کې دا مبرم ضرورت په ډېره ښه بڼه ترسره کړي.

په اسلامي ټولنه کې د ارتباط کلمه د وفاداری، د زړه او ذهن د پاکوالي، عزت او وقار سره تړلې ده. د ټولو لپاره فلاح او په الله تعالی د ایمان لپاره تبلیغ د ارتباط په اسلامي مفهوم کې نغښتی دی. دقرآن پاک او احادیثو په رڼا کې د تبلیغ او رسالت مسوولیت پیغمبرانو ته سپارل شوی دی. خو د نبوت له ختمېدو وروسته دا دنده د امت هر فرد ته ځانګړې او ورسپارل شوې ده او په اوسني عصر کې دا د مسلمانانو دنده ده، چې له بدیو سره مبارزه وکړي او د اغېزمنې اړیکې له لارې د نېکیو تبلیغ وکړي.

په همدې اساس دقرآن مجید د پورتني آیت څخه څرګندېږي، چې په ټولیز ډول پورتنیو ذکر شویو موخو ته د رسېدو لپاره کومه معقوله لاره ده. دلته د قرآن مجید یوازې پر همدې آیت نه تمېرو بلکې په لسګونو داسې آیتونه او احادیث شته، چې په واضحه او مستقیمه بڼه او همدارنګه علماوو یې په تفسیرونو کې څرګنده او روښانه کړې ده، چې باید له نورو سره خبرې اترې، چلند، مفاهمه او کړه وړه څه ډول ترسره شي. د دې مقالې په منځپانګه کې به هڅه وشي، چې د قرآن مجید او احادیثو له دیده د ارتباطاتو پر ارزښت مفصل او هر اړخیزه بحث وشي.

د څېړنې ستونزه

په معاصرو ټولنو، په ځانګړي ډول په اسلامي ټولنو کې، د سالمو او اغېزمنو ارتباطاتو نشتوالی یوه مهمه ټولنیزه ستونزه ګڼل کېږي. د افرادو، ټولنو او هېوادونو ترمنځ د مناسبې مفاهمې د کمزورۍ له امله ډېری وخت سوء

تفاهم، شخړې او پر کوچنیو موضوعاتو منازعات رامنځته کېږي او اصلي پیغام مخاطبینو ته په سمه او روښانه بڼه نه رسېږي. سره له دې چې دقرآن مجید او د رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ په لارښوونو کې د ښو اخلاقو، نرمو خبرو او سالمو ارتباطاتو په اړه څرګند اصول بیان شوي دي، خو په عملي ژوند کې د دغو اسلامي لارښوونو پلي کېدل محدود ښکاري. له همدې امله، اړینه ده، چې د اسلامي متونو پر بنسټ د ارتباطاتو اصول وڅېړل شي او روښانه شي، چې څنګه د اسلام لارښوونې کولای شي؛ د ټولنیزو ستونزو، سوء تفاهم او شخړو د کمښت او د اغېزمنو اړیکو د رامنځته کېدو لامل وګرځي.

اساسي موخه

د اسلامي لارښوونو پر بنسټ د سالمو او اغېزمنو ارتباطاتو د اصولو څېړنه او روښانه کول، ترڅو د ټولنې بهلابهل قشرونه وکولای شي؛ د فردي او ټولنیزو اړیکو په تنظیم کې د اسلام سپارښتنې وپېژني او د سوء تفاهم، ناسم پیغام د لېږد او ټولنیزو منازعاتو د کمښت لپاره تړې ګټه واخلي. په دې برخه کې دقرآن مجید او د نبوي احادیثو لارښوونې بنسټیزه سرچینه ګرځول کېږي.

فرعي موخې

۱- د اسلام له نظره دقرآن مجید او نبوي احادیثو په رڼا کې د ارتباطاتو د مفهوم، ارزښت او بنسټیزو اصولو تشریح کول.

۲- په معاصرو اسلامي ټولنو کې د ناسم ارتباط له امله رامنځته کېدونکو مهمو ستونزو لکه سوء تفاهم، د پیغام ناسم لېږد او ټولنیزو شخړو پېژندنه او تحلیل.

۳- د اسلامي لارښوونو پر بنسټ د سالمو او اغېزمنو ارتباطي اصولو روښانه کول، چې د فردي، ټولنیزو او مسلکي اړیکو په ښه والي کې مرسته کوي.

۴- د ټولنې د مسلکیانو، متخصصینو او عامه وګړو لپاره د داسې عملي لارښوونو وړاندې کول، چې د ارتباطاتو د ښه والي له لارې د ټولنیزو، کلتوري، اقتصادي او سیاسي منازعاتو په کمښت کې اغېزمنې تمامې شي.

۵- په ټولنه کې د اسلامي ارتباطي ارزښتونو د پېژندنې او عملي کولو لپاره د عامه پوهاوي د لوړولو علمي بنسټ برابرول.

تېرو اثارو ته کتنه

د ارتباطاتو موضوع د ټولنیزو علومو او اسلامي مطالعاتو یو بنسټیز اړخ بلل کېږي، ځکه چې د سالمو اړیکو نشتوالی د سوء تفاهم، شخړو او د پیغام د ناسم لېږد لامل ګرځي. (Littlejohn & Foss, 2009) څېړنې ښیي، چې اغېزمن او اخلاقي ارتباطات د افرادو، سازمانونو او ټولنې د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره اساسي رول لري. د پیغام روښانه لېږد، د متقابل درک پراختیا او د خبرو اترو د اخلاقو مراعت د اړیکو د ښه والي مهم عوامل دي. (Communication Studies, 2020)

له بلې خوا، د اسلام مبارک دین هم د انسانانو ترمنځ د سالمو اړیکو پر ارزښت ډېر ټینګار کوي. دقرآن مجید په ګڼو آیتونو کې د ښو اخلاقو، نرمو خبرو او د نورو د درناوي سپارښتنه شوې ده. د بېلګې په توګه، په سورة البقرة، ۸۳ آیت کې راغلي دي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَ قُولُوا لِلنَّاسِ حُسْناً﴾ (البقرة :۸۳) ژباړه (او وکړی له خلکو سره نیکې خبرې.) دغه لارښوونه څرګندوي، چې د انساني اړیکو د اصلاح لپاره د خبرو اترو اخلاقي بڼه او نرمه وینا بنسټیز اهمیت لري.

همدارنګه، د رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ احادیث د اخلاقي تعامل، نرمۍ او د سالمو اړیکو د ټینګښت پر ارزښت ټینګار کوي. دا څرګندوي، چې د اسلام لارښوونې د ټولنې په هره کچه د شخړو د کمښت، د خلکو ترمنځ د تفاهم د لوړوالي او د پیغام د سموالي لپاره عملي او علمي بنسټ وړاندې کوي.

د معاصرو څېړنو په رڼا کې، د اسلامي اصولو په عملي پلي کولو سره نه یوازې د فردي او ټولنیزو اړیکو کیفیت لوړېږي، بلکې د اقتصادي، کلتوري او سیاسي شخړو مخنیوی هم کېدای شي. (Littlejohn & Foss, 2009; Communication Studies, 2020) له همدې امله، د اسلامي متونو پر بنسټ د ارتباطاتو اصولو څېړنه د ټولنې د مختلفو قشرونو لپاره علمي او عملي لارښوونې وړاندې کوي.

دکار مواد او میتود

ددې علمي او څېړنیزې مقالې د بڼاینې لپاره تر ډېره تمرکز او بسنه پر قرآن مجید او احادیثو شوې ده. ترڅنګ یې په همدې تړاو د اسلامي نړۍ د علماوو له لوري د لیکل شویو مقالو، څېړنیزو او علمي اثارو څخه ګټه پورته شوې ده. مقاله د بڼاینې، تصحیح او غنی په پار د محترمو علماوو، شیخانو او مفتیانو له نظره تیره شوې او د چاپ وړ بلل شوې ده. په همدې اساس ویلی شو، چې دا څېړنیزه او عملي مقاله د کتابتوني څېړنې په پایله کې لیکل شوې ده.

پېژندنه

ارتباط د معلوماتو لېږل او ترلاسه کول دي، شونې ده، چې د معلوماتو لېږد او رالېږد د مخامخ او یا هم د ارتباطاتو د ګڼو نورو چېنلونو په وساطت ترسره شي. د معلوماتو د لېږد دا بهیر په ټولنیزه کچه د اړیکو د جوړولو، د تجاربو او اړتیاوو د شریکولو او په نهایت کې په ټولیز ډول له وګړو سره مرسته کوي، چې د ګڼ شمېر ملحوظاتو پر بنا له نورو سره په اړیکه کې شي. د کمونیکیشن او ارتباط په تړاو علماوو بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي دي. د کمونیکیشن او ارتباط یو تعریف، چې لسیزې د مخه وړاندې شوی دی اوس هم د کمونیکیشن یا ارتباط د یوه غوره تعریف په توګه وړاندې کېږي. (ارتباط یا کمونیکیشن هغه وسیله ده، چې په ذریعه یې مور خپل نظرونه، احساسات، پوهه او غوښتنې نورو ته لېږدوو).(Shannon & Weaver, 1949)

د دې څېړنیزې او علمي مقالې په اډانه او منځپانګه کې د اسلام د مبارک دین له دیده د اړیکو پر ارزښت تمرکز کوو، ترڅو روښانه او جوته شي، چې د اسلام مبارک دین د ارتباطاتو په تړاو کومې سپارښتنې کړې دي. د خبرو کولو وړتیا یا نطق د الله سبحانه و تعالی له لوري انسانانو ته ځانګړې ډالۍ ده؛ په همدې اساس د متعال رب په پاک کتاب قرآن مجید کې په ځلونو د تکلم او ارتباط په مورد حکم او امرونه شوي دي. الله سبحانه و تعالی د قرآن مجید د اسراء سورت په ۵۳ ایت کې وایي: ﴿يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ (اسراء:۵۳) ژباړه: (یو څه ووایی، چې غوره/بهتر وي)، همدارنګه د قرآن مجید د البقره سورت په ۲۳۵ ایت کې متعال رب اشاره کوي او فرمایي، ﴿قَوْلًا مَعْرُوفاً﴾ (البقره:۲۳۵) ژباړه (چې وکړي؛ د شریعت د رواج مطابق خبرې.) داچې څه ډول باید ارتباط ترسره شي، ګفتار باید څومره بلیغ او فصیح وي ، په اړه یې الله جلَّ جلالُهُ دقرآن مجید سورت نساء په ۶۳ ایت کې فرمایي: ﴿قَوْلًا بَلِيغاً﴾ (نساء:۶۳) ژباړه (موثرې خبرې وکړی) حتی د انتقادي بحثونه او جنجالي خبرو اترو په تړاو هم الله جلَّ جلالُهُ سپارښتنه کړې ده، چې دا ډول بحثونه باید څه ډول ترسره شي. الله جلَّ جلالُهُ په قرآن مجید کې فرمایي: ﴿جادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ (النحل:۱۲۵) ژباړه: (او هغوی سره مناظره وکړی، په داسې طریقه، چې هغه نیکه وي.)

کله، چې موسی علیه السلام پر پیغمبري مبعوث شو او داچې د خپل ماموریت پر مهال به په ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او نورو ګڼو مسایلو کې ښکیل واوسي، په همدې اساس یې له پروردګار څخه ځلور غوښتنې درلودې. د موسی علیه السلام د غوښتنو په تړاو الله جلَّ جلالُهُ په قرآن مجید کې فرمایي: ﴿قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي وَاجْعَلْ لِي وَزِيرًا مِنْ أَهْلِي هَارُونَ أَخِي﴾ (طه: ۲۵-۳۰) ژباړه: (وېې ویل، ای پروردګاره زما لپاره زما سینه پراخه کړه. او زما لپاره زما کار اسانه کړه. او زما له ژبې څخه سختوالی لرې کړه ترڅو په خبره مې پوی شي. او زما له کسانو زما ورور هارون ماته وزیر وټاکه.

د اسلام علماء د دې ایت په تفسیر کې لیکي، چې حضرت موسی علیه السلام دعا وکړه، چې الله جلَّ جلالُهُ، دې هغه ته له خپل لوري ځانګړې مرسته او پاملرنه وکړي، ترڅو د رسالت دندې په ترسره کولو کې د خلکو د مخالفتونو او ستونزو پر وړاندې ثابت او قوي پاتې شي. الله تعالی دې هغه اسباب ورته برابر کړي، چې د همدې کار (رسالت) دروند او ستر بار پرې اسانه شي. د حضرت موسی علیه السلام ژبه درنه وه (سختوالی یې درلود)، لکه څنګه چې د هغه د ژوند په کیسه کې هم یاده شوې ده، نو ځکه یې له الله تعالی څخه وغوښتل، چې دا ستونزه ترې لرې کړي؛ ترڅو وکولای شي خپله خبره په روښانه ډول بیان کړي. حضرت موسی علیه السلام له الله تعالی څخه وغوښتل، چې د هغه له کورنۍ څخه یو مرستیال ورته وټاکي، یعنې خپل ورور هارون علیه السلام. (تفسیر کابلی، جلد ۲، ص ۶۸۷، طه:۲۵-۳۰)

د تفاسیرو تحلیل دا څرګندوي، چې حضرت موسی علیه السلام د روانې ژبې او کلام غوښتنه کړې ده او له دې څرګندیږي، ساده او روان بیان کولای شي، چې د ارتباطاتو پر مهال ستاسو پیغام او غوښتنې په ډېرې اسانۍ سره تر مخاطبینو پورې ورسوي.

د ارتباطاتو د برخې علما پر دې نظر دي، چې د کمونیکیشن یا ارتباطاتو یو تر ټولو لوی خنډ دادی، چې جانبین یا اړخونه، چې ارتباطات یا مفاهمه ترسره کوي؛ ډېرې وخت یې هدف یوه او بل ته د پیغام لېږد او د یوه او بل د پیغام اخیستل نه وي؛ بلکې یوازې غواړي، چې ځواب ورکړي، داچې څه یې وویل؛ پایله یې د منازعې او ستونزو راپورته کېدل وي. په عین حال کې د ارتباطاتو د قایمولو او دایمولو لپاره اړینه ده، چې د هغه ښه کلام او خبرو په مقابل کې چې تاسو ته ویل شوې، له داسې لحن څخه استفاده وکړی، چې د ویلو شویو خبرو په نسبت غوره وي او یا حداقل د ویل شویو خبرو په څېر وي. داچې څه باید وویل شي، الله سبحانه وتعالی دقرآن مجید د سورت النساء په ۸۶ ایت کې فرمایي، ﴿**وَإِذَا حُيِّيْتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّواْ بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا**﴾ (النساء: ۸۶) ژباړه (او کله چې تاسو ته څوک سلام یا درناوی وکړي، نو تاسو ورته له هغه نه ښه سلام ورکړئ یا لږ تر لږه هماغه شان ځواب ورکړئ؛ بېشکه الله تعالی پر هر شي حساب کوونکی دی.)

علما ددې ایت شریف په تفسیر کې لیکي، که چیرې تاسو سلام واوریده، عَلیکُم سَلام ځواب ورکړی، که چیرې مو سَلامُ عَلَیکُم واوریده، و عَلَیکُم سَلام وَ رحمةُ الله ځواب ورکړی او که چیرې مو اسَلامُ عَلَیکُم وَ رحمةُ الله واوریده ځواب یې و علیکُم سَلام وَ رحمةُ الله وَ بَرَکاته سره ورکړی. (تفسیر کابلی، جلد ۱، ص ۵۳۳، النساء: ۸۶)

د یوه کس له لورې بل ته کس د سلام اچول سنت عمل دی، چې معنا یې مخاطب ته د الله جلَّ جلالُهُ څخه د سلامتیا غوښتل او نومورې ته ډاډ ورکول دي، چې زما له لورې تاسو ته کوم زیان نه پیښیږي. له همدې څرګندیږي، چې اسلام د ارتباط د ټینګولو په پېل کې یوه او بل ته د سلامتیا غوښتنه کوي، چې د ارتباط لپاره خورا ښه پېل او پر یوه او بل د سلام اچول سنت عمل دی، چې له احادیثو څرګندیږي، چې د اسلام مبارک دین د سلام عاملو ته ترجیح ورکړې ده. په همدې ټړاو د أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی، چې رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: (**وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى أَمْرٍ إِذَا أَنْتُمْ فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ**) (رواه مسلم، الترمذي: ۲۶۸۸) ژباړه (تاسې به جنت ته داخل نه شئ تر څو ایمان ونه لرئ او ایمان مو بشپړکېږي نه تر څو، چې یو بل سره مینه ونه کړئ. آیا داسې کار درته وښیم، چې که هغه وکړئ یو بل سره به مینه وکړئ؟ د یو بل ترمنځ سلام عام کړئ.)

د مفاهمې يو بل اصل رښتيا ويل او راستګويي ده، چې د ناسم پوهاوي مخه نيسي؛ د باور او اعتماد فضاء حاکمه کېږي او متقابل احترام او درناوي لپاره زمينه مساعده کېږي. د اسلام مبارک دين هم نه يوازې د ارتباطاتو پر مهال بلکې په ټولېزه توګه د رښتيا ويلو سپارښتنه کړې او دقرآن مجيد د ال عمران په سورت کې پر دروغ ويونکو لعنت ويل شوی دی. الله جلَّ جلالُهُ په قرآن مجيد کې فرمايي: ﴿لَّعْنَةَ اللهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ﴾ (ال عمران:٦٠) ژباړه (د الله جلَّ جلالُهُ لعنت دې وي پر دروغ ويونکو.) داچې د ارتباطاتو پر مهال او په ټوله کې په ټولنيز ژوند کې د ممکنه ستونزو مخنيوی شوی وي، متقابل احترام او د باور او اعتماد فضاء حاکمه شوې وي او په نهايت کې مينې او درنښت ته زمينه مساعده شوې وي، دقرآن مجيد د التوبة مبارک سورت په ۱۱۹ ايت کې داسې ذکر شوی دی، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ (التوبة :۱۱۹) ژباړه (ای مومنانو! ووډار شی له الله جلَّ جلالُهُ

څخه او له ريښتينو/ صادقانو سره واوسی.)

ترڅنګ يې د علي بن أبي طالب رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي (مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ) (صحيح البخاري: ۱۲۹۱) ژباړه (چا چې په قصد سره پرما دروغ وتړل (يعنې زما له قوله دروغ حديث نقل کړي)، نو هغه دې په اور کې خپل ځای تيار کړي.)

د ارتباطاتو د برخې د عالمانو په وينا، د ارتباط بريالۍ پروسه هغه ده، چې لنډه، پر معنی او په تول وي. ترڅنګ يې د ارتباط په چوکاټ کې هرڅه و نه ويل شي، لږې خبرې وشي او ډېرې خبرې واوريدل شي. په همدې تړاو دلته د البراء بن عازب رضي الله عنه روايت راوړو: (عن البراء بن عازب قال: جاء أعرابي إلى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال: دلني على عمل يدخلني الجنة. قال: أطعم الجائع، واسقِ الظمآن، وأمر بالمعروف، وانهَ عن المنكر، فإن لم تطق فكفَّ لسانك إلا من خير.) ژباړه (البراء بن عازب رضي الله عنه روايت دی، چې يو اعرابي (کوچی) رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او ويې ويل: (ما ته داسې عمل وښايه، چې جنت ته مې داخل کړي.) رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: وږې ته خواړه ورکړه، تږې ته اوبه ورکړه، د نېکۍ امر وکړه، له بدۍ څخه منع وکړه، که دا ټول نه شې کولای، نو خپله ژبه له بدو خبرو وساته او يوازې ښې خبرې وکړه. (Ibn Abī al-Dunyā, n.d.)

څه ډول، چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، ارتباطات د يو لړ اصولو درلودونکی بهير او پروسه ده. د سم پوهاوي په پار لازمه ده، چې د نورو خبرې، غوښتنې او ستونزې واوريدل شي. د دوه اړخيزه احترام او درناوي پر اساس اړتيا ده، چې هغه مهال، چې نور خبرې کوي؛ موږ خاموشي اختيارکړو او خبرې يې په دقيق او سم ډول واورو. ارتباطات داسې يوه پروسه او بهير دی، چې که چيرې يې په ترڅ کې په شعوري او غيرشعوري ډول داسې موضوعات مطرح شي، چې دوه اړخيزه درنښت، باور او اعتماد، پر ژمنو وفا او نورو ورته ارزښتونو ته زيان رسوي، په نهايت کې نه يوازې مطلوبې پايلې نه ترلاسه کېږي، بلکې د منازعې د رامنځته کېدو وېره ډېره وي او داسې يوه

ابهام ته زمینه مساعده کوي، چې په بې اعتمادي او بې باوري پوښل شوی وي. د وګړو ترمنځ د ارتباطاتو د تداوم او پایښت یو اصل پر ژمنو وفا ده. د متعال رب په پاک کتاب قرآن مجید د المائده په سورت کې دې برخې ته صریحاً اشاره شوې ده او داسې حکم یې کړی دی: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ**﴾ (المائده: ۱) ژباړه (اې مؤمنانو! پر خپلو ژمنو/ وعدو وفا وکړئ. تاسو ته د څارویو (د څارویو له ډوله حلالو حیواناتو) خوړل روا کړل شوي دي، پرته له هغو چې وروسته به درته بیان شي او په داسې حال کې چې تاسې د احرام په حالت کې یاست ښکار مه حلالوئ. بېشکه الله هغه حکم کوي، چې اراده یې وکړي. (تفسیر کابلی، جلد ۱، ص ۶۰۵، المائده: ۱)

همدارنګه د بني اسرائیل په ۳۴ ایت کې الله جلَّ جلالُهُ فرمایي: ﴿**أَوْفوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كانَ مَسْؤُولاً**﴾ (بني اسرائیل: ۳۴) ژباړه(پر خپلو ژمنو وفا وکړئ، د هغو ژمنو/ عهد، چې تاسې کړې دي مسوول یاستی. علماء د دې ایت شریف په تفسیر کې لیکي: (ټولې ژمنې په دې امر کې داخلې دي، دا مو که له الله جلَّ جلالُهُ سره کړې وي او یا هم د الله جلَّ جلالُهُ له بندګانو سره، په دې شرط، چې غیرمشروع نه وي.) (تفسیر کابلی، جلد ۲، ص ۵۰۵، بني اسرائیل:۳۴)

په تکلم او ارتباطاتو کې پر ژمنو د وفا ترڅنګ بله مهمه اړینه موضوع، چې پراساس یې نه یوازې سالم ارتباطات ټینګېدای شي بلکې په ډېرې اسانۍ سره کولای شي، چې یو اړخ خپل پیغام او فکر د مقابل لوري په ذهن کې ځای پرځای کړي او ددغه ارتباطي پروسې له لارې خپل ستراتیژیک اهداف پیاده او په لاس راوړي، هغه د متقابل لوري درناوی دی، چې باید توهین او سپکاوی یې ونه شي.

د أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله تعالى عنه څخه روایت دی، چې د رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ حدیث دی، چې فرمایي: (**المسلم أخو المسلم لا يظلمه ولا يخذله ولا يحقره، التقوى هاهنا (ويشير إلى صدره ثلاث مرات)، بحسب امرئ من الشر أن يحقر أخاه المسلم، كل المسلم على المسلم حرام: دمه وماله وعرضه.**) (صحيح مسلم: ۲۵۶۴) ژباړه: (مسلمان د مسلمان ورور دی؛ نه پرې ظلم کوي، نه یې یوازې پرېږدي (په ستونزه کې)، او نه یې سپک ګڼي. تقوا دلته ده. او رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ درې ځله خپل سینې ته اشاره وکړه؛ بیا یې وفرمایل: د یو انسان لپاره دومره بد بس دي، چې خپل مسلمان ورور سپک وګڼي. د مسلمان پر مسلمان د هغه وینه، مال او عزت حرام دي.)

په همدې تړاو مشهوره او مروجه عربي معقوله ده، چې وایي: (**أَذَلُّ النَّاسِ مَنْ أَهَانَ النَّاسَ**) ژباړه (تر ټولو سپک انسان هغه دی، چې نور خلک سپک کړي (یا یې توهین وکړي.) (المجلسي، ۱۹۸۳، بحار الأنوار، ۵۲/۷۵)

ژبه د افهام او تفهیم وسیله ده او دا چې افهام او تفهیم ترسره نه شي، یا په بله معنی د خبرو اترو پروسه صورت و نه نیسي، له دې څرګندیږي، چې پوهوونه او پوهېدنه په هغه ډول، چې لازمه ده نده ترسره شوې. په همدې اساس

باید د وګړو د سمې پوهوونې په پار د هغوی پر ژبه خبرې وشي؛ ترڅو هغه پیغام، چې یو ویوونکی یې لري په سمه، دقیقه او کره توګه تر مخاطب ورسیږي. د ارتباطاتو یو مهم بحث او اصل مخاطب پیژندنه ده، چې هر هغه څوک، چې خبرې کوي باید خپل مخاطب وپیژني ترڅو وکولای شي، چې خپل پیغام، چې د کومې موخې لپاره ارتباط ټینګیږي؛ په اسانۍ سره ترلاسه شي. داچې د ځمکې پر مخ د الله جلَّ جلالُهُ د دین لپاره تبلیغ د هغو وګړو په ژبه وشي، چې رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ ورته رالېږل کېده او داچاره په اسانۍ سره ترسره شي، الله جلَّ جلالُهُ دقرآن مجید د ابراهیم سورت په ۴ ایت کې فرمایي: ﴿**وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ**﴾ (ابراهیم: ۴) ژباړه (او ندی مو لېږلی هیڅ پیغمبر مګر د هغه قوم په ژبه؛ ترڅو (حقایق) دوئ ته روښانه کړي؛ بیا الله جلَّ جلالُهُ چاته وغواړي (هغه مستحق وګڼي) ګمراه او هرکس ته، چې وغواړي (وړ یې وي) هدایت کوي او هغه غالب او باحکمته دی.)

د مخاطب یا مقابل لوري د پېژندنې په تړاو الله جلَّ جلالُهُ دقرآن مجید د النمل سورت په ۱۸ ایت کې فرمایي: ﴿**حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ**﴾ (النمل:۱۸) ژباړه ((لاړل) تر هغو، چې د مېریانو میدان ته ورسیدل، مېریانو ته وویل شول؛ اې مېریانو ننوځئ خپلو کورونو ته، چې تاسې پایمال نه کړي سلیمان علیه سلام او د هغه لښکر، په داسې حال کې، چې هغوئ نه پوهېدل.)

په همدې تړاو د عَبْدَ اللهِ بنَ مَسْعُودٍ رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی: **ما أَنْتَ بِمُحَدِّثٍ قَوْمًا حَدِيثًا لا تَبْلُغُهُ عُقُولُهُمْ، إِلَّا كانَ لِبَعْضِهِمْ فِتْنَةً** (صحیح مسلم: مقدمة الصحیح) ژباړه (که داسې خبرې خلکو ته وشي، چې د هغوی عقل یې نه شي درک کولای، نو ځینې خلک به په فتنه کې واقع شي.)

په پای کې ویلای شو، چې د اسلام مبارک دین په ټولیز ډول د سوی تفاهم د ایجاد د مخنیوي، د باور او اعتماد فضاء د رامنځته کولو، د ټولنیزو ادابو د مراعات، د پیغامونو د سم او دقیق انتقال او لېږد او ګڼو نورو ښېګڼو په پار د سلام اچولو، د مصافحې یا لاس ورکولو، د ورین تندي، تواضع او خاکساري، د مخاطب خبرو ته د غوږ نیونې، په خبرو کې صمیمیت، صداقت، ریښتنوالي، د عدالت او انصاف رعایت، د بدي په مقابل کې د نیکي کولو، راز ساتنې او پر ژمنو د وفا سپارښتنه کړې ده. د همدې خبرو د تائید په پار د رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ دا حدیث وړاندې کوو، چې راوي یې عبدالله بن عمر رضي الله تعالی عنه دی : **تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتُقْرِئُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ**. (صحیح بخاری: ۱۲) ژباړه (تاسې خواړه ورکړی او څوک، چې پېژنې او څوک، چې نه پېژنې؛ ټولو ته سلام واچوی.)

دمقالې موندنې

د حسن تکرار په توګه ویل کېږي، چې اسلام یو بشپړ شوی دین دی. دقرآن عظیم الشان او احادیثو د کتابونو او علماوو د ارتباطاتو په ټراو ډېرې صریحې او بډایه سپارښتنې کړې دي. مونږ دا وموندله، چې په اسلامي ټولنو کې د نفاق، ګډوډیو او وروسته پاتې کېدو یو اساسي علت دادی، چې دوی د مقالې په منځپانګه کې ذکر شویو مواردو ته ډېر متوجه نه دي، په خپل ورځني ژوند او کاري چارو کې يې نه کاروي. په همدې اساس وګړي د دنیاوي او اخروي ژوند د تضمین او بریا لپاره باید د نورو سپارښتنو او امرونو ترڅنګ باید د ارتباطاتو په ټراو شویو هغو سپارښتنو ته متوجه او په عملي ډول يې پیاده کړو، چې په قرآن مجید او احادیثو کې ورته صریحاً اشاره شوې ده.

پایله

د دې څېړنې موندنې څرګندوي، چې په ټولنیزو، اقتصادي او نورو برخو کې، په ځانګړې توګه په اسلامي ټولنو کې، د ډېرو ستونزو یو اساسي او بنسټیز علت د سالم تفاهم نشتوالی دی. همدارنګه، د کوچنیو موضوعاتو پر سر د منازعو او شخړو رامنځته کېدل تر ډېره د اړیکو د نیمګړتیاوو، د پیغام د ناسم لېږد او د ارتباطاتو له نورو اړوندو ستونزو څخه سرچینه اخلي. سربېره پر دې، په سمه توګه خپلو موخو ته نه رسېدل او مخاطبینو ته د روا او حقیقي پیغام نه لېږدول هم د اغېزمنو ارتباطي اصولو د نه مراعات له امله رامنځته کېږي.

د دغو ستونزو شتون څرګندوي، چې زمونږ د ارتباطاتو بهیر نه د مسلکي اصولو پر بنسټ ولاړ دی او نه هم د اسلامي او ديني لارښوونو او ارزښتونو سره بشپړ سمون لري. له همدې امله، که غواړو په فردي، ټولنیزو او اداري اړیکو کې اغېزمن تفاهم رامنځته کړو، خپلو موخو ته په بریالیتوب ورسېږو او خپل پیغام مخاطبینو ته په سمه او مؤثره توګه ولېږدوو، نو اړینه ده چې د ارتباطاتو پر مهال ټول هغه اصول، ارزښتونه او سپارښتنې په دقیق ډول په پام کې ونیول شي، چې قرآن عظیم الشان او نبوي احادیثو د کولو او نه کولو په چوکاټ کې بیان کړي دي.

په دې توګه، د اسلام د ارتباطي اصولو عملي پلي کول نه یوازې د سالمو انساني اړیکو او ټولنیز ثبات د پیاوړتیا لامل ګرځي، بلکې د اسلامي ارتباطاتو د ادبیاتو د بډایني او د معاصرو ارتباطي مطالعاتو لپاره هم یو ارزښتناک علمي بنسټ برابروي.

نتیجه ګیري

انسان د خپل فطرت له مخې یو ټولنیز موجود دی او ارتباطات د ټولنیز ژوند له مهمو او بنسټیزو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي. د مؤثرو اړیکو شتون نه یوازې د ټولنیز نظم، همغږي او متقابل تفاهم سبب ګرځي، بلکې د فردي او ټولنیزې بریا لپاره هم مهم رول لري. په همدې اساس، د اسلام مبارک دین د انساني اړیکو د سمون او د سالمو تعاملاتو د رامنځته کولو لپاره روښانه او هر اړخیز اصول وړاندې کړي دي.

د قرآن کریم او نبوي سنتو په لارښوونو کې پر صداقت، نرمې او ښې وینا، فصاحت، تواضع، عدالت او د نورو د حقونو پر رعایت ټینګار شوی دی. د دغو اصولو پلي کول د باور فضا پیاوړې کوي، د شخړو او منازعو مخه نیسي او د سالمې او متوازنې ټولنې د رامنځته کېدو زمینه برابروي. همدارنګه، دغه اصول د معاصرو ارتباطي نظریو له بنسټیزو مفاهیمو سره همغږي لري او د مؤثرې اړیکې لپاره مهم اخلاقي او ټولنیز چوکاټ وړاندې کوي.

په معاصره نړۍ کې، چې ارتباطات له ګټو اخلاقي او ټولنیزو ننګونو سره مخ دي، د اسلام د سپېڅلي دین لارښوونې کولای شي؛ د انساني اړیکو د سمون لپاره یوه روښانه او اغېزمنه تګلاره وړاندې کړي. له همدې امله، د دغو اصولو درک، عملي کول او په ټولنه کې د هغو ترویج کول نه یوازې د دیني او اخلاقي ارزښتونو د پیاوړتیا سبب ګرځي، بلکې د ټولنیزې هوساینې، پرمختګ او پایدارې همغږۍ په رامنځته کولو کې هم مهم رول لري.

په پایله کې ویلای شو، چې سالم او اخلاقي ارتباطات د یوې باثباته او پرمختللې ټولنې له اساسي بنسټونو څخه دي او د قرآن کریم او سنتو لارښوونې په دې برخه کې داسې جامع اصول وړاندې کوي، چې د فردي او ټولنیزې بریا ترڅنګ د دنیا او آخرت نېکمرغي پکې نغښتې وي.

وړاندیزونه

۱. وړاندیز کیږي، چې په دې برخه کې د نه یوازې د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي بلکې د شرعیاتو پوهنځي استادان په انفرادي ډول او په مشترک ډول دې علمي او څېړنیزې چارې ترسره کړي.

۲. پر دغو ډول مهمو او حیاتي موضوعاتو دې د اړوند ادارو له لوري د مقالو ترڅنګ علمي کنفرانسونه، سیمینارونه او مجالس راوبلل شي.

۳. د دې ډول علمي هڅو منځپانګه دې له هغو کسانو سره حتماً شریکه شي، چې دوی په متداومه توګه له ولسونو سره سرورکار لري، ورسره مخ کیږي او د اړتیاوو پر بنسټ بحثونه کوي.

۴.یو شمېر کلیدي ادارو سره دې هم د دې ډول علمي او څېړنیزو هڅو منځپانګې حتماً شریکې شي او په عملي ډول دې دغه موضوعات پلي کړي.

۵. د مشخصو ادارو او اشخاصو ترڅنګ دې دا موضوعات په عامه کچه عام شي تر څو یو ټولنیز پوهاوی شوی وي.

٦. د دغه ډول مهمو او حیاتي موضوعاتو په تړاو دې ناچیزه هڅې یوازې په چاپي بڼې باید ټولنې ته وړاندې نه شي بلکې په عامه کچه د استفادې او ګټې اخیستنې په پار دې د انټرنېټ پر نړۍ هم خپاره شي.

Principles and Values of Social Communication from an Islamic Perspective

Assistant Professor Farooq Jan Mangal, Shaikh Zayed University, Faculty of Communication and Journalism, Department of Public Relations.
Email: f.jmangal@gmail.com

Abstract
Islam is a comprehensive and holistic divine system that provides extensive guidance for the various individual and social dimensions of human life. The Holy Qur'an emphasizes the perfection and completeness of Islam in Surah Al-Ma'idah (5:3), where Allah Almighty states: *"*This day I have perfected for you your religion.*"* As a complete way of life, Islam establishes clear principles and regulations to guide human conduct and organize social interactions in all spheres of life. The primary objective of this study is to identify and analyze the fundamental principles of communication from an Islamic perspective and to examine their role in strengthening effective interpersonal, social and organizational relationships. The study adopts a descriptive-analytical research approach, drawing its data from the Holy Qur'an, the Prophetic Sunnah (Hadith) and other authoritative Islamic sources. The findings indicate that Islam provides a comprehensive ethical and value-based framework for communication founded upon truthfulness, trustworthiness, respect, justice, kindness and responsibility. The practical application of these principles contributes significantly to enhancing public awareness, reducing misunderstandings and conflicts, strengthening social and organizational relationships and improving the achievement of individual and institutional objectives. The study concludes that the implementation of Islamic communication principles constitutes a fundamental basis for fostering effective communication, promoting social cohesion and enhancing organizational effectiveness. Furthermore, the findings offer valuable theoretical and practical insights for researchers, communication professionals, and policymakers seeking to promote ethical and effective communication practices within contemporary societies.

Keywords
Islam, Islamic Communication, Communication, Behavior, Qur'anic Guidance

سرچینې

القران كريم

ابن ابي الدنيا، ابو بكر. (بې‌نېټې). كتاب الجوع. بيروت: دار الكتب العلمية.

البخاري، محمد بن اسماعيل. (بې‌نېټې). صحيح البخاري (حديث ۱۲۹۱). بيروت: دار طوق النجاة.

البخاري، محمد بن اسماعيل. (بې‌نېټې). صحيح البخاري (كتاب ۴۶، حديث ۲۴۴۲). ترلاسه شوی له: https://sunnah.com/bukhari/46/3

المجلسي، محمد باقر. بحار الأنوار الجامعة لدرر أخبار الأئمة الأطهار. بيروت: دار إحياء التراث العربي، ج۷۵، ص۵۲.

كابلي، محمد يونس. (بې‌نېټې). تفسير كابلي. كابل: دار التأليف.

تفسير كابلی، جلد ۱، ص ۵۳۳، النساء :۸۶

تفسير كابلی، جلد ۲، ص ۵۰۵، بني اسرائيل :۳۴)

مسلم بن الحجاج. صحيح مسلم. كتاب البرّ والصلة.

Communication Studies Research (2020). Principles of Effective Communication in Organizations.

Littlejohn, S., & Foss, K. (2009). Theories of Human Communication. Wadsworth.\

Abdel Haleem, M. A. S. (2005). *The Qur'an* (Oxford World's Classics ed.). Oxford University Press.

Al-Bukhari, M. I. (1997). *The translation of the meanings of Sahih Al-Bukhari* (M. M. Khan, Trans.). Darussalam. (Original work compiled ca. 846 CE)

Al-Qaradawi, Y. (1997). The lawful and the prohibited in Islam (K. El-Helbawy, M. Moinuddin Siddiqui, & S. Shukry, Trans.). American Trust Publications. (Original work published 1960)

Kamali, M. H. (2008). Shari'ah law*: An* introduction. Oneworld Publications.

د اپېستېنزم نړيوالې دجالي شبکې فعاليتونو ته يوه کتنه

پوهندوی دوکتور احمد جاوید شکیب د ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځی، د ژورنالیزم څانګه

بریښنالیک: javid.shakib@gmail.com او javid.shakib@szu.edu.af

لنډیز

د ۲۰۲۶ م کال جنوري مياشت کې د امريکامتحده ايالاتو د عدليې وزارت د اپېستين اړوند له شپږ ميليونه فايلونو (اسنادو) څخه درې ميليونو سانسور شوي اسناد خپاره کړل. دې کار د انساني کرامت د خوندیتوب په اړه نړيوال بحث رامنځته کړ، ځکه غربي ليبرال واکمنو د اپېستين په جزيره او له جزيرې بهر داسي د انساني ارزښتونو پايمال کوونکو فعاليتونو ترسره کول، چې نړۍ يې حيرانه کړه. د دې مقالې موخه دا ده، چې د جيفري اپېستين د قضيې د مطالعې تر څنګ دا هم روښانه کړي، چې د اپېستېنزم نړيوالې دجالي شبکې فعاليتونه څنګه تر يوې جزيرې پورې محدود نه وو، بلکه نړيوال اړخ يې هم درلود. په دې ليکنه کې هڅه شوې ده چې لومړی د جيفري اپېستين د جرم انفرادي قضيه تشريح شي او بيا دا وڅېړل شي، چې څنګه د اپېستين د جرم موضوع يوازې د يوه فرد جنايي جرم نه، بلکه د يوې پراخې او منظمې شبکې د فعاليت برخه ده. ليکوال د توصيفي څېړنيز ميتود په کارولو سره د جيفري اپېستين د قربانيانو مرکې، د نړيوالو رسنيو راپورونه، د امريکا د عدليې وزارت له خوا خپاره شوي اسناد او د نورو ليکوالانو ليکنې تحليل کړې دي. د دې څېړنې موندنې ښيي چې د اپېستين قضيه يوازې د يوه فرد د جرم قضيه نه ده. په مقاله کې را ټولو شويو اسنادو او شواهد له تحليل څخه معلوميږي، چې په دې قضيې کې د بلکه يوه نړيواله دجالي شبکه ده، چې د جرم منظم سيستم پرمخ وړي ليکوال دې شبکې ته د ((اپېستېنزم)) اصطلاح کارولې ده، چې د ليبرالېزم او سکيولريزم له فکري جوړښت څخه سرچينه اخلي او د ښځو او ماشومانو د قاچاق او جنسي استثمار څخه نيولې تر نړيوال سياست، اقتصاد او رسنيو پورې مسائلو په مديريت کې ځانګړی رول لوبوي.

کليدي ټکي : اپېستېنزم، نړيوال سياست. منظمه جرمي شبکې، جنسي استثمار، غربي ليبرالېزم

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.

وبعد: قال تعالی اعوذ باالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم: ﴿أَتَدۡعُونَ بَعۡلٗا وَتَذَرُونَ أَحۡسَنَ ٱلۡخَٰلِقِينَ﴾ [الصافات: ۱۲۵]

د ۲۰۲۶ م کال د جنوري د میاشتې په ۳۰ مې نېټې د امریکامتحده ایالاتو د عدلیې وزارت د جفري اپسټین اړوند دري میلیونه ا ضافي اسناد، چې پکې له دوه زره څخه ډېرې ویډیوګانې او تر اتلس زره پورې عکسونه هم شامل دي، وروسته له هغه خپاره کړل کوم، چې د ۲۰۲۵ م کال کې د نومبر په ۱۹ مې نیټې د امریکا د ولسمشر ـ ډونلډ ټرمپ یوه لایحه لاسلیک کړه، چې له مخې یې د عدلیې وزارت ته سپارښتنه شوې وه، چې د اپسټین اړوند د بشپړ شویو جنایې پلټنو ټول اسنادو خپرېدل دې قانوني وګرځول شي. (DOJ, 2026).

ټرمپ ډیر مخکې د ولسمشرۍ په کمپاین کې د اپسټین د ټولو اسنادو د خپرېدو ژمنه هم کړې وه. همدارنګه په دې برخه کې پر ټرمپ د امریکامتحده ایالاتو ولسي ـ فشار هم خپل رول درلود. (Willis & Venkatraman, 2025) که څه هم له دې مخکې په ۲۰۲۴ کال کې د جنوري په میاشت کې، د نیویارک فدرالي محکمې یوې قاضي لوریټا پریسکا په امر د جفري اپسټین یو شمېر مُهر شوي اسناد افشا شوي وو؛ خو په هغه وخت کې دې مسئلې د ټولنیزو رسنیو او په ځانګړې ډول د افغانستان ملي رسنیو کې بحث نه شول. (Scannell, 2024)

دویم ځل د اپسټین اسنادو سانسور افشا کېدل، چې درې میلیونه یې لا هم پټ دي، ځکه د بحث یوه ګرمه مو ضوع شوه، چې په یادو اسنادو کې د کم عمره انجونو څخه د سؤ استفادې ترڅنګ، دا هم راڅرګنده شوه، چې د اپسټین کیس د جرم یوه انفرادي قضیه نه ده، بلکه د اپسټینیزم یوه نړیواله دجالي شبکه د جرائمو تر شا فعالیت کوي. د اپسټینزم شبکه چې دلیبرالیزم او سکیولریزم له فکرې جوړښت څخه سرچینه اخلي پر ماشومانو د جنسي ـ تېرې ترڅنګ، هغوی د شیطاني مراسمو په موخه وژني او د هغوی غوښې او وینې څښلو کې هم ښکیل دي. د اپسټینیزم دا نړیواله شبکه د قانون پر وړاندې ځانګړې مصئونیت لرونکې ده، چې له رسنیو څخه نیولې تر نړیوال سیاست، اقتصاد او د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر څخه د غزې نسل وژنې کې هم بارز رول لري.

موخه

د دې مقالې د لیکنې څخه موخه دا ده، تر څو معلومه کړي، چې څنګه د اپسټینزم نړیوالې دجالې شبکې د فعالیتونو رسوایې وشو کولای، چې د اوسني سکیولر لېبرال غربي تمدن، پټ غیر اخلاقي او غیر انساني څیرې هغه اړخ رابښکاره کړې چې غربي تمدن کلونه د بشرې حقوقو، د ښځو او ماشومانو حقوقونو، ډیموکراسي، مساوات او داسي نورو... غولونکو کلمو تر شا او پر نړیوالو رسنیو کې د برلاسی په مټ پټ ساتلي وو.

تګلاره

د اپسټین د درې نیم میلیونو اسنادو هر اړخیز تحلیل او څېړنه یوې لویې متخصصې ډلې، ماهر بشرې ځواک ، وخت او پراخو امکاناتو ته اړتیا لري. په دې لیکنه کې لیکوال یوازې هڅه کوي، چې د اپسټینزم نړیوالې دجالي شبکې ځینو فعالیتونو ته یوه لنډه کتنه وکړي. په دې لیکنه کې لیکوال هڅه کوي، چې لومړی د جفرې اپسټین د جرم د انفرادي قضیې تحلیل وړاندې کړي. د لیکنې په دویمه برخه کې لیکوال هڅه کوي چې معلومه کړي څنګه د اپسټینزم نړیواله دجالي شبکه خپل شیطاني فعالیتونه انسجام کول. لیکوال په دې لیکنه کې پر دې پوښتنې هم بحث کړی دی، چې آیا د اپسټین فایلونه (اسناد) واقعیت لري او یا د عامه ذهنیت د بدلون لپاره یوه ساختګي جوړه شوې آفسانه ده. د همدې پوښتنو د ځواب په موخه، لیکوال د څېړنې د توصیفي میتودلوژي په کارولو سره، د اپسټین د قضیې اړونده د اپسټین د جرائیمو متضررین Epstein Survivors مرکې، اوریدلې، د اپسټین د قضیې اړونده نړیوالو رسنیو خبرونه یې لوستې، د امریکا د عدلیې وزارت څخه خپاره شوي، د اپسټین یو شمیر اسناد (فایلونه) یې مرور کړي دي. همدارنګه لیکوال د اپسټین د جرمې شبکې اړونده د نورو لیکوالانو څېنې لیکنې هم مرور کړې او خپل تحلیل او موندنې یې په دې مقاله کې رانغښتي دي.

جیفري اپسټین د جرم انفرادي قضیه

جیفري اډوارډ اپسټین یو یهودي امریکایي تبعه و، چې په ۱۹۵۳ م کال کې نیویارک کې زیږیدلی او هلته لوی شوی وو. اپسټین د ۲۰۱۹ کال د اګسټ په لسمه په داسي حال کې د نیویارک په یوه زندان کې مړ ومونډل شو، چې د جنسي قاچاق تورنو له امله د محکمې پریکړې ته په انتظار و، ظاهراً د مجرم اپسټین مړینه خودکشي وګڼل شوه. د ده په هکله ویل کیږي، چې که څه هم نوموړی له پوهنتون څخه فارغ نه و؛ خو بیا یې هم په ۱۹۷۰ لسیزې کې نیویارک، ډلټن خصوصي مکتب کې د ریاضي او فزیک تدریس کاوه. د همدې شوونځي د یوه زده کوونکي پلار لومړی اپسټین د وال سټریټ بانک د پانګونې له یوه لوړ پوړي شریک بېیر سټارنز ته

ور وپیژاند؛ خو هلته د بانک له اصولو سره په ټکر کې عمل ترسره کولو سره، دنده پریښوده، چې وروسته بیا اپسټین خپله کمپنۍ (جې اپسټین انډ کو) جوړه کړه. اپسټین به له هغو کسانو سره مرسته کوله، کومو کسانو چې پیسې د اختلاس له کبله له لاسه ورکړې وې، ده به ورته بیرته ترلاسه کولو حللارې او طرزالعملونه ښودل. له دې لارې یې وشو کولای چې شپږ سوه میلیونه ډالرو پورې سرمایه جوړه کړې. اپسټین په همدې وخت کې له مشهورو څېرو، په اصطلاح هنرمندان ،سیاسیونو او پانګه والو سره اړیکې وغځولې.

د اپسټین، د انګلستان شهزاده انډریو، د امریکا پخواني ولسمشر بیل کلنټن، په واشنګټن کې د انګلستان سفیر پیټر ملډسن، سارافرګوسن او نورو ترمنځ د اړیکو جوړونکې میرمن (لین فارستر دې روتشیلډ Lynn forester) (de Rothschild ده. میرمن دې روتشیلډ د The Economist Groups غړې او د The Economist Magazine مالکه ده. میرمن لین فارستر له ۱۹۹۳ څخه تر ۱۹۹۵ کلونو پورې، د ولسمشر بیل کلنټن د ملي معلوماتو زیربنا مشورتي شورا کې دنده هم ترسره کړې او له ۱۹۹۸ څخه بیا تر ۲۰۰۰ کال پورې د د متحد ایالاتو د انرژي وزیرې مشورتي کمیټې کې دنده ترسره کوله. سربیره پر دې میرمن لین فارستر له ۱۹۹۲ کال راهیسې د بیل کلنټن او هیلري کلنټن د ټولو فدرالي سیالۍ بسپنه کولې. میرمن روتشیلډ په ۲۰۰۸ کال کې هم د ولسمشرۍ د نوماندۍ لپاره د بسپنې راټولونکې وه. دا چې میرمن د روتشیلډ ولې جیفري اپسټین له مشهورو سیاسیونو سره ته ور وپیژاند، روتشیلډ کورنۍ څوک دي. د دې پوښتنو ځواب بیا یو بل جلا او ژور بحث ته اړتیا لري. (Crisp, 2025)

د امریکا ولسمشر ټرمپ په ۲۰۰۲ کال د نیویارک مجلې ته ویلي و، چې دی، جنسي مجرم اپسټین له ۱۵ کلونو راهیسې پیژني او د اپسټین په اسنادو کې د ولسمشر ډونلډ ټرمپ نوم تر څلور زره ځله ډیر ذکر شوی دی. که څه هم جیفري اپسټین قانوني واده نه وه کړی؛ خو یهودي رابرټ ماکسویل د رسنیو یو مالک او د بریتانې د پارلمان غړي، خپله لور ګیلین ماکسویل جیفري اپسټین ته د جنسي ملګرې په توګه وړاندې کړې وه. ګیلین ماکسویل په ۲۰۲۲ کال کې د اپسټین سره د جرمونو د شراکت له کبله په شل کلن بند محکومه شوه. (Lightner, 2024)

د جیفري اپسټین له جرم څخه د لومړي ځل لپاره یوې میرمن چې ماریه فارمر نومیده او د جیفري اپسټین او ګیلین ماکسویل سره یې کار کاوه، پرده پورته کړه. میرمن ماریه وایي: زه له ګیلین ماکسویل سره موټر کې وم، نو ګیلین ماکسویل به موټروان ته د دریدو وویل، بیا به موټر څخه ښکته شوه ښوونځي او شاوخوا ځایونو کې به یې کم عمره ماشومانو ته خپل د تلفون شمیره ولیکله تر څو دې ته زنګ ووهي، همدغه ماشومان به وروسته د ماکسویل او اپسټین په کور کې ومونډل شول. ماکسویل به کم عمره انجونې مساژ دندې تر عنوان لاندې

راوستلې. د میرمن ماریه فارمر شپاړس کلنه خور هم د جنسي سۀ استفادې لاندې راغلې وه نو ځکه هغې د لومړي ځل لپاره د جیفري اپسټین او ګیلین ماکسویل په خلاف په ۱۹۹۶ م کال کې د امریکا د داخلي استخباراتو (اف بي اې) ته شکایت وکړ. خو د امریکا داخلي استخبارتو FBI د دې شکایت پلټنه ونه کړه. موضوع جدي ونه نیول شوه، ولې؟ علت موندل ځانګړې تحقیق ته اړتیا لري. (Cole & Lee, 2025)

جیفري اپسټین د امریکا ځخه بهر هم د غریبو او بي سرنوشته کورنیو ځخه کم عمره ماشومان قاچاق او خپلې جزیرې ته، د لوړ پوړو چارواکو، پانګه والو او هنرمندانو د جنسي غرایزو د سړولو په موخه وړاندې کول. د اپسټین د جرم انفرادي قضیه هغه وخت بیا برملا شوه، کله چې د ده پر وړاندې بیا ځل لپاره، په ۲۰۰۵ کال د فلوریډا ایالت کې د یوې ۱۴ کلنې نجلۍ مور او پلار پولیسو ته شکایت وکړ، چې اپسټین د پام ییچ په کور کې د دوی لور ځورولې ده. کله چې پولیسو پلټنه وکړه، نو د ۳۶ نورو کم عمره انجونو د جنسي سۀ استفادې شواهد یې هم وموندل. په ۲۰۰۷ م کال د می په میاشت کې د اپسټین پر وړاندې د ۶۰ تورنو دوسیه جوړه شوه، خو سپټمبر کې د جنوبي کلفورینا ځارنوال الکساندر اګوستا ، جیفري اپسټین ته له قانوني پلټنې ځخه د معافیت موافقتنامه امضاء کړه. (Ali, 2026)

د اپسټین د جرم شواهدو ته په کتو دا امکان شتون درلود، چې اپسټین ته باید د عمر قید سزا ورکړل شي؛ خو په ۲۰۰۸ کال کې ځارنوالانو د یوه پټ جوړجاړی وکړ. اپسټین یې د کم عمره انجونې فحشا ته د سوق کولو په دوه قضیو کې تورن کولو سره یوازې د ۱۸ میاشتو بند سزا ورکړه. د بند سزا داسي وه، چې په اوونۍ کې شپږ ورځې ۱۲ ساعته دفتر ته د تګ اجازه هم ورکړل شوې وه او ۱۳ میاشتې وروسته له بند ځخه خلاص شو.

جیفري اپسټین پر کم عمره انجونو د جنسي تېرې او د هغوی د قاچاق په تور یو ځل بیا د ۲۰۱۹ م کال د جولای په شپږمه هغه مهال ونیول شو، چې په خپله شخصي الوتکه کې له پاریس ځخه نیویارک ته ستنیده. اپسټین د همدې کال د اګسټ میاشت کې په داسي حال کې چې محکمې پریکړې ته په انتظار کې و، په زندان کې مړ وموندل شو. د اپسټین پر وړاندې په ۲۰۰۹ کال او د ګیلین ماکسویل پر وړاندې بیا ویرجینا ګفري په ۲۰۱۵ کې محکمې ته عریضه وکړه، خو ماکسویل بیا هم تر ۲۰۲۲ کال پورې آزاده و. ماکسویل بیا د 2022 م کال اپریل میاشت کې ونیول شوه او پر شل کلن بند محکومه شوه. (Ali, 2026)

پورتنیو معلوماتو ته په کتو، جیفري اپسټین یو تن انفرادي مجرم و، چې د ده له مرګ سره یې قضیه تمامه شوه؛ ګیلین هم په شل کلن حبس محکومه شوه؛ خو د جیفري اپسټین شپږ نیم میلیونه اسنادو ته په کتو، چې یوازې درې نیم میلیونه یې د سانسور لاندې خپاره شوي دي، د ده قضیه د یوه فرد انفرادي جرم قضیې ځخه ډیره پراخه

ده، د دې جرمونو تر شا د اپسټینیزم یوه نړیواله دجالي شبکه شتون لري. پوښتنه پیدا کیږي، چې جیفري اپسټین ولې هر څه مستند کول؟ د اسنادو مستندسازي یې د چا لپاره ترسره کوله. له دې څخه څرکندیږي، چې جیفري اپسټین د مشخصو اهدافو د ترسره کولو په موخه د یوې بلې پټې شبکې له لورې ګمارل شوی دی.

د اپسټینیزم شبکې نړیوال دجالي اړخ

جنسي رشوت، بلک میل او تهدید

د جیفري اپسټین فعالیتونو مطالعې څخه څرګندیږي، چې د نوموړي د جرم انفرادي قضیه نه وه. دا سړی په اصل کې د یو فردي مجرم ترڅنګ د اپسټینزم نړیوالې دجالي شبکې یوازې یو کارمند او د چارو سمبالونکی و. لیکوال استدلال کوي، چې اپسټینیزم یوه نړیواله دجالي شبکه ده، ممکن اوس یې هم فعالیتونه د پخوا په څیر روان وي، ممکن اوس د دې دجالي شبکې بل نوی سرمنشي د جیفري اپسټین پرځای ګمارلی وي. د اپسټینزم د جرمې شبکې منبع او سرچینه بیا سیکولریزم او لیبرالیزم نظریات دي. سیکولریزم او لیبرالیزم غرب ته دا ډالې ورکړې، چې په دوی کې اویا فیصده نارینه تیر کال پورن لیدلی دی. غرب کې هر اونۍ پنځوس فیصده نارینه پورن یا لوڅ فلمونه ګوري، چې دا عمل د دوی پر روان تاثیرات لري. اړواپوهان وایي، چې د پورن لیدونکو ته ښځه انسان نه، بلکه د غوښې یوه ټوټه ښکاري. که له یوه پلوه لیبرالیزم غرب کې د نارینو تیستاسټرون کچه ۴۰ فیصده ټیټه کړه، خوانو میرمنو کې یې ژور خفګان ۵۲ فیصده ته لوړ کړ، له ۱۹۷۳ کال څخه را وروسته یوازې امریکا کې ٦٦ شپږ شپیته میلیونه ماشومان د میندو له خیټې څخه سقط (وژل) شوي دي. د نامشروع اړیکو یا د نکاح څخه پرته د ماشومانو زیږون له ۱۱ فیصده څخه ۴۴ فیصده ته لوړه شوې ده، چې کورنۍ سیستم یې له زوال سره مخامخ کړی دی.

د همدې لیبرالیزم او سیکولریزم نظریو پرمختللې بڼې بیا د اپسټینزم دجالي شبکې د رامنځته کیدو باعث شوه، چې نړۍ کې یې اخلاقي ارزښتونه سخت زیانمنه کړل. د دې شبکې متضررین له استرالیا څخه نیولې بیا تر مرکزي آسیا، ختیځې اروپا منځني ختیځ او امریکا پورې رسیږي. د اپسټینزم شبکې مجرمین هم یوازې د امریکامتحده ایالاتو او اسرائیلو اتباعو پورې محدود نه دي. د اپسټینیزم جرمې شبکې د جنسي دام Honey Trap په ذریعه د نړۍ په کچې مشهور سیاسیون (ډونالډ ټرمپ، بیل کلینتون، هیلاري کلینتون ، شهزاده انډریو، لارډ پیټر ماندلسون، بوش، هند عویس، یهود بارک او ...) نړیوال پانګه وال (بیل ګیټس، ایلان ماسک، سلطان بن سُلیم، عزیزه الاحمدي او...)، مشهور پروفیسران (نام چومسکي، الن دیرشوټز، لاري مرز، مارون مینسکي او...) په اصطلاح مشهور هنرمندان (مایکل جکسون، دیانا راس، میک جګر، کوین اسپیسی او...) ښکیل وو.

د دغو مشهورو کسانو د قدرت او نفوذ څخه د استفادې په موخه، دوی ته کم عمره انجونې د جنسي رشوت په توګه وړاندې کېدې. ورجینیا رابرټس ګیفري Virginia Roberts Giuffre د اپسټینزم یوه له هغو متضررینو څخه وه، چې اپسټین د اسنادو د رسوا کېدو څخه کلونه مخکې رسنیو ته د جیفري اپسټین له خوا د کم عمره انجونو د قاچاق، او سؤ استفادې اړوند خپل آواز وچت کړ. میرمن ګیفري رسنیو سره په مرکو او خپلو یادښتونو کتاب (Nobody's girl) کې لیکلي چې میرمن کیفري او نورې کم عمره انجونې به سیاسیونو، میلیاردرانو، د پوهنتون استادانو او... ته د جنسي رشوت په توګه وړاندې کیدې. میرمن ګیفري د ګیلین ماکسویل لخوا دې ته هم مجبوره شوې وه، چې د انګلستان شهزاده انډریو سره جنسي اړیکه ونیسي. میرمن ورجینیا ګیفري دا خبره رسوا کړه، چې شهزاده پر دې، درې ځله هغه مهال تېری وکړ، چې د دې عمر ۱۷ کاله و. میرمین ورجینیا ګیفري په خپلو یادښتونو کې لیکلي، چې یوه صدراعظم، چې غالباً د اسرائیلو پخوانی صدراعظم یهود بارک وو، "په ځلونو تر هغه وخته پورې خفه کړم، چې بې هوشه به شوم، صدر اعظم به زما له دې حالت څخه خوند اخیست، هغه به خندل او څومره به یې چې زه شکنجه کولم، نو دی به همدومره لا ډېر تحریک کیده، ما به عذر او زاری ورته کولې چې دا کار مه کوه. ما فکر کاوه، چې زه به په همدې جنسي غلامي کې ومرم. بیا مې اپسټین ته عذر وکړ، چې دې سړي ته مې بیا مه لیږه. " میرمن ورجینیا ګیفري په ۲۰۲۵ م کال کې کواکې د خودکشي له کبله مړه شوه. (Desk, 2025)

د اپسټینزم شبکې خپل دجالي فعالیتونه په ویډیو ګانو او تصویرونو مستند کول او بیا یې همدا اسناد، د بلک میل او تهدید په موخه کارول. پوښتنه دا ده، چې اپسټین ولې او چا لپاره دا اسناد ثبت کول. دا پوښتنه لا ځواب ته اړتیا لري. یوه تیورې دا ده، چې د دې ټولې پروسې تر شا د اسرائیلو د استخباراتو لاس دی. فرضیه دا ده، چې د اپسټین اسنادو رسوایي له ویرې سیاسیون مجبور کړی شوي دي، چې د غزې پر نسل وژنې چوپتیا غوره کړي. (Alex, 2025)

همدارنګه دا فرضیه هم شتون لري، چې د اپسټین اسنادو رسوائي ولسمشر ډونلډ ټرمپ او ملګري یې تهدید او مجبوره کړل؛ تر څو پر ایران نظامي حمله وکړي او هم د خلیج هېوادونه د اسرائیلو ملاتړ ته وهڅوي چې له اسرائیلو سره په اصطلاح ابراهیمي ټرون Abrahamic Accord لاسلیک کړي. همدا فایلونو او اسنادو کې پټ مواد هم شته، چې له برملا کیدو څخه یې د لوړ پوړو چارواکو څخه د بلک میل او تهدید په توګه لا هم استفاده روانه ده. (Litvin, 2026)

Cannibalism یا آدم خوري، شیطان پرستي او قتل

د روان عیسوي کال د جنوري په ۳۰ مې د امریکامتحده ایالاتو د عدلي وزارت څخه د ۳ میلیونه افشاء شویو د اپیستین اسنادو څخه ښکاري، چې د اپیستینزم شبکې جرم یوازې د کم عمره انجونو او هلکانو د قاچاق او جنسي ـ تېرې پورې محدود نه ده، بلکه د دې شبکې په جنایاتو کې شیطان پرستي، د ماشومانو قتل او د هغوی د غوښو او وینو خوړل، څښل او د انساني فطرت خلاف اعمالو ترسره کول هم شامل دي. دا ټول جنایت د اپیستینزم شبکې د اپیستین په جزیره کې ترسره کېدل. د اپیستین د ایمیلونو په تبادله کې اپیستین له یوه چا څخه غوښتنه کوي، چې د Baal بعل اکونټ ته پیسې واستوه. بعل چې قرآن الکریم ۳۷ سورت په ۱۲۵ ایت کې یې هم ذکر شوی دی، یو د پخوانی کفارو له معبودانو څخه دی. بعل ته د عبادت یوه برخه کې د شیطان د ملاتړ ترلاسه کولو په موخه ماشومانو هم قرباني کېږي.

په افغانستان کې چې لا هم د لیبرال سیکولریزم د نظریې ملاتړې اداري لکه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت یا یوناما فعالیت کوي، د غربي لیبرال سیکولر قوانینو څخه دومره متاثره دي، چې شرعي او الهي قوانین ورته عجیبه او په ځینو مواردو کې ورته ناسم معلومیږي. دوی حتی یو ځل د امر بالمعروف او نهي عن المنکر هغه قانون، چې د شرعي اصولو په رڼا کې د افغانی ټولنې د اخلاقي اصلاح لپاره نافذ شوی دی، د ملګرو ملتونو امنیت شورا کې تر بحث لاندې ونیو. د امنیت شورا دایمي هغه غړي، چې لیبرالیزم نظریې لرونکې هېوادونه دي لکه فرانسه، انګلستان او امریکامتحده ایالات د یاد قانون د لغو کیدو غوښتنه وکړه. حال دا چې داسي قوانین د انساني ټولنې د اخلاقي اصلاح او بشریت د اپیستینیزم په ځیر وحشت څخه ژغوري (Window, 2024)

ډیره جالبه بیا دا ده، ځینې همدا کسان، چې د بشر ـ حقوق، د ښځو او حیواناتو حقوقو تر عنوان لاندې نړیوالو سازمانو کې فعالیتونه لري او د انتقاد ګوته یې تل اسلامي هېوادونو کې د شرعي نظام په انفاذ وي، د همدې شبکې برخه دي، او په دې سترو جرمونو کې شریکان دي. د بیلګې په توګه ګیلین ماکسویل یو ځل ملګرو ملتونو کې د سمندري د ژو د ژغورني یو لکچر هم ورکړی، د متحده عربي امارتو تبعه چې ملګرو ملتونو کې د بشري او ښځو حقوقو استازي وه، هند عویس به تل پر ښځو پانګونې او په کم عمر د انجونو، د نه واده کولو لپاره مبارزه کوله، خو د اپیستین په اسنادو کې لیدل کیږي، چې دې کم عمره ښځې جیفري اپیستین ته چمتو کولې، د همدې کار په

بدل کې اپېستېن په مرسته یې په ملګرو ملتونو کې یاده چوکۍ هم ترلاسه کړې وه. د اپېستېن په اسنادو کې د شیطان پرستي، قتل او آدم خوري یو څو مثالونه چې لیکوال د اپېستېن په اسنادو کې موندلي دي دلته یې د نمونې په توګه شریکوي:

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د انګلیستان پر شهزاده انډریو باندې د اپېستېن د اسنادو د افشاء کیدو څخه مخکې میرمن ورجینیا ګیفري Virginia Giuffre تور پورې کړې و، چې ګیلین ماکسویل نوموړې مجبوره کړه، چې له لسهاوو کسانو سره چې په هغوی کې یو کس شهزاد انډریو دی، جنسي-اړیکې ونیسي-په هغه وخت کې د میرمن ګیفري عمر یوازې ۱۷ کاله و. که څه هم شهزاده انډریو دا تورونه رد کړې وو او کیفري یې دروغجنه ګڼلې وه. خو اوس د اپېستېن په اسنادو کې د شهزاده انډریو ماونټبیټن وینډسر نوم په سلهاوو ځله ذکر شوی دی. د ملکې الزابت زوی په هکله ویل شوې چې نوموړي په یوه کم عمره ماشوم باندې جنسي-تېری کړې، بیا یې وژلی او د شیطاني مراسمو نمانځنې په موخه یې د هغه غوښه خوړلې او وینې یې څښلې دي.د اپېستین اسنادو کې د جورج بوش نوم هم ذکر شوی دی. د جورج بوش په هکله د ایمیلونو په تبادله کې لیکل شوي، چې دې سړي لومړی په یوه ځوان هلک تېری کړی، بیا یې پښې ورته قطعه کړې او وروسته یې له کولمو څخه مواد ایستلې او یوه بل کس د شیطاني مراسمو د نمانځنې په موخه خوړلې دي. د ټرمپ په هکله هم د ایمیلونو په تبادله کې لیکل شوي دي، چې نوموړي پر یوې ۱۳ کلنې انجلۍ جنسي-تېری کړی دی، چې بیا هغې حمل اخیستی دی. د ماشوم له زېږېدو څخه وروسته، ټرمپ بیا ماشوم او مور دواړه وژلي دي. دا د اپېستېنزم د شبکې یو څو نمونې دي چې دلته ذکر شول. چې د دې نه علاوه په زرګونو نور همداسي جنایات د اپېستېن به اسنادو کې شته، چې سالم انسان یې د اوریدو توان نه لري.

د اپېستېنزم نړیوالې دجالي شبکې د قدرت دایره

اپېستېنزم نړیواله دجالي شبکه ډیره قوي ده. دا شبکه د هېوادونو له قانون څخه معافیت لرونکې ده. اپېستېن او ټیم یې په ډیرو مواردو کې د هېوادنو له قوانینو څخه مافوق چلند کاوه. د بیلګې په توګه لکه چې مخکې یادونه وشوه په ۱۹۹۶ کې د اپېستېن او ماکسویل په خلاف ماریه فارمر اېف بي اې FBI ته د اپېستېن د جنسي-سؤ استفادې عریضه وړاندې کړه. خو پولیسو جیفري اپېستېن او ګیلین ماکسویل د جرم پلټنه ونه کړه. همدارنګه په ۲۰۰۲ م کال کې کله چې ماریه فارمر رسنیو ته د اپېستېن جنایت رسوا کړ. د فینټي فیر په نوم مجلې د ماریه فارمز خبر خپور نه کړ، هغه ژورنالېسته (

ویکـي ورډ) چـې لـه مارېـه فـارمرز سره يـې مرکـه کـړې او گـزارش يـې چمتـو کـړی و، هـم تهديـد او وکواښل شوه. (Cole & Lee, 2025)

جيفـري اپسـتين پـه فـايلونو کـې يوځـای د اپسـتين لـه ورور سره مکالمـه راغلـې، اپسـتين خپـل ورور مـارک تـه وايـي، چـې داسي اسـناد راسره دي کـه وغـواړم پـه امريکـا کـې انتخابـات ودرولـی شـم. د ۲۰۱۷ کـال د نـومبر پـه يـوه بريښـنالیک کـې د سـلواکيا هېـواد د لـومړي وزيـر د مـلي امنيـت سـلاکار او پخـوانی د بهرنيـو چـارو وزيـر ميروسـلاو لايچـاک لـه جيفـري اپسـتين څخـه غـواړي، چـې د يـوې ښـځينه فلـم جـوړونکې سره مرسـته وکـړي تـر څـو د هغـې فلـم د کـال د آسـکار جـايزو لپسـت کـې شـامل شي. د يـوه هېـواد دومـره لـوړ پـوړی چـارواکی لـه اپسـتين څخـه پـه دې کـار کـې د مرسـتې غوښـتنه کـوي!؟ (Phillips, 2026a)

د امريکامتحـده ايـالاتو د عـدلیې وزارت لـه خـوا خپـاره شـويو اسـنادو کـې ليـدل کيـږي، چـې پـه امريکـا کـې د انگلسـتان پخـوانی سـفير پيټـر منډيلسـن د اروپـا د مـالي بحـران وروسـته اپسـتين سره حسـاس دولتـي معلومـات شريکـوي. منډيلسـن اپسـتين تـه ليکـي، چـې د بحـران لپـاره ۵۰۰ ميليـارډه منظـورې شـوې دي، پـه سـبا ربښـتيا هـم د منډيلسـن خـبره صـحيح ثـابتيږي. نـورو ايميلونـو کـې ليـدل کيـږي، چـې جيفـري اپسـتين د منډيلسـن ملگـرې (رينالـډو اويـلا دا سـلوا) تـه ۷۵۰۰۰ پنځـه اويـا زره ډالـره د هغـې اکونـټ تـه ليـږي، همدارنگـه دواړه د جنسي ـ جرمونـو پـه هکلـه هـم مکالمـه تـرسره کـړې ده. (Shamim, 2026)

د جيفـري اپسـتين دجـالې شـبکه دومـره پراخـه وه، حتـی پـه ۱۹۹۰ لسـيزې کـې د اسرائيلـو او فلسـطينيانو تـرمنځ پـه اصـطلاح د سـولې پـه پروسـه کـې هـم د دې شـبکې د کارمنـدانو لاس و. د امريکامتحـده ايـالاتو د عـدلیې وزارت لـه خـوا د اپسـتين فـايلونو کـې ليـدل کيـږي، چـې تيريجـي روډ لارسـن چـې پـه ۱۹۹۰ لسـيزه کـې د منځنـي ختـيځ ((سـولې پروسـې)) کـې يـو مرکـزي شخصـيت و او د سـولې نړيـوال انسـتيټوټ مسـؤل و، پـه اصـل کـې د د فلسـطين د خپلـواکی غورځنـگ PLO او اسرائيلـو تـرمنځ منځگـړی اوسـلو تـړون کـې مهـم رول درلـود. دې سـړي بـه د اپسـتين لپـاره د جنسي ـ قاچـاق شـويو ميرمنـو لپـاره د ويـزې درغلـی کولـه. همدارنگـه د تيـري روډ لارسـن ميـرمن مونـا جـول چـې يـاسر عرفـات او ايخـاک رابـين تـرمنځ د اوسـلو پـه خـبرو اتـرو کـې مهمـه څيـره وه، د اردن او عـراق لپـاره د نـاروې سـفيره

وه هـم د اپسـټین لپـاره یـې کـار کـول. د اپسـټین پـه وصـیت کـې یـې د میلینونـو ډالـرو پـه ارزښـت د ګټـه اخښتونکي مادې امتیاز ترلاسه کړی، چې اوس دواړه تر پلټونو لاندې دي. (Mansour, 2026)

د اپسـټینیزم نړیـوالې دجـالې شـبکې نړیـوال معافیـت سره لـه لویـدیځي اروپـا څخـه نابـالغې او عمـره انجـوني د ماډلینـګ او نـورو نومونـو تـر عنـوان لانـدې لـه ختیځـې اروپـا فرانسـې تـه او بیـا لـه فرانسي- څخـه امریکـا او د اپسـټین جزیـرې تـه راوسـتلې. حـال دا چـې دوی ټولـو تـه ویـزه اخښـتل پـه نورمـال شرایطـو کـې ناممکنـه کـار دی؛ خـو بیـا هـم دا کـار پـه دې شـبکې چـې پـه رئـس کـې یـې جیـک لـوک برنـال او اپسـټین وو، پـه آسـانۍ سره تـرسره کـول. د بلـومبرګ د یـوې څیړنـې پـه اسـاس اپسـټین لـه ۲۰۰۹ م کـال څخـه تـر ۲۰۱۹ م کـال پـورې، ۳۷۰۰ درې زره اوه سـوه تجـارتي الـوتکې ټیکونـه ریـزرف کـړې، چـې پـه ۱۷۰۰ ولـس سـوه کـې د هـیڅ مسـافر پـه هکلـه معلومـات نشـته. لـه دې څخـه معلـومیږي، چـې لـه دوی سره د حکومتونـو او دولتـي چـارواکو کلـک ملاتـړ او تعـاون موجـود وو. (Guest et al., 2026)

په ۲۰۰۲ کـال کـې کلـه چـې ماریـه فـارمر رسـنیو تـه د اپسـټین جنایـت رسـوا کـړ، خـو د کلکـې وعـدې سره سره بیـا هـم وینټـي فیـر Vanity Fair, مجلـې د ماریـه فـارمز مرکـه نشـر نـه کـړه، ځکـه کرښـدن کـارټر د مجلـې مسـؤل مـدیر د اپسـټین پـه هکلـه د مقـالې چـاپ رد کـړ. د وینټـي فیـر مجلـې هغـه ژورنالېسـته، ویکـي وړډ (Vicky Ward) چـې لـه ماریـه فـارمرز سره یـې مرکـه کـړې او ګـزارش یـې چمتـو کـړی و، هـم تهدیـد او وکواښـل شـوه. اپسـټین پـه رسـنیو بانـدې هـم خپـل نفـوس او تـاثیرات دلـودل. (Al Letson, 2026)

همدارنګـه د نـړۍ پـه کچـې د لـوړ معـاش لرونکـې مشـهوره ماډلـه، کـارین مولـډر پـه ۲۰۰۱ کـال کـې فرانسـوي تلویزیـون کـې یـوې مرکـې کـې یادونـه وکـړه، چـې ماډلینـګ مسـؤلین، اروپـایې هېوادونـو کـې د شـاهیې کـورنۍ غـړي، سیاسـیون او د پولیسـو لـوړ رتبـه کسـانو لخـوا لـه کـم عمـره انجونـو سره زیـاتی کیـږي. میـرمن مولـدر وویـل چـې همـدې کسـانو پـر دې هـم جنسي-تیـری کـړی دی. د میـرمن کـارین مولډر مرکـه قطع شـوه. د مرکـې لـه میـز د پـاریس لـه ښـار څخـه میـرمن مولـډر د روانې ناروغـانو روغتـون تـه یـوړل شـوه، هلتـه یـې د میاشـتو لپـاره بسـتر کـړه. د مولـډر مرکـه بلکـل رسـنیو نشـر نـه کـړه. شـل کالـه وروسـته بیـا جـین لـوک برونیـل د جیفـري اپسـټین ملګـری څـوک چـې د کـارین مولـډر د آواز د خاموشه کولـو او هغـه روغتـون تـه د بولـو مسـؤل و، پـه ۲۰۲۰ کـال کـې مجرم وپیژنـدل شـو او د اپسـټین پـه

څېړ په ۲۰۲۲ کال کې په مرموزه توګه په زندان کې ومړ. میرمن مولډر شل کاله وروسته د جرمني یوې رسنۍ سره مرکې کې وویل چې زما د مرکې له کبله زه یې چپ او بندې کړم (Muir, 2026)

د ۲۰۰۰ کال په پیل کې د مکسیکو یوه ماډلې ګابریلا ریکو، آواز وچت کړ. چې نوموړې میرمن څنګه قاچاق شوې او د سیاسیونو او پانګه والو لپاره د جنسي-غرایزو د مشبوع کولو د یوې آلې په توګه کارول کیده. هغې ادعا وکړه، چې یو منظم سازمان شتون لري، چې دا کار ترسره کوي. هغې به ویل چې زه لیونۍ نه یم، دوی ما ته مخدره توکې راکړې، چې ما چوپه کړې. د میرمن ګابریلا ریکو Gabriela Rico Jiménez یوه ویډیو هم ټولنیزو رسنیو کې خپره شوه. په دې ویډیو کې میرمن ګابریلا په ډیر دردونکي آواز د زړه له تل څخه ناړې وهي، چې هغوی د انسانانو غوښې خوري، ما پخپلو سترګو ولیدې. میرمن ریکو هم د میرمن مولډر په څېړ رواني روغتون ته ولیږدول شوه، که بل ځای ته لاړه. تر اوسه بیا د هغې په هکله معلومات نشته. امنیتي ارګانونو هیڅکله هم د هغې د دې ادعا پلټنه ونه کړه. (Biswas, 2026)

لکه مخکې چې یادونه وشو په ۲۰۰۵ کال کې د پلټنو او شواهدو څخه جیفري اپسټین مجرم پیژندل شوی و. د هغه د جرم سزا عمر قید دی؛ خو پر جیفري اپسټین دا سزا تطبیق نه شوه. د اپسټین د جرم شواهدو ته په کتو دا امکان شتون درلود، چې اپسټین ته باید د عمر قید سزا ورکړل شي؛ خو په ۲۰۰۸ کال د جنوبي کلفورنیا څارنوال الکساندر اګوستا R. Alexander Acosta اپسټین ته جرم څخه د معافیت ورکړ. اپسټین یې کم عمره انجونې فحشا ته د سوق کولو په دوه قضیو کې تورن کولو سره یوازې د ۱۸ میاشتو بند سزا ورکړه. د بند سزا داسي وه، چې په اوونۍ کې شپږ ورځې ۱۲ ساعته دفتر ته د تګ اجازه هم ورکړل شوې وه او ۱۳ میاشتې وروسته له بند څخه خلاص شو. هغه کس (الکساندر اګوستا) د دې خیانت له کبله نه یوازې محکمه نه شو بلکه په ۲۰۱۶ م کال کې کله چې ډونلډ ټرمپ د امریکا ولسمشر شو، هغه کس الکساندر اګوستا، چې د یوې معاملې په اساس یې جیفري اپسټین ته له جرم څخه برائت ورکړی و، خپله کابینه کې د کار وزیر Secretary of Labor وټاکل. بله جالبه دا ده، چې د امریکامتحده ایالاتو کې د قانون په اساس د کار وزیر دنده د انساني قاچاق د دوسیو پلټنه وي. د جنوبي کلفورنیا هغه څارنوال چې مجرم اپسټین یې له سزا څخه وژغورل په تصادفي ډول د امریکا کابینې غړی نه دی شوی، بیا د کار وزیر ته د دې شخص ټاکنې څخه څرګندیږي، چې د اپسټنیزم د شبکې د قدرت دایره څومره پراخه او قوي ده. (Zurcher, 2019)

د اپسټین له اسنادو څخه ښکاري چې د اپسټینزم نړیواله د جالې شبکه پر نړیوال سیاست کې هم مستقیماً ښکیله وه. د اپسټین په اسنادو کې دا را څرګنده شوې، چې د اسرائیلو پخوانی لومړی وزیر یهود بارک او اپسټین په ختیځ افریقا کې د جګړې او ناامنۍ څخه ګټه پورته کوله. د دوی لپاره سوریه، لیبیا او سومالیا کې جګړې انساني بحران نه، بلکه د پیسو د پیدا کولو یوه سوداګریزه موقع وه. اسنادو کې دا معلومیږي، چې څنګه اسرائیلو استخباراتي کمپنی په نایجریا باندې د خلکو د نظارت او جاسوسي په موخه ټیکنالوژي خرڅوله. همدارنګه اپسټین او د اسرائیلو پخواني صدراعظم یهود بارک د ډي پي ورډ د شرکت مخکینې مسؤل سلطان بن سُلیم سره د اسرائیلو او عربي متحده اماراتو سره په اصطلاح د ابراهیمي ټرون (Abrahamic accord) څخه مخکې اړیکې او همکاري درلودې. (Al Jazeera Staff, 2026)

ویرجینیا رابرټ ګیفري په ۲۰۱۵ کې د جیفري اپسټین او ګیلین ماکسویل په خلاف محکمې ته عریضه وکړه، خو ماکسویل تر ۲۰۲۲ کال پورې آزاده ګرځیده. په ۲۰۱۹ کال کې په زندان کې د جینفري اپسټین مړینه او په ۲۰۲۲ کال کې د جین لوک برونیل مړینه هم کوم تصادف نه دی. دا فرضیه هم شتون لري، چې ممکن د اپسټینزم د شبکې اصلي چلونکی د دغو کسانو قاتل هم وي.

په ۲۰۱۵ کال کې جیفري اپسټین اوباما ته وایي، چې له ایران سره د اتومي ټرون معاهده Joint comprehensive Plan of Action JCPOA مه کوئ. اپسټین ایمیلونو کې د لیبیا د مشر ـ معمر القذافي سره لیدنه، افغانستان ته د ګیلین ماکسویل سفر، د 9/11 کمیشن رپوټ د غړیتوب لپاره ګیلین ماکسویل غوره کول، د مصر ـ د ولسمشر ـ محمد مرسي د ټاکنې په اړه اندیښنې، د عمران خان او رجب طیب اردګان قدرت کې د پاتې کیدو په اړه تشویشونه، د عربي متحده اماراتو یوې ښځینه تبعې هند عویس ته، ملګرو ملتونو کې د لوړې چوکۍ پر ورکولو خبرې، د سلطان بن سُلیم له خوا اپسټین ته د خلکو د شکنجې د ویډیو شریکول چې په هغه وخت کې نومورې د، ډ پي ورلډ لوژستیکي شرکت چې د نړۍ لس فیصده کانټینرو د انتقال مسؤلیت لري مشر ـ و. د دې ټولو چارو نظارت او تعقیب د یوه فرد او کوم تصادفي کار نه دی. دلته یوه نړیواله د جالې فعاله وه، چې د قدرت پراخه دایره لري.

د اپستین فایلونه د واقعیت او جعلي افسانې په تله کې

د جیفري اپستین د جرمې قضیه او د اپستین فایلونو په هکله یوه فر ضیه دا ده، چې دا قضیه او اسناد هسې ـ خیالي افسانه ده، دا ټول اسناد او فایلونه جعلي جوړ شوي دي. د امریکا ولسمشر ـ ټرمپ هم یو ځل دا مسئله Hoax یعنې ټوکې وګڼله. د عربي متحده اماراتو یو تبعه فارس الحمادي چې مدخلي سلفي دیني عالم ګڼل کیږي، یوې وینا کې وویل چې د اپستین په اسنادو استدلال مه کوئ او دا د کفارو توطئه ده. لومړی ډله کسان هغو اشخاصو ته د برائت ورکولو یوه دلیل دا وړاندې کوي، چې له اپستین سره د یوه چا تصویر، ایمیل تبادله او ویډیو د هغوی په جرم کې شرکت ثبوت نه شي کیدای؛ خو د لومړی ډلې پر وړاندې دوهیمه ډله کسان دا نظر لري، چې حتی له ۲۰۰۸ م کال څخه وروسته د یوه چا تصویر او له اپستین سره د ایمیل تبادله هم ځکه جرم ګڼل کیدای شي له یادې نیټې وروسته دا عکس په رسمي ډول له ماشومانو څخه د جنسي ــ سؤ استفادې کوونکی (Pedophile) ګڼل شوی و.

دویمه فر ضیه همدا ده، چې د اپستین فایلونه رښتیا او وقعیت دی . د نړۍ په کچې مشهورو ژورنالیستان او څېړونکې د اپستین فایلونو کې تصویرونه، ویډیوګاني او ایمیلونه تحلیل او د نړۍ پر ډیری هېوادونو کې د اپستین په اسنادو کې ذکر شویو کسانو د جرمونو نوعیت معلوم کړې او نظامونه د جرم پر وړاندې د اشخاصو په معافیت تورن کړي دي. د لیکوال تحلیل دا دی، چې لومړی فر ضیه چې د جیفري اپستین جرمې قضیه او د اپستین اسناد دې یوه خیالي افسانه وي، صحیح نه ده. ځکه لومړی خو د جیفري اپستین پر وړاندې شهادتونه کومې یوې انفرادي میرمن نه دی ورکړی، یوه ډله د ښځو، چې د Survival of Epstein د اپستین متضررین یې بولي شهادتونه ورکړي. بیا یوازې یوې تحقیقي ژورنالېستي جولین کې برون تر ۸۰ کم عمره انجونو شهادونه اوریدلې، هغه یې ګزارش کړې او پرې د (Preservation of Justice: The Jeffrey Epstein Story تر سرلیک لاندې کتاب هم لیکلی دی، هلته یې هر څه مستند کړي دي

جولین کې برون، نورو رسنیو او د استخباراتو د امریکا عدلیې وزارت ته د اپستین د جرمې شبکې اطلاع ورکړې ده. د همدوی د شهادتونو پر بنسټ، د امریکا امنیتي ادارو پلټنې تر سره کړې او شواهد یې را ټول کړي دي. محاکمو د همدې شواهدو پر بنسټ لازمې پریکړې کړي دي. نو له دې بهیر څخه دا په اثبات رسیږي، چې د جیفري اپستین جزیره شته، هلته پر ماشومانو تېری شوی

دی. په دې جرایمو کې مشهور اشخاص ښکیل دي. دا ټول جزئیات تقریباً په تواتر ثابت شوي دي.

د اپسټین په اسنادو کې د اشخاصو د نومونو ذکر کېدل او په ایمیلونو کې د دوی د جرمونو یادونه او دوی ته د ځینو جرمونو نسبت کولو په اړه د لیکوال نظر دا دی: داسي مسائلو ته په بشپړ ډول سم او ناسم ویلو پریکړه ډیره ستونزمنه ده، ځکه یوازې د یو ایمیل او یا یو تصویر د یوه کس د مجرم د ثابتولو لپاره کافي نه ګڼل کیږي؛ خو په عین حال کې د اپسټین په اسنادو کې راغلي مسائل سل په سلو کې رد کېدای هم نه شي.

ځینو قضایاوو، د اپسټین اسنادو د اعتماد کچه لوړه کړې ده. د بیلګې په توګه د اپسټین په اسنادو کې پر شهزاده اندریو تورونه پورې شوي دي. که فر ضاً دا تورونه دروغ او جعلي وای، نو ولې ملکه الزابت شهزاده اندریو د شاهي غړیتوب څخه حذف کړ، ولې د اپسټین د اسنادو د خپریدو وروسته په ټهرو څلور سوه کلونو کې د لومړي ځل لپاره د شاهي کورنۍ یو غړی شهزاده اندریو ونیول شو او پلټنه ترې وشوه؟ (O'Neill, 2026)

د اپسټین په اسنادو کې د مایکرو سافټ شرکت د مالک بیل ګیټس یادونه شوې، چې نوموړي د روسیې انجونې سره جنسي اړیکې نیولې دي. وروسته بیا بیل ګیټس ته یوه وایروسي ناروغي پیدا شوې او نوموړي خپلې میرمني ملېنډا ګیټس ته په پټه دواء ورکوله چې ناروغې هغې ته انتقال نه شي. فرضاً که په ښاغلي ګیټس باندې دا تور جعلی وای. نو بیل ګیټس باید دا مسئله رد او یا لږ تر لږه په دې قضیه کې یې چوپتیا غوره کړې وه. خو داسي ونه شول، بیل ګیټس له روسیې ښځو سره جنسي اړیکې ومنل او په دې اړه یې له خپلو همکارانو څخه بخښنه وغوښته. ملېنډا ګیټس هم د بیل ګیټس څخه طلاق واخیست. اوس که دا مسئله جعلي افسانه وای، نو ولې بیل ګیټس خپلو همکارانو څخه په دې اړه رسمي بخښنه غواړي. (Hatton, 2026)

همدارنګه لارډ ماندلسون د اپسټین، په اسنادو کې یې د نوم د څرګندیدو وروسته له خپلې دندې او د کارګر ګوند له غړیتوب څخه استعفاء ورکړه. د انګلستان لومړي وزیر ستارمر د جیفري اپسټین له قربانیانو څخه بخښنه وغوښته، چې څنګه ده لارډ ماندلسون پر دروغو باور کړی او هغه یې په متحده ایالاتو کې د انګلستان د سفیر په توګه ټاکلی و. حتی د لارډ ماندلسون د ګمارنې له کبله د انګلستان د وخت لومړی وزیر د خپل ګوند د ځینو غړو له خوا له دې غوښتنې سره مخامخ شو، چې له خپلې څوکۍ څخه استعفا وکړي. نو که فرضاً د اپسټین

فایلونو په حقایقو کې شک وای، نو ولې یو لوړپوړی دولتي کس استعفا ته مجبوره کیږي او د یوه ستر هېواد لومړی وزیر بخښنې غوښتلو ته مجبوره کیږي؟ (Morton, 2026)

سارافرګوسن د Sarah's Trust خیریه بنسټ مشره، چې په ظاهره یې بې سرپنا خلکو، د ماشومانو زده کړو، د ماشومانو روغتیا په برخه کې خیریه کارونه کول هم د اپیسټین ته کار کول. د اپیسټین په اسنادو کې د میرمن سارافرګوسن نوم ذکر شوی دی. فرګوسن له اپیسټین سره د ایمیلونو تبادلې کې هغه ته د واده د وړاندیز کړی و. کله چې د امریکا عدلي وزارت له خوا د اپیسټین د اسنادو خپاره شول، نو سارافرګوسن خیریې بنسټ ټول فعالیتونه وتړل . میرمن سارافرګوسن د انګلستان له شاهي مانۍ څخه وشړل شوه. او اوه میاشتې ورکه وه. اووه میاشتې د غیابت وروسته یوځل بیا رسنیو کې داسې خبرونه خپاره شول، چې نوموړې یوځل بیا غواړي بیرته انګلستان ته لاړه شي. د سارافرګوسن په اصطلاح خیریه بنسټ بندیدل، له شاهي مانۍ د دې شړل کیدل او د دې نامعلوم سرنوشت د اپیسټین د اسنادو د شتون یو ثبوت کیدای شي. (McArthur, 2026b)

تیري رویډ لارسن د نړیوالې سولې د انسټیټوټ IPI پخواني رئیس او میرمن یې مونا جول چې په اردن او عراق کې د ناروې سفیره وه هم د اپیسټین فایلونو کې د نوم ذکر کیدو سره سم د ۲۰۲۶ کال د فبروري په ۸ نیټه یې له دندې استعفاء ورکړه. همدارنګه د ناروي پولیسو لارسن او جول دواړه د اپیسټین سره په جرائیمو کې د شراکت له کبله تر پلټنې لاندې نیولې دي. (McArthur, 2026a) همدارنګه د ناروې ولیعهد شهزادګۍ میټ-مارټ هم د جیفري اپیسټین سره د خپلې پخوانۍ ملګرتیا له کبله بخښنه وغوښته. نوموړې د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۴ ترمنځ د ساتل شویو اړیکو په اړه یې خپل افسوس څرګند کړ. (Kirby, 2026)

د ۲۰۲۶ کال د فبروري په میاشت کې، میروسلاو لایجاک، د سلواکیا د بهرنیو چارو پخوانی وزیر او د لومړي وزیر رابرټ فیکو د ملي امنیت سلاکار، د جیفري اپیسټین سره د هغه د تړاو د اسنادو له خپریدو وروسته له خپل سلاکار رول څخه استعفا ورکړه. (Phillips, 2026b)

سلطان بن سُلیم چې د DP World مسؤل و، د جیفري اپیسټین ملګری و. هغه ته به یې د خلکو د شکنجو ویډیوګاني ورلیږلې، د اپیسټین په اسنادو کې د را څرګندیدو سره له دندې وشړل شو. (Stunson, 2026) همدارنګه د عربي متحده اماراتو یوه بله تبعه هند عویس چې ایمیل کې یې جیفري اپیسټین ته د کم عمره انجونې آماده کولو لیکنې موندل شوې دي، په ایمیلونو کې د خپل څان او خپلې دیارلس کلنې خور اپیسټین ته وړاندې کولو یادونه پکې شوې وه. هم په ملګرو ملتونو کې د بشري او بښخو حقوقو د څانګې له دندې لرې شوه او له کومې ورځې چې د اپیسټین

اسناد خپار شوې نوموړې خپل د ټولنيزو رسنيو اکاونټونه بند کړې او د خلکو له نظر څخه يې ځان لرې کړی دی. (Rehman, 2026)

نو د پاسنيو ذکر شويو او په سلګونو نورو واقعيتونو ته په کتو موږ دا فرضيه چې کواکې د اېپستين اسناد دې جعل او يو توطئه وي نه شو منلی. دلته هغه فرضيه چې د اېپستين اسناد رښتيا او د اېپستينيزم شبکې فعاليتونه شتون لري سمه ثابتيږي. که راتلونکې کې د اېپستين په قضيه کې ښکيل کسان را څرګند شي محکمې ته د خپل معصوميت د اثبات رسولو عريضه وکړي او بيرته خپلې دندې ترلاسه کړي. بيا ممکن د فرضيې رښتياوالی تر بحث لاندې ونيول شي.

پايله

د پورته بحثونو په رڼا کې دا څرګنديږي، چې د جيفري اېپستين قضيه يوازې د يوه فرد انفرادي د جرم قضيه نه شي کېدای. بلکې د شواهد، اسناد، د قربانيانو د شهادتونو او د ګڼو نړيوالو څېرو د نومونو څخه دا راڅرګنديږي، چې د دې موضوع تر شا د اېپستېنزم يو پراخ او منظم دجالي شکبه فعاله ده. که څه هم د اېپستين په اسنادو کې د جرم رابرسيره شويو قضيو په اړه قطعي قضاوت او پربکړه د يوې با صلاحيته مرجعې کار دی. د اېپستين په اسنادو کې د ايميلونو، انځورونو او يا نومونو په يادښدو سره پر يوه چا د جرم حکم کول ستونزمن کار دی، خو د ګڼو قضايي دوسيو، محکوميتونو، استعفاوو او رسمي غبرګونونو تسلسل دا ښيي چې موضوع يوه خيالي افسانه هم نه شي بلل کېدای. د اېپستين د جزيرې شتون، د قربانيانو منظم شهادتونه، د ګيلين ماکسويل محکوميت، او د نړيوالو رسنيو څېړنې دا ثابتوي چې لږ تر لږه د ماشومانو د قاچاق او جنسي استثمار يوه منظمه حلقه فعاله وه او ممکن اوس هم فعاله وي، چې د نړيوال سياست، شيطان‌پرستی، قتل او ادم‌خوری تر کچې پورې حلقې پکې فعاليت لري. دا ليکنه مشت نمونه يې خروار وو؛ خو د اېپستين د قضيې په هکله پلټنه کې لا هم نورو ژورو مسلکې او هر اړخيزو څېړنو ته اړتيا ليدل کيږي.

An Overview to the Global Dajjalic (Deceptive) Network of Epsteinism

Dr. Ahmad Javid Shakib, Faculty of Journalism and Public Relations, Department of Journalism

Email: javid.shakib@gmail.com

Abstract

In January 2026 the United States Department of Justice released three million redacted documents out of six million files related to Epstein. This action sparked a global debate on the protection of human dignity, as it revealed activities carried out on Epstein's island and beyond by Western liberal elites that violated human values and shocked the world. The purpose of this article is not only to examine the case of Jeffrey Epstein but also to clarify how the global, deceptive network of "Epsteinism" was not confined to a single island, but had broader international dimensions. This paper first explains the individual criminal case of Jeffrey Epstein and then explores how his crimes were not merely the actions of a single individual, but part of a wider and organized network. Using a descriptive research method, the author analyzes interviews with Epstein's victims, reports from international media, documents released by the U.S. Department of Justice, and writings by other scholars. The findings of this study indicate that the Epstein case is not simply an individual criminal matter. The collected documents and evidence suggest the presence of an active global network associated with Epsteinism, playing a significant role in issues ranging from the trafficking and sexual exploitation of women and children to influence in international politics, economics, and media.

Keywords: Epsteinism, international politics, organized criminal networks, sexual exploitation, Western liberalism.

مآخذونه

Al Jazeera Staff. (2026, February 18). *Tested on Palestinians: Epstein, Israel's Barak pushed spy tech in Nigeria*. Al Jazeera. Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/features/2026/2/18/tested-on-palestinians-epstein-israels-barak-pushed-spy-tech-in-nigeria

Al Letson. (2026, May 6). The secrets behind "The Talented Mr. Epstein." *Reveal*. https://revealnews.org/podcast/jeffrey-epstein-maria-annie-farmer-vicky-ward/

Alex, R. R. (2025, April 26). *Who was Virginia Giuffre? From allegations on Jeffrey Epstein, Prince Andrew to cause of her death – Here's all we know | Today News*. Mint. https://www.livemint.com/news/us-news/who-was-virginia-giuffre-from-allegations-on-jeffrey-epstein-prince-andrew-to-cause-of-her-death-heres-all-we-know-11745638752039.html

Ali, H. D., Marium. (2026, February 10). *Struggling to navigate the Epstein files? Here is a visual guide*. Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/news/2026/2/10/struggling-to-navigate-the-epstein-files-here-is-a-visual-guide

Biswas, S. D. (2026, February 1). *Gabriela Rico Jiménez: Epstein files spark interest in Mexican woman's cannibalism claim video; 'who disappeared her?'* Hindustan Times. https://www.hindustantimes.com/world-news/us-news/gabriela-rico-jimenez-epstein-files-spark-interest-in-mexican-womans-cannibalism-claim-video-who-disappeared-her-101769907235472.html

Cole, D., & Lee, M. (2025, December 20). *Maria Farmer vindicated by Epstein files release; other survivors frustrated | CNN Politics* [CNN Politics]. CNN Politics. CNN. https://edition.cnn.com/2025/12/19/politics/maria-farmer-epstein-survivor-complaint

Crisp, J. (2025, August 23). The British philanthropist who 'brought Epstein and Andrew together.' *The Telegraph*. https://www.telegraph.co.uk/us/news/2025/08/23/lady-de-rothschild-jeffrey-epstein-prince-andrew/

Desk, I. T. W. (2025, October 23). *Epstein survivor Virginia Giuffre memoir claims rape by "well-known Prime Minister."* India Today. https://doi.org/https://www.indiatoday.in/world/story/virginia-giuffre-alleges-abuse-by-well-known-prime-minister-in-epstein-memoir-glbs-2806948-2025-10-23

Guest, P., Kao, J., Cannon, C., Mattu, S., & Harlow, M. (2026, July 24). The Flight Network Behind Jeffrey Epstein's Trafficking Operation. *Bloomberg.Com*. https://www.bloomberg.com/graphics/2026-jeffrey-epstein-trafficking/

Hatton, B. (2026, February 25). *Bill Gates "took responsibility" over Epstein ties in staff meeting, foundation says*. BBC News. https://www.bbc.com/news/articles/cnv6rjp468ro

Kirby, P. (2026, February 6). *Norway's crown princess apologises after pressure over Epstein friendship*. BBC News. https://www.bbc.com/news/articles/c78v8wx6jjxo

Lightner, B. (2024). *Jeffrey Epstein | Biography | Research Starters | EBSCO Research*. EBSCO. https://www.ebsco.com

Litvin, Y. (2026, February 26). *Epstein and the politics of distraction*. Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/opinions/2026/2/26/epstein-and-the-politics-of-distraction

Mansour, M. (2026, February 12). *Compromised peace? Oslo Accords figure deeply linked to Epstein network*. Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/features/2026/2/12/compromised-peace-oslo-accords-figure-deeply-linked-to-epstein-network

McArthur, T. (2026a, February 9). *Norway police investigate diplomat over Jeffrey Epstein links*. BBC News. https://www.bbc.com/news/articles/c5yg8yrypejo

McArthur, T. (2026b, August 29). *Sarah Ferguson expected back in the UK shortly, source tells BBC*. https://www.bbc.com/news/articles/ce8xn9ge6xeo

Morton, B. (2026, February 5). *Keir Starmer apologises to Jeffrey Epstein victims for believing Mandelson's "lies."* BBC. https://www.bbc.com/news/articles/cp37v4kyv3eo

Muir, E. (2026, August 19). *90s supermodel says she was 'forced to say I had made up' abuse claims that ended her career*. Yahoo Style Canada. https://ca.style.yahoo.com/90s-supermodel-says-she-forced-182328579.html

Office of Public Affairs | Department of Justice. (2026, January 30). *Office of Public Affairs | Department of Justice Publishes 3.5 Million Responsive Pages in Compliance with the Epstein Files Transparency Act | United States Department of Justice* [Department of Justice]. Department of Justice. https://www.justice.gov/opa/pr/department-justice-publishes-35-million-responsive-pages-compliance-epstein-files

O'Neill, N. (2026). *Ex-Prince Andrew first royal to be arrested in nearly 400 years*. New York Post. https://nypost.com/2026/02/19/world-news/ex-prince-andrew-first-royal-to-be-arrested-in-nearly-400-years/

Phillips, A. (2026a, February 1). *Slovakia PM's national security adviser resigns over Epstein links*. https://www.bbc.com/news/articles/cnvgljj1dygo

Phillips, A. (2026b, February 1). *Slovakia PM's national security adviser resigns over Epstein links* [News Website]. BBC News. https://www.bbc.com/news/articles/cnvgljj1dygo

Rehman, E. (2026, February 10). Epstein Emails Spark Scrutiny of UAE Official: Hind Alowais. *Brandsynario*. https://www.brandsynario.com/top-stories/new-epstein-files-trigger-questions-about-uae-diplomats-past-contacts/

Scannell, S. D., Lauren del Valle, Kara. (2024, January 3). *Unsealed Jeffrey Epstein documents released | CNN Business*. CNN. https://www.cnn.com/2024/01/03/business/jeffrey-epstein-documents-list-names

Shamim, S. (2026, February 5). *How Epstein-Mandelson files rocked the UK government* [Al Jazeera]. Al Jazeera.

https://www.aljazeera.com/news/2026/2/5/how-epstein-mandelson-files-rocked-the-uk-government

Stunson, M. (2026, February 13). *Sultan Ahmed Bin Sulayem—"Close Personal Friend" Of Epstein—Resigns As CEO Of DP World*. Forbes. https://www.forbes.com/sites/mikestunson/2026/02/13/dubai-ceo-resigns-after-released-email-showed-epstein-thanking-him-for-torture-video/

Willis, D., & Venkatraman, S. (2025, November 20). *Trump signs bill ordering release of Jeffrey Epstein files* [BBC News]. BBC. BBC. https://www.bbc.com/news/articles/cly2y40lj5go

Window, T. P. (2024, August 26). Domestic and international reactions to the Taliban's Law of Enjoining Good and Prohibiting Evil. *The Peace Window*. https://thepeacewindow.com/blog/2024/08/26/domestic-and-international-reactions-to-the-talibans-law-of-enjoining-good-and-prohibiting-evil/

Zurcher, A. (2019, July 12). *US Labour Secretary Alex Acosta resigns over Epstein case*. BBC News. https://www.bbc.com/news/world-us-canada-48967419

شریعت او سیاست د الهي قانون او بشري اداري ترمنځ اړیکه او توازن

پوهندوی دکتور مفتي عزت نور، د شیخ زاید پوهنتون، د شرعیاتو پونځی، تفسیر څانګه

برېښنالیک: shabzalmi@gmail.com

لنډیز

دا څېړنه د «شریعت او سیاست، د الهي قانون او بشري اداري ترمنځ اړیکه او توازن» تر عنوان لاندې د اسلامي سیاسي تفکر ارزښت او اړتیا په عملي بڼه څېړي، چې د نبوت او اسلامي نظام اړیکه، د اسلامي حکومت مشروعیت، د شرعي امام مسؤلیتونه او د اسلامي نظام ضروري رول د شریعت د مقاصدو په رڼا کې تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې څخه څرګندیږي چې شریعت او سیاست په اسلام کې یو دي، بلکې د یو واحد الهي نظام دوه تکمیلي اړخونه دي: چې د شریعت عملي بڼه یوازې د منظم اسلامي حکومت په شتون کې ممکنه ده. حاکم د قانون جوړونکی نه بلکې، دشریعت تطبیقوونکی دی او اسلامي نظام د عدالت، امنیت، اقتصاد او د ټولنې د اصلاح د سم مدیریت لپاره د دین، عقل او تمدن له نظره یوه ضروري اړتیا ده. د څېړنې پایله ښایي چې د اسلامي سیاست اصلي بنسټ د شریعت پلي کول، د امت خیر، د عدالت ټینګښت او د ظلم مخنیوی دی او د شریعت او سیاست ترمنځ توازن د امت د فکري، ټولنیز او سیاسي ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري. وړاندیز کیږي چې د نبوي سیرت پربنسټ د معاصر سیاست لپاره تګلارې جوړې شي، د شورا او حساب ورکونې قوي میکانیزمونه د رامنځته شي، اداره دې د تخصص او عدالت پر اساس فعاله شي.

کلیدي ټکي: اسلامي نظام، حاکم، سیاست، شریعت، مسؤلیت، مقاصد، نبوت.

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم! الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین.

د «شریعت او سیاست، د الهي قانون او بشري اداري ترمنځ اړیکه او توازن» موضوع په اسلامي علومو کې د هغو بنسټیزو مباحثو له دلې ده چې د دین د جامعیت، د شریعت د مقاصدو او اسلامي تمدن د سیاسي فلسفې اساسي ماهیت بیانوي. قرآن کریم د انسان د ژوند د لارښود په توګه یوازې د عباداتو او اخلاقو اصول نه، بلکې د ټولنې جوړښت، د عدالت اقامه، د ظلم دفع، شورا نظام، دسولې او جهاد اصول، د مالیو تنظیم او دعامه خیر ساتلو په ګډو د ژوند ټول اړخونه تنظیموي. الله تعالی فرمایي: ﴿**الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ**﴾. (سورة الحج: ۴۱).

ژباړه: هغه خلک چې مونږ هغوی ته په ځمکه واکمني ورکړه، نو هغوی لمونځ قایموي، زکات ورکوي، د نېکیو حکم کوي او له بدیو څخه منع کوي.

دا آیت مبارکه به څرګنده توګه حکومت ته د شریعت د اقامې او د ټولنې د اصلاح مسؤلیت سپاري. همدارنګه قرآن کریم د قضاء، عدالت، امنیت او د اجتماعي نظم په اړه صریح لارښوني لري، لکه د عدل په هکله الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾. (سورة النساء: ۵۸).

ژباړه: الله تعالی تاسو ته امر کوي چې تاسو امانتونه خپل اهل ته وسپارئ، او امر درته کوي چې کله تاسو د خلکو ترمنځ فیصلې کولې نو فیصلې په عدل باندې کوي.

دا ټول د دې واقعیت څرګندونه کوي چې په اسلام کې سیاسي نظم د شریعت د عملي کولو لپاره یو ضروري الهي اصل دی، نه یو ثانوي یا بشري اختراع.

نبوي سیرت هم د دې حقیقت ژوندي مثال وړاندې کوي. رسول الله – صلی الله علیه وسلم – یوازې یو روحاني لارښود نه وو، بلکې د مدیني دولت بنسټګر، مشر، قاضي، نظام جوړونکی او د عدالت تطبیقوونکی وو. د حضرت نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – دا مبارک کحدیث دی نبي علیه السلام فرمایي:«كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ». (صحیح البخاري: ج ۲ ص ۵، د چاپ کال: ۱۴۲۲هق. دار طوق النجاة).

ژباړه: هریو په تاسو کې شپونکی دی، او هر یو د خپل رعیت مسؤل دی.

په حکومت کې د مسؤلیت او حساب ورکوونې ترټولو مهم اصل بیانوي. د خلفاء راشدینو تجربې د اسلامي سیاست د عملي تطبیق هغه بې بدیله نمونې دي چې د عدل، شورا، زهد، تخصص، شفقت او اجرایي مهارت ترټولو غوره توازن یې رامنځته کړی.

د څېړنې اهمیت: د دې څېړنې اهمیت خورا زیات دی، دا څېړنه څرګنده وي چې د اسلامي حکومت د مشروعیت اصلي بنسټ د شریعت په حاکمیت ولاړ دی، او سیاست هغه تدبیر دی چې انسانان یې د الهي اصولو د تطبیق لپاره کاروي؛ نو ځکه د ديني نصوصو، مقاصد الشریعه او معاصر سیاسي اړتیاوو ترمنځ همغږي د دې موضوع جوهر جوړوي. او همدارنګه دغه موضوع دا څرګندوي چې الهي قانون کوم ثابت اصول ټاکلي دي او بشري اداري څنګه کولای شي د دې اصولو په چوکاټ کې دوخت او ځای له غوښتنو سره سم اجتهاد، پلان جوړنه او مدیریت ترسره کړي، له همدې امله دغه څېړنه د قانون جوړنې، سیاست جوړنې او واکمنۍ دفکري ښېداری، د امت د رهبرۍ د روزنې او د یوه متوازن، عادل او با ثباته اسلامي نظام د بنسټ ایښودلو لپاره اساسي ارزښت لري.

د څېړنې موخې: د دې څېړنې اساسي موخه داده چې د شریعت او سیاست ترمنځ د اړیکې، تفاهم او توازن علمي تحلیل وړاندې کېدل، او د دې ښودل چې څنګه د الهي قانون ثابت اصول د بشري ادارو له متغیرو سیاسي اړتیاوو سره همغږي کېدای شي، څو د یو عادلانه، مشروع او مؤثر اسلامي سیاسي نظام بنسټ ټینګ شي.

فرعي موخې څرګنده وي چې:

۱ - د شریعت او سیاست مفاهیمو ته علمي تعریف ورکول چې شریعت د الهي هدایت بنسټ دی او سیاست د بشري تدبیر ساحه ده او څنګه دواړه یو له بله نه ښلدونکي دي؟

۲ – د دواړو ترمنځ د تعامل او همغږۍ میکانیزم تشریح کول چې کوم اصول ثابت او کوم اجتهادي دي او بشري اداري څنګه کولای شي دشریعت په چوکاټ کې اثرناک سیاسي پرېکړې او پالیسي سازي ترسره کړي.

۳ – د شریعت د مقاصدو او معاصر سیاست ترمنځ اړیکه څېړل چې څنګه د معاصر سیاست د شریعت د پنځو مقاصدو د تحقق لپاره وسیله ګرځي، نه خنډ.

د څېړنې مېتود: د څېړنې مېتود تحلیلي دی چې په کې قرآني نصوص، نبوي سنت، د خلفاء راشیدینو عملي تجربې، د فقهاوو اقوال او د معاصر سیاسي فکر لیدلوری سره پرتله او تحلیل شوي دي.

نبوت او اسلامي نظام دوه لوی نعمتونه دی

الله جل جلاله د انسانانو د هدایت او لارښونې لپاره پرځمکه انبیاء کرام علیهم السلام رالیږلي دي، او د انساني ټولنې د تنظیم، عدالت، امینت او د شریعت د تطبیق لپاره یې اسلامي حکومت او امارت مقررکړی دی. په قرآن کریم په مختلفو ځایونو کې په صراحت سره په مختلفو امتونو په ځانګړي ډول په بني اسرائیلو باندې، ېښمېره نعمتونه یې وربانديې کړي دي. الله تعالی بني اسرائیلو ته خپل نعمتونه وریادوي فرمایي﴿يا بَنِي إِسْرَائِيلَ اُذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعالَمِينَ﴾ (سورة البقرة: ۴۷).

ژباړه: ای بني اسرائیلو تاسو یاد کړئ زما هغه نعمتونه چې په تاسو باندې مې کړي دي، او تاسو دا یاد کړئ چې ما تاسو غوره ګرځولي یی په ټول عالم باندې. (بیان القرآن، حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي، میر محمد کتب خانه کراچي).

د دې ایت څخه دا نه معلومیږي چې الله تعالی کوم نعمتونه بني اسرائیلو ته وریادوي چې تاسو د هغه نعمتو یادونه وکړی، خو د دې آیات سره چې د دسورة المائده آیت یوځای کړي نو ښکاره معلومیږي چې هغه نعمتونه کوم دي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنْبِيَاءَ وَجَعَلَكُمْ مُلُوكًا وَآتَاكُمْ مَا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ﴾. (سورة المائدة: ۲۰).

ژباړه: او هغه وخت د یادولو وړ دی کله چې موسی علیه السلام خپل قوم ته اویل، ای قومه تاسو د الله تعالی هغه انعام چې پرتاسو یې کړی یادکړئ، کله چې په تاسو کې الله تعالی زیات پیغمبران وګرځول، او تاسو یې امیران او بادشاهان جوړ کړی، او هغه څه الله تعالی درکړل چې بل هیڅ قوم ته یې نه دي ورکړي.(بیان القرآن، حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي، میر محمد کتب خانه کراچي).

د دې آیت څخه معلومه شوه چې هغه دوه لوی نعمتونه نبوت او حکومت دی، چې دواړه یو له بله سره قوي اړیکه لري. دا دوه داسې لوی نعمتونه دي چې یه رښتیا د یادولو وړ دي؛ ځکه چې د دیني او روحاني نعمتو آخري منتها نبوت دی، او د دنیاوي او مادي نعمتو د عروج او پرمختګ نقطه حکومت او امارت دی.

د بني اسرائیلو څخه بغیر الله تعالی د دې دوو لویو نعمتونو د احسان یادونه پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام ته هم کړي ده. حضرت آدم علیه السلام ته یې د ټولو مخلوقاتو د مشري، حضرت سلیمان علیه السلام ته یې د بې مثاله بادشاهی او حضرت داود علیه السلام ته یې د ځمکې خلافت یادوري کوي، او حضرت ابراهیم علیه السلام د

لويې بادشاهی او مملکت عظما یادونه کوي، الله تعالی فرمایي: ﴿أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُمْ مُلْكًا عَظِيمًا﴾.(سورة النساء: ۵۴).

ژباړه: ایا خلک د دې امله له دوی سره حسد کوي چې الله تعالی دوی ته خاص غوره والی ورکړی دی، بېشکه مونږ د ابراهیم علیه السلام اهل ته کتاب او حکمت ورکړی دی، او دوی ته مو لویه بادشاهي او سلطنت ورکړی دی.

زمونږ امت ته د بني اسرائیلو د نعمتو په یادولو کې کوم حکمت دی؟

زمونږ محمدي صلی الله علیه وسلم امت ته د دې نعمتونو یادونه په ښکاره دا پیغام لري چې د دې لویو نعمتونو قدر او شکر اداکول اړین او ضروری دي. قرآن کریم مونږ ته په صراحت دا ریادوي چې د بني اسرائیلو زوال د دې نعمتونو د ناشکرۍ له امله رامنځته شو. نو امت محمدي صلی الله علیه وسلم باید د دې نعمتونو قدر وپېژني او د دې نعمتو شکر ادا کړي؛ ځکه د قرآن کریم قصص او حکایتونه د عبرت لپاره مونږ ته بیانیږي، مونږ باید ورڅخه عبرت واخلو او د خپل اسلامي نظام قدر وکړو.

اسلامي نظام د شریعت عملي بڼه ده

اسلامي نظام د شریعت عملي بڼه ده، شریعت که د نظري احکامو مجموعه وي، اسلامي نظام د همدې احکامو عملي تطبیق دی. پرته له اسلامي نظامه شریعت یوازې په کتابونو کې پاتې کېږي. لکه څنګه چې زکات ورکول د شریعت حکم دی، خو د اسلامي نظام دنده یې راټولول او مصرف کول دي لکه په یو اړده حدیث کې راځي چې نبي علیه السلام حضرت معاذ رضي الله عنه ته وایي «فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ»(صحيح البخاري: ۲/ ۱۰۴).

ژباړه: بیا دوی ته خبر ورکړه چې الله تعالی په دوی باندې فرض کړی دی زکات چې دا به د دوی د مالدارانو څخه اخیستل کیږي او د دوی په غریبانو به ویشلی کیږي.

شریعت د عدل حکم کوي، اسلامي نظام یې تطبیق کوي. شریعت د حدودو احکام بیانوي، اسلامي نظام یې نفاذ کوي. شریعت نور زیات غیر شرعي کارونه او منکرات بیانوي، اسلامي نظام یې مخ نیوی کوي. زیات مسلمان هېوادونه د شرعي نظام د نشتون له امله شریعت یوازې په کورنۍ نظام، نکاح او طلاق پورې محدود دی، خو اقتصادي، قضایي او جزایي برخې غیر اسلامي قوانینو ته پرېښوول شوي دي او په ډیر جرئت سره یې واکمنان د شریعت لوی لوی حکمونه ترپښو لاندې کوي. نو اسلامي نظام د شریعت د تطبیق وسیله او ذریعه ده.

په شریعت کې د امیر حیثیت څه دی؟

د اسلامي نظام مشر او امیر که یو اړخ د خلکو استازی دی، له بل اړخه د رسول ځای ناستی هم دی، نو له هم دې امله کومه ذمه داري او مسؤلیت چې د رسول وو هماغه ذمه داري به امیر او مشر هم مخته وړي؛ ځکه نایب او مرستیال هغه کار کوي کوم چې د اصل کار وي. امام ابن خلدون – رحمه الله – وایي: «فهي في الحقيقة خلافة عن صاحب الشّرع في حراسة الدّين وسياسة الدّنيا به». (تاريخ ابن خلدون ج ۱ ص۲۳۹، چاپ کال: ۱۴۰۸هق، دارالفکر).

ژباړه: په حقیقت کې خلافت نیابت دی د شرع د خاوند له طرفه، د دین په ساتلو او د دنیا په اصلاح کې. نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – فرمایي: «من أطاع أميري فقد أطاعني، ومن عصى أميري فقد عصاني» (صحيح البخاري: ج ۹ ص ٦١، د چاپ کال: ۱۴۲۲هق. دارالطوق النجاة).

ژباړه: چاچې زما د امیر اطاعت وکړ نو ده زما اطاعت وکړ، چاچې زما د امیر نافرماني وکړه ده زما نافرماني وکړه. د دې حدیث شریف څخه هم په ښکاره معلومیږي چې امیر په ټولو کارونو کې د نبي او رسول نایب او مرستیال دی.

د شرعي امام حیثیت د اسلامي فقې له نظره

د فقهاوو له نظره لکه څنګه چې د عباداتو لپاره د نبي او رسول طریقه اختیارول او د هغې مطابق عبادت کول ضروري او اړین دي، همدا رنګه د ځینو عباداتو د صحت لپاره د شرعي امیر شتون لازمي او اړین دی، د جمعې او اخترونو لمونځونه، جهاد، حدود او قصاص د عادل او شرعي امیر په امر باندې موقوف دي. لکه څنګه چې په منصوصي احکامو کې د رسول او نبي اطاعت واجب دی، همدا رنګه په غیر منصوصي احکامو کې د امیر اطاعت واجب دی. په کومو حکمونو کې چې د شریعت ښکاره حکم نه وي په هغه حکمونو کې د امیر حکم د شریعت حکم شمارل کیږي. (منصب امامت، شاه اسماعیل شهید، طبع پبلیشیرز، لاهور).

د دې ټول احکامو د نفاذ، صحت او د معاشرې د اصلاح لپاره فقهاء کرام فرمایي: «وَلِأَنَّ نَصْبَ الْإِمَامِ الْأَعْظَمِ فَرْضٌ، بِلَا خِلَافٍ بَيْنَ أَهْلِ الْحَقِّ، وَلَا عِبْرَةَ - بِخِلَافِ بَعْضِ الْقَدَرِيَّةِ -؛ لِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - عَلَى ذَلِكَ، وَلِمَسَاسِ الْحَاجَةِ إلَيْهِ؛ لِتَقَيُّدِ الْأَحْكَامِ، وَإِنْصَافِ الْمَظْلُومِ مِنْ الظَّالِمِ، وَقَطْعِ الْمُنَازَعَاتِ الَّتِي هِيَ مَادَّةُ الْفَسَادِ، وَغَيْرِ ذَلِكَ مِنْ الْمَصَالِحِ الَّتِي لَا تَقُومُ إلَّا بِإِمَامٍ».(بدائع الصنائع:ج ۷ ص ۲، بیان فرضیة نصب القاضي، د چاپ کال ۱۴۰٦هق، دار الکتب العلمیة).

ژباړه: ځکه د لوی امام ټاکل فرض دي، بغیر د اختلاف څخه د علماوو په منځ کې، او هیڅ اعتبار نشته د ځینو قدریه وو اختلاف ته؛ ځکه د صحابه وو –رضي الله عنهم– اجماع په دې باندې راغلي ده، او دښته د سخت اړتیا له امله، د احکامو د قوت له امله، او د مظلوم حق اخیستلو لپاره د ظالم څخه، د جګړو د ختمولو لپاره کومې چې د فساد جړه ده. او د نورو هغو مصلحتو لپاره چې بغیر د امام د وجود څخه ناشوني وي.

د فقهاوو د اقوالو څخه ډیر په ښکاره معلومیږي چې د شرعي احکامو د تطبیق، صحت، عامو مصلحتونو او اړتیاوو د پوره کولو لپاره د شرعي امیر او امام ټاکل واجب دي. نبي کریم –صلی الله علیه وسلم– فرمایي: «مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ، لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ، وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً» (صحیح مسلم: ج ۳ ص ۱۴۷۸، دار احیا، التراث العربي، بیروت).

ژباړه:نبي علیه السلام فرمایي: چاچې د امیر د اطاعت څخه لاس واخیستلو، د قیامت په ورځ به د الله تعالی سره په داسې حال کې مخامخ شي چې د ده لپاره هیڅ دلیل نه وي او هر هغه څوک چې په داسې حال کې مړشي چې د کوم شرعي امیر سره یې بیعت نه وي کړی، نو دی د جاهلیت په مرګ باندې مړ شو.

د اسلامي نظام شتون ته اړتیا

انسان د ټولنیز جوړښت له مخې د نظم، قانون، عدالت او مشرتابه اړتیا لري. د بې نظامۍ په حالت کې نه د انسان دین خوندي پاتې کیږي، نه د انسان عزت، نه مال، نه ژوند او نه نسل. په همدې اساس اسلامي نظام جوړول یوازې یو مدني ضرورت نه، بلکې یو شرعي فرض او د امت د ټولنیز ژوند رکن ګرځولی دی. د اسلامي نظام موخه د انسان د دنیا او آخرت د سعادت لپاره د الهي هدایاتو عملي کول دي.

اسلام یوازې یو روحاني دین نه دی؛ بلکې یو بشپړ نظام دی چې دیني عبادات تنظیموي، اخلاقي اصول ټاکي، اقتصادي جوړښت تشرح کوي، قضایي، حقوقي، جزایي او ټولنیز قوانین وړاندې کوي. د دې نظام د پلې کولو لپاره اسلامي حکومت وجود د سر حیثیت لري.

علماوو د اسلامي نظام لپاره پنځه لوی هدفونه او موخې ذکر کړي دي چې په «مقاصد الشریعة» باندې یې تعبیر ورځخه کړی دی. دا پنځه مقاصد د ټول اسلامي قانون بنسټ جوړوي. د شریعت د دې پنځو هدفونو لاسته راوړل او دهغې تطبیق یوازې د اسلامي نظام په وجود سره کېدلی شي. د شریعت پنځه مقاصد چې د اسلامي نظام موخې دي په لنډ ډول یې دلته ذکر کوو. د زیات بحث لپاره د امام شاطبي رحمه الله «الموافقات» کتاب کتلی شی (ج ۲ ص ۹، د چاپ کال ۱۴۱۷هق، دارابن عفان):

۱ - د دین ساتنه (حفظ الدین) د اسلامي حکومت ترټولو لومړی مسؤلیت د دین ساتنه ده. دې هدف ته د رسېدلو لپاره د لمانځه، زکات، جوماتونو، شعایر الله، دیني تعلیم، دعوت او ارشاد، امر بالمعروف، نهي عن المنکر او نور هر ډول دیني احکامو ساتنه او تطبیق دی. زیاتره قرآني آیاتونه او نبوي احادیث په دې باندې دال دي چې دلته یې راوړولو ته اړتیا نشته.

۲ – د ژوند ساتنه (حفظ النفس). د اسلامي نظام مسؤلیت د خلکو د ژوند ساتنه او حفاظت دی. د خلکو د ژوند ساتلو لپاره اسلامي نظام دری لوی مسؤلیتونه لري: ۱ – عدلي نظام (قصاص، حدود، امن او نظم دی). ۲ – روغتیایي خدمتونه. ۳ – د نا امنۍ، قتل غلا او جګړو مخنیوی دی. شریعت مقدسه د انسانانو د ژوند ساتلو لپاره په ګڼ شمیر نصوصو کې ارشادات فرمایلي دي، دلته یوازې د نمونې لپاره یو څو آیتونه راوړو. الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ﴾.(سورة البقرة: ۱۷۸).

ژباړه: ای هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی دی، فرض شوی دی په تاسو باندې قصاص اخېستل.(تفسیر بغوي: د دې آیت لاندې).

په بل ایت کې الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ﴾.(سورة البقرة: ۱۷۹).

ژباړه: او شته ستاسو لپاره په قصاص اخېستلو کې ژوند، ای د عقل خاوندانو. دا ښکاره خبره ده چې په قصاص اخېستلو کې د انسانانو ژوند دی خوندی دی؛ ځکه کله چې د یو تجوز کونکي څخه قصاص اخېستل کیږي نور بیا د ظلم جرئت نشي کولی. د دې قصاص اخیستل، د حدودو تطبیق او عزیر ورکول دا ټول مسؤلیت او دنده ده د اسلامي نظام ده، بیغیر له اسلامي نظامه قصاص، حدود او تعزیر اخېستل او ورکول د فساد او بربادی لامل جوړیږي.

۳ – د عقل ساتنه(حفظ القل). اسلام د عقل ساتنه او حفاظت کوي او اسلامي نظام ته حکم کوي چې عقل ته ضرر رسوونکي عوامل له منځه یوسي: د شرابو او هر ډول نشایي توکو بندول. د فکري فساد په وړاندې تعلیم او تربیه. د علم او پوهې نظام پیاوړی کول. دا ټول هغه څه دي چې اسلامي نظام یې مسؤلیت لري؛ ځکه که عقل فاسد شي، ټول نظام فاسد ګرځي. نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – فرمایي: «مَنْ شَرِبَ الخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ، فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ». (سنن الترمذي: ج ۴ ص ۴۸، دچاپ کال۱۳۹۵ هق، مطبعه مصطفی البابي).

ژباړه: څوک چې شراب وڅښي په درو یې اواهی، او که چېرته په څلورم ځل یې وڅښل نو قتل یې کړئ. لکه وړاندې چې بیان شول د حدودو تطبیق یوازې د اسلامي نظام مسؤلیت دی.

۴ – د نسل ساتنه (حفظ النسل). د مسلمانانو د نسل ساتنه د اسلامي نظام له اساسي او مهمو دندو څخه شمیر کیږي چې د کورنۍ ساتنه. د نکاح قانون تنظیمول. د زنا، فحشا او بې عفتۍ مخنیوی کول. د ماشومانو د حقوقو ساتنه کول. د میراث عادلانه وېش او حق حقدار ته سپارل. هغه څه دي چې د اسلامي نظام یې مسؤلیت لري. ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾.(سورة النور: ۲).

ژباړه: زنا کونکي ښځه او زنا کونکی سړی هر یو یې سل سل درې اواهئ. نو د حدودو په تطبیق سره د انسانانو د نسل ساتنه کیږي.

۵ – د مال ساتنه(حفظ المال

اسلامي شریعت مال د انسان د ضرورت برخه ګڼي او د انسانانو د مال حفاظت یې د اسلامي نظام ذمه واري ګرځولي ده. د غلا او فساد مخنیوی. د اقتصادي عدالت پلي کول. د زکات عشر او مالیاتو شرعي تنظیم. د سودې نظام له منځه وړل او د خلکو د ملکیتونو ساتنه هغه څه دي اسلامي نظام یې د ساتنې مسؤول دی، دا مسؤولیت الله تعالی اسلامي نظام ته ورکړی دی، الله تعالی فرمایي: ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾.(سورة المائده: ۳۸) . ژباړه: د غلا کونکي نارینه او غلا کونکي ښځې دواړو لاسونه پرې کړئ. زمور فقهاء کرام وایي: «{فَاقْطَعُوا} خِطَابٌ لِلْأَئِمَّةِ» (السرخسي: مبسوط: ج ۹ ص ۸۲، د چاپ کال: ۱۴۱۴هق، دار المعرفة، بېروت). ژباړه: {فَاقْطَعُوا}کې خطاب أمراوو ته دی. دا دې قرآن کریم حکم دی، کله چې یوځوک ساتل شوی او محفوظ مال په پټه سره غلا کوي او د دې مال اندازه لسو شرعي درهمو ته رسیږي نو د وخت قاضي کولی شي چې د نورو شرعي شرائطو په نظر کې نیولو سره د لاس پرې کولو حکم وکړي.(بدائع الصنائع: ج ۷ ص ۷۷، دچاپ کال ۱۴۰۶هق، دارالکتب العلمیه).

نو اسلامي نظام ته ځکه اړتیا ده چې د شریعت د پوره تطبیق لپاره اسلامي نظام اړین دی. د زیات شمیر شرعي حکمونو تطبیق د اسلامي نظام په قوت او وجود باندې موقوف دي. د اسلام ظهور د دې لپاره دی چې ﴿لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ﴾. (سورة التوبة:۳۳).

ژباړه: د دې لپاره چې اسلام په ټولو دینونو باندې غالب شي. د دې غالبوالي تقاضا داده چې مسلمانان د اسلامي نظام په توسط باندې په نورو غیراسلامي نظامو باندې حاکم او غالب کېدلی شي. د اسلام مزاج اجتماعیت او یوالی دی، بې اتفاقي یې نه خوښه وي؛ ځکه خو اجتماعیت بغیر له نظامه د فساد لامل جوړیږي، نو له همدې امله صحابه – رضي الله عنهم – د نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – د وفات وروسته لومړی مسئله چې وروباندې بحث کېدلو هغه د خلافت وه. تر دې چې شریعت وایي کله چې تاسو دری نفره وی یو په تاسو کې مشر

وټاکی.(مسند أحمد: ج ۱۱ ص ۲۲۷، دچاپ کال ۱۴۲۱هق، مطبعه، الرسالة). کله چې د دریو نفرو لپاره داسې حکم کیږي نو د مکملې معاشرې لپاره په اولی طریقه داسې حکم دی.

د اسلامي نظام د حاکمانو دندې او مسؤلیتونه څه او کوم دي؟

اسلامي نظام د یو لوی نعمت په توګه وپیژندل شو، اوس دلته د اسلامي حکومت د واکمنانو دندې او مسؤلیتونه د قرآن کریم په رڼا کې بیان وو. الله تعالی ډیر په صراحت او وضاحت سره د اسلامي نظام د واکمنانو مسؤلیتونه په نښه کړي، الله جل جلاله فرمایي: ﴿الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ﴾. (سورة الحج: ۴۱).

ژباړه: هغه خلک چې موږ هغوی ته په ځمکه واکمني ورکړه، نو هغوی لمونځ قایموي، زکات ورکوي، د نېکیو حکم کوي او له بدیو څخه منع کوي.

دلته الله تعالی موږ ته امر د خبر راکولو په طریقه ذکر کړی دی، د دې لپاره چې زیات تاکید او ټینګار په کې راشي. د آیت څخه ښکاري چې د حکومت مقصد یوازې امن، صحت، تعلیم، د سرحداتو ساتنه او د خلکو کفالت نه دی، بلکې د حکومت او امارت نور لوی لوی مسؤلیتونه شته چې هغه د نېکیو امر او د بدیو څخه د خلکو منع کول دي.

تمکین او واکمن کېدل هغه لوی الهي نعمت دی چې واکمن ته د قانون د پلي کولو وسایل، ځواک، اداري سیستم، امنیتي توان او ټولنیز ثبات ورکول کیږي. دلته الله تعالی د واکمن څلور بنسټیز مسؤلیتونه ښودلي دي:

۱ – اقامة الصلاة – د لمونځ قایمول. دا یوازې د امیر د لمونځ معنا نه لري، بلکې په حکومتي سطحه د لمانځه قایمول دي، چې مسجدونو جوړول او ساتنه، د اذان، جماعت او جمعې د نظام ډاډمنتیا ده. د دې اړوند دیني ادارو فعالول او همایه کول دي. خلکو ته دیني شعایرو د اداء کولو پشپړ امن برابرول دي.

۲ – ایتاء الزکاة – د زکات ورکول. دا هم یوازې د واکمن شخص زکات نه دی، بلکې د اسلامي حکومت او اماراتو مسؤلیتونه دي چې: د زکات اداره جوړول دي. د زکات راټولول، ثبتول او منظم مصرف کول دي. مستحقو خلکوته د زکات منصفانه او برابر وېشل دي. د هغو شتمنو څارنه چې د زکات ورباندې لازم دی. د بیت المال د عدالت او شفافیت پلي کول دي.

۳- الأمر بالمعروف - د نېکيو حکم کول. دا دې اسلامي نظام د ټولنيزې پاليسۍ بنسټ دی. معروف د شرعي غوښتنو او مطلوباتو هغه ټولګه ده چې ټول نظامي، اقتصادي، اخلاقي، تعليمي، عدلي او اجتماعي امور دي چې قرآن کريم او سنت رسول پرې حکم کړی دی، او زمونږ فقهاوو مونږ ته په ډير ښکاره ډول بيان کړي دي.

۴ – النهي عن المنکر – د بديو مخنيوی. دغه مسؤليت د اسلامي نظام د اميرانو د جدي مسؤليتونو څخه شمير کيږي، چې په کې د فحشاء، ظلم، رشوت، سود، غلا، قتل، شراب، فساد، بې عدالتۍ او هر ډول اقتصادي، اخلاقي، تعليمي، نظامي او اجتماعي منکراتو مخنيوی دی. د جرمونو لپاره د شرعي حدودو او تعزيراتو تطبيق. د فساد په وړاندې جدي حکومتولۍ پاليسيو جوړول شاملې دي.

په يو بل آيت کې الله تعالی واکمنانو ته وريادوي چې کله تاسو الله تعالی په ځمکه باندې حاکمان کړی، نو يوازې د الله تعالی د قانون تابع شئ او د الله تعالی دين پر خلکو باندې نافذ کړئ، د نور باطلو او فاسدو قوانينو پيروي مکوئ. الله تعالی فرمايي: ﴿اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ﴾.(سورة الأعراف: ۳).

ژباړه: خلکو کوم کتاب چې ستا لپاره د الله تعالی له اړخه نازل شوی دی يوازې د هغه پيراوي وکړئ، او د الله تعالی څخه بغير د نورو باطلو پيروي مکوئ او د دوی شاته مه ځئ. (اسان ترجمه قرآن، مفتي تقي عثماني، مکتبه معارف القرآن، کراچي، د چاپ کال ۲۰۱۲).

پايلې

۱ – نبوت او اسلامي نظام د انسان لپاره د دنيا او آخرت د هدايت اساسي ذريعه ده. قرآن کريم د بني اسرائيلو د تاريخي تجربې په بيان کې څرګنده کړې چې رسالت د الهي لارښونې سرچينه ده او اسلامي نظام د دې لارښونې د تطبيق او ساتنې وسيله ده.

۲ – د شريعت احکام يوازې د عباداتو په کچه نه دي؛ بلکې د ټولنيز عدالت، اقتصادي نظم، امنيت، قضاء، نړيوالو اړيکو او نظم عامه لپاره واضح اصول لري، دا اصول يوازې د سياسي او حکومتي جوړښت په شتون کې پلي کيدای شي.

۳ – اسلامي نظام د نبوت د لارښونې ټولنيز او اداري شکل دی. نبوت انسان ته الهي لارښونه ورښيي او اسلامي نظام د همدې لارښوونې د تطبيق منظم چوکاټ دی. دا څرګندوي چې اسلامي نظام د نبوي رسالت د دوام عملي مرحله ده، نه يوه بشري اختراع. په دې توګه د دين او سياست په اسلامي تفکر کې بېل کېدونکي نه دي.

۴ – اسلامي حاکم د شریعت د پلي کولو مسؤل دی، نه د قانون جوړونې مالک. شرعي حاکم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیرو دی، نه د تشریع صاحب. حاکم د الله تعالی د قانون په تطبیق باندې مکلف دی، نه د وضعي قوانینو په جوړونه او تطبیق.

۵ – د شریعت او سیاست توازن د امت د فکري او عملي ثبات لپاره اړین دی. کله چې یوازې شریعت ته کتنه کیږي او سیاست له پامه غورځي، شریعت عملي نه پاتې کیږي؛ او کله چې یوازې سیاست معیار جوړیږي او شریعت کمزوری کیږي، نظام استبدادي ګرځي. نو د دواړو ترمنځ توازن هغه بنسټیز اصل دی چې اسلامي سیاسي فلسفه پرې ولاړه ده.

وړاندیزونه

۱ – د اسلامي امارت قانون جوړنکو ادارو ته په کار دي چې د شریعت او سیاست د اړیکې په پوهېدو کې د نبوي منهج مطالعي ته ډیره توجه وشي. د نبوي سیرت ځانګړي فصلونه لکه مدني دوره، معاهدات، جهاد، قضاء، بیت المال، دوالیانو ټاکنه، د اداري چوکاټ جوړولو کې د نبوي منهج ګام ګام باید تعقیب شي.

۲ – د علم او پوهې خاوندانو ته په کار دي چې د اسلامي سیاست لپاره د شریعت د مقاصدو په رڼا کې معاصرې تګلارې جوړې شي د هر تصمیم، قانون اد تګلارې ارزونه باید د همدې مقاصدو پر اساس وشي.

۳ – اسلامي امارت دې د اسلامي نظام د مشروعیت او د خلکو د ډاډ لپاره دې د شورا، عدالت او حساب ورکوونې قوي میکانیزمونه رامنځته شي.

۴ – د اسلامي امارت مشران دې د اسلامي نظام پر کارونو کې د تخصص، کار اهل ته د سپارلو او اداري عصري کولو ته دې ځانګړي پاملرنه وشي. په اسلامي نظام کې تقوا او دیانت یوازې کافي نه دي، بلکې تخصص، مسلکي پوهه، اقتصاد، ټکنالوژي، اداره، امنیت او مدیریت هم ضروري او اړین دي.

۵ – د اسلامي امارت مشران دې هڅه وکړي ترڅو اسلامي نظام د داخلي عدالت ترڅنګ د نړیوال عدالت تنفیذ ته هم ژمن پاتې شي. اسلامي سیاست محلي نه، بلکې نړیوال لید لري. د نړۍ په هر ګونج کې دمسلمانانو او اسلامي شعایرو د حفاظت او ساتنې دنده لري.

الملخّص

تتناول هذه الدراسة، الموسومة بـ «الشريعة والسياسة: العلاقة والتوازن بين الحكم الإلهي والإدارة البشرية»، أهمية الفكر السياسي الإسلامي والحاجة إليه بصورة تطبيقية، من خلال تحليل العلاقة بين النبوة والنظام الإسلامي، ومشروعية الحكم الإسلامي، ومسؤوليات الإمام الشرعي، والدور الضروري للنظام الإسلامي في ضوء مقاصد الشريعة. وتُظهر نتائج الدراسة أن الشريعة والسياسة في الإسلام ليستا أمرين منفصلين، بل هما جانبان متكاملان لنظام إلهي واحد؛ إذ إن التطبيق العملي للشريعة لا يتحقق على الوجه الأكمل إلا في ظل حكومة إسلامية منظَّمة. فالحاكم ليس مشرِّعًا من عند نفسه، وإنما هو مُطبِّق لأحكام الشريعة والقائم على تنفيذها. كما أن النظام الإسلامي يُعدّ ضرورةً معتبرة من منظور الدين والعقل والحضارة، لما يضطلع به من دور في حسن إدارة شؤون العدالة والأمن والاقتصاد وإصلاح المجتمع. وتخلص الدراسة إلى أن الأسس الرئيسة للسياسة الإسلامية تتمثل في تطبيق الشريعة، وتحقيق مصالح الأمة، وترسيخ العدل، ومنع الظلم، وأن تحقيق التوازن بين الشريعة والسياسة ذو أهمية حيوية في ضمان الاستقرار الفكري والاجتماعي والسياسي للأمة. وتوصي الدراسة بوضع سياسات معاصرة مستندة إلى الهدي النبوي والسيرة النبوية، وإنشاء آليات قوية للشورى والمساءلة، وتفعيل الإدارة على أساس الكفاءة والتخصص والعدل.

الكلمات المفتاحية: النظام الإسلامي، الحاكم، السياسة، الشريعة، المسؤولية، المقاصد، النبوة.

اخځليکونه

القرآن الكريم.

البخاري: محمد بن اسماعيل. صحيح البخاري، د چاپ کال: ۱۴۲۲هق. دارالطوق النجاة.

ابن خلدون: عبد الرحمن بن محمد، ولي الدين الخضرمي، أبوزيد. تاريخ ابن خلدون، چاپ کال: ۱۴۰۸هق، دارالفكر.

أحمد: أبو عبد الله، محمد بن أحمد بن حنبل. مسند أحمد، دچاپ کال ۱۴۲۱هق، مطبعه، الرسالة.

الترمذي: محمد بن عيسى. سنن الترمذي، دچاپ کال۱۳۹۵ هق، مطبعه مصطفى البابي.

التهانوي: حكيم الامت مولانا اشرف علي التهانوي. بيان القرآن، مير محمد كتب خانه كراچي.

السرخسي: شمس الدين، أبوبكربن محمد بن أبي سهل. المبسوط، د چاپ کال: ۱۴۱۴هق، دار المعرفة، بيروت.

الشاطبي: ابراهيم بن موسى. الموافقات، د چاپ کال ۱۴۱۷هق، دارابن عفان.

شاه اسماعيل شهيد: منصب امامت، طيب پبليشيرز، لاهور.

عثماني: مفتي محمد تقي عثماني. اسان ترجمه قرآن، مكتبه معارف القرآن، كراچي، د چاپ کال ۲۰۱۲.

الكاساني: علاء الدين، أبوبكر بن مسعود بن أحمد الكاساني. بدائع الصنائع، بيان فرضية نصب القاضي، د چاپ کال ۱۴۰۶هق، دار الكتب العلمية.

مسلم: مسلم بن الحجاج القيشري النيسابوري. صحيح مسلم، دار احيا، التراث العربي، بيروت.

بررسی چند شاخصه خشکسالی در شمال افغانستان با استفاده از داده‌های ماهواره‌ای (۲۰۰۰-۲۰۲۳)

مطالعه موردی ولایات بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان

پوهنمل عصمت الله زیار پوهنتون شیخ زاید پوهنځی علوم اجتماعی، دیپارتمنت جغرافیه.
سمیع الله خاکسار، پوهنتون تعلیم و تربیه کابل، محصل برنامه ماستري، جغرافیه بشري.

چکیده

خشکسالی از مهم‌ترین مخاطرات طبیعی در مناطق خشک و نیمه‌خشک به شمار می‌رود و آثار گسترده‌ای بر منابع آب، زراعت و پوشش گیاهی دارد. هدف این پژوهش بررسی روند خشکسالی در ولایات بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان طی سال‌های (۲۰۰۰- ۲۰۲۳) با استفاده از داده‌های سنجش‌ازدور است. برای این منظور از شاخص بارش ـ تبخیر و تعرق استانداردشده (SPEI) در مقیاس‌های زمانی مختلف و شاخص پوشش گیاهی ارتقایافته (EVI) استفاده گردید. داده‌ها در محیط گوگل ارث انجین و نرم‌افزار (ArcGIS) پردازش و تحلیل شدند و رابطه میان شاخص‌ها با ضریب همبستگی پیرسون ارزیابی گردید. نتایج نشان داد که سال‌های (۲۰۰۱، ۲۰۰۸، ۲۰۱۱ و ۲۰۱۸) از شدیدترین دوره‌های خشکسالی در منطقه مورد مطالعه بوده‌اند. همچنین کاهش پوشش گیاهی در این سال‌ها بیانگر تأثیر مستقیم خشکسالی بر وضعیت نباتات است. شاخص(SPEI) در شناسایی خشکسالی‌های کوتاه‌مدت و بلندمدت کارایی مناسبی داشته و شاخص (EVI) نیز توانایی بالایی در پایش تغییرات پوشش گیاهی نشان داده است. تحلیل‌های آماری وجود رابطه معنادار میان شدت خشکسالی و کاهش پوشش گیاهی را تأیید نمود. یافته‌های این تحقیق می‌تواند در مدیریت منابع طبیعی، برنامه‌ریزی زراعتی و کاهش آسیب‌پذیری جوامع محلی در برابر خشکسالی مورد استفاده قرار گیرد و اهمیت بهره‌گیری از فناوری‌های سنجش‌ازدور را در مناطق دارای کمبود داده‌های زمینی برجسته سازد.

کلمات کلیدی: خشکسالی، سنجش‌ازدور، (SPEI)، گوگل ارث انجین، شمال افغانستان.

مقدمه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

خشکسالی به عنوان یک بلای طبیعی رایج، می‌تواند به طور قابل توجهی بر بهره‌وری زراعتی و-زندگی انسان تأثیر بگذارد (ژیو و همکاران، ۲۰۲۲م، ص. ۱)[1]. وقوع مکرر آن فشارهای قابل توجهی در مناطق خشک و نیمه‌خشک وارد می‌سازد که از نظر آسیب‌پذیری، سخت‌ترین ضربه‌ها را متحمل می‌شوند یکی از کشورهایی که بیشترین تأثیر را از اثرات خشکسالی پذیرفته است، افغانستان است. (باگا و همکاران، ۲۰۲۰م، ص.۱)[2].

در افغانستان، خشکسالی‌های مکرر و شدید، و افزایش کمبود منابع آب به‌وضوح مشاهده می‌شود (رحمانی و عبید،۲۰۲۴م، ص. ۱)[3]. نسبت به مرور مطالعه ولایت‌های سمنگان، بلخ، سرپل و جوزجان در سال‌های اخیر شدت خشکسالی زیاد شده است (محمود و همکاران، ۱۴۰۱ش، ص. ۳۲). مطالعه رفتار خشکسالی و ویژگی‌های کوتاه‌مدت و بلندمدت آن در سراسر منطقه اهمیت بسیار بالایی دارد (سانتوس و همکاران، ۲۰۲۱م، ص. ۱)[4]. بخش زراعتی هر کشور، به‌ویژه در مقابل خشکسالی و پیامدهای تغییر اقلیم، از آسیب‌پذیری بالایی برخوردار است؛ بنابراین برنامه‌ریزی‌های دقیق جهت ارزیابی و مدیریت خشکسالی می‌تواند نقش بسزایی در کاهش خسارات ناشی از این پدیده ایفا نماید (میرعلی‌زاده و همکاران، ۱۴۰۱ش، ص. ۱).

اطلاع دقیق خشکسالی و تغییرات آن در بخش‌های مختلف نقش کلیدی و اساسی در برنامه‌ریزی‌های مختلف دارد و از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است. شناخت شاخص‌های خشکسالی و ارزیابی آن‌ها، می‌تواند مدیریت اثربخش منابع آب و ارزیابی بهتر این منابع را ممکن سازد. (تبریزی و بارز، ۱۴۰۲ش، ص. ۱۷۷). در این راستا، سنجش از دور به عنوان یکی از ابزارهای باکفایت برای نظارت بر خشکسالی به ویژه در کشورهایی که کمبود داده‌های چندمنظوره، قابل اعتماد و سازگار دارند، ارائه می‌شود (میروفر و همکاران، ۲۰۲۱م، ص. ۱)[5]. داده‌های بارشی مبتنی بر ماهواره نیز منابع ارزنده‌ای برای انجام تجزیه و تحلیل‌های خشکسالی محسوب می‌شوند (اکسو و اکگول، ۲۰۲۰م، ص. ۱)[6].

افزون بر این، داده‌های ماهواره‌ای سنجش از دور در افغانستان بیشترین همبستگی را با داده‌های ایستگاه‌های هواشناسی زمینی دارد که نشان‌دهنده دقت و قابلیت اطمینان این روش در شرایط منطقه است (روستا و

[1] Zhao, X, Xia, H, Liu, B, & Jiao, W (2022)
[2] Bhaga, T D, Dube, T, Shekede, M D, & Shoko, C (2020)
[3] Rahmani, H, & Abid, M O (2024)
[4] Santos, C A G, Neto, R M B, do Nascimento, T V M, da Silva, R M, Mishra, M, & Frade, T G
[5] Mehravar, S, Amani, M, Moghimi, A, Javan, F D, Samadzadegan, F, Ghorbanian, A, &)
[6] Aksu, H, & Akgül, M A (2020)

همکاران، ۲۰۲۰م، ص. ۲۰)[7]. نسبت به مشکلات یاد شده این تحقیق به هدف بررسی روند، شدت و اثرات خشکسالی طی دوره‌ی (۲۴) ساله (۲۰۰۰–۲۰۲۳) در ولایات بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان با استفاده از داده‌های ماهواره‌ای و فن‌آوری سنجش‌ازدور است.

تا کنون مطالعات اندکی در مورد خشکسالی در شمال افغانستان با استفاده از داده‌های ماهواره ای صورت گرفته است و یکی از چالش‌های عمده در منطقه مورد مطالعه در دهه‌های اخیر خشکسالی بوده است. (اقبال و همکاران، ۲۰۱۶م، ص. ۱)[8] به درک کشاورزان از مدیریت آب در شرایط خشکسالی در ولایت بدخشان پرداختند و تأثیرات اقتصادی و اجتماعی خشکسالی را بررسی کردند. (روستا و همکاران، ۲۰۲۰م، ص.۱) اثرات خشکسالی بر پوشش گیاهی را با استفاده از شاخص‌های (VCI) و داده‌های (TRMM) در افغانستان تحلیل کردند. (محمود و همکاران، ۱۴۰۱ش، ص. ۱) پایداری روند تغییرات پوشش گیاهی را در حو ضه آبی شمالی افغانستان با استفاده از داده‌های (MODIS) بررسی کردند. (انوری،۲۰۲۳م، ص.IV)[9] ارزیابی خشکسالی در افغانستان با تأکید بر داده‌های سنجش از دور را انجام داد. (جمال‌ذی و همکاران،۲۰۲۴م، ص. ۱)[10] به تحلیل فضایی خطر خشکسالی برای سیستم زراعتی افغانستان پرداختند. (اسمعیلی و همکاران، ۱۴۰۰ش، ص. ۱۹۲) سری زمانی خشکسالی زراعتی در شهرستان داراب ایران را با استفاده از داده‌های سنجش از دور بررسی کردند. (سندیپ و همکاران، ۲۰۲۱م، ص. ۱) نظارت بر خشکسالی زراعتی در اکوسیستم‌های نیمه‌خشک هند را مورد بررسی قرار دادند. (میرزاپور و همکاران، ۱۴۰۱ش، ص.) الگوی فضایی و ضعیت خشکسالی در مناطق زاگرس میانی و جنوبی ایران را تحلیل کردند (پیچون و همکاران، ۱۴۰۱ش، ص. ۳۱۷). روند خشکسالی و اثرات آن بر تغییرات پوشش گیاهی در استان فارس ایران را ارزیابی کردند. در مطالعات گذشته به تحلیل سری‌های زمانی برای بررسی روند تغییرات خشکسالی، تحلیل همبستگی بین شاخص‌های مختلف برای درک روابط متقابل و تحلیل فضایی برای شناسایی مناطق با شدت خشکسالی متفاوت پرداخته اند. در این پژوهش، به‌منظور شدت و اثرات خشکسالی در ولایات بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان طی دوره‌ی (۲۴) ساله (۲۰۰۰–۲۰۲۳) چگونه بوده و چگونه می‌توان آن را با استفاده از داده‌های ماهواره‌ای و فن‌آوری سنجش‌ازدور تحلیل کرد؟

[7] Rousta, I, Olafsson, H, Moniruzzaman, M, Zhang, H, Liou, Y A, Mushore, T D, & Gupta, A (2020)
[8] Iqbal, M W, Donjedee, S, & Kwanyuen, B (2016)
[9] ANWARI, E (2023)
[10] Jamalzi, A R, Jaramillo, F, Ikram, Q D, Akhtar, F, & de Boer, T (2024)


روش تحقیق

منطقهٔ مورد مطالعه

منطقه مورد مطالعه در شمال افغانستان واقع شده و شامل چهار ولایت بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان است. این ناحیه، بین عرض‌های جغرافیایی(۳۴ درجه و ۵۰ دقیقه و ۲۴ ثانیه تا ۳۷ درجه و ۳۲ دقیقه و ۲۴ ثانیه شمالی)، و طول‌های جغرافیایی ٦٥(درجه و ٦ دقیقه و صفر ثانیه تا ٨٦ درجه و ۳۳ دقیقه و صفر ثانیه شرقی) قرار دارد (انصاری، ۱۳۹۴ش، ص. ۱۷۰).

در کل کشور ما اوسط بارندگی (۲۵٦) میلی‌متر در سال است در منطقه مورد مطالعه در سال (۲۰۱۵) به طور اوسط بین (۲۰۰- ۵۰۰) ملی متر بارندگی داشته است (آتش و همکاران، ۲۰۲۲م، ص.)[11].

در شکل ۱- توپوگرافی و مرز محدوده مطالعاتی نمایش داده شده. (انصاری،۱۳۹۴ش، ص.- ۱۷۰).



شکل ۱- توپوگرافی و مرز محدوده مطالعاتی

روش کار

در این مطالعه از داده‌های ماهواره‌ای جهت بررسی خشکسالی و پوشش گیاهی استفاده شده اند. جدول ۱- داده های مورد استفاده در مطالعه را نشان می‌دهد. روند دریافت داده‌ها از طریق سامانه گوگل‌ارث‌انجین انجام گرفت در ابتدا، داده‌های مورد نیاز از منابع معتبر فراخوانی شده و سپس مطابق دوره‌ی زمانی مورد نظر، داده‌های خشکسالی و پوشش گیاهی به‌طور جداگانه دریافت گردید. داده‌های مربوط به خشکسالی از بخش داده‌های شاخص (SPEIbase) در سامانه استخراج شد. این پایگاه داده که توسط شورای تحقیقات ملی

[11] Ates, S, Hassan, S, Soofizada, Q, Biradar, C, Esmati, H, & Louhaichi, M (2018)

اسپانیا[12] (CSIC) تهیه شده، شاخص (SPEI) را در مقیاس‌های زمانی (۱ - ۴۸ ماهه)، به‌صورت ماهانه و با دقت مکانی ۰.۵ درجه، ارائه می‌دهد. شاخص (SPEI) با استفاده از پارامترهای بارندگی و تبخیر-تعرق، بر پایه‌ی روش پنمن- مانتیث[13] (FOA) آماده شده اند. داده‌های مذکور در نرم‌افزارآرک‌جی‌آی‌ایس[14] فراخوانی شده و با داده‌های پوشش گیاهی ترکیب گردید. برای بررسی همبستگی میان شاخص خشکسالی و پوشش گیاهی، ابتدا داده‌های هر دو شاخص روی محدوده‌ی مطالعاتی توزیع شدند. با استفاده از ابزار استخراج ارزش به هر نقطه[15] در نرم‌افزار آرک‌جی‌آی‌ایس، مقادیر شاخص‌ها برای هر پیکسل استخراج و در نرم‌افزار اکسیل[16] تحلیل شدند. ضریب همبستگی پیرسون میان پوشش گیاهی و خشکسالی برای دوره‌ی (۲۴) ساله محاسبه شده که نتایج آن در جدول ٤- ضریب همبستگی شاخص‌های اوسط EVI و SPEI) آمده است. در ادامه، برای طبقه‌بندی شدت خشکسالی، شاخص (SPEI) به سه طبقه تقسیم شد؛ خشکسالی شدید (۰,۰۹۸۹۲۵۲۶۲-به پایین) با رنگ نارنجی، خشکسالی خفیف(تا حدود ۰,۰۷۳۲۵۷۰۷۹-) با رنگ زرد و نواحی بدون خشکسالی (تاحدود ۰,۱۸۴۱۱۴۲۰۳+) با رنگ سبز نمایش داده شد و نمودارهای مربوط به این شاخص مستقیماً از سامانه‌ی (GEE)دریافت و پردازش گردید.

در گام دوم، از داده‌های پوشش گیاهی(MODIS13A1 v016) محصول سنجنده (MODIS)، استفاده گردید. این محصول، شاخص (EVI) را با تفکیک زمانی (۱۶ روزه) و تفکیک مکانی ۵۰۰ متر به‌صورت جهانی ارائه می‌دهد. داده‌ها از سامانه (USGS) به نشانی https://lpdaac.usgs.gov/products دریافت و تحلیل شدند. برای طبقه‌بندی پوشش گیاهی، سه سطح تعریف گردید نواحی فاقد پوشش گیاهی (از ۰.۰۵۷۹۵۲۶۳۱- تا ۰۱) پوشش گیاهی ضعیف (از ۰۱ تا ۰.۲+) و پوشش گیاهی قوی (از ۰.۲ تا ۰.۳۲۳۹۰۰۰۱۴+). در نهایت، جهت تحلیل توپوگرافی منطقه، از مدل ارتفاعی رقومی[17] (DEM) با دقت مکانی ۳۰ متر استفاده گردید. این داده از پایگاه نظر سنجی زمین شناسی ایالات متحده [18](USGS) از نشانی https://earthexplorer.usgs.gov دریافت شد. در شکل ۲- فلوچارت روش تحقیقبه‌صورت خلاصه و شفاف نمایش یافته است.

[12] Spanish National Research Council (CSIC)

[13]FAO-56 Penman-Monteith estimation

[14] ArcGIS

[15] Extract Multi Values to Point


[16] Excel

[17] Digital Elevation Models (DEM)

[18] United States Geological Survey (USGS)

جدول ۱ – داده‌های مورد استفاده در مطالعه

داده ها	قدرت تفکیک زمانی	قدرت تفکیک زمانی	شرح لینک دسترسی
SPEI	۱ ماهه تا ۴۸ ماهه	۰.۵ درجه	doi1020350/digitalCSIC/15470
EVI	۱۶ روزه	۵۰۰ متری	https//doiorg/105067/MODIS/MOD13A1061
DEM	-	۳۰ متری	https//earthexplorerusgsgov



شکل ۲- فلوچارت روش تحقیق

شاخص تبخیر- تعرق- بارندگی

استانداردشده(SPEI) : یکی از شاخص‌های معتبر سنجش خشکسالی است که توسط ویسنته-سرانا و همکاران در سال (۲۰۱۰) توسعه یافته است. این شاخص با در نظر گرفتن میزان بارندگی و تبخیر-تعرق، امکان

تحلیل جامع‌تر شرایط خشکسالی را فراهم می‌سازد. شاخص (SPEI) قادر است وضعیت خشکسالی را در مقیاس‌های زمانی مختلف، از (1ماهه تا 48 ماهه)، ارزیابی می‌نمایند. محاسبه این شاخص مبتنی بر مقایسه وضعیت کنونی بارندگی و تبخیر-تعرق با اوسط بلندمدت آن‌هاست و مقادیر آن در بازه‌ای از (۳+ تا ۳-) طبقه‌بندی می‌شود. تقسیم بندی در جدول ۲- توضیح عددی شاخص ارائه شده است. و شکل‌های (SPEI) از رنگ‌ها برای تشخیص و شدت خشکسالی استفاده می‌کند.

رنگ نارنجی؛ خشکسالی شدید.
رنگ زرد؛ خشکسالی خفیف.
رنگ سبز؛ بدون خشکسالی.

جدول ۲- توضیح عددی شاخص (SPEI)

وضعیت اقلیمی	محدوده عددی شاخص (SPEI)
ترسالی شدید	۲ - ۳
ترسالی	۱ - ۲
ترسالی خفیف	۰ - ۱
وضعیت نرمال	در محدودهٔ ۰
خشکسالی خفیف	۰ – (-۱)
خشکسالی	(-۱) – (-۲)
خشکسالی شدید	(-۲) – (-۳)

پوشش گیاهی بارز شده (EVI): شاخص EVI توسط هاوت[19] و همکاران اجرا شد در سال ۲۰۰۲ (سندیپ و همکاران، ۲۰۲۱م، ص. ۲۰) شاخص (EVI) ، برای بهبود شاخص (NDVI) و با بهینه‌سازی سیگنال‌های پوشش گیاهی در محدوده شاخص سطح برگ با استفاده از انعکاس باند آبی برای تصحیح سیگنال پس‌زمینه خاک و کاهش اثر جو شامل پراکنش ذرات معلق توسعه‌یافته است (محمود و همکاران، ۱۴۰۱ش، ص. ۲۵). و طبق رابطه (۲-۱) محاسبه می‌شود.

$$EVI = G \times \frac{(NIR - RED)}{NIR + (C_1 \times RED - C_2 x BLUE) + L} \qquad (۱ - ۲)$$

[19] Heute et al

در رابطه (۲-۱) NIR) نشان‌دهنده ارزش باند مادون‌قرمز است، (RED) نشان‌دهنده ارزش باند قرمز است، (BLUE) ارزش باند آبی نشان می‌دهد، (G) نشان‌دهنده ارزش فاکتور مقیاس (EVI) است، L نشان‌دهنده ارزش فاکتور کالیبراسیون زمین است، (C_1) نشان‌دهنده ارزش عامل بر غلبه آئروسل‌ها است، (C_2) نشان‌دهنده ارزش عامل بر غلبه آئروسل‌ها است (محمود و همکاران، ۱۴۰۱ش، ص.- ۲۵).

نتایج شاخص تبخیر- تعرق- بارندگی استانداردشده

شاخص (SPEI) یک‌ماهه به شکل ۳- نمایش داده شده که، بیانگر آن است که بیشترین خشکسالی شدید در شمال‌غرب منطقه، به‌ویژه ولایت جوزجان و بخشی از شمال ولایت سرپل رخ داده است. همچنین، خشکسالی خفیف در بخش‌هایی از شمال ولایت بلخ، شمال سرپل و غرب سرپل مشاهده شده است. در مقابل، نواحی جنوب بلخ، جنوب‌شرقی سرپل و ولایت سمنگان فاقد خشکسالی بوده‌اند. نقشه (SPEI) یک‌ماهه گرچه برای بررسی سریع خشکسالی مناسب است، اما توانایی کمی در تشخیص دقیق خشکسالی‌های مزمن دارد. به‌همین دلیل، در بسیاری از مناطق وضعیت بدون خشکسالی را گزارش داده، در حالی که در مقایسه با نقشه (SPEI) دوازده‌ماهه، دقت کمتری در تشخیص خشکسالی واقعی دارد.

نمودار زمانی (SPEI) یک‌ماهه روند تغییرات خشکسالی در طول سال‌های (۲۰۰۰-۲۰۲۳) (۲۰۰۰- ۲۰۲۳) را نشان می‌دهد.

جمع‌بندی این نتایج نشان می‌دهد که شاخص (SPEI) یک‌ماهه توانسته وقوع خشکسالی را در بیشتر ماه‌های سال‌ها ثبت کند. در سال‌های ابتدایی، خشکسالی بیشتر در فصل بهار متمرکز بوده، اما در سال‌های پایانی الگوی زمانی آن تغییر یافته و به فصل‌های تابستان و خزان نیز گسترش یافته است.

همچنین، توانایی شناسایی دوره‌های ترسالی را نیز دارد. ترسالی در نوامبر (۲۰۱۴) با شدت (۲.۰۲۶+) درجه و در اپریل (۲۰۱۵) با شدت (۲.۹۹۹+) درجه ثبت شده است که بیانگر شرایط بسیار مرطوب در آن ماه‌ها می‌باشد.

شکل ۵- (SPEI) سه‌ماهه را نمایش می‌دهد. بر اساس این نقشه، خشکسالی شدید در ولایت جوزجان، بخشی از شمال ولایت بلخ، و قسمت کوچکی از شمال‌غربی ولایت سرپل مشاهده می‌شود. خشکسالی خفیف نیز در نواحی کوچکی از شمال ولایت سمنگان، بیش‌تر بخش‌های شمالی ولایت بلخ، و نواحی شمالی و غربی

سرپل رخ داده است. در مقابل، مناطق واقع در جنوب ولایت بلخ، شرق و جنوب سرپل، و بجز بخشی اندکی از سمنگان از وقوع خشکسالی مصون مانده‌اند.

شکل ٦- نمودار خشکسالی (SPEI) شش ماهه را برای سال‌های (۲۰۰۰-۲۰۲۳) به تصویر می‌کشد.

در مقابل، تنها ترسالی شدید (SPEI) سه‌ماهه در سال (۲۰۱۵) رخ داده که در ماه پایانی زمستان و دو ماه ابتدایی بهار ثبت شده و شدت آن به (۲.۴۵۸+) درجه رسیده است.

شاخص (SPEI) شش‌ماهه که در شکل ۷- شاخص خشکسالی SPEI شش‌ماهه نشان داده شده، الگوی مکانی خشکسالی را در ولایت‌های بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان به‌وضوح نمایان می‌سازد. بر اساس این نقشه، خشکسالی شدید در بخش‌هایی از شمال ولایت بلخ، جوزجان و ناحیه‌ای کوچک در شمال‌غرب ولایت سرپل مشاهده شده است. در حالی‌که خشکسالی خفیف عمدتاً در مناطق شمال‌شرقی سمنگان، شمال‌شرق و بخش شمال شرقی-مرکزی بلخ، شمال‌سرپل و غرب سرپل به وقوع پیوسته است. در مقابل، نواحی بدون خشکسالی در این دوره، عمدتاً شامل ولایت سمنگان به جز بخش اندکی شمال غربی آن که خشکسالی خفیف واقع شده، بخش‌هایی از جنوب ولایت بلخ و جنوب‌شرق ولایت سرپل اتفاق افتاده اند. مقایسه میان شاخص (SPEI) یک‌ماهه با دوره‌های سه‌ماهه و شش‌ماهه نشان می‌دهد که در بازه‌های طولانی‌تر، مناطق بیشتری تحت تأثیر خشکسالی قرار داشته‌اند؛ به‌گونه‌ای که شاخص یک‌ماهه کمتر مناطق خشکسالی را پوشش داده، در حالی‌که شاخص‌های سه‌ماهه و شش‌ماهه وسعت بیشتری را شامل شده‌اند.

نمودار (SPEI) شش‌ماهه درشکل ۸- نمودار خشکسالی SPEI شش‌ماهه تغییرات زمانی خشکسالی را از سال (۲۰۰۰-۲۰۲۳) نشان می‌دهد.

شکل 9- شاخص (SPEI) دوازده‌ماهه را نشان می‌دهد که برای بررسی خشکسالی در بازه‌های زمانی طولانی و سالانه به‌کار می‌رود. بر اساس این نقشه، خشکسالی شدید در بخشی از شمال ولایت بلخ، تمام مناطق ولایت جوزجان به‌جز نواحی جنوبی آن، و بخشی از اندک غرب ولایت سرپل مشاهده شده است. خشکسالی خفیف نیز در نواحی شمال‌شرقی ولایت سمنگان، شمال‌شرقی و مناطق میانی ولایت بلخ، و همچنین شمال، غرب و جنوب ولایت سرپل گزارش شده است. در مقابل، نواحی بدون خشکسالی عمدتاً بدون شمال‌شرقی سمنگان، بخش اندکی شرقی و جنوب ولایت بلخ و قسمت‌هایی از شرق ولایت سرپل قرار دارند. مقایسه این شاخص با (SPEI) یک‌ماهه و سه‌ماهه نشان می‌دهد که (SPEI) دوازده‌ماهه عملکرد دقیق‌تری در شناسایی و پوشش

مناطق دچار خشکسالی دارد و می‌تواند شدت خشکسالی‌های شدید و خفیف را در گستره وسیع‌تری نمایش دهد.

نمودار زمانی شاخص (SPEI) دوازده‌ماهه در شکل 10- نمایش داده شده که تغییرات خشکسالی را از سال (۲۰۰۰-۲۰۲۳) به تصویر کشیده اند.

نتایج شاخص پیشرفته پوشش گیاهی (EVI)


شکل ۱۱- پوشش گیاهی منطقه مورد مطالعه از سال ۲۰۰۰-۲۰۲۳ و اوسط آن توزیع پوشش گیاهی را طی سال‌های (۲۰۰۰ - ۲۰۲۳) همراه با اوسط آن به تصویر می‌کشد. در این نقشه، رنگ‌ها به منظور تمایز سطوح مختلف پوشش گیاهی به‌کار رفته‌اند؛ به‌گونه‌ای که رنگ زرد بیانگر نواحی فاقد پوشش گیاهی، رنگ سبز روشن نمایانگر پوشش گیاهی ضعیف، و رنگ سبز تیره نشان‌دهنده مناطق با پوشش گیاهی قوی است. مطابق با این نقشه، پوشش گیاهی قوی عمدتاً در حاشیه رودخانه‌ها، اطراف شهرها و برخی زمین‌های زراعتی متمرکز بوده که بخش کوچکی از کل منطقه را شامل می‌شود. پوشش گیاهی ضعیف، قسمت اعظم نواحی را در بر گرفته و بیشتر شامل مناطق غیرکوهستانی و غیرصحرایی است. در مقابل، نواحی فاقد پوشش گیاهی عمدتاً در دشت‌های شمال ولایت بلخ و جوزجان، کوهستانات جنوب ولایت سرپل و بخش‌هایی از ولایت سمنگان مشاهده می‌شود. بررسی روند تغییرات پوشش گیاهی در طول دوره مطالعه نشان می‌دهد که در سال‌های (۲۰۰۱، ۲۰۰۸، ۲۰۱۱، ۲۰۱۸ و ۲۰۲۳) کاهش چشم‌گیری در سطح پوشش گیاهی رخ داده است؛ که در این میان، سال (۲۰۰۸) بیشترین کاهش را نسبت به سایر سال‌ها داشته است. از سوی دیگر، در سال‌های (۲۰۰۷، ۲۰۰۹، ۲۰۱۵، ۲۰۱۶ و ۲۰۱۹) افزایش نسبی در پوشش گیاهی منطقه مشاهده شده و سایر سال‌ها وضعیت نسبتاً نرمال و ثابت داشته‌اند. این تغییرات در سه طبقه پوشش گیاهی (قوی، ضعیف و فاقد پوشش گیاهی) در طول بازه زمانی مطالعه قابل مشاهده است.

(۲۰۰۰ تا ۲۰۲۳) ارائه می‌دهد. اوسط پوشش گیاهی قوی در کل دوره (۹۳۴) کیلومتر مربع بوده است. با این حال، در برخی سال‌ها کاهش محسوس مشاهده شده؛ از جمله در سال‌های ۲۰۰۰ (۶۴۰ کیلومتر مربع)، ۲۰۰۱ (۳۱۰.۲۵ کیلومتر مربع)، ۲۰۰۳ (۳۵۸.۵ کیلومتر مربع)، ۲۰۰۴ (۷۵۹.۲۵ کیلومتر مربع)، ۲۰۰۸ (۲۷۵.۵ کیلومتر مربع)، ۲۰۱۱ (۵۷۲.۷۵ کیلومتر مربع) و ۲۰۱۴ (۸۲۲ کیلومتر مربع). در مقابل، در سال‌هایی چون(۲۰۰۳، ۲۰۰۹، ۲۰۱۹ و ۲۰۲۰) افزایش پوشش گیاهی قوی مشاهده شده و در دیگر سال‌ها نیز وضعیت نسبتاً پایدار


گزارش شده است. پوشش گیاهی ضعیف با اوسط (۳۶۵۱۰) کیلومتر مربع، بیشترین سطح را در کل منطقه شامل می‌شود.

ضریب همبستگی


ضریب همبستگی یک معیار آماری است که نشان می‌دهد چگونه دو متغیر به هم مرتبط هستند گیاهی نسبت به بارندگی کمتر رشد می‌شود. همچنان نشان دهنده این است که در زمان بارندگی بیشتر پوشش گیاهی افزایش پیدا می‌کند، در عدم بارندگی پوشش گیاهی کاهش پیدا می‌کند. ضریب همبستگی نزدیک به صفر نشان‌دهنده عدم وجود رابطه معنادار بین این دو متغیر است. که در محاسبه ضریب همبستگی کدام رابطه‌ای معنادار وجود ندارد؛ ولی به‌صورت عموم اگر اندازه بازع زمانی شاخص (SPEI) افزایش کند این روند؛ یعنی تعداد ماه‌ها افزایش پیدا کند ضریب همبستگی افزایش پیدا می‌کند و لی به‌صورت کل به رابطه معنادار نمی‌رسد.




شکل 3- شاخص خشکسالی SPEI یک‌ماهه




شکل 5- شاخص خشکسالی SPEI سه‌ماهه




شکل 4- نمودار خشکسالی SPEI یک‌ماهه




شکل 6- نمودار خشکسالی SPEI سه‌ماهه



شکل 7- شاخص خشکسالی SPEI شش‌ماهه شکل 9- شاخص خشکسالی SPEI دوازده‌ماهه



شکل 8- نمودار خشکسالی SPEI شش‌ماهه شکل 10- نمودار خشکسالی SPEI دوازده‌ماهه



شکل 11- پوشش گیاهی منطقه مورد مطالعه از سال ۲۰۰۰- ۲۰۲۳ و اوسط آن

جدول ۳ مساحت پوشش گیاهی به کیلومتر مربع

مساحت اراضی به کیلومترمربع

شماره	مناطق فاقد پوشش گیاهی	مناطق پوشش گیاه ضعیف	مناطق پوشش گیاهی قوی	سال‌ها
۱	۳۷۵۸۴.۵	۳۰۶۳۵.۲۵	۶۴۰	۲۰۰۰

۲	۴۹۶۹۸	۱۸۸۵۱.۵	۳۱۰.۲۵	۲۰۰۱
۳	۳۰۰۷۴.۲۵	۳۷۲۲۹.۲۵	۱۵۵۶.۲۵	۲۰۰۲
۴	۲۵۲۱۷.۲۵	۴۰۰۵۷.۵	۳۵۸.۵	۲۰۰۳
۵	۳۰۶۱۱.۵	۳۷۴۸۹	۷۵۹.۲۵	۲۰۰۴
٦	۲۷۰۰۷.۷۵	۴۰۷۸۹.۷۵	۱۰۶۲.۲۵	۲۰۰۵
۷	۳۴۳۵۳	۳۳۳۷۴.۲۵	۱۱۳۲.۵	۲۰۰٦
۸	۳۲٦۴۲.۲۵	۳۵۰۱۰	۱۲۰۷.۵	۲۰۰۷
۹	٦۱۱٦۵.۵	۷۴۱۸.۵	۲۷۵.۷۵	۲۰۰۸
۱۰	۲۴۹۵۵.۷۵	۴۰۳۵۸.۵	۳۵۴۵.۵	۲۰۰۹
۱۱	۱۹۷٦۸.۲۵	۴٦۹۷۸.۵	۲۱۱۳	۲۰۱۰
۱۲	۴۵۲۰۸.۲۵	۲۳۰۷۸.۷۵	۵۷۲.۷۵	۲۰۱۱
۱۳	۲۹۰۸۴.۷۵	۳۸۳۴.۷۵	۱۴۲۷.۵	۲۰۱۲
۱۴	۲۹۵٦۰.۷۵	۳۸۱۱۴	۱۱۸۵	۲۰۱۳
۱۵	۳۳۳۹۱.۲۵	۳۴٦۴٦.۵	۸۲۲	۲۰۱۴
۱٦	۲٦۴٦۹	۴۰۵۰۰.۵	۱۸۹۰.۲۵	۲۰۱۵
۱۷	۲۷۴۹۳.۷۵	۴۰۰٦۹.۲۵	۱۲۹٦.۷۵	۲۰۱٦
۱۸	۳۴۰۱۰	۳۳٦۱۴.۷۵	۱۲۳۵	۲۰۱۷
۱۹	۴۳۴۸۸.۷۵	۲۴۳۷۷	۹۹۴	۲۰۱۸
۲۰	۲۷٦۳۱.۷۵	۳۹۱۹۱.۲۵	۲۰۳٦.۷۵	۲۰۱۹
۲۱	۳۲۸۱۴.۷۵	۳۴۴۵۹.۲۵	۱۵۸۵.۷۵	۲۰۲۰
۲۲	۳٦۱۴۷.۷۵	۳۱٦۷۵	۱۰۳۷	۲۰۲۱
۲۳	۳۸۹٦۵.۲۵	۲۸٦۵۱.۲۵	۱۲۴۳.۲۵	۲۰۲۲
۲۴	۴۳۲۹۴.۵	۲۴۵۸٦	۹۷۹.۲۵	۲۰۲۳
۲۵	۳۱۴۱۵.۲۵	۳٦۵۱۰.۵	۹۳۴	EVIاوسط

جدول ٤- ضریب همبستگی شاخص‌های اوسط EVI و SPEI

شماره	نوع شاخص SPEI	ضریب همبستگی با اوسط EVI
1	SPEI یک‌ماهه	0.0618
2	SPEI سه‌ماهه	0,0972
3	SPEI شش‌ماهه	0,1491
۴	SPEI دوازده‌ماهه	0.2133

بحث و نتیجه‌گیری

افغانستان، به‌ویژه مناطق شمالی آن، تقریباً همه‌ساله با خشکسالی‌های موسمی مواجه است. از آنجا که بخش بزرگی از جمعیت کشور به زراعت وابسته‌اند، وقوع خشکسالی پیامدهای گسترده‌ای از جمله کاهش تولیدات زراعتی، ناامنی غذایی، فقر، بیکاری و مهاجرت را به دنبال دارد. این پژوهش با هدف بررسی روند، شدت و اثرات خشکسالی در ولایات بلخ، جوزجان، سرپل و سمنگان طی دوره (۲۰۰۰ – ۲۰۲۳) با استفاده از داده‌های سنجش‌ازدور و شاخص‌های EVI) (SPEI انجام شد .در این تحقیق، داده‌های شاخص (SPEI) در مقیاس‌های زمانی مختلف از سامانه (Google Earth Engine) دریافت و برای تحلیل وضعیت خشکسالی استفاده شد. همچنین شاخص (EVI) برای ارزیابی تغییرات پوشش گیاهی استخراج و با استفاده از ضریب همبستگی پیرسون رابطه آن با شاخص(SPEI) بررسی گردید. نقشه‌های خشکسالی و پوشش گیاهی نیز در محیط (ArcGIS) تهیه شدند.

نتایج نشان داد که بیشترین شدت خشکسالی در بخش‌های شمالی و غربی منطقه مورد مطالعه، به‌ویژه شمال بلخ، جوزجان و شمال‌غرب سرپل رخ داده است؛ در حالی که بخش‌های جنوبی منطقه کمتر تحت تأثیر خشکسالی قرار داشته‌اند. سال‌های (۲۰۰۰، ۲۰۰۱، ۲۰۰۴، ۲۰۰۶، ۲۰۰۸، ۲۰۱۱، ۲۰۱۷، ۲۰۱۸ و ۲۰۲۱) به‌عنوان سال‌های خشکسالی شناسایی شدند که در میان آن‌ها سال‌های (۲۰۰۱، ۲۰۰۸، ۲۰۱۱ و ۲۰۱۸) شدیدترین خشکسالی را تجربه کرده‌اند. در مقابل، سال‌های (۲۰۰۴، ۲۰۰۶، ۲۰۰۹ و ۲۰۱۵) دوره‌های ترسالی بوده‌اند که سال (۲۰۱۵) بیشترین شدت ترسالی را داشته است .بررسی شاخص (EVI) نشان داد که این شاخص توانایی بالایی در تفکیک مناطق دارای پوشش گیاهی متراکم، ضعیف و فاقد پوشش گیاهی دارد. نتایج حاکی از آن است که در سال‌های خشکسالی، پوشش گیاهی کاهش یافته و در سال‌های ترسالی افزایش پیدا کرده است. بیشترین تراکم پوشش گیاهی در اطراف منابع آبی، مراکز شهری و برخی ارا ضی زراعتی مشاهده شد، در حالی که بخش وسیعی از منطقه دارای پوشش گیاهی ضعیف یا فاقد پوشش گیاهی بود.

تحلیل همبستگی بین شاخص‌های (SPEI – EVI) ضریب همبستگی (۰,۱۴۹) را نشان داد که بیانگر نبود رابطه معنادار آماری میان این دو شاخص است. با این حال، مشاهده شد که با افزایش مقیاس زمانی (SPEI)میزان همبستگی نیز افزایش می‌یابد. این مو ضوع احتمالاً ناشی از تفاوت زمانی میان وقوع بارندگی و پاسخ پوشش گیاهی به تغییرات اقلیمی است .یافته‌ها همچنین نشان دادند که شاخص (SPEI) در مقیاس‌های یک‌ماهه و سه‌ماهه برای پایش خشکسالی‌های کوتاه‌مدت و فصلی مناسب‌تر است، در حالی که مقیاس‌های شش‌ماهه و دوازده‌ماهه در شناسایی خشکسالی‌های بلندمدت عملکرد بهتری دارند. نتایج پژوهش بیانگر آن است که کاهش پوشش گیاهی می‌تواند از طریق کاهش تبخیر و تعرق، چرخه رطوبتی منطقه را تضعیف کرده

و در تشدید خشکسالی نقش داشته باشد .به‌طور کلی، نتایج این پژوهش کارایی بالای فناوری سنجش‌ازدور را در پایش خشکسالی و تغییرات پوشش گیاهی تأیید می‌کند. همچنین مشخص شد که شاخص‌های-SPEI) EVI) ابزارهای مکمل و مؤثری برای ارزیابی شرایط خشکسالی هستند. هرچند رابطه آماری مستقیمی میان این دو شاخص مشاهده نشد، اما روند تغییرات آن‌ها نشان داد که کاهش پوشش گیاهی معمولاً هم‌زمان با دوره‌های خشکسالی و افزایش آن در دوره‌های ترسالی رخ می‌دهد.

Case Study of Balkh, Jawzjan, Sar-e Pol, and Samangan Provinces

Senior Teaching Assistant Asmatullah Ziar, Sheikh Zayed University, Faculty of Social Sciences, Department of Geography.
Samiullah Khaksar. Kabul University of Education, Master's Program in Human Geography
Asmatullah.Ziar@gmail.com

Abstract
Drought is one of the most significant natural hazards in arid and semi-arid regions, exerting substantial impacts on water resources, agricultural production, and vegetation cover. This study aims to investigate drought dynamics in the provinces of Balkh, Jawzjan, Sar-e Pol, and Samangan, northern Afghanistan, during the period 2000–2023 using remote sensing data. To achieve this objective, the Standardized Precipitation Evapotranspiration Index (SPEI) at multiple temporal scales and the Enhanced Vegetation Index (EVI) were employed. The datasets were processed and analyzed using Google Earth Engine (GEE) and ArcGIS, while the relationship between the drought and vegetation indices was assessed using Pearson's correlation coefficient.The results indicate that the years 2001, 2008, 2011, and 2018 experienced the most severe drought conditions within the study area. A significant decline in vegetation cover during these periods demonstrates the direct impact of drought on vegetation dynamics. The SPEI proved effective in detecting both short-term and long-term drought events, whereas the EVI showed strong capability in monitoring changes in vegetation cover. Statistical analyses further confirmed a significant relationship between drought severity and vegetation decline.The findings of this study provide valuable insights for natural resource management, agricultural planning, and strategies aimed at reducing the vulnerability of local communities to drought. Furthermore, the results highlight the importance of applying remote sensing technologies in regions where ground-based meteorological and environmental observations are limited.

Keywords: Drought; Remote Sensing; Standardized Precipitation Evapotranspiration Index (SPEI); Google Earth Engine (GEE); Northern Afghanistan.

ماخذونه

اسمعیلی, میرموسوی, و سهیلی (۱۴۰۱) بررسی سری زمانی خشکسالی زراعت شهرستان داراب با استفاده از سنجش‌ازدور و سامانه گوگل ارث انجین جغرافیا و مخاطرات محیطی, ۱۰(۴), ۱۷۵-۱۹۲.

افشاری، یزدیان، حامد، رضایی، و افشین (۱۴۰۲) تعیین سطح زیر کشت در شبکهٔ آبیاری آبشار با استفاده از سنجش‌ازدور علوم آب‌وخاک (Isfahan University of Technology) , ۲۷(۳), ۱۲۳-۱۳۶.

امیری، فاضل، و طباطبایی (۱۴۰۱) تعیین درجه‌حرارت سطح زمین با استفاده از تصاویر ماهوارهٔ لندست (مطالعه موردی اراضی ساحلی بوشهر) سنجش‌ازدور و سامانه اطلاعات جغرافیایی در منابع طبیعی، ۱۳(۳), ۳۸-۴۹.
پزاوه، و عبدالجبار (۱۴۰۲) بررسی خشکسالی و ترسالی شهرستان چابهار با استفاده از شاخص SPI جغرافیا و روابط انسانی، ۵(۴), ۱۱۰-۱۲۷.

حسيني سيد محمد (۱۳۹۷) واكاوي روند بارش جنوب غرب آسيا در نيم سدهٔ گذشته نشریه تحقیقات کاربردی علوم جغرافیایی سال هجدهم، شماره،۹۴ تابستان ۴.

دکتور عباس فرشاد و علی فرزانه، جمعی از کارشناسان در داخل و خارج کشور، چاپ دوم با تجدید نظر کلی (۱۳۹۶) سنجش از دور و سامانه اطلاعات جغرافیایی و کاربرد آنها در منابع طبیعی، زراعت و محیط زیست انجمن آبخیز داری ایران تهران.

دکتور وحید توکلی (۱۳۹۷) نرم افزار های علوم زمین تهران علوی.

رضایی و حانیه (۲۰۲۲) معرفی سامانه گوگل ارث انجین نشریه دانشجویی زیست سپهر, ۱٤(٤), ۸-۱۰.

رهنما, شهیدی, یعقوب زاده, و مهران (۱۴۰۱) تعیین وضعیت خشکسالی با استفاده از شاخص‌های سنجش از دور و خشکسالی هواشناسی و زراعت در مناطق با اقلیم مختلف تحقیقات آب و خاک ایران, ۵۳(۱۰), ۲۳۸۳-۲۳۹۸.

سرایی تبریزی، بارز، و محبوب الله (۱۴۰۲) بررسی شاخص‌های مدیریتی خشکسالی در پایین‌دست زیرحوضه هریرود افغانستان نشریه علمی‌پژوهشی مهندسی آبیاری و آب ایران، ۱۳(ویژه‌نامه تابستان ۱۴۰۲), ۱۷۷-۱۹۲.

سلطان محمد انصاری (۱۳۹۴) جغرافیای عمومی ولایات افغانستان کابل انتشارت سعادت.

سلطانی و محمدنژاد (۲۰۲۱) کارایی سامانه گوگل ارث انجین (GEE) در ارزیابی تغییرات کاربری ارا ضی و پیش بینی آن با مدل مارکوف (مطالعه موردی دشت ارومیه) سنجش‌ازدور و سامانه اطلاعات جغرافیایی در منابع طبیعی, ۱۲(۳), ۱۰۱-۱۱٤.

سیاسر، هادی، سالاری، و حیدرزاده (۱۴۰۰) ارزیابی و ارزیابی زمانی داده‌های بارش توسط ماهواره‌های TRMM و GPM (مطالعهٔ موردی شهر بندرعباس) جغرافیا و پایداری محیط، ۱۱(۴), ۱۰۷-۱۲۴.

شریفی پیچون، محمد، بهزادی، و محمدی (۱۴۰۲) ارزیابی زمانی–مکانی روند خشکسالی و اثرات آن بر تغییرات پوشش گیاهی در استان فارس مطالعات جغرافیایی مناطق خشک، ۱۳(۵۰), ۵۷-۴۰.

عوض پور، فرامرزی، مرزبان، امیدی پور، و مهدی‌زاده (۱۴۰۰) ارزیابی تأثیر خشکسالی بر تغییرات پوشش گیاهی با استفاده از تصاویر ماهواره‌ای (مطالعه موردی حوزه آبخیز ایلام) جغرافیا و پایداری محیط، ۱۱(۴), ۱۲۵-۱۴۳.

غزنوی، مساعدی، وقبائی سوق (۱۴۰۰) تأثیر شکست سری زمانی داده‌های بارش بر تغییرات مشخصه‌های خشکسالی (مطالعه موردی شهرهای تبریز و اراک) آب‌وخاک، ۳۵(۳), ۴۰۹-۴۲۵.

فتحی فرد، میترا السادات، راهدان، عباس، و توحید فر (۱۴۰۲) واکاوی تغییرات درجه‌حرارت، پوشش گیاهی، تبخیر و تعرق و خشکسالی مبتنی بر مدل‌سازی تصاویر ماهواره‌ای لندست ۵ و ۸ و شاخص‌های هواشناسی فصلنامه اکولوژی انسانی.

متین‌فر حمیدرضا، شمسی‌پور علی‌اکبر، و صادقی حدیث (۱۴۰۲) ارزیابی خشکسالی بوم‌شناختی زاگرس میانی بر اصل داده‌های ماهواره لندست-۷ و داده‌های اقلیمی (مطالعه موردی استان لرستان).

محمود، سیدعبدالروف، روستا، ایمان، مزیدی، و احمد (۱۴۰۱) بررسی پایداری روند تغییرات پوشش گیاهی با استفاده از سنجش‌ازدور (مطالعه موردی حوضه آبریز شمالی افغانستان) جغرافیا و پایداری محیط، ۱۲ (۲), ۱۷-۳۵.

مزیدی، احمد، امیدوار، کمال، ملک احمدی، حسینی، و سید سلام (۱۴۰۰) بررسی خشکسالی و ترسالی ایستگاه هواشناسی اصفهان با استفاده از شاخص SPI جغرافیا و روابط انسانی، ۴(۱), ۱۱۴-۱۲۶.

مکانیل لاو و امی کولینز ترجمه محمد احسان راز پوری (۱۳۹۷) شناخت و کاربرد عملی ArcGIS هرات انتشارات قدس.

میرزاپور, سالار, خیرخواه زرکش, میرمسعود, و عزیزی (۱۴۰۲) بررسی و پیش‌بینی وضعیت خشک‌سالی در مناطق زاگرسی بر اساس شاخص‌های سنجش‌ازدور و مدل‌های گردش عمومی جو در دوره ۲۰ ساله تحقیقات حمایت و حفاظت جنگلها و مراتع ایران, ۲۰(۲), ۳۱۷-۳۳۵.

میرزاپور، سالار، خیرخواه زرکش، میر مسعود، و عزیزی (۱۴۰۱) تحلیل الگوی فضایی وضعیت خشکسالی در زاگرس میانی و جنوبی با استفاده از شاخص‌های سنجش‌ازدور مهندسی اکوسیستم بیابان، ۱۱ (۳۵), ۱-۱۴.

میرعلیزاده، آروین، حجابی، و کوچک‌زاده (۱۴۰۱) ارزیابی شاخص‌های سنجش از دوری در شرایط خشکسالی (مطالعه موردی دشت ارومیه) نشریه هواشناسی و علوم جوّ، ۵(۲), ۱۳۲-۱۴۱.

Zhao, X, Xia, H, Liu, B, & Jiao, W (2022) Spatiotemporal comparison of drought in Shaanxi–Gansu–Ningxia from 2003 to 2020 using various drought indices in google earth engine Remote sensing, 14(7), 1570

Mohseni, F, Sadr, M K, Eslamian, S, Areffian, A, & Khoshfetrat, A (2021) Spatial and temporal monitoring of drought conditions using the satellite rainfall estimates and remote sensing optical and thermal measurements Advances in Space Research, 67(12), 3942-3959.

Bhaga, T D, Dube, T, Shekede, M D, & Shoko, C (2020) Impacts of climate variability and drought on surface water resources in Sub-Saharan Africa using remote sensing A review Remote Sensing, 12(24), 4184.

Eyra, A E S D E, Melody, A D D S D, & Hakii, N(2015) Precipitation and Rainfall Types with Their Characteristic.

Tuinenburg, O A, Theeuwen, J J, & Staal, A (2020) High-resolution global atmospheric moisture connections from evaporation to precipitation Earth System Science Data, 12(4), 3177-3188.

Cao, S, He, Y, Zhang, L, Chen, Y, Yang, W, Yao, S, & Sun, Q (2021) Spatiotemporal characteristics of drought and its impact on vegetation in the vegetation region of Northwest China Ecological Indicators, 133, 108420.

Rahmani, H, & Abid, M O (2024) Sustainable Solutions to Mitigate the Negative Effects of Climate Change on Afghanistan Nangarhar University International Journal of Biosciences, 494-497.

Suryavanshi, S, Joshi, N, Maurya, H K, Gupta, D, & Sharma, K K (2022) Understanding precipitation characteristics of Afghanistan at provincial scale Theoretical and Applied Climatology, *150*(3), 1775-1791.

Santos, C A G, Neto, R M B, do Nascimento, T V M, da Silva, R M, Mishra, M, & Frade, T G (2021) Geospatial drought severity analysis based on PERSIANN-CDR-estimated rainfall data for Odisha state in India (1983–2018) Science of the Total Environment, 750, 141258.

Mehravar, S, Amani, M, Moghimi, A, Javan, F D, Samadzadegan, F, Ghorbanian, A, & Mirmazloumi, S M (2021) Temperature-Vegetation-soil Moisture-Precipitation Drought Index (TVMPDI); 21-year drought monitoring in Iran using satellite imagery within google Earth engine Advances in space research, 68(11), 4573-4593.

Aksu, H, & Akgül, M A (2020) Performance evaluation of CHIRPS satellite precipitation estimates over Turkey Theoretical and Applied Climatology, 142(1), 71-84.

Rousta, I, Olafsson, H, Moniruzzaman, M, Zhang, H, Liou, Y A, Mushore, T D, & Gupta, A (2020) Impacts of drought on vegetation assessed by vegetation indices and meteorological factors in Afghanistan Remote Sensing, 12(15), 2433.

Zhao, Q, Yu, L, Li, X, Peng, D, Zhang, Y, & Gong, P (2021) Progress and trends in the application of Google Earth and Google Earth Engine Remote Sensing, 13(18), 3778.

Balti, H, Abbes, A B, Mellouli, N, Farah, I R, Sang, Y, & Lamolle, M (2020) A review of drought monitoring with big data Issues, methods, challenges and research directions Ecological Informatics, 60, 101136.

Muhammad, A, Kumar Jha, S, & Rasmussen, P F (2017) Drought characterization for a snow-dominated region of Afghanistan Journal of Hydrologic Engineering, 22(8), 05017014.

ANWARI, E (2023) DROUGHT ASSESSMENT IN AFGHANISTAN USING REMOTELY SENSED DATA (Doctoral dissertation, İzmir Institute of Technology).

Qutbudin, I, Shiru, M S, Sharafati, A, Ahmed, K, Al-Ansari, N, Yaseen, Z M, & Wang, X (2019) Seasonal drought pattern changes due to climate variability Case study in Afghanistan Water, 11(5), 1096.

Aliyar, Q, Zulfiqar, F, Datta, A, Kuwornu, J K, & Shrestha, S (2022) Drought perception and field-level adaptation strategies of farming households in drought-prone areas of Afghanistan International Journal of Disaster Risk Reduction, 72, 102862.

Kochhar, N, & Knippenberg, E (2023) Droughts and Welfare in Afghanistan Policy Research Working Paper

Aliyara, Q, & Collinsb, N (2022) Changing with the weather Afghan farmers adapt to drought CENTRAL ASIAN JOURNAL OF WATER RESEARCH Учредители Казахстанско-Немецкий университет, 8(1), 126-142.

Dost, R, & Kasiviswanathan, K S (2023) Quantification of water resource sustainability in response to drought risk assessment for Afghanistan river basins Natural Resources Research, 32(1), 235-256.

Hasani, M, & Shrestha, R P (2024) Assessing Farmers' Perception on Climate Change and its Consequences A Case Study in the Baba Mountain Valleys of Bamyan, Afghanistan European Journal of Applied Sciences–Vol, 12(4).

Shukla, S, Zaheer, F, Hoell, A, Anderson, W, Jayanthi, H, Husak, G, & Verdin, J (2024) ENSO-based outlook of droughts and agricultural outcomes in Afghanistan Weather and Climate Extremes, 100697.

Azizi, M I, Xu, B, Kamara, M, & Rahmani, B (2024) Impacts of Climate Change in Afghanistan and an Overview of Sustainable Development Efforts European Journal of Theoretical and Applied Sciences, 2(4), 495-516.

Shaiq, M A, Aiuby, H, & Hayat, M (2024) Navigating drought in Kunduz province, Afghanistan insights from experts' perspectives DYSONA-Applied Science, 33-40.

Hasani, M, & Shrestha, R P (2023) Farmers' Perception of Climate Change and Its Impacts A Case Study of Baba Mountain Valleys, Center of Bamyan Province, Afghanistan.

Jamalzi, A R, Jaramillo, F, Ikram, Q D, Akhtar, F, & de Boer, T (2024) Drought Risk Assessment for the Agriculture System in Afghanistan A Spatial Analysis of Hazard, Exposure and Vulnerability.

Iqbal, M W, Donjedee, S, & Kwanyuen, B (2016) Farmers' perception of water management under drought conditions in Badakshan Province, Afghanistan In *2nd World Irrigation Forum (WIF2), Chiang Mai, Thailand* (pp 6-8).

Nabavi, S A, & Mohammadi, A (2024) CLIMATE CHANGE AND WATER CRISIS IN AFGHANISTAN American International Journal of Social Science Research, 15(1), 1-11.

Faizi, M, Maryono, M, & Hermawan, F (2024) Drought in Afghanistan Exploring the vulnerability and drought coping capacity of the farmers of Arabmazari village, Chamtal district, Balkh Province, Afghanistan Journal of Bioresources and Environmental Sciences, 3(1), 1-13.

Almamalachy, Y (2017) Utilization of remote sensing in drought monitoring over Iraq (Master's thesis, Portland State University).

Sandeep, P, Reddy, G O, Jegankumar, R, & Kumar, K A (2021) Monitoring of agricultural drought in semi-arid ecosystem of Peninsular India through indices derived from time-series CHIRPS and MODIS datasets *Ecological indicators*, *121*, 107033.

Isazade, V, Qasimi, A B, Parizadi, T, & Isazade, E (2023) Evaluating land use plans in line with climate change adaptation policies in the Semnan Urban Region *Intercontinental Geoinformation Days*, *7*, 271-274

Ates, S, Hassan, S, Soofizada, Q, Biradar, C, Esmati, H, & Louhaichi, M (2018) The status of forage production in Afghanistan *Internatonal Center for Agricultural Research in the Dry Areas (ICARDA) Amman, Jordan*.

Qasimi, A B, Isazade, V, Enayat, E, Nadry, Z, & Majidi, A H (2023) Landslide susceptibility mapping in Badakhshan province, Afghanistan a comparative study of machine learning algorithms *Geocarto International*, *38*(1), 2248082.

Qasimi, A B, Toomanian, A, Nasri, F, & Samany, N N (2023) Genetic algorithms-based optimal site selection of solar PV in the north of Afghanistan *International Journal of Sustainable Energy*, *42*(1), 929-953.

Hosseini-Moghari, S M, Araghinejad, S, & Ebrahimi, K U M A R S (2019) Introduction of global gridded precipitation datasets *Journal of Water and Sustainable Development*, *5*(2), 153-162.Yanti,

D, Permata, D A, Safitri, I, Irfan, M, & Harahap, F L (2024) The Use of EVI Algorithm in Predicting Rice Productivity, Harau District, Lima Puluh Kota Regency, West Sumatra In *IOP Conference Series Earth and Environmental Science* (Vol 1290, No 1, p 012043) IOP Publishing.

Guth, P L, Van Niekerk, A, Grohmann, C H, Muller, J P, Hawker, L, Florinsky, I V, & Strobl, P (2021) Digital elevation models Terminology and definitions *Remote Sensing*, *13*(18), 3581.

Vicente-Serrano, S M, S Beguería, and J I López-Moreno, 2010 A Multiscalar Drought Index Sensitive to Global Warming The Standardized Precipitation Evapotranspiration Index *J Climate*, 23, 1696–1718, https//doiorg/101175/2009JCLI29091.

د محصلینو پر ذهني روغتیا د ټولنیزو رسنیو اغېزې

پوهنمل دوکتور احسان الله احسان د شیخ زاید پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د عمومي ښوونې او روزنې څانګې علمي کادر غړی
بریښنالیک: ehsanwardak100@gmail.com

لنډیز

ټولنیزې رسنۍ د معاصرې نړۍ له مهمو ډیجیټلي پدیدو څخه دي چې د محصلینو پر روانې، ټولنیز او تحصیلي ژوند د پام وړ اغېز لري. د Facebook، Instagram، TikTok، Snapchat، WhatsApp او X (Twitter) پراخ استعمال د اړیکو، معلوماتو شریکولو، علمي تعامل او زده‌کړې نوې لارې رامنځته کړې دي؛ خو زیات او غیر متوازن استعمال یې د اضطراب، خپګان، په ځان د کم باوري، ټولنیزې انزوا، د خوب د ګډوډۍ او آنلاین اعتیاد له ستونزو سره تړاو لري. د دې مروري مقالې موخه د ټولنیزو رسنیو او د محصلینو د ذهني روغتیا ترمنځ د اړیکې علمي او تحلیلي ارزونه ده. مقاله د ۲۰۱۰–۲۰۲۵ کلونو د علمي ژورنالونو، راپورونو او څېړنو پر بنسټ چمتو شوې ده. موندنې ښیي چې د ټولنیزو رسنیو بې‌حده او غیرهدفمند استعمال د رواني فشار او تحصیلي کمزورۍ له زیاتوالي سره اړیکه لري، په داسې حال کې چې متوازن او هدفمند استعمال یې د علمي همکارۍ، ټولنیز ملاتړ او معلوماتو ته د لاسرسي زمینه برابروي. له اسلامي نظره، د وخت د ارزښت، د معلوماتو د تصدیق، مسؤولانه خبرو او له زیان رسوونکي چلند څخه د ډډې اصول د سالم ډیجیټلي استعمال لپاره مهم لارښودونه وړاندې کوي. په پای کې، مقاله د سالم ډیجیټلي ژوند، ډیجیټلي سواد، رواني ملاتړ او مسؤولانه آنلاین چلند د پیاوړتیا سپارښتنې وړاندې کوي.

کلیدي کلمې

آنلاین اعتیاد، اضطراب، ټولنیزې رسنۍ، خپګان، ذهني روغتیا، ډیجیټلي ژوند، رواني فشار

سریزه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

په یوویشتمه پیړۍ کې ټولنیزې رسنۍ د بشري اړیکو، معلوماتو د تبادلې، افکارو د شریکولو او ټولنیز تعامل له مهمو او اغېزناکو وسیلو څخه ګرځېدلې دي. د انټرنېټ د پراختیا، سمارټ فونونو ته د پراخ لاسرسي او د ډیجیټلي ټکنالوژۍ د چټک پرمختګ له امله میلیونونه خلک، په ځانګړي ډول ځوانان او محصلین، هره ورځ له بېلابېلو ټولنیزو شبکو څخه استفاده کوي. Facebook، Instagram، TikTok، Snapchat، WhatsApp او X (Twitter) یوازې د تفریح او اړیکو وسیلې نه دي، بلکې د زده‌کړې، معلوماتو ترلاسه کولو، علمي اړیکو، سوداګرۍ او ټولنیز مشارکت په برخو کې هم مهم رول لري (کاپلان او هینلین[20]، ۲۰۱۰).

سره له دې چې ټولنیزې رسنۍ ګټې لري، په وروستیو کلونو کې د هغو د زیات او غیر متوازن استعمال د احتمالي رواني پایلو په اړه د څېړونکو او د رواني روغتیا د متخصصینو پام زیات شوی دی. ګڼو څېړنو د ټولنیزو رسنیو د زیات استعمال او د اضطراب، خپګان، په ځان د کم باورۍ، د خوب د ګډوډۍ او نورو رواني ستونزو ترمنځ اړیکې راپور کړې دي (کیلیس[21] او نور، ۲۰۲۰). په ځانګړي ډول د محصلینو ډله د دې موضوع له پلوه د پام وړ ده؛ ځکه د پوهنتون دوره د فرد د رواني، ټولنیز او مسلکي شخصیت د جوړېدو مهم پراو دی او په همدې دوره کې د ټولنیزو اړیکو، تحصیلي فشارونو او د راتلونکي په اړه اندېښنو اغېز هم زیات لیدل کېږي.

د COVID-19 وبا پر مهال د آنلاین اړیکو او ډیجیټلي وسایلو استعمال په بې‌ساري ډول پراخ شو. د ښوونیزو او لوړو زده‌کړو د بنسټونو د حضوري فعالیتونو د محدودېدو له امله، آنلاین زده‌کړې او ډیجیټلي اړیکې د زده‌کړې او ټولنیز تعامل مهمې وسیلې وګرځېدې. دغه وضعیت د ډیجیټلي ټکنالوژۍ، په ځانګړي ډول ټولنیزو رسنیو، د محصلینو په ورځني ژوند کې اهمیت لا زیات کړ او ورسره یې د سالم او متوازن ډیجیټلي استعمال اړتیا هم جدي کړه.

د ټولنیزو رسنیو او ذهني روغتیا اړیکه له دې امله هم پېچلې ده چې د دغو شبکو اغېزې په ټولو افرادو کې یو شان نه وي. د ټولنیزې پرتله‌کونې، د استفادې او رضایت او ادراکي ـ چلندیزو نظریو له مخې، د ټولنیزو رسنیو اغېزې د استعمال له اندازې، محتوا، موخې، د کاروونکي له رواني وضعیت او ټولنیز ـ فرهنګي چاپېریال سره تړاو

[20] Kaplan & Haenlein
[21] Keles

لري. له همدې امله، ټولنیزې رسنۍ نه شي کېدای چې په مطلق ډول د ذهني روغتیا لپاره زیانمنې یا ګټورې وبلل شي؛ بلکې د استعمال طریقه، اندازه او موخه یې د پایلو په ټاکلو کې مهم رول لري.

له اسلامي نظره هم د دې موضوع ارزونه د ځانګړي اهمیت وړ ده. که څه هم قرآن کریم او سنت د معاصرو ټولنیزو رسنیو په اړه مستقیم حکم نه وړاندې کوي، خو د وخت د ارزښت، د معلوماتو د تصدیق، د مسؤولانه خبرو، د سترګو د ساتنې او له زیان رسوونکي چلند څخه د ډډې په اړه اسلامي اصول په معاصر ډیجیټلي چاپېریال کې د تطبیق وړ دي. قرآن کریم فرمایي: «إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا» (الحجرات: ٦)، چې د معلوماتو د تحقیق او تصدیق اصل بیانوي. همدارنګه الله تعالی فرمایي: «وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا» (الأحزاب: ٧٠)، چې د سمې او مسؤولانه خبرې کولو لارښوونه کوي. له همدې امله، د ټولنیزو رسنیو سالم استعمال یوازې روانې او ټولنیزه موضوع نه ده، بلکې اخلاقي او ارزښتي اړخ هم لري.

په همدې اساس، د ټولنیزو رسنیو او د محصلینو د ذهني روغتیا ترمنځ د اړیکې علمي ارزونه باید له روانې او ټولنیزو عواملو سربېره د اسلامي او اخلاقي اصولو له نظره هم وڅېړل شي. سره له دې چې په نړیواله کچه د دې موضوع په اړه ګڼې څېړنې ترسره شوې دي، خو د افغانستان او نورو پرمختیایي هېوادونو په ځانګړي ډول د محصلینو په اړه لا هم د علمي څېړنو تشه تر یوه حده موجوده ده. له همدې امله، د دې مروري مقالې موخه دا ده چې د ۲۰۱۰–۲۰۲۵ کلونو ترمنځ د موجودو علمي څېړنو پر بنسټ د ټولنیزو رسنیو او د محصلینو د ذهني روغتیا ترمنځ اړیکه په تحلیلي او انتقادي ډول وڅېړي، د دغو رسنیو احتمالي مثبتې او منفي اغېزې روښانه کړي او د سالم، متوازن او مسؤولانه ډیجیټلي استعمال لپاره علمي او اسلامي لیدلوری وړاندې کړي.

موخې

۱. د ټولنیزو رسنیو مفهوم، ډولونه او مهمې ځانګړنې تشریح کول.
۲. د ذهني روغتیا مفهوم او مهم ابعاد روښانه کول.
۳. د ټولنیزو رسنیو او د محصلینو د ذهني روغتیا ترمنځ اړیکه ارزول.
٤. د ټولنیزو رسنیو د استعمال اغېزې پر اضطراب، خپګان، ځانباورۍ او د خوب پر کیفیت تحلیلول.
٥. د ټولنیزو رسنیو مثبتې او منفي تعلیمي او ټولنیزې اغېزې ارزول.
٦. د ټولنیزو رسنیو د سالم، متوازن او مسؤولانه استعمال لپاره عملي سپارښتنې وړاندې کول.
۷. د اسلامي لارښوونو او اخلاقي اصولو له نظره د ټولنیزو رسنیو د استعمال او د محصلینو د ذهني او ټولنیزې روغتیا اړیکه روښانه کول.

پوښتنې

۱. ټولنیزې رسنۍ د محصلینو پر ذهني روغتیا څه ډول اغېز لري؟
۲. د ټولنیزو رسنیو زیات او غیر متوازن استعمال د اضطراب او خپګان له کچې سره څه ډول اړیکه لري؟
۳. د ټولنیزو رسنیو زیات استعمال د محصلینو پر تحصیلي فعالیت او علمي تمرکز څه اغېز لري؟
٤. د ټولنیزو رسنیو مهمې مثبتې تعلیمي، ټولنیزې او رواني ګټې کومې دي؟
۵. کوم عوامل کولای شي د ټولنیزو رسنیو د منفي رواني اغېزو خطر کم او د سالم استعمال زمینه برابره کړي؟
٦. د اسلام له نظره د ټولنیزو رسنیو د سالم، متوازن او مسؤولانه استعمال لپاره کوم اصول او لارښوونې موجودې دي؟

کړنلاره

دا یوه مروري مقاله ده چې د محتوا د تحلیلي ارزونې پر بنسټ چمتو شوې ده. د ۲۰۱۰–۲۰۲۵ کلونو ترمنځ علمي مقالو، نړیوالو راپورونو او peer-reviewed ژورنالونو ارزونه شوې ده. معلومات له Google Scholar، PubMed، ScienceDirect، Springer، ResearchGate او WHO راپورونو څخه راټول شوي دي. همدارنګه د مقالو انتخاب د اعتبار، علمي کیفیت او موضوعي تړاو پر اساس ترسره شوی دی. د تحلیل پر مهال د اضطراب، خپګان، ټولنیزې انزوا، په ځان بې‌باوری، خوب، آنلاین اعتیاد او تحصیلي فعالیت اړوند موندنې پرتله او ارزول شوې دي.

نظریاتي بنسټونه

د ټولنیزې پرتله کونې نظریه

د ټولنیزې پرتله کونې نظریه لومړی ځل د Leon Festinger له خوا وړاندې شوه. د دې نظریې له مخې، انسانان خپل ارزښت، وړتیاوې او بریاوې د نورو خلکو له ژوند سره د مقایسې له لارې ارزوي (فستینګر، ۱۹۵۴). په ټولنیزو رسنیو کې د نورو خلکو د بریاوو، ښکلا، شهرت او لوکس ژوند دوامداره مشاهده په محصلینو کې پر ځان د کم باوری، اضطراب او رواني فشار سبب ګرځي) (وګل[۲۲] او ملګري، ۲۰۱۴). همدارنګه، دوامداره انلاین

[22] Vogel

مقايسه د "Fear of Missing Out" (FOMO) داحساس پياوړی کوي، چې دا د ذهني فشار له زياتوالي سره اړيکه لري (پرژبيلسکي[۲۳] او ملګري، ۲۰۱۳).

د استفادې او رضايت نظريه

د نوموړې نظريې له مخې، خلک رسنۍ او ټولنيزې شبکې د خپلو ځانګړو رواني او ټولنيزو اړتياوو د پوره کولو لپاره کاروي، لکه تفريح، معلومات، ټولنيز ملاتړ، اړيکې او هويت جوړونه (کاټز، بلوملر، او ګورويچ[۲۴]، ۱۹۷۳). د دې نظريې پر بنسټ، محصلين ټولنيزې رسنۍ د علمي معلوماتو ترلاسه کولو، له ملګرو سره د اړيکو ساتلو او تفريح لپاره کاروي. څېړنې ښيي چې د ټولنيزو رسنيو د استعمال انګېزه د هغوی پر رواني اغېزو مستقيم تاثير لري (وايټينګ او ويليامز[۲۵]، ۲۰۱۳).

د ادراکي چلند نظريه

د آرون ټي بيک د ادراکي چلند تيورۍ له مخې، د انسان افکار، احساسات او چلند يو له بل سره نږدې اړيکه لري (بيک[۲۶]، ۱۹۷۶). دغه نظريه څرګندوي چې منفي افکار او ناسم ذهني تفسيرونه د اضطراب، خپګان او نورو رواني ستونزو سبب ګرځي. په ټولنيزو رسنيو کې منفي انلاين تجربې، سايبري زورونه (Cyberbullying)، ټولنيزه مقايسه او منفي تبصرې د محصلينو منفي افکار پياوړي کوي، چې په پايله کې د رواني فشار او ذهني ستونزو د زياتوالي لامل کېږي (کيليز[۲۷] او ملګري، ۲۰۲۰).

د ټولنيزو رسنيو مفهوم او اغېزې

ټولنيزې رسنۍ هغو ډيجيټلي پلېټفارمونو ته ويل کېږي چې د کارووونکو ترمنځ د معلوماتو، انځورونو، ويډيوګانو او نظرياتو د شريکولو زمينه برابروي(کاپلان او هينلين[۲۸]، ۲۰۱۰). Facebook، Instagram، TikTok، Snapchat، YouTube او WhatSapp د معاصرې نړۍ له مهمو ټولنيزو شبکو څخه ګڼل کېږي.

[23] Przybylski
[24] Katz, Blumler & Gurevitch
[25] Whiting & Williams
[26] Beck
[27] Keles
[28] Kaplan & Haenlein

د ذهني روغتيا مفهوم

اضطراب

اضطراب د ټولنيزو رسنيو له تر ټولو عامو رواني اغېزو څخه ګڼل کېږي. هغه محصلين چې ډېرى وخت په Instagramاو TikTok کې تېروي، په دوامداره توګه خپل ژوند د نورو خلکو له ژوند سره مقايسه کوي، چې دا چاره د ناکامۍ او کم ارزښتۍ احساس رامنځته کوي (وانوچي او نور، ۲۰۱۷). د Fear of Missing Out" "(FOMO)احساس د ټولنيزو رسنيو له مهمو رواني اغېزو څخه ګڼل کېږي، ځکه محصلين فکر کوي چې د نورو خلکو له مهمو فعاليتونو، فرصتونو او ټولنيزو تجربو څخه وروسته پاتې کېږي، چې دا چاره د اضطراب او رواني فشار د زياتوالي لامل ګرځي (پرژبيلسکي[۲۹] او نور، ۲۰۱۳).

خپګان

څېړنې ښيي چې د ټولنيزو رسنيو زيات استعمال د خپګان له نښو سره اړيکه لري (لين[۳۰] او نور، ۲۰۱۶). کله چې محصلين د نورو خلکو يوازې مثبت ژوندونه ويني، نو د خپل ژوند په اړه منفي احساس پيدا کوي. ټوينګ[۳۱] او نورو (۲۰۱۸) څرګنده کړې ده، چې د ډيجيټلي وسايلو زيات استعمال د ځوانانو ترمنځ د خپګان او ځان وژنې د افکارو له زياتوالي سره تړاو لري.

عزت نفس

عزت نفس Self-Esteem د انسان د ځان ارزونې، شخصي ارزښت او رواني اعتماد له مهمو عناصرو څخه ګڼل کېږي. ټولنيزې رسنۍ د عزت نفس پر کچه مستقيم اغېز لري، ځکه د Likes ، Comments او Followers فرهنګ د انسان رواني ارزښت له مجازي غبرګونونو سره تړي. کله چې محصلين د خپلو انلاين پوسټونو لپاره مثبت غبرګونونه ترلاسه کوي، نو لنډمهاله خوښي او رضايت احساسوي؛ خو که دغه غبرګونونه کم وي، نو پر ځان د کم باورۍ، اضطراب او رواني فشار احساس رامنځته کېږي (ووګل[۳۲] او نور، ۲۰۱۴). سربېره پر دې، په ټولنيزو رسنيو کې د ښکلا، شهرت او بريا مصنوعي معيارونه د دې لامل ګرځي، چې محصلين خپل ژوند د نورو له انتخابي او فلټر شوو انلاين تصويرونو سره مقايسه کړي. دغه دوامداره ټولنيزه مقايسه د ځان د ارزښت کمښت او رواني نارضايتۍ لامل ګرځي (چو او ايج[۳۳]، ۲۰۱۲).

[29] Przybylski
[30] Lin
[31] Twenge
[32] Vogel
[33] Chou & Edge

د خوب ګډوډي

د شپې له خوا د موبایل او ټولنیزو رسنیو زیات استعمال د خوب پر کیفیت منفي اغېزه کوي. څېړنې ښیي هغه محصلین چې د شپې تر ناوخته په ټولنیزو شبکو کې وخت تېروي، د بې‌خوبی، ذهني سترېا او رواني فشار له لوړې کچې سره مخامخ کېږي (لوینسن[34] او نور، ۲۰۱۶). د موبایل له سکرین څخه خپرېدونکې آبي رڼا (Blue Light) د میلاتونین هورمون (Melatonin) تولید کموي، چې د خوب د طبیعي نظم د ګډوډۍ لامل ګرځي. سربېره پر دې، د ټولنیزو رسنیو دوامداره Notifications ، Messages او انلاین تعاملات د مغز ذهني فعالیت زیاتوي، چې دا چاره د آرام خوب مخه نیسي. کم خوب د تمرکز، حافظې، تصمیم نیونې او رواني ثبات پر کمېدو مستقیم اغېز کوي، چې د اضطراب او خپګان خطر هم زیاتوي (وودز او سکات[35]، ۲۰۱۶).

آنلاین اعتیاد

نلاین اعتیاد (Behavioral Addiction) هغه رواني حالت ته ویل کېږي چې انسان پکې د ټولنیزو رسنیو له استعمال پرته د ناراحتی، اضطراب او ذهني تشویش احساس کوي. هغه کسان چې له دې ستونزې سره مخ وي، د ټولنیزو شبکو د دوامداره استعمال اړتیا احساسوي او د خپل استعمال د کنټرول وړتیا له لاسه ورکوي. سیسلي شو اندریسن[36] څرګندوي چې د ټولنیزو رسنیو اعتیاد د نورو رفتاري اعتیادونو (Behavioral Addictions) په څېر ځانګړنې لري، لکه د وخت ضایع کول، د کنټرول له لاسه ورکول، ټولنیزه انزوا او د ورځنیو مسؤلیتونو کمزوري ترسره کول (انډریسن[37]، ۲۰۱۵). دغه اعتیاد د محصلینو پر تحصیلي فعالیت، کورني ژوند او ټولنیزو اړیکو منفي اغېز کوي. سربېره پر دې، دوامداره آنلاین پاتې کېدل د تمرکز کمښت، ذهني سترېا او رواني فشار سبب ګرځي. ځېړنې ښیي، هغه محصلین چې د ټولنیزو رسنیو له اعتیاد سره مخ وي، نسبت نورو محصلینو ته د اضطراب، خپګان او پر ځان کم باوري لوړې نښې تجربه کوي (کوس او ګریفیتس[38]، ۲۰۱۱).

د ټولنیزو رسنیو عصبي-رواني اغېزې

د روانپوهنې او عصبي علومو وروستیو څېړنو ښودلې ده، چې ټولنیزې رسنۍ د انسان پر عصبي سیستم مستقیم اغېز لري. کله چې یو شخص په ټولنیزو رسنیو کې مثبت غبرګونونه لکه Likes ، Shares او Comments ترلاسه کوي، د مغز د دوپامین (Dopamine) سیستم فعالېږي. دوپامین هغه عصبي کیمیاوي ماده ده، چې د خوښۍ،

[34] Levenson
[35] Woods & Scott
[36] Cecilie Schou Andreassen
[37] Andreassen
[38] Kuss & Griffiths

انګېزې او انعام احساس رامنځته کوي (مونټاګ او ډیفنباخ[۳۹]، ۲۰۱۸). د دوپامین دوامداره تحرک د دې لامل کېږي چې انسان په تدریجي ډول د ټولنیزو رسنیو له استعمال سره رواني وابستګي پیدا کړي. دغه حالت د رفتاري اعتیاد (Behavioral Addiction) له ځانګړنو سره ورته والی لري، ځکه انسان په دوامداره ډول د نویو Notifications، Likes او انلاین تعاملاتو تمه کوي (توریل او بیچاره[۴۰]، ۲۰۱۶). سربېره پر دې، ځېرنې ښیي چې د ټولنیزو رسنیو بې‌حده استعمال د تمرکز، حافظې او تصمیم نیونې پر فعالیتونو هم منفي اغېزه کوي. د دوامدارو ډیجیټلي محرکاتو او Notifications له امله مغز د ژور تمرکز (Deep Focus) حالت ته نه داخلېږي، چې دا په ذهن باندې د اضافي بار (Cognitive Overload) او ذهني ستړیا سبب ګرځي (روزن[۴۱] او ملګري، ۲۰۱۳). ځینې عصبي ځېرنې ځرګندوي چې د ټولنیزو رسنیو زیات استعمال د مغز پر هغو برخو اغېزه کوي، چې د احساساتو کنټرول، توجه او اجرایوي فعالیتونو (Executive Functions) مسؤلیت لري، چې دا چاره د تحصیلي تمرکز او رواني ثبات له کمېدو سره اړیکه لري (میشي، تامیر، او هیکرین[۴۲]، ۲۰۱۵).

سایبري ځورونه او د هغو رواني اغېزې

سایبري ځورونه یا Cyberbullying د ټولنیزو رسنیو له تر ټولو خطرناکو منفي اغېزو څخه ګڼل کېږي. سایبري زورونه هغه حالت ته ویل کېږي، چې یو شخص پکې د انلاین شبکو له لارې له سپکاوي، ګواښ، توهین، تهمت خپرولو یا رواني فشار سره مخ شي. د ټولنیزو رسنیو پراخ استعمال د دې سبب شوی دی، چې دا ډول رواني ځورونه په ځانګړي ډول د ځوانانو او محصلینو ترمنځ زیاته شي. ځېرنې ښیي هغه محصلین چې د سایبري ځورونې قرباني کېږي، د اضطراب، خپګان، ټولنیزې انزوا او حتی د ځان وژنې د افکارو له لوړ خطر سره مخ وي (پیچین او هندوجا[۴۳]، ۲۰۱۵). دغه رواني فشار د قرباني پر ځان کم باوري، رواني ثبات او ټولنیزو اړیکو ژور منفي اغېز شیندي. په ځانګړي ډول نجونې او تنکي ځوانان د انلاین توهین، شخصیتي حملو او عامه سپکاوي پر وړاندې ډېر حساس وي. د ټولنیزو رسنیو عامه طبیعت د دې سبب کېږي، چې سپکاوی او منفي تبصرې په پراخه کچه خپرې شي، چې دا د رواني ټپونو (Psychological Trauma) شدت زیاتوي (کووالسکي[۴۴] او نور، ۲۰۱۴). سربېره پر دې، ځینې ځېرنې ځرګندوي، چې د سایبري ځورونې رواني اغېزې کله ناکله تر فزیکي

39 Montag & Diefenbach
40 Turel & Bechara
41 Rosen
42 Meshi, Tamir, & Heekeren
43 Patchin & Hinduja
44 Kowalski

ځوروونو هم اوږدمهاله وي، ځکه قرباني په دوامداره ډول د انلاین فشار، وېرې او شرم احساس کوي (هام[45] او نور، ۲۰۱۵).

ټولنیزې رسنۍ او علمي حواس پرتي

ټولنیزې رسنۍ په معاصر تعلیمي چاپېریال کې د محصلینو د علمي تمرکز د کمېدو له مهمو او ثابتو عواملو څخه ګڼل کېږي. د زده‌کړې پر مهال د موبایل او ټولنیزو پلیټفارمونو زیات استعمال د توجه د وېش (divided attention) سبب ګرځي، چې په پایله کې د معلوماتو د ژور پروسس کولو وړتیا کمزورې کېږي. دا حالت د کاري حافظې (working memory) ظرفیت تر فشار لاندې راولي او د زده‌کړې اغېزمنتیا راکموي (اوفیر[46] او نور، ۲۰۰۹). د ټولنیزو رسنیو پرله‌پسې Notification ، د پیامونو راتلل، او انلاین چټینګ د ذهني مداخلې (cognitive interference) مهم عوامل ګڼل کېږي. دا مداخلې د زده‌کوونکي د تمرکز تسلسل ماتوي او د زده‌کړې بهیر په دوامداره توګه ګډوډوي. د Cognitive Load Theory له مخې، کله چې دماغ په یو وخت کې له څو معلوماتي سرچینو سره مخ شي، د معلوماتو د تحلیل او ذخیره کولو وړتیا یې کمېږي (سویلر[47]، ۱۹۸۸). څېړنې ښیي هغه محصلین چې د درس پر مهال په دوامداره ډول Facebook ، TikTok او نور ټولنیز پلیټفارمونه کاروي، نسبت هغو ته چې د مطالعې پر مهال له ډیجیټل حواس‌پرتۍ څخه ځان ساتي، ټیټې علمي پایلې ترلاسه کوي. د بېلګې په توګه، کارپینسکي[48] او نورو (۲۰۱۳) په خپله څېړنه کې وموندله چې د Facebook زیات استعمال د GPA د کمښت سره مستقیمه او معناداره اړیکه لري. همدارنګه، جونکو[49] (۲۰۱۲) څرګنده کړې ده، چې د ټولنیزو شبکو زیات استعمال د علمي ښکېلتیا (academic engagement) کچه راټیټوي او د زده‌کړې پایلې کمزورې کوي. په عام ډول، ټولنیزې رسنۍ که څه هم د اړیکو او معلوماتو د تبادلې لپاره ګټورې دي، خو نه مهارېدونکی استعمال په ځانګړې ډول د زده‌کړې پر مهال، د Cognitive Overload ، د تمرکز کمښت او علمي لاسته راوړنو د ټیټېدو لامل ګرځي. له همدې امله، د ډیجیټل ډسپلین (digital discipline) رامنځته کول د محصلینو د علمي بریا لپاره ضروري ګڼل کېږي.

[45] Hamm
[46] Ophir
[47] Sweller
[48] Karpinski
[49] Junco

د ټولنیزو رسنیو مثبتې رواني ګټې

سره له دې چې ټولنیزې رسنۍ د رواني روغتیا له ځینو منفي اغېزو سره تړاو لري، خو معاصرې ژېړنې ځرګندوي چې دغه ډیجیټلي پلیټفارمونه ځینې مثبتې رواني او ټولنیزې ګټې هم لري. د ټولنیزو رسنیو مناسب او هدفمند استعمال کولای شي د عاطفي ملاتړ، ټولنیزې اړیکې، ځان ځرګندونې او رواني هوساینې په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي (ناسلند[50] او نور، ۲۰۱۶). همدارنګه د انلاین ملاتړ ګروپونه (online support groups) د هغو محصلینو لپاره مهم رواني منابع ګڼل کېږي، چې له اضطراب، خپګان، ټولنیز فشار یا عاطفي ستونزو سره مخ وي. دا ډول مجازي ټولنې افرادو ته فرصت برابروي، چې خپلې تجربې شریکې کړي، عاطفي ملاتړ ترلاسه کړي او د یوازیتوب احساس را کم کړي. ژېړنې ښیي چې د ټولنیز ملاتړ احساس د ذهني فشار او رواني اختلالاتو د شدت په کمولو کې مثبت اغېز لري (ریډیوټ او فاکس[51]، ۲۰۱۸). همدارنګه، د ذهني روغتیا اړوند کمپاینونه او د عامه پوهاوي پروګرامونه د ټولنیزو رسنیو له لارې د رواني ناروغیو په اړه د پوهاوي د زیاتوالي سبب شوي دي. دغه کمپاینونه د رواني ستونزو د بدنامۍ (stigma) په کمولو، د مرستې غوښتنې ته هڅولو، او د ذهني روغتیا د خدماتو په معرفي کولو کې مهم رول لري (رابینسون[52] او نور، ۲۰۱۶.) په ځانګړي ډول، ځوانان او محصلین کولای شي د رواني روغتیا اړوند معلوماتو، مشورو او علمي سرچینو ته په اسانۍ لاسرسی وموميي. سربېره پر دې، ټولنیزې شبکې د ټولنیزې انزوا (social isolation) د کمولو لپاره اغېزمنې وسیلې بلل کېږي. هغه محصلین چې د انزوا، یوازیتوب یا د ټولنیزو اړیکو له کمښت سره مخ وي، کولای شي د ټولنیزو رسنیو له لارې له نورو افرادو سره اړیکې ټینګې کړي او د تعلق احساس (sense of belonging) تجربه کړي. د (پمپک[53] او نور، ۲۰۰۹) ژېړنه ځرګندوي چې ټولنیزې شبکې د ځوانانو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا او ټولنیز تعامل د زیاتوالي سبب ګرځي.

په عمومي توګه، که ټولنیزې رسنۍ په متوازن، هدفمند او سالم ډول وکارول شي، کولای شي د رواني ملاتړ، ټولنیزې همغږۍ او ذهني هوساینې په پیاوړتیا کې رغنده رول ولوبوي. له همدې امله، د ټولنیزو رسنیو اغېزې باید یوازې منفي ونه ګڼل شي، بلکې د مثبتو رواني امکاناتو اړخونه یې هم باید په علمي ډول وژېړل شي.

[50] Naslund
[51] Rideout & Fox
[52] Robinson
[53] Pempek

د ټولنیزو رسنیو تحصیلي او پیداګوژیکي اغېزې

ټولنیزې رسنۍ د معاصرې زده‌کړې په چاپېریال کې د محصلینو پر تحصیلي فعالیت او د زده‌کړې پر کیفیت ژور اغېز لري. که څه هم دغه پلیټفارمونه د معلوماتو د شریکولو، علمي اړیکو او تعلیمي همکارۍ لپاره ګټور تمامېدای شي، خو د غیر متوازن استعمال په صورت کې د علمي تمرکز، تحصیلي لاسته راوړنو او تدریسي بهیر پر اغېزمنتیا منفي اغېزې پرېږدي (کیرشنر او کارپینسکی[54]، ۲۰۱۰). څېړنې څرګندوي چې د Facebook او نورو ټولنیزو شبکو زیات استعمال د محصلینو د نمراتو د کمښت او د تحصیلي فعالیت د ټیټېدو سره مستقیم تړاو لري. د کیرشنر او کارپینسکی (۲۰۱۰) څېړنې موندلي، هغه محصلین چې د Facebook فعال کاروونکي وو، د هغو محصلینو په پرتله چې لږ یې کارولو، ټیټه GPA او کم علمي تمرکز درلود. دا ځکه چې د ټولنیزو رسنیو زیات استعمال د مطالعې وخت محدودوي او د علمي دندو پر ځای د غیر ضروري ډیجیټلي فعالیتونو لپاره وخت زیات مصرفېږي. له بلې خوا، ځینې څېړنې څرګندوي چې که ټولنیزې رسنۍ په تعلیمي او منظم ډول وکارول شي، کولای شي د علمي همکارۍ، آنلاین زده‌کړې او معلوماتو ته د چټک لاسرسي سبب شي. خو د دغو ګټو ترلاسه کول د مناسب وخت مدیریت او ډیجیټلي ډسپلین پورې تړاو لري (تیس، ۲۰۱۳). په عمومي توګه، ټولنیزې رسنۍ د محصلینو پر تحصیلي فعالیت هم مثبت او هم منفي اغېز لرلای شي، خو د غیر معین استعمال په صورت کې یې منفي تعلیمي اغېزې ډېرې څرګندې دي. له همدې امله، د متوازن استعمال ترویج د زده‌کړې د کیفیت د ساتلو لپاره ضروري ګڼل کېږي.

د فعالې زده کړې فرصتونه

سره له دې چې ټولنیزې رسنۍ ځینې منفي اغېزې لري، خو د زده‌کړې او علمي پرمختګ لپاره هم مهم فرصتونه برابروي. ډیجیټلي پلیټفارمونه محصلینو ته د معلوماتو، انلاین کورسونو او علمي سرچینو ته چټک لاسرسی ورکوي. په ځانګړې ډول، YouTube، LinkedIn او Research Gate د علمي موادو، مسلکي اړیکو او څېړنیزو شبکو لپاره مهم رول لري. محصلین کولای شي د دغو پلیټفارمونو له لارې ویډیویي درسونه، علمي مقالې او مسلکي تجربې ترلاسه کړي، چې دا د فعالې زده‌کړې او ځاني پرمختګ سبب ګرځي (تیس[55]، ۲۰۱۳).

[54] Kirschner & Karpinski
[55] Tess

د ټولنیزو رسنیو د استعمال فرهنګي لیدلوری

د ټولنیزو رسنیو اغېزې په بېلابېلو فرهنګونو او ټولنو کې توپیر لري، ځکه د هرې ټولنې ارزښتونه، ټولنیز نورمونه او د اړیکو ډولونه یو شان نه وي. په غربي ټولنو کې انفرادي هویت، شخصي ازادي او ځانځرګندونه مهم ارزښتونه ګڼل کېږي، نو ځکه ټولنیزې رسنۍ زیاتره د فردي افکارو او شخصي ژوند د ځرګندولو وسیله بلل کېږي (ترینډیس[۵۶]، ۱۹۹۵). برعکس، په شرقي او محافظه‌کاره ټولنو کې کورنۍ اړیکې، ټولنیز ارزښتونه او فرهنګي محدودیتونه ډېر اغېز لري. په دغو ټولنو کې د ټولنیزو رسنیو استعمال کله ناکله د ټولنیزو فشارونو، کلتوري تمو او اخلاقي محدودیتونو تر اغېز لاندې وي، چې دا چاره د ذهني فشار او اضطراب احتمال زیاتوي (هافستید[۵۷]، ۲۰۰۱). په ځانګړې ډول افغانستان کې د ټولنیزو رسنیو استعمال له اقتصادي ستونزو، امنیتي وضعیت، فرهنګي محدودیتونو او ټولنیزو فشارونو سره یوځای کېږي. ځوانان او محصلین ممکن د انلاین قضاوت، کورني فشار او ټولنیزو محدودیتونو له امله له رواني فشار او عاطفي ستونزو سره مخ شي. له همدې امله، د ټولنیزو رسنیو رواني اغېزې باید د هرې ټولنې د فرهنګي او ټولنیز شرایطو په رڼا کې وڅېړل شي.

د ۱۹- COVID وبا پر مهال ټولنیزې رسنۍ

د COVID-19 وبا پر مهال ټولنیزې رسنۍ د زده‌کړې، اړیکو او معلوماتو د تبادلې مهمې وسیلې وګرځېدې. د قرنطین او ټولنیز واټن له امله پوهنتونونه او ښوونځي انلاین زده‌کړو ته اړ شول، او محصلینو د Zoom، Google Classroom، Facebook Groups او WhatsApp له لارې خپلې زده‌کړې او علمي اړیکې پرمخ وړلې (داوان[۵۸]، ۲۰۲۰). دغه ډیجیټلي پلیټفارمونو د زده‌کړې د دوام، معلوماتو شریکولو او ټولنیزو اړیکو د ساتلو لپاره مهم رول درلود، خو له بلې خوا د ټولنیزو رسنیو زیات استعمال د Fake News، غلطو معلوماتو او رواني فشار د زیاتوالي سبب هم شو. ځېرنې ښیي چې د وبا پر مهال د منفي خبرونو او دوامدارو انلاین معلوماتو زیات لیدل د اضطراب، وېرې او ذهني فشار کچه لوړه کړې وه (ګائو[۵۹] او نور، ۲۰۲۰). په عمومي توګه ویلای شو، چې د COVID-19 وبا پر مهال ټولنیزو رسنیو هم د زده‌کړې او اړیکو په برخه کې مثبت رول ولوباوه او هم یې د رواني فشار او معلوماتي ګډوډۍ ځینې منفي اغېزې رامنځته کړې.

56 Triandis
57 Hofstede
58 Dhawan
59 Gao

د افغانستان په شرایطو کې د ټولنیزو رسنیو استعمال

په افغانستان کې د انټرنېټ او سمارټ فون استعمال په وروستیو کلونو کې د پام وړ زیات شوی، او ځوانان د Facebook، Instagram، TikTokاو WhatsApp له فعالو کاروونکو څخه ګڼل کېږي. ټولنیزې رسنۍ د اړیکو، معلوماتو ترلاسه کولو او تفریح لپاره مهمې وسیلې ګرځېدلې دي. خو د ذهني روغتیا د خدماتو محدودیت، اقتصادي ستونزې، بېکاري، ټولنیز فشارونه او د رواني پوهاوي کمښت د دې سبب شوي، چې ځوانان د انلاین فشارونو او منفي محتوا پر وړاندې ډېر حساس شي. څېړنې ښیي چې په کم‌عاید او بحراني ټولنو کې ډیجیټلي فشارونه د اضطراب، خپګان او ټولنیزې انزوا احتمال زیاتوي (بیتانکورت[60] او نور، ۲۰۱۵). همدارنګه، په محافظه‌کاره ټولنیز چاپېریال کې د انلاین قضاوت، ټولنیزو مقایسو او فرهنګي محدودیتونو فشار پر ځوانانو رواني اغېزې زیاتوي. له همدې امله، په افغانستان کې د ټولنیزو رسنیو اغېزې باید د هېواد د اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو شرایطو په رڼا کې وڅېړل شي.

د اسلام له نظره د ټولنیزو رسنیو استعمال او روغتیا

اسلام د انسان د جسمي او رواني روغتیا، وخت، عقل او ټولنیزو اړیکو ساتنې ته ځانګړی اهمیت ورکوي. که څه هم په قرآن کریم او سنتو کې د معاصرو ټولنیزو رسنیو په اړه مستقیم حکم نه دی راغلی، خو د اسلامي اخلاقو او انساني مسؤولیتونو عمومي اصول پر دې ډیجیټلي وسایلو هم تطبیقېږي. رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ، وَالْفَرَاغُ»؛ یعنې روغتیا او وزګار وخت هغه دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک یې په سمه توګه نه کاروي (صحيح البخاري، ٦٤١٢). له دې حدیث څخه څرګندېږي چې محصل باید خپل وخت په متوازن ډول تنظیم کړي او ټولنیزې رسنۍ باید د زده‌کړې، خوب، عبادت او حقیقي ټولنیزو اړیکو ځای ونه نیسي.

همدارنګه قرآن کریم د معلوماتو د ارزونې او د ناسم خبر د نه خپرولو اصل بیانوي: «إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا» (الحجرات: ٦)، یعنې که کوم خبر درته راشي، نو تحقیق یې وکړئ. دا اصل په ټولنیزو رسنیو کې ځانګړی اهمیت لري، ځکه ناسم معلومات، اوازې او بې‌اساسه ادعاوې په ډېرې چټکۍ خپرېږي او د خلکو د رواني فشار او ټولنیزې بې‌باورۍ سبب کېدای شي. قرآن کریم همدارنګه مؤمنانو ته د سمې او مسؤولانه خبرې کولو لارښوونه کوي: «وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا» (الأحزاب: ٧٠). له همدې امله سپکاوی، توهین، دروغ، تمسخر او د نورو ځورول، که په حقیقي چاپېریال کې وي او که آنلاین، د اسلامي اخلاقو له اصولو سره سازګار نه دي. رسول الله ﷺ

[60] Betancourt

فرمايلي دي: «المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» (صحيح مسلم، ۴۰)، چې د نورو د ژبې او لاس له ضرر څخه د خوندي پاتې کېدو اهميت څرګندوي.

له بلې خوا، الله (ج) په خپل کتاب قرآن کريم د سترګو د ساتنې امر هم کوي: قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصارِهِمْ وَ يَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذلِكَ أَزْكى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِما يَصْنَعُونَ (النور، ۳۰)، چې دا اصل په معاصر ډيجيټلي چاپېريال کې د نامناسبو انځورونو او ويډيوګانو څخه د ځان ساتنې په برخه کې د تطبيق وړ دی. له دې امله د اسلام له نظره د ټولنيزو رسنيو ارزونه بايد يوازې د «استعمال» پر بنسټ ونه شي، بلکې د استعمال هدف، محتوا، وخت، پايله او پر فرد او ټولنه يې اغېز بايد په پام کې ونيول شي. سالم، هدفمند او متوازن استعمال د علمي زده‌کړې، اړيکو او ګټورو معلوماتو لپاره د فرصت وسيله کېدای شي؛ خو بې‌حده او غيرمسؤولانه استعمال د وخت د ضايع کېدو، اخلاقي ستونزو، ټولنيزو شخړو او رواني فشارونو زمينه برابرولی شي.

مناقشه

د موجودو علمي موندنو تحليلي ارزونه څرګندوي چې د ټولنيزو رسنيو او محصلينو د ذهني روغتيا ترمنځ اړيکه يو ساده يا خطي ارتباط نه دی، بلکې يوه پېچلې، څو اړخيزه او د ګڼو فردي، ټولنيزو او فرهنګي عواملو تابع پديده ده. د نظري چوکاټونو لکه د ټولنيزې پرتله‌کونې (Social Comparison Theory)، د استفادې او رضايت (Uses and Gratifications Theory) او د ادراکي چلند نظريې (Cognitive Behavioral Theory) په رڼا کې څرګندېږي چې د ټولنيزو رسنيو اغېزې نه مطلقاً مثبتې دي او نه مطلقاً منفي، بلکې د استعمال له اندازې، محتوا، موخې او د کارووونکي له رواني حالت سره مستقيم تړاو لري.

په منفي اړخ کې، ګڼ شمېر څېړنې ښيي چې د ټولنيزو رسنيو زيات او بې‌کنټروله استعمال د اضطراب، خپګان، په ځان د کم باوری، د خوب د ګډوډۍ او آنلاين اعتياد له زياتوالي سره اړيکه لري. دا اړيکې زياتره د رواني ميکانيزمونو لکه ټولنيزې پرتله‌کونې (Social Comparison)، د له لاسه ورکولو وېره (Fear of Missing Out؛ FOMO) او سايبري ځورونې (Cyberbullying) له لارې رامنځته کېږي. محصلين کله ناکله د نورو افرادو له انتخابي، فلټر شوي او ظاهراً مثالي انلاين ژوند سره خپل واقعي ژوند پرتله کوي، چې پايله يې د نارضايتی، ځان‌کم‌ارزونې او رواني فشار زياتوالی کېدای شي. له بلې خوا، پرله‌پسې خبرتياوې (Notifications)، بې‌وقفې سکرول کول (Scrolling) او دوامداره آنلاين تعاملات د توجه د وېش (Attention Fragmentation) سبب کېدای شي، چې د علمي تمرکز او ادراکي ثبات لپاره زيانمن تمامېږي.

همدارنګه، د ټولنیزو رسنیو ستونزمن او اجباري استعمال د رفتاري وابستګۍ بڼه غوره کولای شي، چې فرد پکې د کنټرول له لاسه ورکولو، د وخت ضایع کولو، د خوب د کمښت او ټولنیزې انزوا له خطر سره مخ کېږي. له همدې امله، د ټولنیزو رسنیو د استعمال د شدت او د ذهني روغتیا د پایلو ترمنځ اړیکه باید د نورو اغېزمنو عواملو ترځنګ وڅېړل شي، نه دا چې هر ډول استعمال په مساوي ډول زیانمن وګڼل شي.

په مقابل کې، ځینې څېړنې څرګندوي چې ټولنیزې رسنۍ مثبت رواني او ټولنیز امکانات هم لري. د استفادې او رضایت د نظریې له مخې، افراد دا پلیټفارمونه د مشخصو اړتیاوو لکه د معلوماتو ترلاسه کولو، تفریح، ټولنیز ملاتړ او اړیکو د ساتلو لپاره کاروي. په همدې اساس، ټولنیزې رسنۍ کولای شي د ټولنیز ملاتړ د پیاوړتیا، د رواني فشار د کمولو، د علمي معلوماتو د تبادلې او د ښوونیزو/روزنیزو اړیکو د پراختیا لپاره ګټورې تمامې شي. په ځانګړې ډول د لوړو زده‌کړو په چاپېریال کې، د علمي ګروپونو، آنلاین درسي موادو او مسلکي شبکو له لارې د محصلینو د زده‌کړې او علمي همکارۍ فرصتونه پراخېدای شي.

د دې علمي موندنو ترځنګ، د اسلام له نظره هم د ټولنیزو رسنیو د سالم استعمال لپاره مهم اخلاقي اصول موندل کېږي. که څه هم قرآن کریم او سنت د معاصرو ټولنیزو رسنیو په اړه مستقیم حکم نه وړاندې کوي، خو د وخت د ارزښت، د معلوماتو د تصدیق، د مسؤولانه خبرو او له زیان رسوونکي چلند څخه د ډډې اصول په ډیجیټلي چاپېریال کې د تطبیق وړ دي. رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ»؛ یعنې: «دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک پکې زیان کوي: روغتیا او وزګار وخت» (صحيح البخاري، حدیث ٦٤١٢). دا حدیث د وخت د مدیریت او د بې‌ځایه استعمال د مخنیوي اهمیت څرګندوي، چې د محصلینو لپاره په ځانګړې ډول مهم دی.

همدارنګه، قرآن کریم فرمایي: «إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا» (الحجرات: ٦)، یعنې که کوم خبر درته راشي، نو تحقیق او تصدیق یې وکړئ. دا اصل په ټولنیزو رسنیو کې د ناسم خبر، اوازې او بې‌اساسه معلوماتو د نه خپرولو لپاره مهم بنسټ جوړوي. قرآن کریم همدارنګه فرمایي: «وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا» (الأحزاب: ٧٠)، چې د سمې او مسؤولانه خبرې کولو لارښوونه کوي. له دې امله، سپکاوی، توهین، دروغ، تمسخر او د نورو ځورول، که په حضوري او که په آنلاین چاپېریال کې وي، د اسلامي اخلاقو له اصولو سره سازګار نه دي.

له بلې خوا، قرآن کریم په سورة الإسراء، آیت ٣٦ کې فرمایي: «وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ»؛ یعنې د هغه څه پیروي مه کوئ چې پرې علم نه لرئ. دا اصل محصلینو ته د ټولنیزو رسنیو د معلوماتو په اړه د انتقادي فکر،

تحقیق او احتیاط اهمیت څرګندوي. همدارنګه د سورة النور په ۳۰ آیت کې د سترګو د ساتنې لارښوونه شوې ده، چې په معاصر ډیجیټلي چاپېریال کې د نامناسبو انځورونو او ویډیوګانو څخه د ځان ساتنې له اصل سره تړاو موندلی شي.

په دې اساس، بنسټیز بحث دا نه دی چې ټولنیزې رسنۍ ذاتاً مثبتې یا منفي دي، بلکې مهمه پوښتنه دا ده چې څنګه، څومره، د څه لپاره او د کومې محتوا په اساس کارول کېږي. د علمي شواهدو او اسلامي اخلاقي اصولو ګډ تحلیل څرګندوي چې متوازن، هدفمند او مسؤولانه استعمال کولای شي د زده‌کړې، اړیکو او ټولنیز ملاتړ لپاره مثبت فرصتونه برابر کړي؛ په داسې حال کې چې نامحدود، بې‌هدفه او غیرمسؤولانه استعمال د رواني، تحصیلي، ټولنیزو او اخلاقي ستونزو خطر زیاتولای شي.

پایله

دا مروري مطالعه څرګندوي چې ټولنیزې رسنۍ د محصلینو پر ذهني روغتیا ژور، څو اړخیز او دوه‌اړخیز اغېز لري. له یوې خوا، د دغو ډیجیټلي پلیټفارمونو بې‌کنټروله، اوږدمهاله او غیرهدفمند استعمال د اضطراب، خپګان، په ځان د کم باوري، د خوب د ګډوډۍ، سایبري ځورونې او آنلاین اعتیاد له زیاتوالي سره تړاو لري. دغه اغېزې نه یوازې د فرد پر رواني حالت اغېز کوي، بلکې د محصلینو پر تحصیلي فعالیت، ټولنیزو اړیکو او ورځنۍ ژوند هم منفي اغېز لرلای شي. له بلې خوا، ټولنیزې رسنۍ د معلوماتو د تبادلې، علمي همکارۍ، ټولنیز ملاتړ، مسلکي اړیکو او رواني پوهاوي لپاره ارزښتناک فرصتونه وړاندې کوي. په ځانګړې ډول د زده‌کړې په معاصر نظام کې دا پلیټفارمونه کولای شي علمي سرچینو ته د لاسرسي، آنلاین زده‌کړو او تعلیمي همکاریو د پراختیا وسیله وګرځي. له همدې امله، د ټولنیزو رسنیو اغېزې مطلقې نه دي، بلکې د استعمال پر شدت، موخې، محتوا، د فرد پر رواني ځانګړتیاوو او ټولنیز ـ فرهنګي چاپېریال پورې تړاو لري.

د اسلام له نظره، ټولنیزې رسنۍ په خپل ذات کې د مثبت یا منفي حکم موضوعات نه دي؛ بلکې د استعمال هدف، محتوا، اندازه، طریقه او پایله د ارزونې مهم معیارونه دي. د قرآن کریم د معلوماتو د تصدیق لارښوونه (الحجرات: ٦)، د بې‌علمه معلوماتو له تعقیب څخه منع (الإسراء: ٣٦)، د مسؤولانه خبرو امر (الأحزاب: ٧٠) او د سترګو د ساتنې لارښوونه (النور: ٣٠) د سالم ډیجیټلي چلند لپاره مهم اسلامي اصول وړاندې کوي. همدارنګه د رسول الله ﷺ حدیث چې روغتیا او وزګار وخت د انسان له مهمو نعمتونو څخه ګڼي (صحیح البخاري، ٦٤١٢)، د وخت د سم مدیریت او له بې‌ځایه استعمال څخه د ډډې اهمیت څرګندوي.

په پای کې ویلای شو چې د سالم او متوازن ډیجیټلي چلند رامنځته کول کولای شي ټولنیزې رسنۍ له احتمالي رواني خطر څخه د زده‌کړې، اړیکو، ټولنیز ملاتړ او پرمختګ په یوه مؤثر فرصت بدلې کړي. د دې لپاره د محصلینو د ډیجیټلي سواد لوړول، د وخت مدیریت، د سالم استعمال عادتونه، د نامناسبې محتوا څخه ځان ساتنه او د معلوماتو د تصدیق فرهنګ اړین دی. همدارنګه، تعلیمي اداري، کورنۍ او د رواني روغتیا اړوند بنسټونه باید د محصلینو د ذهني روغتیا او سالم ډیجیټلي ژوند د ملاتړ لپاره ګډ او منظم اقدامات وکړي. په دې توګه، د معاصرې ټکنالوژۍ له فرصتونو څخه ګټه اخیستل او په عین وخت کې د اسلامي، اخلاقي او رواني ارزښتونو ساتنه په متوازن ډول ممکنه ده.

وړاندیزونه

۱. محصلین باید د ټولنیزو رسنیو لپاره مناسب ورځنی وخت وټاکي او له بې‌هدفه استعمال څخه ډډه وکړي.
۲. پوهنتونونه باید د محصلینو لپاره د ذهني روغتیا مشورتي مرکزونه او د ډیجیټلي سواد پروګرامونه پیاوړي کړي.
۳. کورنۍ باید د ځوانانو د آنلاین فعالیتونو په اړه مثبت او متوازن نظارت ولري.
۴. د سایبري ځوروني د مخنیوي لپاره تعلیمي او قانوني اقدامات پیاوړي شي.
۵. محصلین باید منظم خوب، فزیکي فعالیت او حضوري ټولنیزو اړیکو ته پاملرنه وکړي.
٦. د اسلامي لارښوونو له مخې باید د ټولنیزو رسنیو په استعمال کې اعتدال، د وخت ساتنه، د معلوماتو تصدیق او له نامناسبې محتوا څخه ډډه مراعات شي.
۷. مسؤلې تعلیمي او ټولنیزې اداري باید د سالم او مسؤولانه ډیجیټلي ژوند فرهنګ ته وده ورکړي.

د راتلونکو څېړنو لپاره وړاندیزونه

۱. په افغانستان او نورو پرمختیایي هېوادونو کې دې د محصلینو پر ذهني روغتیا د ټولنیزو رسنیو اغېزې وڅېړل شي.
۲. د جنسیت، عمر او ټولنیز ـ فرهنګي شرایطو له مخې دې د دغو اغېزو توپیرونه وارزول شي.
۳. د **TikTok** او د مصنوعي ځیرکتیا پر بنسټ الګوریتمونو رواني اغېزې دې وڅېړل شي.
٤. د ټولنیزو رسنیو د اوږدمهاله استعمال رواني او ادراکي اغېزې دې د اوږدمهالو څېړنو له لارې وارزول شي.

The Effects of Social Media on Students Mental Health

Senior Teaching Assistant, Dr. Ehsanullah Ehsan. Sheikh Zayed University, Faculty of Education, Department of general Education

Email: ehsanwardak100@gmail.com

Abstract

Social media is one of the important digital phenomena of the modern world and has a significant impact on the psychological, social, and academic lives of students. The widespread use of Facebook, Instagram, TikTok, Snapchat, WhatsApp, and X (Twitter) has created new ways of communication, information sharing, academic interaction, and learning; however, excessive and unbalanced use is associated with anxiety, depression, low self-esteem, social isolation, sleep disturbances, and online addiction. The aim of this review article is to scientifically and analytically assess the relationship between social media and students' mental health. The article is based on academic journals, reports, and studies published between 2010 and 2025. The findings indicate that excessive and purposeless use of social media is associated with increased psychological stress and academic difficulties, while balanced and purposeful use provides opportunities for academic collaboration, social support, and access to information. From an Islamic perspective, the principles of valuing time, verifying information, responsible speech, and refraining from harmful behavior provide important guidance for healthy digital use. Finally, the article presents recommendations for strengthening healthy digital living, digital literacy, psychological support, and responsible online behavior.

Keywords

Anxiety, digital life, depression, mental health, online addiction, psychological stress, social media

اخځلیکونه

قرآن کریم، سورة الحجرات، آیت ٦ — د خبر د تحقیق او تصدیق اصل.
قرآن کریم، سورة الإسراء، آیت ٣٦ — د بې‌علمه معلوماتو د تعقیب څخه منع.
قرآن کریم، سورة الأحزاب، آیت ٧٠ — د سمې او رښتینې خبرې کولو لارښوونه.
قرآن کریم، سورة النور، آیت ٣٠ — د سترګو د ساتنې لارښوونه.
البخاري، محمد بن إسماعیل. صحیح البخاري، کتاب الرقاق، حدیث ٦٤١٢ — د روغتیا او وخت د ارزښت په اړه.
مسلم بن الحجاج. صحیح مسلم، کتاب الإیمان، حدیث ٤٠ — د نورو د ژبې او لاس له ضرر څخه د خوندي ساتلو په اړه.

Andreassen, C. S. (2015). Online social network site addiction: A comprehensive review. *Current Addiction Reports, 2*(2), 175–184. https://doi.org/10.1007/s40429-015-0056-9

Best, P., Manktelow, R., & Taylor, B. (2014). *Online communication, social media and adolescent wellbeing: A systematic narrative review*. *Children and Youth Services Review, 41*, 27–36. https://doi.org/10.1016/j.childyouth.2014.03.001

Beck, A. T. (1976). *Cognitive therapy and the emotional disorders*. International Universities Press.

Betancourt, T. S., Meyers-Ohki, S. E., Charrow, A., & Hansen, N. (2015). Annual research review: Mental health and resilience in HIV/AIDS-affected children – A review of the literature and recommendations for future research. *Journal of Child Psychology and Psychiatry, 54*(4), 423–444. https://doi.org/10.1111/jcpp.12063

Chou, H. T. G., & Edge, N. (2012). "They are happier and having better lives than I am": The impact of using Facebook on perceptions of others' lives. *Cyberpsychology, Behavior, and Social Networking, 15*(2), 117–121. https://doi.org/10.1089/cyber.2011.0324

Dhawan, S. (2020). Online learning: A panacea in the time of COVID-19 crisis. *Journal of Educational Technology Systems, 49*(1), 5–22. https://doi.org/10.1177/0047239520934018

Festinger, L. (1954). A theory of social comparison processes. *Human Relations*, 7(2), 117–140. https://doi.org/10.1177/001872675400700202

Greenhow, C., & Lewin, C. (2016). Social media and education: Reconceptualizing the boundaries of formal and informal learning. *Learning, Media and Technology, 41*(1), 6–30. https://doi.org/10.1080/17439884.2015.1064954

Gao, J., Zheng, P., Jia, Y., Chen, H., Mao, Y., Chen, S., Wang, Y., Fu, H., & Dai, J. (2020). Mental health problems and social media exposure during COVID-19 outbreak. *PLOS ONE, 15*(4), e0231924. https://doi.org/10.1371/journal.pone.0231924

Hofstede. G (2001). *Culture's consequences: Comparing values, behaviors, institutions and organizations across nations* (2nd ed.). Sage Publications.

Triandis. H. C. (1995). *Individualism and collectivism*. Westview Press.

Hamm, M. P., Newton, A. S., Chisholm, A., et al. (2015). Prevalence and effect of cyberbullying on children and young people: A scoping review of social media studies. *JAMA Pediatrics, 169*(8), 770–777. https://doi.org/10.1001/jamapediatrics.2015.0944

Junco, R. (2012). The relationship between frequency of Facebook use, participation in Facebook activities, and student engagement. *Computers & Education, 58*(1), 162–171. https://doi.org/10.1016/j.compedu.2011.08.004

Kaplan, A. M., & Haenlein, M. (2010). Users of the world, unite! The challenges and opportunities of social media. *Business Horizons, 53*(1), 59–68. https://doi.org/10.1016/j.bushor.2009.09.003

Karpinski, A. C., Kirschner, P. A., Ozer, I., Mellott, J. A., & Ochwo, P. (2013). An exploration of social networking site use, multitasking, and academic performance. *Computers in Human Behavior, 29*(3), 1182–1192. https://doi.org/10.1016/j.chb.2012.10.011

Kirschner, P. A., & Karpinski, A. C. (2010). Facebook and academic performance. *Computers in Human Behavior, 26*(6), 1237–1245. https://doi.org/10.1016/j.chb.2010.03.024

Kuss, D. J., & Griffiths, M. D. (2011). Online social networking and addiction—A review of the psychological literature. *International Journal of Environmental Research and Public Health, 8*(9), 3528–3552. https://doi.org/10.3390/ijerph8093528

Katz, E., Blumler, J. G., & Gurevitch, M. (1973). Uses and gratifications research. *Public Opinion Quarterly*, 37(4), 509–523. https://doi.org/10.1086/268109

Keles, B., McCrae, N., & Grealish, A. (2020). A systematic review: The influence of social media on depression, anxiety and psychological distress in adolescents. *International Journal of Adolescence and Youth*, 25(1), 79–93. https://doi.org/10.1080/02673843.2019.1590851

Kowalski, R. M., Giumetti, G. W., Schroeder, A. N., & Lattanner, M. R. (2014). Bullying in the digital age: A critical review and meta-analysis of cyberbullying research among youth. *Psychological Bulletin, 140*(4), 1073–1137. https://doi.org/10.1037/a0035618

Levenson, J. C., Shensa, A., Sidani, J. E., Colditz, J. B., & Primack, B. A. (2016). The association between social media use and sleep disturbance among young adults. *Preventive Medicine, 85*, 36–41. https://doi.org/10.1016/j.ypmed.2016.01.001

Lin, L. Y., Sidani, J. E., Shensa, A., Radovic, A., Miller, E., Colditz, J. B., Hoffman, B. L., Giles, L. M., & Primack, B. A. (2016). Association between social media use and depression among U.S. young adults. *Depression and Anxiety, 33*(4), 323–331. https://doi.org/10.1002/da.22466

Meshi, D., Tamir, D. I., & Heekeren, H. R. (2015). The emerging neuroscience of social media. *Trends in Cognitive Sciences, 19*(12), 771–782. https://doi.org/10.1016/j.tics.2015.09.004

Montag, C., & Diefenbach, S. (2018). Towards Homo Digitalis: Important research issues for psychology and the neurosciences at the dawn of the Internet of Things and the digital society. *Sustainability, 10*(2), 415. https://doi.org/10.3390/su10020415

Naslund, J. A., Aschbrenner, K. A., Marsch, L. A., & Bartels, S. J. (2016). The future of mental health care: Peer-to-peer support and social media. *Epidemiology and Psychiatric Sciences, 25*(2), 113–122. https://doi.org/10.1017/S2045796015001067

Ophir, E., Nass, C., & Wagner, A. D. (2009). Cognitive control in media multitaskers. *Proceedings of the National Academy of Sciences, 106*(37), 15583–15587. https://doi.org/10.1073/pnas.0903620106

Przybylski, A. K., Murayama, K., DeHaan, C. R., & Gladwell, V. (2013). Motivational, emotional, and behavioral correlates of fear of missing out. *Computers in Human Behavior*, 29(4), 1841–1848. https://doi.org/10.1016/j.chb.2013.02.014

Patchin, J. W., & Hinduja, S. (2015). Measuring cyberbullying: Implications for research. *Aggression and Violent Behavior, 23*, 69–74. https://doi.org/10.1016/j.avb.2015.05.013

Pempek, T. A., Yermolayeva, Y. A., & Calvert, S. L. (2009). College students' social networking experiences on Facebook. *Journal of Applied Developmental Psychology, 30*(3), 227–238. https://doi.org/10.1016/j.appdev.2008.12.010

Rosen, L. D., Carrier, L. M., & Cheever, N. A. (2013). Facebook and texting made me do it: Media-induced task-switching while studying. *Computers in Human Behavior, 29*(3), 948–958. https://doi.org/10.1016/j.chb.2012.12.001

Rideout, V., & Fox, S. (2018). *Digital health practices, social media use, and mental well-being among teens and young adults in the U.S.: A national survey sponsored by Hopelab and Well Being Trust*. Hopelab & Well Being Trust.

Robinson, J., Cox, G., Bailey, E., Hetrick, S., Rodrigues, M., Fisher, S., & Herrman, H. (2016). Social media and suicide prevention: A systematic review. *Early Intervention in Psychiatry, 10*(2), 103–121. https://doi.org/10.1111/eip.12229

Sweller, J. (1988). Cognitive load during problem solving: Effects on learning. *Cognitive Science, 12*(2), 257–285. https://doi.org/10.1207/s15516709cog1202_4

Twenge, J. M., & Campbell, W. K. (2018). Screen time and psychological well-being. *Preventive Medicine Reports, 12*, 271–283. https://doi.org/10.1016/j.pmedr.2018.10.003

Turel, O., & Bechara, A. (2016). Social networking site use while driving: ADHD and the mediating roles of stress, self-esteem and craving. *Frontiers in Psychology, 7*, 455. https://doi.org/10.3389/fpsyg.2016.00455

Tess, P. A. (2013). The role of social media in higher education classes (real and virtual) – A literature review. *Computers in Human Behavior, 29*(5), A60–A68. https://doi.org/10.1016/j.chb.2012.12.032

Vannucci, A., Flannery, K. M., & Ohannessian, C. M. (2017). Social media use and anxiety in emerging adults. *Journal of Affective Disorders, 207*, 163–166. https://doi.org/10.1016/j.jad.2016.08.040

Vogel, E. A., Rose, J. P., Roberts, L. R., & Eckles, K. (2014). Social comparison, social media, and self-esteem. *Psychology of Popular Media Culture*, 3(4), 206–222. https://doi.org/10.1037/ppm0000047

Whiting, A., & Williams, D. (2013). Why people use social media: A uses and gratifications approach. Qualitative Market Research: *An International Journal*, 16(4), 362–369. https://doi.org/10.1108/QMR-06-2013-0041

World Health Organization. (2021). *Mental health and COVID-19*. https://www.who.int/news-room/fact-sheets/detail/mental-health-strengthening-our-response

World Health Organization. (2022). *Mental health: Strengthening our response*. https://www.who.int/news-room/fact-sheets/detail/mental-health-strengthening-our-response

Woods, H. C., & Scott, H. (2016). #Sleepyteens: Social media use in adolescence is associated with poor sleep quality, anxiety, depression and low self-esteem. *Journal of Adolescence, 51*, 41–49. https://doi.org/10.1016/j.adolescence.2016.05.008

په افغانستان کې د ډالرې اقتصاد ستونزې او تشویشونه: لاملونه، اغېزې، او د کمولو لپاره یې عملي تګلارې

پوهنمل ګل ولي محمدزی ، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي او بانکي څانګه.
بریښنالیک : gulwali.szu@gmail.com
پوهنیار شفیع الله سلطانزی ، ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، ملي اقتصاد څانګه.
بریښنالیک : Shafiullah_sultanzai@yahoo.com

لنډیز

ډالرې کېدل (Dollarization) په افغانستان کې د مالي ننګونو له جملې څخه یوه مهمه ننګونه شمېرل کیږي، چې د پیسو سیاست اغیزمنتوب او مالي ثبات اغیزمن کوي. دا څېړنه په افغانستان کې د ډالرې کېدو عمده لاملونه، اقتصادي پایلې او عملي ستراتیژۍ په بر کې نیسي، چې د کتابتوني تحقیق پر بنسټ تر سره کیږي، او د افغانستان بانک، IMF، نړیوال بانک او اړونده اکاډمیکو ادارو معلومات او راپورونه راټول او تحلیلوي. موندنې ښیي چې په مالي معاملاتو، سپما او د قیمتونو په اړه پریکړو کې د بهرنیو اسعارو پراخه کارول د اوږدمهاله سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ، دوامداره لوړ انفلاسیون، په ملي اسعارو باندې د باور کموالي، د بانکدارۍ سکتور کې ستونزو، پراخه غیر رسمي مالي بازارونو او په وارداتو او بهرنیو مرستو باندې د زیات انحصار له امله رامینځته کیږي. که څه هم ډالرې کیدل د لنډمهاله ثبات سره مرسته کړې او نړیوال تجارت یې اسانه کړی خو تر څنګ یې جدي اوږدمهاله ستونزې هم رامینځته کړې، د پولې پالیسۍ لږه خپلواکي، د سینیوریج عوایدو له لاسه ورکول، د تبادلې نرخ مدیریت محدود اغیزمنتوب او د کورني مالي سکتور په پراختیا باندې یې محدودیتونه رامنځ ته کړي. په افغانستان کې د بهرنیو اسعارو د امانتونو کچه ٪۶۵ دی، چې د بالینو د معیار (٪۳۰) له مخې افغانستان د یو بشپړ ډالرې شوي اقتصاد په توګه ډلبندي کوي. پایلې ښایي چې د ډالرې کولو تدریجي کمښت د لوی اقتصادي ثبات په پیاوړتیا، په افغانیو د خلکو باور لوړولو او د بانکي خدماتو په ښه کولو باندې مثبت تاثیر لري. دا څېړنه د پالیسۍ جوړونکو لپاره عملي سپارښتنې وړاندې کوي چې د ملي اسعارو رول پیاوړی کړي او په افغانستان کې دوامداره اقتصادي پراختیا رامنځ ته کړي.

کلیدي کلمې : افغانستان، ډالرې کېدنه، د بهرنیو اسعارو امانتونه، پیسو سیاست، غیر رسمي تبادلې بازارونه، مرکزي بانک.

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین، وعلی آله وأصحابه أجمعین.

أما بعد! **فقدقال الله تعالی:﴿ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴾** (سورة النساء: ۵)

ژباړه: او مه ورکوئ(مه سپارئ) تاسې! بې عقلانو ته مالونه خپل هغه چې ګرځولي دي الله لپاره ستاسې سبب د ګزران، او روزي ورکوئ دوی ته په دې مالونو کې، او جامې ورکوئ دوی ته، او ووایئ دوی ته خبره معروفه(نېلکه، خوږه،پسته، معقوله). (کابلی تفسیر: صفحه ۴۵۳)

په معاصر نړیوال اقتصاد کې امریکایي ډالر د حوالې، تبادلې، او شتمنۍ د ساتنې تر ټولو مهمه وسیله ګرځېدلې ده. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ۱۹۴۴ کال د بریټن وودز ترون له مخې ډالر د نړیوالو تبادلو بنسټیز واحد وګرځول شو. که څه هم نن ورځ یورو، ین، پونډ او نور اسعار هم شتون لري، خو ډالر لا هم په نړیوالو راکړو ورکړو کې تر ټولو زیات استعمالېږي. نږدې ۶۰٪ نړیواله سوداګري او ۸۸٪ د اسعارو تبادلې په ډالرو ترسره کېږي. دا وضعیت ښیي چې ډالر یوازې یوه پولي وسیله نه ده، بلکې د نړیوال اقتصادي نظام یوه مهمه سیاسي او ستراتیژیکه ستنه ده. ډېرې هېوادونه، په ځانګړې توګه هغه چې له سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ سره مخ دي، په رسمي، نیمه رسمي یا غیر رسمي توګه ډالر کاروي.

رسمي ډالري کول هغه وخت کېږي چې یو هېواد قانوناً د بل هیواد کرنسي د خپلې رسمي کرنسۍ په توګه ومني او خپله ملي پیسه غیرقابل د استفادې وګرځوي (لکه اکوادور او اېل سلوادور).

نیمه رسمي ډالري کول هغه وخت کېږي چې دواړه ملي او بهرني اسعار قانوني منل شوي وي (لکه لبنان او کمبودیا). غیر رسمي ډالري کول هغه وخت کېږي چې قانوني اجازه نشته، خو خلک د بې باورۍ، لوړ انفلاسیون، یا بهرنیو تادیاتو د اسانتیا لپاره په عملي توګه ډالر کاروي چې افغانستان د همدې وروستي ډول یوه روښانه بېلګه ده.

افغانستان د هغو هېوادونو له جملې څخه دی چې له څو لسیزو راهیسې د جګړو، ضعیفو مالي بنسټونو، د داخلي تولید کمښت، د کافي زېرمو د نشتوالي او د افغانۍ پر وړاندې د باور د کموالي له امله د ډالري اقتصاد په لور تللی دی. دا پدیده د ملي حاکمیت، پولي خپلواکۍ او د بیو د اوږدمهاله ثبات لپاره یو جدي ګواښ ګڼل کېږي. سره له دې چې د ډالري کېدو په اړه ګڼ شمېر نړیوالې څېړنې ترسره شوې دي، خو د افغانستان په اړه موجودې څېړنې

تر ډېره د ډالري کېدو پر عمومي لاملونو او اغېزو متمرکزې دي. د جمهوري نظام (۲۰۰۱- ۲۰۲۱) او اسلامي امارت (۲۰۲۱- تر اوسه) دورو ترمنځ د ډالري کېدو د وضعیت پرتلیزه ارزونه، او همدارنګه د ډالري کېدو د کمولو لپاره د عملي پالیسو تحلیل په کافي اندازه نه دی ترسره شوی. له همدې امله دا څېړنه هڅه کوي چې دغه علمي تشه ډکه کړي او د افغانستان لپاره د شواهدو پر بنسټ عملي تګلارې وړاندې کړي.

د څېړنې ستونزه

په افغانستان کې د ډالري اقتصاد کچه په ټېرو دوو لسیزو کې د پام وړ لوړه شوې ده. د افغانستان بانک د ۱۴۰۲ کال د شپږ میاشتني رسمي راپور له مخې د بهرنیو اسعاري امانتونو نسبت ټولو بانکي امانتونو ته ٦٥٪ دی. دا شمېره د نړیوالو منل شویو معیارونو (۳۰٪) څخه دوه برابره زیاته ده. که چېرې هغه نغدي ډالر هم په پام کې ونیول شي چې د بانکي نظام څخه بهر ساتل کېږي، نو دا نسبت په اسانۍ سره ۸۰٪ یا حتی له هغې څخه لوړ حد ته رسېږي. دا پدیده په واضح ډول د لاندې جدي ستونزو لامل شوې ده:

۱ .د مرکزي بانک د پولي سیاستونو د تطبیق وړتیا له لاسه ورکول – کله چې د پورونو او امانتونو اکثریت په ډالرو وي، نو د سود نرخ بدلون د پور اخیستو او پانګونې پر پریکړو لږ اغېز کوي.

۲ .د افغانۍ ارزښت دوامداره کمزوري کېدل – د ډالر په مقابل کې افغانۍ د اسلامي امارت په بیا ځلې واکمنیدو سره په لومړیو دوو کلونو کې نږدې ۳۰٪ کمزورې شوې وه، خو خوشبختانه د راپورونو له مخې په تیر یو کال کې د سیمې په کچه د باثباته کرنسیو په ډله کې راځي.

۳ .د بهرنیو اقتصادي شاکونو سره حساسیت –لکه د امریکا د فدرال ریزرو بانک د سود نرخ بدلون چې سمدستي په افغانستان کې د ډالر کموالی او د وارداتي توکو د بیو لوړوالی رامنځته کوي.

۴ .د پانګې بهر ته تېښته (Capital Flight) – شتمن خلک خپلې سپماوې له افغانستان څخه د متحده ایالاتو، ترکیې، یا اروپایي بانکونو ته لېږدوي.

۵ .د ملي حاکمیت د یو مهم عنصر کمزوري کېدل – ځکه چې خپله پیسه د یو هېواد د حاکمیت یوه له مهمو نښو څخه ده.

٦ .د غیر رسمي اقتصاد وده – هغه معاملې چې په ډالرو ترسره کېږي، معمولاً له مالیاتي نظام څخه بهر پاتې کېږي . دا ستونزې یوازې اقتصادي نه دي، بلکې سیاسي، امنیتي، اجتماعي او کلتوري اړخونه هم لري. د مثال په توګه، کله چې خلک خپلې معاملې په بهرنیو اسعارو ترسره کوي، نو د خپل هېواد د پولي حاکمیت پر وړاندې د دوی رواني اړیکه کمزورې کېږي.

د څېړنې موخې

اصلي موخه

د افغانستان په اقتصاد کې د ډالري کولو د پديدې لاملونه، اغېزې او د کمولو لپاره عملي لارې چارې په يوه منظم، علمي او سيستماتيک ډول تحليل کول.

فرعي موخې:

۱ .د افغانستان د ډالري اقتصاد کچه په کمي او کيفي توګه اندازه کول.

۲ .د ډالري اقتصاد اصلي لاملونه د تاريخي، سياسي، اقتصادي او کلتوري اړخونو له مخې تحليلول.

۳ .د ډالري اقتصاد لنډمهاله او اوږدمهاله اغېزې په جلا توګه ارزول.

۴ .د نړيوالو هېوادونو تجربې له افغانستان سره پرتله کول.

۵ .د پخواني جمهوري نظام (۲۰۰۱- ۲۰۲۱) او اوسني اسلامي امارت (۲۰۲۱- تر اوسه) ترمنځ د ډالري کولو په برخه کې توپيرونه روښانه کول.

٦ .د ډالري اقتصاد کمولو لپاره د شواهدو پر بنسټ د عملي وړانديزونو وړاندې کول.

د څېړنې پوښتنې

۱ .د افغانستان د ډالري اقتصاد اوسنۍ کچه څومره ده، او په تېرو دوو لسيزو کې يې څنګه بدلون موندلی؟

۲ .هغه اصلي لاملونه کوم دي چې افغانستان يې د ډالري اقتصاد په لور بيولی دی؟

۳ .ډالري اقتصاد پر افغانستان بانک، د پولي سياستونو پر اغېزمنتوب، او د عامو خلکو په ورځني ژوند کومې اغېزې کړې دي؟

۴ .د پخواني جمهوري نظام او اوسني اسلامي امارت ترمنځ د ډالري کولو په برخه کې کوم مهم توپيرونه شتون لري؟

۵ .د ډالري اقتصاد کمولو لپاره د کومو عملي تګلارو څخه کار اخيستل کېدای شي؟

تيرو اثارو ته کتنه

د ډالري اقتصاد اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۰مو کلونو کې د لاتين امريکا د هېوادونو (لکه ارجنټاين، ميکسيکو، پيرو، بوليويا) د اقتصادي بحرانونو په ترڅ کې وکارول شوه. بالينو او نورو (Balino, Bennett & Borensztein, 1999) د ډالري اقتصاد لپاره يو کمي معيار وړاندې کړ، هغه دا چې : که د يو هېواد بهرني اسعاري امانتونه د مجموعي بانکي امانتونو له ٪۳۰ څخه زيات وي، نو هغه هېواد د ډالري اقتصاد لرونکی دی.

Ize & Levy-Yeyati (2003) د مالي ډالري کولو (Financial Dollarization) مفهوم معرفي کړ چې د بانکي سیستم له لارې د ډالرو جریان اندازه کوي. دوی استدلال کوي چې مالي ډالري کول د پیسو د بدیل (Currency Substitution)څخه جلا دی. د پیسو بدیل هغه وخت کېږي چې خلک ډالر د منځني تبادلې په توګه کاروي، په داسې حال کې چې مالي ډالري کول د شتمنی د ساتنې لپاره د ډالر کارول دي.

په علمي اثارو کې د ډالري اقتصاد درې اصلي ډولونه ذکر شوي دي (Berg & Borensztein, 2000; Edwards, 2001) :

۱ .رسمي ډالري اقتصاد (Official Dollarization) : هېواد په رسمي توګه ډالر د خپل یوازیني قانوني سعر په توګه مني او خپله ملي پیسه له منځه وړي. بېلګې: اکوادور (۲۰۰۰)، اېل سلوادور (۲۰۰۱)، زمبابوې (۲۰۰۹-۲۰۱۴). ګټه یې د انفلاسیون له منځه وړل دي، خو زیان یې د خپلواک پولي سیاست له لاسه ورکول دي.

۲ .نیمه رسمي ډالري اقتصاد (Semi-Official Dollarization): دواړه ملي او بهرني اسعار په قانوني توګه منل شوي وي. بېلګې: کمبودیا، لبنان، کرویشیا، پیرو (په ۱۹۹۰مو کلونو کې).

۳ .غیر رسمي ډالري اقتصاد (Unofficial Dollarization): قانوني اجازه نشته، خو خلک د بې ثباتی، لوړ انفلاسیون، او د ملي اسعارو پر وړاندې د باور د کموالي له امله په عمل کې ډالر کاروي. بېلګې: افغانستان، ارجنټاین (ځینې دورې)، ترکیې (ځینې دورې)، بولیویا (۱۹۸۰مه لسیزه).

د نړیوالو تجربو له مخې، ډالري اقتصاد لاندې لاملونه لري:

لامل	توضیح
د ملي اسعارو پر وړاندې د باور کمښت	خلک دې نتیجې ته رسېږي چې سبا به د دوی ملي پیسه کم ارزښت ولري
اوږدمهاله او لوړ انفلاسیون	هغه هېوادونه چې انفلاسیون یې کنټرول نه شي، خلک ډالر غوره کوي
سیاسي بې ثباتي	جګړې، کودتاګانې، او بې ثباته حکومتونه د باور د کمښت اصلي لاملونه دي
د تبادلې اسانتیا	که چېرې د ډالر اخیستل او پلورل اسانه وي، خلک به یې وکاروي
نړیوال تجارت	هغه هېوادونه چې په پراخه کچه واردات کوي، سوداګر یې ډالرو ته اړتیا لري
ضعیف بانکي سیستم	کله چې خلک باور ونلري چې بانکونه به د دوی سپماوې وساتي، نو نغدي ډالر غوره کوي

سرچینې: (Calvo & Vegh, 1992; Savastano, 1996)

د ډالري اقتصاد اغېزې

د لنډمهاله او اوږدمهاله اغېزو په اړه د اقتصــادپوهانو ترمنځ یو نســبي توافق شــتون لري (Edwards, 2001; Yeyati, 2006) :

لنډمهاله ګټې

- د انفلاسیون چټک کنټرول (په ځانګړې توګه په هایپر انفلاسیون کې)
- د بهرني تجارت اسانتیا (د تبادلې خطر کمېږي)
- د پانګې د فرار مخنیوی (خلک خپلې سپماوې په هېواد کې ساتي)
- د بهرنیو پانګوالو لنډمهالی باور ترلاسه کول

اوږدمهاله زیانونه

- د ملي اسعارو تدریجي کمزوري کېدل او له منځه تلل
- د مرکزي بانک د پولي کنټرول له لاسه ورکول (د سود نرخ، د پیسو عرضه، او د تبادلې نرخ کنټرول ناممکن کېږي)
- د مالیاتي عوایدو کمښت (د سیوریج یا د پیسو چاپ ګټه له لاسه ورکول)
- له بهرنیو شــاکونو سره زیات حســاســیت (د متحده ایالاتو پولي پالیسي ـ په مســتقیم ډول پر افغانستان اغېز کوي)
- د اخري مرجع په توګه د مرکزي بانک رول له لاســه ورکول (مرکزي بانک نشي ــ کولی په بحراني حالت کې ډالر چاپ کړي)

میتودولوژي

دا څېړنه د هدف له مخې تطبیقي (Applied Research) ده، ځکه چې هدف یې د یوې واقعي ستونزې (د ډالري اقتصاد) حل دی. د ماهیت له مخې کیفي (Qualitative Research) ده او د معلوماتو راټولولو له مخې کتابخانه یې (Library-based Research) ده. په دې کې د کمي شاخصونو (لکه د اسعاري امانتونو نسبت) د تحلیل لپاره ساده احصایوي توضیحات هم کارول شوي دي.

په دې څېړنه کې یوازې له دویمي معلوماتو (Secondary Data) څخه استفاده شوې ده. چې د بیلابیلو راپورونو، دولتي بانک اسنادو، کتابونو او مقالو څخه راټول شوي دي.

وخت ساحه :په ځانګړې توګه د ۱۳۸۰- ۱۴۰۲هـ.ش (۲۰۰۱- ۲۰۲۳م) کلونه، خو د تاریخي تحلیل لپاره ۱۳۷۰ (۱۹۹۱) ته هم تلل شوي دي.

ځای ساحه : ټول افغانستان، په ځانګړې توګه لوی ښارونه (کابل، هرات، کندهار، مزار شریف، جلال اباد) او سرحدي ولایتونه (ننګرهار، کندهار، هرات، نیمروز).

تحلیل او بحث

د افغانستان د ډالري اقتصاد کچه

لاندې جدول د تېرو ۸ کلونو اړوند ډاټا ښیي. دا ډاټا د افغانستان بانک له رسمي کلنیو راپورونو څخه ترلاسه شوې ده.

نسبت٪	بهرني اسعاري امانتونه (میلیونه افغانۍ)	ټول بانکي امانتونه (میلیونه افغانۍ)	کال (هـ.ش)
۴۵٪	۱۱۲,۵۰۰	۲۵۰,۰۰۰	۱۳۹۵
۵۰٪	۱۴۰,۰۰۰	۲۸۰,۰۰۰	۱۳۹۶
۵۴٪	۱۵۹,۳۰۰	۲۹۵,۰۰۰	۱۳۹۷
۵۵٪	۱۷۰,۵۰۰	۳۱۰,۰۰۰	۱۳۹۸
۵۶٪	۱۶۲,۴۰۰	۲۹۰,۰۰۰	۱۳۹۹
۵۹٪	۱۵۹,۳۰۰	۲۷۰,۰۰۰	۱۴۰۰
۶۲٪	۱۶۱,۲۰۰	۲۶۰,۰۰۰	۱۴۰۱
۶۵٪	۱۶۲,۵۰۰	۲۵۰,۰۰۰	۱۴۰۲

سرچینه: د افغانستان بانک، کلني راپورونه (۱۳۹۵- ۱۴۰۲)، د لیکوالانو محاسبه.

دا موندنه ښایي چې افغانستان یوازې یو څه ډالري اقتصاد نه دی، بلکې یو بشپړ ډالري اقتصاد ګڼل کېږي. د ۶۵٪ شمېره د بالینو له معیار (۳۰٪) څخه دوه برابره زیاته ده. که چېرې نغدي ډالر هم ورزیات کړو، نو ممکن دا نسبت ۸۰٪ یا تر هغې هم لوړ شي.

د دې روند یو مهم اړخ دا دی چې د ۱۳۹۵ څخه تر ۱۴۰۲ پورې، سره له دې چې ټول بانکي امانتونه ۲۵۰,۰۰۰ ملیونه افغانیو ته راټیټ شوي (د ۱۳۹۸ کال له ۳۱۰,۰۰۰ څخه)، خو بهرني اسعاري امانتونه تقریباً ثابت پاتې شوي دي. دا ښیي چې خلکو د خپلو سپماوو د ساتنې لپاره د افغانۍ پر ځای ډالر غوره کړي دي.

په افغانستان کې د ډالري اقتصاد لاملونه

په افغانستان کې د دې لوړې کچې اصلي لاملونه په لاندې ډول دي:

لومړی: اوږدمهاله سیاسي او امنیتي بې ثباتي – له ۱۹۷۸ راهیسې، افغانستان له جګړو، کودتا، شوروي اشغال، کورنۍ جګړې، او بهرني مداخلې سره مخ وو. په دغو ټولو دورو کې، هیڅ وخت افغانۍ په منظمه او دوامداره توګه خپل ارزښت او ثبات نه دی ساتلی. د نړیوال بانک (۲۰۲۳) یو راپور ښیي چې سیاسي بې ثباتي د اسعارو د بدیل تر ټولو قوي وړاندوینه کوونکی فکتور دی.

دوهم: د افغانۍ پر وړاندې د باور له منځه تګ – کله چې په ۱۹۹۰مو کلونو کې بېلابېلو وسله والو ډلو مختلف اسعار چاپ کړل او د افغانستان بانک مرکزي کنټرول له منځه لاړ، خلک دې نتیجې ته ورسېدل چې افغانۍ د باور وړ نه ده. که څه هم نن ورځ یوازې د افغانستان بانک پیسې چاپوي، خو د تېرې تاریخي تجربې حافظه لا هم پاتې ده.

دریم: لوړ انفلاسیون – په ۲۰۱۱- ۲۰۱۵ کلونو کې، د بهرنیو مرستو د جریان او د داخلي تولید د کمښت له امله، په افغانستان کې انفلاسیون ٪۲۰-۱۵ ته رسېدلی و، چې خلک یې دې ته اړ کړل چې خپلې شتمنۍ ډالرو ته بدلې کړي.

څلورم: غیر رسمي صرافي بازارونه – په کابل، هرات، کندهار، او جلال اباد کې ډېر غیر رسمي صرافي بازارونه شتون لري چې په ورځ کې لسګونه میلیونه ډالر تبادله کوي. د یادونې وړ ده چې دغه ستونزه د اسلامي امارت په بیا ځلې واکمنیدو سره تر ډېره بریده حل شوې ده.

پنځم: په وارداتو کلکه تکیه – افغانستان یوبشپړ وارداتي اقتصاد دی او د وارداتو په پرتله یې صادرات کم دي چې له همدې کبله د تجارت او تادیاتو منفي بیلانس (کسر) لري . د صنعت او سوداګرۍ وزارت د احصایو له مخې، نږدې ٪۸۰ توکي له بهر څخه راځي، او سوداګر اړ دي چې په ډالرو تادیه وکړي.

شپږم: ضعیف بانکي نظام – د ۲۰۱۰ کال د کابل بانک بحران (چې نږدې ۹۰۰ میلیونه ډالر یې له منځه یوړل) د افغانستان د بانکي نظام د اعتبار لباره یوه نه بخښونکی صدمه وه.

د جمهوري نظام او اسلامي امارت پرتله

دا برخه د دوه بېلابېلو سیاسي نظامونو ترمنځ توپیرونه څرګندوي.

معیار	د جمهوري نظام ۲۰۰۱- ۲۰۲۱	د اسلامي امارت (۲۰۲۱- تراوسه)
د سرحدي ولایتونو حالت	په پراخه کچه د پاکستاني کلدارې او ایراني تومان استعمال	په رسمي توګه یوازې افغانۍ، خو په عمل کې ډالر هم کارول کېږي
د امنیت وضعیت	نسبي امنیت خو په ځینو ولایتونو کې دوامداره جګړه	د امنیت په برخه کې بشپړ ښه والی
د ډالر کارولو کچه	٪۶۵ اسعاري امانتونه	لا تر اوسه د ٪۶۵ په شاوخوا کې اټکل

د افغانۍ ارزښت	نسبتاً باثباته (۵۵- ۶۵ افغانۍ یو ډالر)	تر ۲۰۲۴ کال پورې نږدې ۷۵ افغانۍ ته لوړ شو، مګر په تیر یو کال کې د سیمې په کچه یې ارزښت ساتلی
د صرافي بازارونه	غیر رسمي بازارونو شتون درلود، خو تر یوه حده کنټرول شوي	تقریبا په ټول افغانستان کې د اسلامي امارت تر کنټرول لاندې راغلي دي.
بهرنۍ مرستې	کلنۍ میلیاردونه ډالر بهرنیو مرستو جریان درلود	نږدې ټولې بهرنۍ مرستې ودرېدلې

سرچینه: (IMF (2024، World Bank (۲۰۲٤)، او د لیکوالانو تحلیل.

د نړیوالو تجربو سره پرتله

اوسنی وضعیت	اصلي لامل	د اسعاري امانتونو نسبت	د ډالرې کولو ډول	هېواد
رسمي ډالري (۲۰۰۹-۲۰۱۴)، خو اوس خپلې پیسې لري	لوړ انفلاسیون (هایپر انفلاسیون ۲۰۰۷- ۲۰۰۸)	+۸۰٪	غیر رسمي → رسمي	زمبابوې
د ۲۰۱۹ بحران وروسته بانکونو سقوط وکړ	سیاسي بې ثباتي، د ۲۰۱۹ بحران	۷۰٪	نیمه رسمي	لبنان
خو ځله یې هڅه کړې خو لا هم ډالر کارول کېږي	اوږدمهاله انفلاسیون (خو لسیزې)	۴۰٪	غیر رسمي	ارجنټاین
د ۲۰۲۲-۲۰۲۳ کلونو کې کچه لوړه شوه	د سود نرخ ټیټ ساتل، لوړ انفلاسیون	۳۵٪ په ۲۰۲۲ کې	غیر رسمي (دوراني)	ترکیې

جدول ۲: د افغانستان پرتله له نورو هېوادونو سره

د پولي سیاستونو پر تطبیق باندې د ډالرې کیدو تأثیرات

کله چې اقتصاد ډالرې شي، نو مرکزي بانک نور د پولي سیاستونو اغېزمن تطبیق نه شي کولای:

۱ .د سود نرخ (Interest Rate) کنټرول : په نورمال اقتصاد کې، مرکزي بانک د سود نرخ د لوړولو یا ټیټولو له لارې انفلاسیون کنټرولوي. خو په ډالرې اقتصاد کې، ډېر پورونه او معاملې په ډالرو ترسره کېږي. کله چې د افغانستان بانک د افغانۍ د ګټې نرخ لوړ کړي، د ډالرې پورونو په کچه باندې هیڅ اغېز نه کوي.

۲ .د تبادلې نرخ (Exchange Rate) مدیریت : د افغانستان بانک باید د ډالر او افغانۍ د تبادلې نرخ د ثبات لپاره مداخله وکړي، مګر د غیر رسمي صرافي بازارونو شتون، د ډالرو لپاره لوړه تقاضا، او له بلې خوا د افغانستان بانک محدودې زیرمې دا کار ستونزمن کوي.

۳ .د "Lender of Last Resort" رول : د مرکزي بانک یو له مهمو رولونو څخه دا دی چې په بحراني حالاتو کې بانکونو ته پیسې ورکړي. خو که چېرې خلک په یو بحراني حالت کې ډالر غواړي، نو افغانستان بانک نشي کولی ډالر چاپ کړي.

موندنې

د دې څېړنې له مخې، لاندې ۹ مهمې موندنې ترلاسه شوې:

۱ .**د ډالرو کچه خورا لوړه ده** – د اسعاري امانتونو نسبت ٪۶۵ دی، چې د بالینو له معیار (٪۳۰) سره سم، افغانستان یو بشپړ ډالري اقتصاد ګڼل کېږي.

۲ .**تاریخي ریښې ژورې دي** – د ډالري اقتصاد ریښې د ۱۹۹۰مو کلونو کورنۍ جګړې ته رسېږي، کله چې بېلابېلو جهادي ډلو او بېلا بیلو تنظیمونو خپلې پیسې چاپ کړې او خلکو په افغانۍ باور له لاسه ورکړ.

۳ .**سیاسي بې ثباتي تر ټولو لوی لامل دی** – د نورو ډېرو لاملونو ترڅنګ، اوږدمهاله جګړه او بې ثباتي (له ۱۹۷۸ راهیسې) د ډالري اقتصاد تر ټولو لوی لامل دی.

۴ .**د جمهوري نظام او اسلامي امارت ترمنځ مهم توپیر شتون لري** – د جمهوري نظام پر مهال په سرحدي ولایتونو کې د ډالرو، پاکستاني روپۍ، او ایراني ریالو استعمال پراخ وو. د وروستیو راپورونو له مخې د غیر رسمي اسعارو د کارونې کچه د پخوا په پرتله راکمه شوې ده.

۵ .**د باور بحران لاهم حل شوی نه دی** – د افغانۍ پر وړاندې د خلکو باور کم شوی دی. تر هغه چې دا باور بېرته نه وي رغول شوی، د ډالري اقتصاد کمول ستونزمن دي.

٦ .**افغانستان د بهرنیو شاکونو یرغمل دی** – په ۲۰۲۲ کې، کله چې متحده ایالاتو د خپل سود نرخ لوړ کړ، ډالر په ټوله نړۍ کې قوي شو او افغانۍ کمزورې شوه مګر دغه د ارزښت کموالی دوامدار نه وه او اوس الحمدالله د سیمې په کچه د باثباته کرنسیو په ډله کې راځي.

۷ .**غیر رسمي صرافي بازارونه لوی خندې دی** – په کابل، هرات، کندهار، او جلال اباد کې د غیر رسمي صرافي بازارونو شتون ډالرو ته د لاسرسي اسانتیا ډېره کړې ده. خوشبختانه دا ستونزه د اسلامي امارت په راتلو سره تر ډېره بریده راکمه شوې ده.

۸ .**د کابل بانک بحران لا هم په یاد دی** –که څه هم ۱۴ کاله تېر شوي، خو د کابل بانک بحران د افغانستان بانکي نظام د اعتبار لپاره یوه نه بخښونکي صدمه وه.

پایله

ډالري اقتصاد په افغانستان کې یوه نوې پدیده نه ده. دې د ۱۹۹۰مو کلونو راهیسې په تدریجي ډول وده کړې، او نن سبا مور د اسعاري امانتونو د ٦٥٪ نسبت سره مخ یو. دا پدیده د لنډ مهال لپاره نسبي ثبات او د انفلاسیون مخنیوی کوي. خو، په اوږد مهال کې، یې د افغانی ارزښت کمزوری کړی، د مرکزي بانک اغېزمنتیا یې راتیټه کړې، ملي حاکمیت یې کمزوری کړی، او هېواد یې د بهرنیو اقتصادي فشارونو په وړاندې حساس کړی دی.

پایله داده چې: د ملي خپلواکۍ، اقتصادي حاکمیت، او د اوږدمهاله پرمختګ لپاره، د ډالري کولو کچه راتیټول یوه جدي اړتیا ده. خو دا کار په سمدستي ډول نه کېږي. دا یوه اوږدمهاله پروسه ده چې لږ تر لږه ۵- ۱۰ کاله دوامداره هڅو، قوي پولي سیاستونو، د داخلي تولید زیاتوالي، د بانکي نظام پیاوړتیا، د غیر رسمي صرافي بازارونو کنټرول، او عامه پوهاوي ته اړتیا لري.

د څېړنې محدودیتونه

دا څېړنه له ځینو محدودیتونو سره مخ وه:

۱. څېړنه یوازې د ثانوي معلوماتو (Secondary Data) پر بنسټ ترسره شوې او میداني سروې پکې نه ده شامله.

۲. د افغانستان د ټولو ولایتونو او اقتصادي سکتورونو اړوند جلا احصایوي معلوماتو ته لاسرسی محدود و.

۳. د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ کلونو بشپړ اقتصادي معلومات د څېړنې پر مهال نه وو خپاره شوي.

۴. د ډالري کېدو په اړه د کورنیو، سوداګرو او مالي بنسټونو د نظرونو د معلومولو لپاره میداني معلومات نه دي راټول شوي.

له همدې امله د راتلونکو څېړنو لپاره د سروې، مرکو او احصایوي اقتصادسنجۍ کارول سپارښتنه کېږي.

وړاندیزونه (Recommendations)

د موندنو او پایلو پر بنسټ عملي او د شواهدو پر بنسټ لاندې وړاندیزونه وړاندې کېږي:

۱ . د افغانۍ د ارزښت ثبات : افغانستان بانک دې د بهرنیو اسعارو ذخیرې پیاوړې کړي او په خلاص بازار کې دې د افغانۍ د ارزښت د ساتلو لپاره مداخله وکړي.

۲ . په افغانیو د معاملو هڅونه : د دولت ټول قراردادونه، معاشونه، کرایې، او خدماتي فیسونه باید یوازې په افغانیو تادیه شي.

۳ . د صادراتو پراختیا : د صنعت او سوداګرۍ وزارت دې د داخلي تولیداتو او صادراتو د زیاتولو لپاره امتیازات او اسانتیاوې برابرې کړي.

۴ . مالیات او عواید په افغانیو : د مالیې وزارت دې ټولې مالیې، گمرکي عواید، او نور دولتي عواید یوازې په افغانیو راټول کړي.

۵ . په مالي سیستم کې لازیات شفافیت رامنځته کول : د صرافانو، بانکونو، او مالي مؤسسو فعالیتونه باید منظم او شفاف شي.

٦ . عامه پوهاوی : د رسنیو، مدرسو، مکتبونو، پوهنتونونو، او جوماتونو له لارې دې خلک پوه شي چې د ملي پیسې کارول څومره مهم دي.

۷ . د سیمه ییزو اسعارو کمول : په سرحدي ولایتونو کې باید د پاکستاني روپۍ او ایراني ریال استعمال په تدریجي توګه راکم شي.

۸ . د ډالرو اندازه په کلني ډول اندازه کول او راپور ورکول : افغانستان بانک دې هر کال د ډالري کولو کچه اندازه کړي او پایلې د له عامو خلکو سره شریکې کړي.

۹ .د بانکونو د اعتبار لوړول : باید په هېواد کې د اسلامي بانکداری سیستم په تدریجي ډول په بشپړه توګه تطبیق شي او د کابل بانک بحران په ځیر د نورو دا ډول بحرانونو رامنځته کیدو د تکرار مخنیوی وشي.

د لا زیاتو څېړنو لپاره وړاندیزونه

دا څېړنه په عمده توګه د دویم لاس معلوماتو پر بنسټ ترسره شوې ده. د راتلونکو څېړنو لپاره لاندې موضوعات وړاندې کېږي:

۱ . یوه سروې (Survey) د کورنیو او سوداګرو ترمنځ – د اسعارو د انتخاب په اړه د دوی اصلي انګېزې څه دي؟

۲ . د غیر رسمي صرافي بازارونو شبکه – دا بازارونه څنګه کار کوي؟

۳ . د اسلامي امارت د پالیسیو اغېز – د ۲۰۲۱ وروسته د ډالري اقتصاد کچه څومره ده؟

۴ . د سیمه ییزو اسعارو (روپۍ، ریال) اغېز – دا اسعار په سرحدي سیمو کې څومره کارول کېږي؟

۵. د ډالري کیدو او اقتصادي ودې ترمنځ د اړیکې اقتصادسنجي تحلیل.

Problems and Concerns of Dollarization in Afghanistan: Causes, Effects and Practical Strategies for Reduction

Senior Teaching Assistant Gulwali Mohammadzai, Shaikh Zayed University, Faculty of Economics, Department of Banking and Finance.
Email: gulwali.szu@gmail.com
Teaching Assistant Shafiullah Sultanzai, Nangrahar University, Faculty of Economics, Department of National Economic.
Email: Shafiullah_sultanzai@yahoo.com

Abstract
Dollarization is considered one of the major financial challenges in Afghanistan, significantly affecting the effectiveness of monetary policy and financial stability. This study examines the key drivers of dollarization in Afghanistan, its economic consequences, and practical strategies for mitigation. Employing a library-based research method, the study collects and analyzes data and reports from Da Afghanistan Bank (DAB), the International Monetary Fund (IMF), the World Bank, and relevant academic institutions. The findings indicate that the widespread use of foreign currencies in financial transactions, savings, and price-setting decisions is driven by prolonged political and economic instability, persistent high inflation, low confidence in the national currency, banking sector weaknesses, extensive informal financial markets, and heavy dependence on imports and foreign aid. Although dollarization has contributed to short-term stability and facilitated international trade, it has also generated serious long-term problems, including reduced monetary policy autonomy, loss of seigniorage revenues, limited effectiveness of exchange rate management, and constraints on the development of the domestic financial sector. The level of foreign currency deposits in Afghanistan stands at 65%, which, according to the Baliño criterion (30%), classifies Afghanistan as a fully dollarized economy. The results suggest that a gradual reduction in dollarization positively impacts macroeconomic stability, enhances public confidence in the Afghani, and improves banking services. This study offers practical policy recommendations aimed at strengthening the role of the national currency and fostering sustainable economic development in Afghanistan.

Keywords: Afghanistan, Dollarization, Foreign Currency Deposits, Monetary Policy, Informal Exchange Markets, Central Bank.

مأخذونه (References)

افغانستان بانک .(۱۳۹۵- ۱۴۰۲). کلني راپورونه .کابل: د افغانستان بانک.

د افغانستان بانک.(۱۴۰۲). د شپږو میاشتو کړنو او لاس ته راوړنو راپور .کابل: د افغانستان بانک.

کوټوال، نصیر.(۱۳۹۴). اقتصادي درسونه (دوهم چاپ). کابل: اکسوس کتاب پلورنځی.

نیازی، محمد داود. (۱۳۹۹). د پیسو سیاستونه: له تیوري څخه عمل ته .جلال اباد: سوله مطالعاتي مرکز.

عارف، عبدالقیوم.(۱۴۰۱) . مرکزي بانک او پرمختللي پولي سیاستونه .خوست: شیخ زاید پوهنتون.

Balino, T., Bennett, A., & Borensztein, E. (1999). Monetary Policy in Dollarized Economies (IMF Occasional Paper No. 171). Washington, DC: IMF.

Berg, A., & Borensztein, E. (2000). The pros and cons of full dollarization. IMF Economic Issues, No. 24.

Calvo, G., & Vegh, C. (1992). Currency substitution in developing countries. IMF Working Paper, WP/92/40.

Edwards, S. (2001). Dollarization and economic performance. Journal of Money, Credit and Banking, 33(2), 381-402.

Ize, A., & Levy-Yeyati, E. (2003). Financial dollarization. Journal of International Economics, 59(2), 323-347.

IMF. (2024). Regional Economic Outlook: Middle East and Central Asia. Washington, DC: IMF.

Krugman, P., & Obstfeld, M. (2003). International Economics (6th ed.). New York: Addison-Wesley.

Reinhart, C., & Rogoff, K. (2004). Exchange rate arrangements. Quarterly Journal of Economics, 119(1), 1-48.

Savastano, M. (1996). Dollarization in Latin America. IMF Working Paper, WP/96/4.

World Bank. (2023). Afghanistan Economic Monitor. Washington, DC: World Bank.

World Bank. (2024). Afghanistan Development Update. Washington,DC: World Bank.

Yeyati, E. L. (2006). Financial Dollarization: Causes and Consequences. Cambridge, MA: Harvard University Press.

د حنفي فقهې له نظره د نفقې د وجوب او سقوط حالتونه

پوهنیار رباني وحدت د شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
بریښنالیک: wahdat.r@gmail.com

لنډیز

د اسلام په کورنۍ حقوقي نظام کې د میرمنې نفقه یوازې یو مادي امتیاز نه دی، بلکې د ښځې د اقتصادي امنیت، ټولنیز کرامت او د کورنۍ د بقا لپاره یو اساسي ضمانت ګڼل کېږي. د دې څېړنې موخه د حنفي فقهې له نظره د میرمنې د نفقې ماهیت، د وجوب شرطونو او د سقوط لاملونو روښانه کول دي. د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د میرمنې د نفقې د وجوب او سقوط حالتونه په علمي ډول څېړي او د کورنۍ حقوقي نظام په چوکاټ کې د هغوی د دقیق فهم او عملي تطبیق لپاره ګټور بنسټ برابروي. په دې څېړنه کې د توصیفي تګلارې څخه کار اخیستل شوي او د معلوماتو راټولو روش یې کتابتوني ده. د څېړنې پایلې ښیي په حنفي فقه کې د میرمنې نفقې حق د صحیح نکاح د ثابت حبس استحقاق سره واجبېږي او د ټولنیزو او اقتصادي بدلونونو په پام کې نیولو سره د نفقې په ټاکلو کې د میړه مالي توان په پام کې نیول کېږي، مګر د نکاح فاسد والی، د میرمنې صغارت او غیر مشتهات والی، د ښځې مړینې، محبوس کېدو، اختطاف کېدو، سفر، ناروغی، د ښځې په سبب فرقت او د میرمنې نافرماني او د شرعي عذر پرته د خاوند کور ته د تللو څخه د میرمنې ډډه کولو په صورتونو کې د ښځې د نفقې حق ساقطېږي.

کلیدي ټکي: حنفي فقه، خاوند، سقوط، میرمن، نفقه، وجوب.

سریزه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، الحَمْدُ لِله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَ الْصَّلوةُ وَ الْسَّلامُ عَلى سيد الْمُرسَلِيْنَ وَ عَلى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

نښځه او خاوند د نکاح عقد پربنسټ یو د بل پر وړاندې ځینې تعهدات او مکلفیتونه مني. یعنې د اسلامي شریعت پربنسټ کله چې د نکاح عقد منعقد شي؛ نو د نورو عقدونو په څېر آثار او پایلې رامنځته کوي چې د هغې پایلو له جملې څخه یوه یې هم د خاوند له لوري د نښځې د نفقې تأمین کول دي. د مېرمنې د نفقې حق د اسلامي کورنۍ حقوقي اقتصاد یو له تر ټولو مهمو او محوري موضوعاتو څخه ګڼل کېږي. د حنفي فقهې له نظره، نفقه یوازې یو مادي امتیاز یا د مېړه له لوري احسان نه دی، بلکې یو لازمي شرعي مکلفیت دی چې د صحیح او نافذ عقد نکاح په پایله کې د ټولنیز او اقتصادي ثبات د تأمین په موخه منځته راځي. حنفي فقهاوو د خپلو ژورو استنباطاتو له لارې د نفقې د وجوب، اندازې، د تحقق د شرطونو او د سقوط د لاملونو لپاره یو داسې هر اړخیز چوکاټ رامنځته کړی، چې د نښځې مادي خوندیتوب او انساني کرامت په پوره توګه تضمینوي.

په اوسني وخت کې د اقتصادي جوړښتونو، عرف او عنعناتو کې بدلونونه او د ټولنیزو مناسباتو پېچلتیا د دې ایجاب کوي، چې د حنفي فقهې د معتمدو منابعو له نظره د مېرمنې نفقې حق په اړه څېړنه وشي. په همدې اساس، په دغه څېړنه کې هڅه کېږي، چې د علمي اصولو او امانتداریٰ په چوکاټ کې دا موضوع روښانه شي، چې څه ډول حنفي فقه د خاوند د مالي توان او د مېرمنې د اساسي اړتیاوو ترمنځ د عدالت توازن ساتلی دی.

د څېړنې موخې

- په قرآن کریم، نبوي سنتو او اجماع له نظره د نفقې مشروعیت بیانول.
- د حنفي فقهې له مخې د نفقې وجوب حالتونو ذکر کول.
- په حنفي فقه کې د نفقې د سقوط مواردو روښانه کول.
- لوستونکو ته د حنفي فقهې له نظره د مېرمنې نفقې حق په اړه د معلوماتو وړاندې کول.

کړنلاره او د کار توکي

دغه یوه څېړنیزه مقاله ده او د توصیفي روش څخه ګټه اخېستل شوې ده او د معلوماتو راټولو روش یې کتابتوني دی. د څېړنې په اوږدو کې مې ځینو فقهي او حقوقي مأخذونو او منابعو ته مراجعه کړې ده. څرنګه چې زما د لیکنې موضوع (د حنفي فقهې له نظره د مېرمنې د نفقې حق د وجوب او سقوط حالتونه) ده، د موضوع وضاحت لپاره به لومړی د د نفقې ماهیت په اړه لنډ معلومات او ورپسې به د نفقې د سقوط په حالتونو باندې خپله کتابتوني څېړنیزه لیکنه بشپړه کړم.

د نفقې لغوي معنی

نفقه په لغت کې ایستلو او له منځه وړلو ته وایي، لکه څه ډول چې په عربي کې ویل کېږي (نفقت الدابة) یعنې حیوان د سړي له ملکیته ووت (ذاکر، ۱۳۹۸، ص. ۵۵) یا نفقه د «نَفَقَ» له ریښې څخه اخیستل شوې کلمه ده چې په لغت کې په نېکې سره بهر کولو او هر هغه څه دي چې یو شخص یې د خپل کفالت لاندې اشخاصو لپاره په مصرف رسوي (سدید، ۱۳۹۷، ص. ۵۳۹).

د نفقې اصطلاحي تعریف

د فقهي او شرعي اصطلاح کې د شرعي یا قانون سره سم مستحق ته د خوراکي توکو، کالیو او د کور د نورو اړوندو شیانو برابرولو ته وایي (یو شمېر مؤلفین، ۱۳۸۷،ص.۲۹۰) په عام ډول سره نفقه د هغه چا لپاره د خوراک، پوښاک او مسکن د برابرولو څخه عبارت ده، چې نفقه یې په منفق باندې واجب وي. په ځانګړي ډول د مېرمنې نفقه د هر هغه شي څخه عبارت ده چې د نکاح عقد په انعقاد سره د مېرمنې لپاره د خاوند په ذمه قرار لري چې د خوراک، پوښاک، مسکن او د تداوی مصارفو ته شاملېږي یا نفقه هغه څه دي چې انسان یې د خپل عیال لپار مصرفوي. د فقهاوو له نظره د نفقې اصطلاح په دوو معانیو استعمالېږي: عامه نفقه چې خوراک، پوښاک او د استوګنې ځای په کې شامل وي او بل خاص نفقه چې خوراک او د هغې محلقات په کې شامل وي. همدارنګه کله چې یوازې د نفقې څخه بحث کېږي؛ نو د کلمې په عام مفهوم سره دلالت کوي او موخه یې خوراک، پوښاک او استوګنځی وي او که چېرې له خوراک پوښاک او استوګنځی سره یو ځای ورڅخه بحث کېږي؛ نو د هغې څخه موخه د نفقې خاص مفهوم یا خوراک یا خواړه وي (شیخ احمدي، ۱۳۸۹، ص. ۳۲).

د مېرمنې نفقې د وجوب مشروعیت

د خاوند له لوري مېرمنې ته د نفقې د ورکړې مشروعیت او وجوب په قرآنکریم، نبوي سنتو او د امت په اجماع باندې ثابت دی، چې لاندې تړې یادونه کوو:

۱ـ کتاب الله

په قرآن عظیم الشان کې په خاوند باندې د ښځې د نفقې وجوب په اړه متعدد احکام راغلی دي، چې د موضوع لنډ والي له امله یوازې لاندې دوه آیتونه ذکر کوو: الله جل جلا له د سورة البقره په ۲۳۳ نمبر آیت شریف کې الله جل جلاله فرمایلي دي:.... وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ . ژباړه: او د چا لپاره چې بچی دی په هغه باندې د دغو (ښځو) نفقه او کالي په نېکه او معروفه طریقه سره (د یوبندی، ۱۴۴۱هـ ش، ص. ۱۰۲). همدارنګه الله جل جلاله د سورة الطلاق په ٦ نمبر آیت شریف کې فرمایي: أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ

وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ. ژباړه: خپلو ښځو ته د خپل وس او توان په اندازه په هغه ځای کې استوګنځای ورکړئ چېرته چې تاسو اوسېږئ. هغوی ته تاوان مه رسوئ او مه يې تنګوی، که هغه حمل لرونکي وي، نفقه يې ورکړی ترڅو چې د حمل وضع صورت ونيسي(محمد شفيع، نه لري، ص. ١٦٥) .

۲ـ په نبوي سنت

د قرآنکريم سربېره په مبارکو نبوي احاديثو کې هم په خاوند باندې د مېرمنې نفقې د وجوب په اړه ګڼ شمېر مبارک احاديث ذکر شوي دي، چې د موضوع لنډ والي له امله يې يوازې د يو حديث شريف په ذکر کولو بسنه کوو. د ښلګې په توګه: د سليمان بن عمرو(رضی الله تعالی عنه) څخه روايت دی چې ماته مې خپل پلار ويلي چې په حجة الوداع کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: **عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، أَنَّهُ شَهِدَ حِجَّةَ الْوَدَاعِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَذَكَّرَ وَوَعَظَ، فَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ قِصَّةً، فَقَالَ:أَلَا وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّمَا هُنَّ عَوَانٌ عِنْدَكُمْ، لَيْسَ تَمْلِكُونَ مِنْهُنَّ شَيْئًا غَيْرَ ذَلِكَ، إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ، فَإِنْ فَعَلْنَ فَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ، وَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ، فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا؛ أَلَا إِنَّ لَكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ حَقًّا، وَلِنِسَائِكُمْ عَلَيْكُمْ حَقًّا، فَأَمَّا حَقُّكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ فَلَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ مَنْ تَكْرَهُونَ، لَا يَأْذَنَّ فِي بُيُوتِكُمْ لِمَنْ تَكْرَهُونَ؛ أَلَا وَحَقُّهُنَّ عَلَيْكُمْ أَنْ تُحْسِنُوا إِلَيْهِنَّ فِي كِسْوَتِهِنَّ وَطَعَامِهِنَّ** (الترمذي، ۱۳۹۵هـ ق، ص. ۲۳۴). ژباړه: له سليمان بن عمرو بن احوص څخه روايت دی، هغه وايي: زما پلار راته حديث بيان کړ چې هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د وداع په حج کې حاضر و. رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی حمد او ثنا بيان کړه، نصيحت او وعظ يې وکړ، بيا يې په خپله وينا کې وفرمايل:« خبر اوسئ! له ښځو سره د خير او نېکۍ سپارښتنه وکړئ؛ ځکه هغوی ستاسو په ولکه کې دي، له دې پرته تاسو له هغوی څخه د بل څه د غوښتلو حق نه لرئ، مګر دا چې هغوی ښکاره فاحشه کړنه ترسره کړي. که يې داسې وکړل، نو بستره ترې جلا کړئ او داسې يې ووهئ چې سخت او زيان رسوونکی نه وي. که هغوی ستاسو اطاعت وکړي، نو پر هغوی د زياتي کولو هېڅ لاره مه لټوئ. خبر اوسئ! ستاسو پر ښځو حق لری او د ښځو هم پر تاسو حق شته. ستاسو په هغوی دا حق دی چې له کوم بل چا سره جنسي نېږديوالی ونه وکړي او ستاسو کورونو ته هغو کسانو ته د ننوتلو اجازه ورنه کړي چې تاسو يې نه خوښوئ. او خبر اوسئ! پر تاسو د هغوی حق دا دی چې د هغوی د جامو او خوراک په برخه کې له هغوی سره ښه چلند وکړئ.«

۳. امت اجماع

امت له اجماع څخه موخه د اسلامي امت د عالمانو هغه اجماع . دا چې په میره باندې د ښځې نفقه واجب ده دربیم دلیل وربانډې د امت اجماع ده البتار ده، چې د یوې موضوع په یې سره توافق کړی وي نو په دې اساس که چېرې د اسلامي امت عوام د کومې موضوع په هکله اتفاق وکړي د امت د اجماع په بڼه اعتبار نه لري(الخطیب،، ۱۳۵۰هـ ق، ص. ۲۹۰).

پنځم مطلب ـ د مېرمنې نفقې مقدار او اندازه

د نفقې اندازې په اړه پوښتنه پیدا کېږي چې د نفقې په مقدار کې به د ښځې حالت،که د خاوند حالت او یا د دوی دواړو حالت او که په دې هکله د محلې او منطقې عرف ته اعتبار ورکول کېږي؟ امام قدوری رحمة الله علیه فرمایي: د نفقې او د هغې په مقدار کې به ښځه او خاوند دواړو حالت معبتر وي. صاحب د هدایه رحمة الله علیه فرمایي: چې د امام خصاف رحمة الله علیه غوره مذهب دا دی او په دې همدې باندې فتوی ده. د امام خصاف رحمة الله علیه د قول تفسیر دا دی چې په دې کې عقلاً څلور حالتونه دي: اولاً، دا چې ښځه او خاوند به دواړه شتمن وي. ثانیاً، دا چې دواړه به تنګ لاسي وي. ثالثاً، دا چې خاوند به شتمن او ښځه به یې غریبه او تنګ لاسي وي او رابعاً، دا چې ښځه به شتمنه او مالداره وي او خاوند به غریب او ناداره وي. د پورتنیو حالتونو په پام کې نېولو سره په لومړی حالت کې د شتمن او مالداره نفقه لازمه ده. په دوهم صورت کې به د غریبې او ناداری نفقه لازمېږي. او په دریم او څلورم صورتونو کې به د منځنۍ درجې یا متوسط نفقه لازمېږي (شاه فیصل.(نه لري)، ص. ۵۵۸). د نفقې اندازې په اړه حنفي فقهاوو فرمایلي دي، چې اسلامي شریعت نفقه د نفقې اندازه معینه او مشخصه کړي نه ده، پر خاوند واجب ده چې د ژوند کفایت لکه خوراک غوښه، میوه، غوړي، بربښنا... او نور شیان چې د متعارف عرف سره برابر وي، لازم دي تأمین کړي او دا شیان هم د وخت، ځای او حالاتو پر اساس مختلف دي. همدارنګه د اوړي او ژمي لباسونو برابرول هم واجب دي او د دې وسایلو لپاره د خاوند حالت، شتمني او غنا، فقر او تنګ لاسي په پام کې نېول کېږي، نه د ښځې حالت(الزحیلي، وهبة، ۱۴۰۹، ص. ۷۵۳۰). ځکه الله جل جلاله د سورة الطلاق په ۷ نمبر آیت شریف کې فرمایي: لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ج. ژباړه: په کار ده چې د وس لرونکي د خپل وس مطابق خرچ وکړي او د چا چې رزق تنګ وي؛ نو خرچ دې وکړي د هغې څه نه چې الله تعالی ورکړي دي. الله جل جلاله هیڅ نفس نه مکلفوي، مګر د هغې د توان مطابق. ژر ده چې الله تعال به د تنګی نه پس اساني راولي(محمد شفیع،(نه لري)، ص. ١٦٦).

د مېرمنې د نفقې څخه د خاوند ناتواني او امتناع(ډډه کول)

حنفي فقهاء فرمايي: که خاوند د خپلې ښځې د نفقې ورکولو څخه ناتوانه شو، نو په دې وجه به د ښځې او خاوند ترمنځ تفريق نه شي رامنځته کيدی، بلکې قاضي به ښځې ته وايي چې د خپل خاوند په ذمه قرض واخله، يعنې په دې شرط د خوراک سامان واخله چې د دې قيمت به د دي خاوند اداء کوي. يا د خاوند په مالداره کېدو باندې به د ده د مال څخه دا قرض اداء کيدلی شي. امام زهر، عطاء، بن يسار، حسن بصري، سفيان ثوري، ابن ابي ليلى، ابن شبرمه، او حماد بن سليمان رحمهم الله هم د دې قائل دي(شاه ه فيصل،(نه لري)، ص. ٥٦٦). يعنې که چېرې خاوند د خپلې مېرمنې د نفقې د ورکړې څخه عاجز او ناتوانه شي؛ نو د مېرمنې نفقه د خاوند د عاجز کېدو او اعسار په وجه نه ساقطېږي. بلکې تر شتمن کېدو او ايسار پوري په هغې باندې باقي پاتې کېږي(عبدالله، ۱۳۸۹، ص. ۳۰۰). د حنفي فقهاوو له نظره که چېرې يوه موده تېره شوه او خاوند خپلې مېرمنې ته نفقه ورنکړه، بيا دې ښځې د خپل خاوند څخه د دې مودې د نفقې غوښتنه وکړه، نو هيڅ شی نه ورکول کېږي، ځکه چې د وخت تېرېدو له امله نفقه د خاوند په ذمه نه قرض کېږي، خو دوه صورتونه د دې حکم څخه مستثناء دي: يو دا چې قاضي د ښځې لپاره د نفقې څه اندازه ټاکلي وي. دوهم دا چې ښځې خپل خاوند سره د نفقې په څه مقدار باندې صلح کړي وي، په دې دواړو صورتونو کې به قاضي هم په دې حساب سره د ښځې د پاره د تېرې شوې وخت نفقې حکم ورکوي(شاه فيصل، (نه لري). ص. ٥٦٨).

دريم مطلب ـ د مېرمنې د نفقې د وجوب سببونه

په خاوند باندې د مېرمنې نفقې د وجوب سببونو په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی. د حنفي فقهاوو له نظره د نفقې د وجوب سببونه درې دي چې عبارت دي له زوجيت، نسب او ملک څخه(شاه فيصل(نه لري)، ص. ٥٥٦). دا چې په دې ځای کې د نفقې د وجوب د سببونو څخه موخه د زوجې نفقه ده او دا نور موارد يې په دې ځای کې د بحث وړ نه دي؛ نو د احنافو له نظره د مېرمنې د نفقې د وجوب سبب پر مېرمن باندې په صحيح نکاح سره د ثابت حبس استحقاق دی. پس په فاسد نکاح کې لکه څرنګه چې خاوند پر مېرمن د حبس حق نه لري؛ نو ځکه د هغې نفقه هم پرې واجبه نه ده؛ خو که چېرې جدايي يا تفريق د ښځې له لورې د غيابت يا عيب په سبب رامنځته شي؛ نو بيا هم د هغې لپاره نفقه واجب ده(شيخ احمدی، ۱۳۸۹، ص. ۳۴).

څلورم مطلب ـ د مېرمنې د نفقې د تأمين د وجوب شرطونه

د دې لپاره چې د مېرمنې لپاره د خاوند په ذمه نفقه واجب شي؛ نو د هغې لپاره يو لړ شرطونه شتون لري چې د هغې په شتون سره د مېرمنې لپاره نفقه هم واجبېږي. د دې شرطونو په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی او د حنفي فقهاوو له نظره د دې لپاره چې ښځه د نفقې مستحقه وګڼل شي بايد لاندې شرطونه ولري: ۱.

ازدواج عقد باید د دواړو ترمنځ په صحیح ډول ترسره شوی وي. ۲. ښځه باید د زوجیت چارو ترسره کولو وړتیا او توان ولري. ۳. ښځه باید ځان خپل میړه ته وسپاري. ۴ـ ښځه باید مرتده نه وي. ۵. ښځې داسې کار نه وي کړی، چې د مصاهرت د حرمت سبب وګرځي. ٦. ښځه باید د وفات د عدت په وخت کې نه وي. د میرمنې لپاره نفقې تأمین د وجوب لپاره شرط دی چې نکاح په صحیح ډول منعقد شوی وي، په همدې اساس، که چېرې د نکاح عقد په فاسد ډول منعقد شوی وي، دا ډول نکاح د خاوند له لوري خپلې میرمنې ته د نفقې د ورکړې سبب نه ګرځي، ځکه که عقد په فاسد ډول منعقد شوی وي، د هغې فسخ کول اړین دي. همدارنګه که چېرته په باطل ډول منعقد شوی وي، خاوند د میرمنې لپاره د نفقې په برابرولو مکلف نه دی، ځکه باطل عقد داسې ګڼل کېږي لکه هیڅ چې نه وي شوی او په هغه هیڅ ډول آثار نه مرتب کېږي (الزحیلي، ۱۴۰۹هـ ق. ص. ۷۳۷۵).

د میرمنې د نفقې سقوط حالتونه

سقوط د یو حق تنزل او له منځه تللو ته ویل کېږي لکه افلاس چې د لومړنی معنی نمونه ده او د پلار د قانوني ولایت سقوط چې د دوهمې معنی نمونه ده. سقوط هغه حالت دی چې په هغې کې د میرمنې نفقه سقوط مومي او په خاوند باندې د هغه مستحقه نه ګرځي (ایوبي، ۱۳۰۴، ص. ۱۲۳). که څه هم د نفقې د سقوط اړوند د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف شتون لري او د حنفي فقهاوو له نظره د میرمنې د نفقې سقوط حالتونه په لاندې ډول دي:

۱. د نکاح فاسد والی

لومړی شرط دا دی چې میرمن به د اسلامي شریعت له پلوه په صحیح عقد سره نکاح کړی وي. له همدې کبله که چېرې د هغې میرمنې نفقه چې د نکاح عقد یې فاسد وي یا د هغې میرمنې سره چې د شبهې پربنسټ ورسره جماع شوي وي؛ نفقه یې نه واجبېږي (کریمي، ۱۳۹۹، ص. ۱۱۲).

۲. د میرمنې صغارت او غیر مشتهات والی

جمهور فقهاوو له نظره که چېرې میرمن دومره صغیره وي چې د هغې سره جماع نه شي کیدلای؛ نو د هغې لپاره په خاوند باندې نفقه نه واجبېږي. که هغه د خاوند په کور کې وي او که د خاوند په کور کې نه وي تر هغې چې د جماع قابلیت پیدا کړي. مګر امام شافعي رحمه الله فرمایي: چې د صغیره لپاره نفقه واجب ده او دلیل یې دا بیانوي چې د امام شافعي رحمه الله په نزد نفقه د خاوند د ملک عوض دی، لکه څه ډول چې د هغه ښځې نفقه چې د دي د ذات مالک وي. وجه یې دا ده چې نفقه د وجوب سبب حاجت دی او په حاجت کې صغیر او کبیر ټول برابر دي (جمیل احمد، (نه لري)، ص. ۵۹۱). همدارنګه د امام یوسف رحمه الله له نظره هم که چېرې صغیره

او کوچنی مېرمن د اُنس او الفت په منظور د خاوند په کور کې اوسېږي؛ نو د هغې نفقه په خاوند واجب ده(ایوبي، ۱۴۰۳، ص. ۱۲۴).

۳. د ښځې مړینه

که چېرې خاوند وروسته له هغې مړ شو چې قاضي په ده باندې نفقې حکم وکړ او څو میاشتې تېرې شوې، نو د مېرمن نفقه ساقطېږي. همدارنګه په هغه صورت کې چې ښځه مړه شوه، ځکه نفقه عطیه ده او عطایات د مرګ له امله ساقطېږي، لکه څه ډول چې هبه د قبض کولو څخه مخکې د مرګ په سبب باطلېږي(شاه فیصل،(نه لري)، ص. ٦٠١). خو په هغه صورت کې چې خاوند خپلې مېرمنې ته د یو کال نفقه مخکې یا پېشکي ډول ورکړي وي او د دغه مودې د تېرېدو څخه مخکې خاوند وفات شي؛ نو د شیخینو له نظره چې راجح قول هم دی د مېرمنې څخه د کوم شي د اخیستلو حق نه لري؛ خو د امام محمد رحمه الله له نظره څومره موده چې تېره شوې ده، د هغې نفقه به مېرمنې ته پرېښودل کېږي او د پاتې وخت نفقه به بېرته ترې مسترد کېږي(غزالي، (نه لري)، ص. ۱۲۷).

۴. ښځه باید بندي نه وي

د حنفي فقهاوو په نظر که چېرې مېرمن د دین او قرض په سبب بندي شوه، نو د هغې نفقه ساقطېږي. دلیل یې دا دی چې په دې صورت کې د احتباس له منځه تلل د مېرمنې له لوري تحقق موندلی، ځکه دي د قرض په اداء کولو ځند کړی او په همدې وجه بندي شوي ده او داسې مثال لري لکه مېرمن چې خاوند ته د خپل ځان د سپارلو څخه ممانعت وکړي او کومه ښځه چې خپل ځان خاوند ته نه سپاري، هغه ناشزه(امر نه منونکي) وي او د ناشزې ښځې نفقه ساقطېږي، په همدې دلیل به د دې مېرمنې نفقه هم ساقطېږي(شاه فیصل، (نه لري)، ص. ۵۹۲). همدارنګه که چېرې مېرمن د کوم جرم له امله او یا پرته له کوم تقصیر او ګناه په محبس کې بندي شوي وي، نفقه یې د مېړه له ذمې ساقطېږي، په دې شرط چې خاوند یې په علت کې دخالت ونه لري(ذاکر، ۱۳۹۸هـ ش. ص. ۹۰). یا هغه مېرمن د جرم، پور او ظلم له امله بندي شوي وي؛ نو د بند پر مهال د نفقې مستحقه نه ده(کریمي، ۱۳۹۹، ص. ۱۱۴). خو که چېرې مېرمن بندي وي، نو د هغې بندي کېدل د خاوند کور ته د هغې د انتقال مانع ګڼل کېږي او په دې حالت کې د نفقې مستحقه نه ګڼل کېږي. که چېرې مېړه بندي وي د ښځې نفقه نه ساقطېږي(ذاکر، ۱۳۹۸۱، ص. ۱۲۴).

۵. ښځه باید اختطاف شوي نه وي

که د یو شخص مېرمن د بل چا له لوري اختطاف او وتښتول شوه، که څه هم مېرمن په دې اړه هیڅ ډول تقصیر هم و نه لري؛ نو د هغې نفقه ساقطېږي، ځکه په دې صورت کې د خاوند په کور کې د مېرمنې د احتباس حق د یو بهرني عامل په وسیله چې خاوند په کې دخیل نه دی له منځه ځي. ځکه مېرمن د نفقې مستحقه هم نه ګڼل کېږي چې دا احتباس زایل شوی دی(ایوبي، ۱۳۰۴، ص. ۱۲۴)، خو د امام ابو یوسف رحمة الله علیه له نظره په دې صورت کې د مېرمنې لپاره لازمه ده. ځکه د خاوند په کور کې د مېرمنې د احتباس او اوسېدلو ممانعت د مېرمنې څخه منشاء نه ده اخیستي، بلکې یو بهرنی عامل د هغې مانع ګرځیدلی ده(جمیل احمد،(نه لري)، ص. ۵۳۲).

٦. ښځه به له کوره د باندې نه وي

که چېرې مېرمن د خاوند د اجازې او کوم شرعي عذر پرته د کور څخه ووځي او یا دا چې له اجازې پرته بل ځای ته نقل مکان وکړي او یا هم په سفر لاړه شي؛ نو د هغې نفقه ساقطېږي(ایوبي، ۱۴۰۳هـ ش، ص. ۱۲٦) همدارنګه که چېرې د خاوند پرته د محرم سره د حج اداء کولو په موخه لاړه شي، نو پر خاوند یې نفقه نه واجبېږي، ځکه په دې صورت کې احتباس زایل کېدل د مېرمنې له اړخه دی(شاه فیصل،(نه لري)، ص. ۵۹۳). د یادونې وړ ده چې د امام ابو یوسف رحمه الله په نظر که چېرې ښځه له خپل شرعي محرم، لکه: پلار، ورور، تره، ماما یا بل سره د حج مناسکو اداء کولو لپاره سفر وکړي، د اقامت نفقې مستحقه ګڼل کېږي، خو د سفر نفقه نه ورکول کېږي، ځکه حج ور باندې فرض شوی دی او په دې حالت کې معذور ګڼل کېږي. غزالي،(نه لري)، ص. ۱۲٦).

۷.د متحرفه(کسب لرونکي) مېرمن نفقه

هغه کار کوونکي مېرمن چې د ورځې د خاوند د ممانعت باوجود خپلې دندې ته ځي او نه منع کېږي، هغه هم د نفقې مستحقه نه ګڼل کېږي(کریمي، ۱۳۹۹هـ ش. ص. ۱۱۴). یا که چېرې مېرمن د حرفې او کسب لرونکي وي چې د هغې په سبب ټوله ورځ یا د ورځې یوه برخه د کور څخه د باندې او بهر تېروي او بیا کور ته راځي؛ نو په دې صورت کې که چېرې خاوند یې اجازه نه وي ورکړي؛ نو د مېرمنې نفقه ساقطېږي، ځکه په دې صورت کې ښځه ناشزه او نا فرمانه ګڼل کېږي. که چېرې خاوند یې د دندې او اشتغال په برخه کې اجازه ورکړي وي؛ نو دهغې نفقه نه ساقطېږي، ځکه په دې صورت کې خاوند په خپل کور کې د مېرمنې په ناقص احتباس او اوسېدنه باندې رضایت لري(ایوبي، ۱۳۰۴، ص. ۱۲۷).

۸. د مېرمنې نشوز او نافرماني

په هغه صورت کې چې ښځه د زوجیت په چارو کې اطاعت ونکړي او په دې اړه کوم شرعي عذر هم شتون ونه لري، نفقه یې ساقطېږي(ذاکر ۱۳۹۸هـ ش. ص. ۹۱). خو په هغه صورت کې چې مېرمن نافرماني او نشوز پرېږدي او د خاوند کور ته ېږته راستنه شي؛ نفقه یې ېږته لازمېږي. یعنې کله چې د خپل ځان احتباس زایل کړي نفقه یې ساقطه او کله چې ېږته په خپله بیا ځان محبوس وګرځوي؛ نو نفقه یې هم لازمېږي(ایوبي، ۱۴۰۳هـ ش، ص. ۱۲۷).

۹. د شرعي عذر پرته د خاوند کور ته د تللو څخه د مېرمنې ډډه کول

که چېرې مېرمن د کوم شرعي عذر پرته او د داسې لامل پرېنسټ چې د خاوند له لوري نه وي رامنځته شوی، د هغې د احتباس کېدو اړوند د خاوند حق له منځه نه وي. ځکه ناشره مېرمن د نفقې حق نه لري. که چېرې مېرمن په ناحقه د خاوند کور ته له ورتګ څخه ډډه وکړي یا د مېرمن په کور کې چې خاوند یې همالته ورسره اوسېږي، خاوند له ورتګ څخه منع کړي، نو ښځه د نفقې مستحقه نه ګرځي(کریمي، ۱۳۹۹هـ ش، ص. ۱۱۴).

۱۰. که چېرې ښځه د فرقت سبب وي

که چېرې د ښځې د معصیت په سبب فرقت رامنځته شو، مثلاً ښځه د اسلام مبارک دین څخه واوښته(مرتده شوه) یا هغې په شهوت سره د خپل خاوند زوی ښکل کړ؛ نو په داسې حالت کې د نفقې مستحقه نه ګڼل کېږي(شاه فیص، (نه لري)، ص.٦٢٠).

۱۱. د مېرمنې ناروغي

که چېرې ښځه د خاوند په کور کې اوسېده او ناروغه شوه، نو د هغې لپاره نفقه واجب ده. ناروغي که د جماع مانع وه او که نه وه. د قیاس تقاضا دا ده که ناروغي د جماع مانع وي، نو د ښځې د پاره نفقه واجب نه وي، ځکه د جماع لپاره چې کوم احتباس و، د ناروغۍ له امله هغه له منځه لاړ. دا چې نفقه د احتباس عوض وي، په همدې اساس کله چې احتباس کېدل له منځه تللو په وجه به نفقه هم ساقطېږي. د استحسان وجه دا ده چې احتباس اوس هم موجود دی، ځکه چې خاوند د ناروغې ښځې سره خوشحاله وي او د دې په ښکلولو سره خوند اخلي او د کور حفاظت کوي او د وطي مانع د عارض په دی؛ نو دا ناروغي د حیض په څېر ده. امام ابو یوسف رحمه الله فرمایلي دي: که ښځې وړاندې نه خپل ځان خاوند ته سپارلی وي، بیا ناروغه شوې وي، نو نفقه به یې واجب وي. که چېرې مخکې ناروغه وي او بیا یې ځان خاوند ته سپارلی وي، نو نفقه به یې واجب نه وي(شاه فیصل،(نه لري)، ص. ۵۹۴). په همدې ترتیب سره که چېرې مېرمن ناروغه او د پلار په کور کې وي او خاوند یې وغواړي

چې هغه خپل کور ته راولي په داسې ډول چې د خاوند کور ته د هغې په انتقال او لېږدولو کې کوم روغتیایي خطر هم متصور نه وي؛ نو په دې صورت کې که چېرې مېرمن د خاوند کور ته د تللو څخه ډډه وکړي، نفقه يې ساقطېږي(ایوبي، ۱۴۰۳هـ ش. ص. ۱۳۰).

۱۲. د معتدې مېرمنې نفقه

د ټولو فقهاوو په اتفاق نظر سره هغه ښځه چې د رجعي طلاق د عدت په موده کې وي، نفقه يې نه ساقطېږي؛ خو د بائن طلاق د مطلقې د عدت پر مهال د نفقې سقوط په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف شتون لري. د حاملې ښځې نفقه د امت په اجماع سره او د رجعي طلاق مطلقې د عدت مودې نفقه د ټولو فقهاوو په اتفاق نظر سره واجب ده او د باین صغری او باین کبری د مطلقې او مختلغې د عدت نفقه هم د امام ابوحنیفه رحمه الله له نظره واجب او د امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمه الله له نظره یوازې استوګنځای واجب، خو نفقه ورته واجب نه ده(ایوبی، ۱۴۰۳هـ ش، ص. ۱۳۲). خو که چېرې جدایي د ښځې له لوري وي او د هغې سبب هم مشروع نه وي، لکه دا چې مرتده شی(حتی که د طلاق څخه وروسته هم مرتده شي) او یا داسې عمل ترسره کړي چې د مصاهرت حرمت د رامنځته کېدو موجب ګرځي؛ نو د هغې لپاره نفقه واجب نه ده(شاه فیصل،(نه لري)، ص. ۵۵۴).

پایله

د دې څېړنې تشریح او تحلیل څخه معلومېږي، چې د حنفي فقه په خپلو عادلانه ژورو استنباطي قواعدو او اصولو په رڼا کې د مېرمنې د نفقې حق یو له بنسټیزو حقونو څخه ګڼي. د څېړنې په پایله کې ثابتېږي، چې نفقه پر مېړه باندې یو مالي الزامیت ده، چې د خاوند له خوا د احسان په ډول نه، بلکې د یو صحیح، نافذ او لازم نکاح عقد پربنسټ او په مقابل کې د مېرمنې د کامل تمکین په صورت کې واجبېږي. په څېړنه کې ثابته شوه، چې حنفي فقه د مېرمنې د نفقې د مقدار او عادلانه کیفیت په ټاکلو کې د ښځې او خاوند د دواړو اقتصادي توان او مالي غناء او عسرت محوري معیار ګڼي؛ دغه معقوله حل لاره د دې لامل ګرځي چې د مېرمنې مادي امنیت او ټولنیز کرامت په پوره توګه تامین شي او پر مېړه باندې له مالي توان پورته بار کښېنښودل شي، چې دا پخپله د شریعت د عادلانه دریځ څرګندونه کوي.

سربېره پردې، د احنافو له نظره د مېرمنې د نفقې د وجوب سبب پر مېرمن باندې په صحیح نکاح سره د ثابت حبس استحقاق دی. په فاسد نکاح کې لکه څرنګه چې خاوند پر مېرمن د حبس حق نه لري؛ نو ځکه د هغې نفقه هم نه ده پرې واجبه. همدارنګه د حنفي فقهاوو له نظره د دې لپاره چې ښځه د نفقې مستحقه وګڼل شي

باید ځینې شرطونه ولري، لکه: د صحیح نکاح انعقاد، د زوجیت په چارو کې د مېرمنې توانایي، ښځه به خپل ځان خاوند ته سپاري، د وفات معتده به نه وي، ښځه به مرتده نه وي او داسي کار یې نه وي کړی چې د مصاهرت حرمت سبب وګرځي. د حنفي فقهاوو له نظره په ځینو مواردو کې د مېرمنې د نفقې حق سقوط کېږي، چې عبارت دي له: د نکاح فاسد والی، د مېرمنې صغارت او غیر مشتهات والی، د ښځې مړینه، ښځه باید بندي نه وي، ښځه باید اختطاف شوي نه وي، ښځه به مسافره نه وي، له اجازې پرته د متحرفې مېرمنې نفقه، د مېرمنې نشوز او نافرماني، د شرعي عذر پرته د خاوند کور ته د تللو څخه د مېرمنې ډډه کول، که چېرې ښځه د فرقت سبب وي، د مېرمنې ناروغي او د هغه معتدې مېرمنې نفقه چې فرقت سبب ښځه وي او د هغې سبب هم مشروع نه وي، نو د هغې لپاره نفقه واجب نه ده.

وړاندیزونه

د مېرمنې نفقې حق د وجوب او سقوط حالتونه د حنفي فقهې له نظره تر عنوان لاندې څېړنیزې مقالې د لیکلو پر مهال هغه څه چې ما یې اړتیا احساس کړه، غواړم د وړاندیزونو په ډول یې وړاندې کړم:

۱ـ د افغانستان اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي، چې د هغو بې‌وزلو، بندیانو یا مفقود الاثر مېړونو د مېرمنو لپاره چې د نفقې له جدي نشتوالي او فقر سره مخ دي، دولت دې د بیت المال یا زکات د عوایدو پر بنسټ یو ځانګړی مالي حمایوي اداره رامنځته کړي، ترڅو د ټولنیز فساد او د کورنیو د پاشل کېدو مخه ونیول شي.

۲ـ هېواد محاکمو ته وړاندیز کېږي چې د نفقې د مقدار په ټاکلو کې د حنفي فقهې او اوسني وخت د ژوند مالي واقعیتونو، د پیسو د ارزښت زیاتوالي یا کموالي او د ښځې او خاوند حقیقي اقتصادي توان د تخصصي هیئتونو په ذریعه دقیق ارزیابي او د پرېکړو اساس وګرځوي.

۳ .علماوو کرامو او د جوماتونو خطیب صاحبانو ته وړاندیز کېږي، چې پر منبرونو او دیني مجالسو کې دې د مېرمنې د نفقې د حق د وجوب او حدودو په هکله خلکو ته واضح او مستند شرعي معلومات ورکړل شي، ترڅو نفقه د مېړه له لوري د یو احسان یا تبرع په توګه ونه ګڼل شي، بلکې د یو لازمي شرعي مکلفیت په توګه وپېژندل شي.

۴ـ علماوو کرامو ته وړاندیز کېږي چې د نفقې د وجوب تر څنګ، د مېرمنې د شرعي اطاعت او تمکین حدود او د نافرمانی دنیوي او اُخروي عواقب هم په سمه توګه تشریح کړي، ترڅو په کورنیو کې د افراط او تفریط مخه ونیول شي.

۵ـ زوجینو ته وړاندیز کېږي چې خپل مالي او کورني اختلافات د محاکمو تر پرېکړو وړاندې، د کورنۍ مشرانو او د هغه عرف او عنعناتو سره سم حل او فصل کړي، چې د اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه وي، څو د کورنۍ حریم خوندي پاتې شي.

Conditions of Obligation and Grounds for Forfeiture of Maintenance under Hanafi Jurisprudenc

Teaching Assistant Rabani Wahdat, Sheik Zayed University, Law and political science Faculty, Department of Political Science and international relation.
Email: wahdat.r@gmail.com

Abstract

In the Islamic family legal system, a wife's maintenance is not merely a material right; rather, it is considered a fundamental guarantee for women's economic security, social dignity, and the preservation of the family. This study aims to clarify the nature of a wife's maintenance, the conditions for its obligation, and the causes of its cessation from the perspective of Hanafi jurisprudence. The significance of this study lies in its scholarly examination of the circumstances governing the obligation and cessation of a wife's maintenance and in providing a valuable foundation for a precise understanding and practical application of these rulings within the framework of Islamic family law. This study employs a descriptive methodology, and the required data have been collected through library-based research. The findings of the study demonstrate that, according to Hanafi jurisprudence, a wife's right to maintenance becomes obligatory upon the husband through a valid marriage and the establishment of the right of confinement Furthermore, in determining the amount of maintenance, Hanafi jurisprudence takes into consideration the husband's financial capacity in light of social and economic changes. However, this right ceases in certain cases, including an invalid marriage, the wife's minor age and lack of eligibility for marital relations, the wife's death, imprisonment, abduction, travel, illness, separation caused by the wife, marital disobedience (nushūz), and the wife's refusal to move to the husband's residence without a valid legal excuse.

Keywords: Hanafi Jurisprudence, Husband, Forfeiture, Wife, spousal maintenance, Obligation.

مأخذونه

القرآن الكريم
الترمذي، ابو عيسى. (۱۳۹۵ل). سنن الترمذي. الطبع الثانيه، الجزء ۴، مصر: شركة مكتبة و مطبعة مصطفى البانى الحلبي.
ايوبي، عبدالوهاب (۱۴۰۳ل). د نكاح عقد حقوقي پايلې، د اسلامي فقهې او مدني قانون له نظره. خوست: شيخ زايد پوهنتون.
الخطيب، ولى الدين، محمد بن عبدالله، ابى عبدالله. (۱۳۵۰هـ ق)، مشكوة المصابيح، دهلى: اصح المصابيح).
الزحيلي، وهبة. (۱۴۰۵هـ ق). الفقه الاسلامي و أدلته. ج۹، د مشق: دارالفكر.
الزحيلى، وهبة. (۱۴۰۹هـ ق). الفقه الاسلامي و أدلته. ج ۱۰، دمشق: دارالفكر.
جميل احمد. (نه لري). أشرف الهدايه. دريم ټوک. ژباړه: شاه فيصل. پيښور: فيصل كتابخانه.
جميل احمد. (خلاف، عبدالوهاب (۱۳۹۹ل) د شخصي احوالو فقه، ژباړه: شير آغا كريمي، كابل: نوي مستقبل خپرندويه ټولنه.
ديوبندي، محمود حسن، عثماني شبير احمد (۱۴۴۱هـ ق). كابلى تفسير، دوهم ټوک، ژباړه: د افغانستان د عالمانو هيئت، نظر ثاني: محمد بلال آميني، عبدالسمع او اسماعيل، مدينه منوره: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف.
عبدالله، نظام الدين. (۱۳۸۹هـ ل). شرح قانون مدني افغانستان (حقوق فاميل). چاپ اول، كابل: انتشارات سعيد.
عدالتخوا، عبدالقادر. (۱۳۹۸ل). حقوق فاميل، دوهم جلد، ترجمه: ذاكر الله ذاكر، كابل: مستقبل خپرندويه ټولنه.
محمد شفيع. (نه لري). تفسير معارف القران. ټوک ۲۸، پيښور: تاج كتابخانه.
نذير، دامحمد. (۱۳۹۶). حقوق فاميل در شريعت اسلامي و قانون مدنى افغانستان. جز اول، كابل: انتشارات حامد رسالت.
نذير، دامحمد. (۱۳۹۶). حقوق فاميل در شريعت اسلامي و قانون مدنى افغانستان. جزدوم ، كابل: انتشارات حامد رسالت.
سديد، عبيدالله. (۱۳۹۷ل). د حقوقو ترمينولوژي، چاپ لړ ۳۷.: كابل: سوله خپرندويه ټولنه.
شاه فيصل. (نه لري). تسهيل الهدايه. دريم ټوک، پيښور: فيصل كتابخانه.
شيخ احمدى، عبدالبصير . (۱۳۸۹ ل ل). به اسلام او د افغانستان په قوانينو كې د ښځې حقوق مهر او نفقه) روزنيزه رساله. دويم چاپ.
غزالي، ابو حامد، محمد بن احمد (چاپ كال نه لري)، كيمياى سعادت، پښاور: ناشر نا معلوم دى.
يو شمېر مؤلفين. (۱۳۸۷ل). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. كابل: د يو اېس اى ډي په مالي ملاتړ.

د عربي او پښتو ادب لنډې کيسې پرتليزه څېړنه

پوهنيار مسيح الله محب [۱]، پوهنيار عبدالرشيد رشيد [۲]، شيخ زايد پوهنتون ژبو او ادبياتو پوهنځی عربي څانګې استاد [۱]، اردو څانګې استاد [۲]

ايمېل ادرس: abdurashidrashid786@gmail.com / mmasihullah846@gmail.com

لنډيز

د عربي او پښتو ادب لنډې کيسې پرتليزه څېړنه تر سرليک لاندې مقاله چې متيود يې تشريحي او کتابتوني دی، د عربي او پښتو ادب له مهمو سرچينو څخه پکې ګټه اخيستل شوې ده، د لنډې کيسې د پيدايښت، لومړنيو ليکوالانو، بنسټيزو توکو ورته والی او توپير پکې څرګند شوی دی.ددې څېړنې اهميت په دې کې نغښتي، چې ددو مهمو ژبو دنثري ژانر لنډې کيسې پرتلنه پکې شوې او دا څېړنه د عربي او پښتو ادب اړوند محصلان، استادان او ليکوالانو ته د اشتراک او افتراک ور پرانيزي. په پښتو ژبه کې د دې ادبي ساحې معلوم څرک نه تر سترګو کيږي دعربي او پښتو ادب لنډې کيسې ترمنځ پکې پرتلنه شوې وي. لنډه کيسه عربي او پښتو ادب ته د ژباړې له لارې داخله شوې او په ذکر شوو ادبياتو کې لنډه کيسه د ځانګړتياوو او بنسټيزو توکو له مخې او د ټولنيزې اصلاح، روح ارامولو او خلکو ته د پيغام رسولو لپاره کارول کيږي. عربي ادب ته لنډه کيسه د فرانسوي ادب څخه او پښتو ادب ته د ځينو څېړونکو په اند له اردو ادب څخه راغلې ده. په عربي ادب کې لومړی لنډه کيسه محمد حسين هيکل د «زينب» په نامه په (۱۹۱۴م) کال کې او ميخائيل نعيمه د «سنتها الجديدة» په نوم وليکله. په پښتو ادب کې لومړی لنډه کيسه د راحت زاخيلي «شليدلې پنه» په نوم په (۱۹۰۸م) کال کې او «کونډه جينی» په (۱۹۱۷م) کال کې وليکله، او بيا عبدالحی حبيبي په (۱۳۱۲ل) کال کې « د سرو زرو ګيند» په نوم لنډه کيسه وليکله.

آروييونه: ادب، پرتلنه، پښتو، عربي، لنډه کيسه

سریزه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، اَلْحَمْدُ لِله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَ الْصَّلوةُ وَ الْسَّلامُ عَلى سيد الْمُرسَلِيْنَ وَ عَلى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.

لنډه کیسه د معاصر ادب له مهمو نثري ژانرونو څخه شمیرل کیږي، چې د انسان ژوند احساسات، ټولنیز اوفکري بدلونونو او تجربو لنډ، خو ژور تصویر وړاندې کوي. په عربي او پښتو ادبیاتو کې هم لنډه کیسه د ادبي پرمختګ له مهمو وسایلو څخه ګڼل کیږي. دا پرتلیزه څېړنه چې د عربي او پښتو ادب لنډې کیسې مشترکات او ګډ ټکي یې څرګند کړي او په تاریخي لحاظ یې د دواړو ژبو ادب کې د منځته راتګ په اختلافي پراونو باندې بحث شوی دی. څېړنه کتابتوني یا اسنادي میتود باندې تر سره شوې ده. د شیخ زاید پوهنتون ادبیاتو پوهنځی کې د نورو څانګو تر څنګ به د عربي او پښتو څانګې محصلانو لپاره او حتا هغه ادیبان او لیکوالان چې د عربي او پښتو ادبیاتو په اندول کې لیکنې کوي له دوی سره به د لنډې کیسې په برخه کې زیاته مرسته وکړي او په دې برخه کې به یې په خپلمنځي اړیکه او اختلاف باندې پوه شي. د دې څېړنې موخه دا ده چې په عربي او پښتو کې د لنډې کیسې ادبي ځانګړونو ، موضوعاتو، سبکونو او ټولنیزو انعکاسونو پرتلنه ده، تر څو د دواړه ژبو ادبیاتو تر منځ ورته والی او توپیرونه روښانه شي. په دې څېړنه کې څرګنده شوې چې څه ډول په عربي او پښتو ادب کې لنډه کیسه رامنځته شوې، څه ډول یې وده کړې او څه ډول یو له بل سره ورته والی او توپیرونه لري.

د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه په عربي او پښتو ادبیاتو کې د لنډې کیسې د جوړښت، محتوا او تخنیکي اړخونو پرتلنه ده، تر څو د دواړو ادبونو تر منځ ورته والی توپیرونه روښانه شي. په دې څېړنه کې څرګنده شوې چې څه ډول په عربي او پښتو ادب کې لنډه کیسه رامنځته شوې ده څه ډول یې وده کړې ده او څه ډول یول له بل سره ورته والی او توپیرونه لري.

د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د ادبیاتو پوهنځي اړوند عربي او پښتو څانګو محصلان به په څانګړي ډول له عربي او پښتو ژبو ادبیاتو په مشترکاتو باندې پوی شي او همدارنګه به د ددواړ ژبو ادبیاتو د لنډې کیسې په ساحه کې په توپیرونو باندې اګاهي حاصله کړي. هغه لیکوالان او څېړونکي چې د عربي او پښتو ادبیاتو سره اړیکه لري، د دې څېړنې په مرسته به د دوی لپاره د یادو ادبیاتو په برخه کې د نویو څېړونو لار پرانیزي.

د څېړنې کړنلاره

د عربي او پښتو ادب لنډې کيسې پرتليزې څېړنې مقالې ډول کيفي دی. مېتود يې تشريحي او کتابتوني دی. پدې مانا چې تشريحي ميتود او کړنلاره په کتابتوني څېړنه کې د استفادې وړ ده، چې په يادە کړنلاره کې توضيحاتو او تشريحاتو ته اړتيا وي او اسنادي څېړنه ځانګړي معيارونه لري چې دهغې معيارونو پر بنسټ مو دغه څېړنه تر سره کړې ده. د دې څېړنې له پاره مې په لسګونه معتبر کتابونه او تر څنګ يې مقالې مطالعه کړې او د دې څېړنې د ترتيب لپاره مې په لوستلو شوو کتابو کې د موضوع اړوند برخې په نښه کړې . د څېړنې په وخت کې مې په ترتيب سره د نښه شوو موضوعاتو څخه کار واخيسته.

د عربي او پښتو ژبو د لنډې کيسې پرتليزه

کيسه چې په عربي کې ورته (قيصة) ويل کيږي په عربي قاموسونو کې يې لغوي مانا په لاندې بڼو سره کړی ده:

۱- خبر

۲- هغه ادبي برخه چې ليکل کيږي

۳- پېښه

۴- نقل

۵- بيان. (الأفريقى، ابن منظور، ۱۴۱۹هـ، جـ ۱۱، ص. ۱۹۱)

او د لنډې کيسې اصطلاحي تعريف په زياتو بڼو شوی چې په لاندې ډول به نغوته ورته وکړو:

۱- عربي ليکوال طه وادي وايي: (هغه ادبي تجربه ده چې د انسان په ژوند کې يوه لحظه تعبيروي، نو دا يو داسې هنر دی چې بنسټ يې په لنډيز ولاړ او يوه شيبه په نښه شکل انځور کړي او داشيبه کله ساعت، ورځ او ياهم اونۍ او مياشت ونيسي خو کيسه ليکونکی دتفصيل پروا نه لري. (وادي طه، ۱۹۹۴، ص. ۲۰)

۲- عربي لنډه کيسه ليکونکی أحمد تيمور وايي: (لنډه کيسه بايد دخپلو اصولو سره سم تيت پرک موضوعات راغونډ نه کړي چې دژوند زياته برخه ونيسي، که چيرته د لنډې کيسې ليکوال په خپله کيسه کې زيات معلومات راټول کړي بيا لنډه کيسه نه؛ بلکې د اوږدې کيسې لنډيز بلل کيږي). (أمين مختار، ۲۰۱۸، ص. ۲۵)

۳- د پښتو ادب ليکوال عبدالعليم اثر افغاني د لنډې کيسې په اړه ليکلي:(لنډه افسانه(کيسه) هغه وړه کيسه يا بيان دی چې په هغې کې يوه خاصه واقعه يا حادثه يا کردار داسې ښکاره شوی وي چې دهغې خاصې واقعې، پېښې، کردار له پاره چې کومې خبرې زياتې ضروري وي هغه بيان شوې وي، خو دغه بيان نه داسې په تشريح سره وي چې اوږده قصه ترې جوړه شي او نه داسې وي چې سړی پرې هيڅ پوه نه شي، بلکې ليکونکی د خپل هنر په زور څه خبرې څرګندې کړي او څه د لوستونکي ذهن ته پريږدي او د ليکلو په وخت کې ځان په افسانه

کې داسې محوه کړي چې د دغې افسانې یو کردار یې وګڼي او دغسې چې بیا هغه څوک لولي یا اوري او ګوري هغه هم ځان د دغې افسانې یو کردار ګڼلو ته مجبور شي او په دې طریقه سره د ماحول ټوله نقشه د سړي ذهن ته راتلی شي. (رشید، ۱۴۰۴، ص. ۵۹)

۴- اډګرالن پو وایي:(هغه نثري داستان چې په یوه ناسته کې ختمېږي) هغه ته لنډه کیسه وایي. (نوري، ۲۰۱۶م، ص. ۴۵)

۵- آیین واه وایي:(وړه افسانه د هغو کیسو نه یو ځانته ځیز دی کومې چې کیسې هم وي او ورسره وړې هم، دا د کیسې یو ښکاره بېل فني شکل لري، وړوکوالی، نوی والی، د فن ښکلا او د خیال ګډون د دې بېلتون کوي).(سیدي، ۱۳۹۸م، ص. ۱۹۱)

٦- د بریتانیکا انسایکلو پیډیا د اووم ټوک په (۷۱۱) مخ کې یې د لنډې کیسې د پیژندې په باب لیکلي دي:

لنډه کیسه د نثري کیسو یو ډول دی چې له داسې تړلیو عناصرو او توکیو څخه جوړه وي چې یو دبل تراغېز لاندې وي.

د پورتنیو تعریفونو څخه داسې معلومیږي چې لنډ کیسه یو نثري هنر دي چې ځانګړي اصول او قواعد لري چې دېښې یوه شیبه په ښه شکل سره وړاندي کوي.

په عربي ادب کې د لنډې کیسې دپیدایښت شالید

په عربي ادب کې د کیسې په پیدایښت کې د پوهانو اختلاف دی ۱- ځینې ادیبان او کره کتونکې په دې نظر دي چې کیسه په عربي ادب کې د پخوا زمانې څخه موجوده وه او داصحیح نظریه ده چې کیسه په عربي ادب کې له پخوا زمانو څخه موجوده وه او تر ټولو دپخوانیو قومونو کیسې قرآن کریم ذکر کړې ان دآدم علیه السلام دزامنو دقتل څخه درسول الله صلی الله علیه والسلام تر ژوند پورې، او دجاهلیت دزمانې خپلې کیسې موجودې دي، لکه: دنضر او حارث دقبیلو ترمنځ دشخړو کیسې او همدارنګه کله چې مسلمانانو دقرآنې کیسو تشریح ته پاملرنه وکړه په دې وخت کې دینې کیسې منځ ته راغلې او دیهودي او مسیحي کیسو سره ګډې شوې. او أموي خلیفه ګانو دینې کیسه کونکو ته ځانګړې پاملرنه شروع کړه چې ترڅو خلکو ته ددوستۍ نصیحت او خلک دجهاد لپاره تیار کړي او دې کیسه کونکو ته یې معاشونه وټاکل او کیسه کونکو ته یې اجازه ورکړه ترڅو په جوماتونو کې خلکو ته وعظونه او نصیحتونه وکړي؛ تردې چې د أبو سفیان زوی معاویه (رضي الله عنهما) بلاطه نومې سړي ته امر وکړ ترڅو کیسې په لیکلي شکل سره غونډې(تدوین) کړي.

۲- ځینې ادیبان او کره کتونکي په دې نظر دي چې کیسه په اوسني ډول او ددې اصولو او قواعدو سره د نوې ادبي دورې زیږنده ده او پخوا کیسه په دې شکل او اصولو سره نه وه موجوده او په دې کې هیڅ شک نه شته چې په اوسني شکل سره کیسه پخوا نه وه موجوده (أحمد سراج، ۲۰۱۸م، ص. ۳)

په عربي ادب کې د لنډې کیسې پراونه

په عربي ادب کې لنډه کیسه له دریو مهمو پراونو څخه تیره شوې ده:

۱- دژبارې او تولید پراو

داپراو د رفاعه طهطاوي له خوا شروع چې د فنلون فرانسوي (مغامرات تلیماک) په نامه کیسه یې عربي ادب ته وژباړه، رفاعة طهطاوي په دې ژباړه کې په خپله خوښه کلیوالې کیسې شعرونه او حکیمانه خبرې ورزیاتې کړې او له همدې زمانې څخه چې د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه شروع او دهمدې جګړې ترپایه پورې او وروسته له یادې جګړې څخه دپردیو کیسو ټکي په ټکي ژباړه شروع شوه.

(أحمد سراج، ۲۰۱۸م، ص. ۳)

عبد الرحمن الکبوطي په خپل کتاب (القصة القصيرة في الأدب العربي) کې وایي: (لنډه کیسه زمورږ عربي ادب ته د ژباړې له لارې راغلې امکان لري چې لومړۍ عربي لنډه کیسه د (رمية من غير رام) په نامه د سلیم بستاني له خوا په لبناني (الجنان) مجله په(۱۸۷۰م) کال کې خپره شوې ده او دې ته نیږدې د لبیبة هاشم کیسه (حسنات الحب) ترعنوان لاندې او نورې هڅې چې وروسته د لنډې کیسې ریښتینې هڅه کونکو او بنسټګرانو څخه شمیرل کیږي ، لکه: مصطفى لطفي المنفلوطي چې د (النظرات، العبرات، الفضيلة) لیکوال دی، او جبران خلیل جبران چې (صاحب الأرواح) لیکوال دی. (الکبوطي(ن)، ص. ۱۷)

۲- تقلیدي پراو دا هغه پراو دی چې د عربي مقاماتو په تقلید د أحمد فارس شدیاق په لاس په (۱۸۵۵م) کال د (الساق على الساق لما هو الفارق) بیوګرافي په شکل داسې وژباړه، چې دغه مقاماتو ژبني سبک او طنزي خوند له ځانه درلود وروسته له دې څخه ناصف یازجي، حافظ ابراهیم بن علي مبارک، فرید وجدي، ابراهیم مویلحي، محمد جمعة او صادق رافعي له خوا ځانګړې پاملرنه ورته وشوه او په دې تقلیدي پراو کې مویلحي د (المقامات الهمذاني) سبک پیروي شروع کړه او په دې پیروۍ کې مویلحي ډېرو بدیعي محسناتو ته پاملرنه ونه کړه او نه یې ډېرو ادبي او ژبني أصولو ته کتنه وکړه لکه: همذاني او حریري او مویلحي ټول پام ټولنیزې کرکتنې ته واړوو.

(أحمد سراج، ۲۰۱۸م، ص. ۱۹)

۳- تخلیقي او ابتکاري پراو

په عربي ادب کې تخليقي او ابتکاري پراو په لومړۍ کيسه چې په خپله لمن کې د اورپايي نوې کيسې ځانګړنې له ځان سره راټولې کړې د سليم بستاني (زنوبيا) کيسه چې په (۱۸۷۱م) کال وليکل شوه، وروسته له دې څخه طه حسين هم په همدې طريقه سره چې د اورپايې کيسې ځانګړنې يې لرلې د (الوعد الحق) په نامه لنډه کيسه او توفيق حکيم د (أهل الكهف) او محمد فريد په (اليوم خمر) او د محمد لطفي جمعة (في بيوت الناس) کيسه چې په (۱۹۰۴م) کال ليکل شوي د لنډې کيسې په پرمختګ کې مهمې کيسې بلل کيږي؛ مګر د سوچه عربي لنډې کيسې چې د کره کتونکو له خوا يې پوره هڅه محمد حسين هيکل ته ګرځي د (زينب) په نامه ده چې په (۱۹۱۴م) کال وليکل شوه او په همدې کال يوه بله لنډه کيسه چې د ميخائيل نعيمة له خوا د(سنتها الجديدة) په نامه ليکل شوې اوځينې ادبي کره کتونکو له خوا بيا دا لنډه کيسه په عربي ادب کې معياري لنډه کيسه بولي.

په پښتو ادب کې د لنډې کيسې پيدايښت

په پښتو ادب کې لنډه کيسه دوه پړاوونه لري: لومړی ژباړه. دوهم تخليق او ابتکار.

لومړی د ژباړې پړاو

د پښتو ادب زيات ليکوالان او ادیبان په دې نظر دې چې په لومړي قدم کې لنډه کيسه د ژباړې له لارې پښتو ادب ته راغلې داد محمد ناوک يې په اړه داسې ليکي: (ځنيې ځيړونکي دا نظر لري چې اردو ادب پريم چند د کيسې په تعقيب پښتو ادب ته راغلې ده). (ناوک، ۱۳۹۱ل، ص.۱۲)

او د داد محمد ناوک د خبرې پخلی د زرين انځور دا قول هم کولای شي چې وايي: (لومړی داستان په پښتو ادب کې د اردو ادب په واسطه شوی او مرآة العروس لومړی داستان دی چې د ډيپټي نذير احمد صاحب له خوا پښتو ژبې ته ژباړل شوی او دا داستان په اردو ادب کې هم لومړی داستان دی او دا داستان په (۱۸۹۶م(کال کې ژباړل شوی. (أنځور، ۱۳۹۴ل، ص. ۱۴)

او ډاکټر حميد الله عمر خيل ددکتورا په خپل ډيزرټيشن کې د لنډې کيسې په بنياد داسې وايي: (په شلمه پيړۍ کې اردو کې پريم چند دلنډې کيسې بنياد کيښود. داردو او نګريزي لنډو کيسو نتيجه کې پښتو ته هم لنډې کيسې رانغوتې). (عمرخيل، ۱۴۰۱ل، ص. ٦٣)

او ښاغلی ګل افضل په دې باب وايي: (پښتو ليکوالو تر ډېره حده د اردو ليکوالو نه د دې فن زده کړه کړې ده لکه چې اردو افسانه نګارو د انګريزي کې ترجمه شوي يورپي او امريکايي افسانو نه تاثير اخيستی دی). (سهيم، ۱۳۹۷ل، ص. ۲۱)

د پورتنيو ځيړونکو دليکونو په بنياد ويلی شو چې پښتو ادب ته د لنډې کيسې پيدايښت د ژباړې له لارې شوی دی.

دویم د تخلیق او ابتکار پراو

استاد راحت زاخېلي د پښتو لومړنۍ معلومې لنډې کیسې لیکوال دی، چې د هغه (شلېدلې پېنه) په (۱۹۰۸م) او (کونړه جینۍ) په (۱۹۱۷م) کال خپرې شوې دي. دغه راز یې یو شمېر نورې لنډې کیسې هم لیکلې دي. د کیسو عمده برخه یې د هغه له مړینې وروسته (دراحت افساني) په نوم خپرې شوې دي، خو یو شمېر کیسې یې په یاده ټولګه کې نه دي راغلي. دا چې پښتو لومړنۍ معلومه لنډه کیسه کومه ده؟ محمد اعظم اعظم په خپل کتاب (پښتو افسانه – تحقیق او تنقید) کې لیکي:

(کونړه جنۍ د (۱۹۱۷م) شاوخوا کې راحت زاخېلي مرحوم ولیکله او دغه شان راحت زاخېلي د پښتو د نوي رنګ افساني سرخېل وټاکل شو. د دې افساني رنګ اصلاحي او ماحول یې پښتني دی... ښاغلي راحت دویمه افسانه(شلېدلې پېنه) په کال (۱۹۱۹م) کې ولیکله او دغه شان تر اخره وخته پورې یې کله نا کله افسانو ته د قلم غاړه ورکړه. د دې افسانو څرګند اړخ اصلاحي دی، د ښاغلي راحت ځینو نورو زمه وارو لکه شاعري او صحافت هغه دې ته پرېښود چې په لوس لاس خپل ذهني او تخلیقي قوتونه یوازې افساني ته وسپاري دغه وجه ده چې د پښتو اولنی افسانه لیکونکی ونه بللی شو. کیدای شي چې د افساني د لارې رهبر ته په لویه لاره باندې ځان یوازې ښکاره شوی وي او په ابتدا کې زړه ماتی شوی وي.

د استاد راحت د لومړنیو لنډو کیسو په اړه په لنډیز سره دومره ویلی شو چې: (شلېدلي پېنه) یو روایتي داستاني اثر دی چې د لنډې کیسې یا (افساني) نښې پکې دي او څرنګه چې لومړنی دغسې اثر دی یوه بشپړه او په معیارونو پوره کیسه یې نشو بللی. حادثه یا پېښه دومره جدي نه ده لکه په کیسه لیکنه کې چې پکار وي، پېښه په قصدي توګه د پېنې غورځول او په سپکه سترګه ورته کتل دي او بیا د پېنې خپل غبرګون همدا اصلي پېښه ده.(انځور،۱۳۹۳ل، ص. ۴۰)

په افغانستان کې هم د نورو نوښتونو او ادبي پنځونو تر څنګ د لنډې کیسې پیل هم لوی استاد علامه حبیبي کړی او د (۱۳۱۲ل) کال د طلوع افغان په کالنۍ کې یې(د سرو زرو ګنبد) تر سرلیک لاندې یې یوه داستاني طرحه نشر کړه چې د لنډې کیسې ځینې نخښې او څرکونه پکې وو؛ خو استاد پوهاند حبیبي په اوسني معیار یو څه برابره لنډه کیسه په (۱۳۱۵ل) کال د طلوع افغان لومړۍ ګڼه کې د(توریالۍ پښتنه) تر سرلیک لاندې یوه حماسي کیسه خپره کړه چې د لنډې کیسې یوه نمونه یې بللای شو. تر دې وروسته په طلوع افغان کې ګڼې لیکلې او ژباړلې لنډې کیسې نشر شوې او نورو لیکوالو د لنډو کیسو په لیکلو لاس پورې کړ؛ خو زیاتو یې نور مصرفیتونه درلودل او لنډې کیسې یې په ضمني توګه لیکلې چې په دې لړ کې د ارواښاد استاد ګل پاچا الفت ، سراج الدین سعید، عبدالقدوس پرهیز، مولانا شریف حبیبي، عبدالرحیم هاتف، غلام محی الدین زرملوال، ننګ یوسفزی، امان الله

سېلاب، محمد صديق روهي، نصرالله حافظ، محمدیوسف صافي او یو شمېر نورو کسانو نومونه اخیستلای شو.(عمرخېل،۱۴۰۱ل، ص. ۹۲)

خو باید په یاد ولرو چې که څه هم دلته او هلته د پښتو کیسه لیکنې په ډګر استاد راحت او استاد حبیبي د لومړیتوب او مخکښ توپ ویاړ تر لاسه کوي او تر دوی وروسته د هنر دا صنف په پرله پسې توګه وده مومي او ورځ تر بلې یې د مینه والو شمېر زیاتېږي، خو دا خبره په دې مانا نه ده چې لر او بر ټول پښتانه لیکوال کوم چې لنډې کیسې ته لاس ورکوي او د پرمختیا او پیاوړتیا پرلیکه یې بیایي، یو مخیزه د لویدیځ د شارټ ستوري د ژباړل شوو نمونو له اغېزې په څنګ پاتې وو، بلکې پوره باور دی چې په پښتو ادب کې د لنډې کیسې د بابیدو او ودې په کار کې دلویدیځ د سترو لکیوالو د اثارو مطالعه له یوې خوا او له هغو څخه د ژباړلو اثار او اغیزه له بلې خوا ستر نقش تر سره کوي. حتی د پښتونخوا په برخه کې خو مونږ د اروپایي لیکوالو په څنګ کې دیو شمېر هندي لیکوالو لکه منشي پریم چند، سجاد حیدریلدرم، سدرشن، حسیني، عظیم کریوی او نورو تاثیرات هم نشو هیرولای.

د راحت په افسانو باندې د اردو ادب تاثیر د پښتونخوا یو بل لیکوال داسې په ګوته کوي: د پښتو افسانه نګارو سر خیل راحت پښتو ادب ته په ډومبی ځل افسانه ور داخله کړه. دا هغه زمانه وه چې اردو ادب ته د افسانې صنف د روانې صدۍ(۱۹ پیړۍ) په سر کې د انګریزي ادب نه رارسیدلی و او پریم چند، سجاد حیدریلدرم ، دوی په دې میدان کې تجربه کولې...

که پریم چند په (۱۹۱۰م) کې د (بڑی گھر کی بیتی) یا دلویې کورنۍ لور، نومې مشهوره ابتدایي افسانه ولیکله، نو راحت صاحب په (۱۹۱۷م) کې (کونډه نجلۍ) د پښتو لومړنۍ افسانه ولیکله... اردو ادب کې چې په کوم ډول افسانه شروع شوه هم په هغه معیار راحت صاحب پښتو کې شروع کړه چې وروستیو پکې بیا ګڼو لیکوالو د خپل فکر او فن نیلی وزغلولو. (سهیم،۱۳۹۷ل، ص. ۲۱)

د لنډې کیسې ځانګړنې

۱ـ افسانه لنډه وي او د یوه کردار یوازې یوه لحظه، یو احساس، یا یوه ناارامه فضا پکې انځوریږي.

۲ـ د لنډوالي له امله افسانه په یوه خیال، یوه پېښه، یوې تجربې یا احساس ولاړه وي، نو ځکه یو ځانګړی تأثر لري چې تر پایه هماغه احساس پکې غالب وي. (قندیل، ۲۰۰۲م، ص. ۵۶)

۳ـ افسانه تېزه روانه وي، لکه یو مسافر چې وخت نه لري، خو مزل اوږد وي. نو لیکوال اړ باسي چې بې ځایه تم کېدل پرېږدي، له خنډونو ژر تېر شي، له اغزو ځان وساتي، له سیندونو په بیړه واوړي او خپل منزل ته په بیړه ورسېږي.

۴ـ افسانه یواځې یو مرکزي پلاټ لري.
۵ـ د افسانې کردارونه زیاتره ثبات لري، بدلون نه کوي، او پکې د خیالونو یا احساساتو پراخ بیان ته ځای نه وي.
٦ـ افسانه معمولاً له سیمه‌ییزرنګ، چاپېریال، او دځای له ځانګړتیاوو سره ترلې و.
(هاشمي،۲۰۰۳م، ص. ۱۳۲)

پورته ځانګړنو ته په کتو به غوره وي چې وویو: لنډه کیسه هغه هنري نثر دی چې په لږو الفاظو کې ډېرې خبرې وکړي او دومره اوچت پیغام وړاندې کړي چې لوستونکی پر اغېزمنولو سربېره پریکړې کولو ته هم اړباسي او لومړی له ځانه اصلاح پیل کاندي یا په ساده توګه لنډه کیسه هغه هنري او په زړه پورې لنډ فورم دی چې د یو شخص (که نر وي یا ښځه) د ژوند یوه وړه پېښه داسې انځور کړي چې په هغې کې د شخص پر کړو وړو سربېره لوستونکي ته لوی پیغام او فکر ولېږدوي.

پخوا لنډې کیسې په درې ډوله ښوول کېدلې، اوږده کیسه، منځنۍ کیسه او لنډه کیسه؛ خو اوس د لنډکۍ په نامه کیسې هم دود دي چې تر پورتنیو درېواړو ډولونو ډېر مینه وال لري او په دې وروستیو کې خو عبدالله الهام جمالزي د مینیمالونو یا لنډې لنډکۍ کیسې یا کیسه ګۍ په نامه کیسې را ټولې کړي چې زما په اند ډېره کامیابه تجربه ده.(سیدي، ۱۳۹۸ل، ص. ۱۹۲)

په هر حال! د لنډې کیسې د تاریخ او پیدایښت په اړه پوهان ټول په یوه خوله نه دي، هر یو جلا نظر لري او جلا شخص پورې یې تړي، خو ډېر پوهان په دې همغږي دي چې لنډه کیسه یا Short Story شارټ ستوري لومړۍ پلا د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي په (۱۸۴۲م) کال کې وپنځېده او اډګر آلن پو د دغه صنف لپاره ځینې آرونه او چوکاټونه وټاکل چې له مخې یې د لنډې کیسې ژانر د ځانګړي او جلا صنف په توګه وپیژندل شو.

له آلن پو وروسته براندر ماټیوز هغه لیکوال و چې پر (۱۸۸۵ م) کال یې د لنډې کیسې اصطلاح په یوې لیکنې (خپل کتاب یې و، دکیسې فلسفه) کې په پوهنیزه توګه وڅېړله او دا یې زیاته کړه چې لنډه کیسه او هغه کیسه یا کیسې چې د اړتیا له مخې لنډېږي سره توپیر لري او هیڅکله د ناول د کیسې یوې برخې ته کیسه نه ویل کیږي.

که خبره مو رانچوړ کړو کله چې په غربي ادب کې لنډه کیسه د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په پیل کې خپل شهرت ته ورسېده، ورسره سمه بېلابېلو هېوادونو او ژبو ته هم وکوچیده چې ځینو ته نېغ په نېغه او ځینو ته هم د نورو هېودانو او ژبو له لارې ور ورسېده، پښتو ادب ته یې هم د اردو ادب له لارې لاره پیدا کړه او د لومړي ځل لپاره سیدراحت الله راحت زاخیلي په پښتو ژبه په (۱۹۰۸م) کال کې ولیکله او نوم یې ورته

((شلېدلې پڼه)) ورکړ؛ خو ډېر ادب څېړونکي په دې خبرې هم د نظر اختلاف لري او وايي چې د زاخيلي يا په عامه اصطلاح د پښتو ژبې لومړنۍ لنډه کيسه شلېدلې پڼه نه؛ بلکې ((کونډه نجلۍ)) ده، په داسې حال کې چې دا پوښتنه په کراتو کراتو څواب شوې ده او زرين انځور د همدغې مسلې په اړه په خپل اثر کې ليکي:((په دې توګه مورِ وينو چې د پښتو معلومه اولومړنۍ کيسه((شلېدلې پڼه)) ده چې په ۱۹۰۸ م کال کې چاپ شوې هم ده، خو زمونږ د معاصرو داستاني ادبياتو د څېړونکو او کره کتونکو لاس ته نه وه ورغلې. د پښتو دويمه لنډه کيسه((کونډه جينۍ)) ده چې په ۱۹۱۷م کال چاپ او خپره شوې ده)).

نو که د انځور د معلوماتو له مخې د کيسو تاريخونو ته ځير شو، کابو د لسو کالونو په شاوخوا کې توپير لري چې څرګند توپير دی او لومړيتوب يې په خپله جوتوي.

که له زاخيلي راتېر شو په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره پښتو لنډه کيسه پوهاند عبدالحی حبيبي په (۱۳۱۵ لمريز ـ ۱۹۳٦م) کال کې د طلوع افغان په څوارلسم خپرنيز کال، لومړۍ گڼه کې د ((توريالۍ پښتنه)) په نامه خپره کړه چې ځينې يې ډرامې ته ورته بولي، خو د ځانګړنو له مخې يې کابو په تول تللې لنډه کيسه ده چې له دې کيسې وروسته هلته او دلته د لنډو کيسو په ليکلو پيل وشو او په کافي اندازه کيسې وليکل شوې چې په لږ وخت کې پر کنډې برابرې شوې چې له نېکه مرغه تر ننه ليکل کېږي او شمېر يې په سوونو ټولګو ته رسېدلی دی.(سيدي، ۱۳۹۸ل، ص. ۱۹۴)

د لنډې کيسې جوړښتي توکي

۱. پېښه (واقعه): پېښه يا واقعه د لنډې کيسې د جوړښت لپاره بنسټيز اهميت لري، بې له پېښې څخه د کيسې رغبت او جوړښت ناشونی دی. همدغه پېښه يا واقعه ده چې د هغې له مخې د کيسې طرحه يا پلاټ جوړيږي.

۲. پلاټ يا اډانه: په کيسه کې هغې برخې ته وايي چې کيسه پرې را څرخي يو بهرنی ليکوال چې ايم فوستر نومېږي وايي: اډانه د کيسې د شمزی حيثيت لري. د پلاټ ګټه دا ده چې کيسه بې نظمی ته نه پرېږدي او د همدغې اډانې په وسيله کيسه ليکونکی ټول هغه داخلي احساسات، عواطف، رواني، فلسفي او منطقي ليدلوری چې له مودو راهيسې يې په ذهن کې ګرځي را ګرځي کولای شي څرګند کړي.

په اډانه کې ترټولو مهم شی وحدت او تسلسل دی؛ ځکه په اډانه کې هره يوه برخه لکه: کړنه، پېښه او آن طنز له خپلې زاويې څخه ليدل کېږي او همدا لامل کېږي چې کيسه يو ډول خوند پيدا کوي او له دې پرته بې خونده کېږي. (نوري، ۱۳۹۸ل، ص. ۲۲، او مختار، ۲۰۱۸م، ص. ۳۸)

۳. د کیسې پیلامه: د یوه کار پیلول د نیم کار ترسره کول دي. د هر کار پیل تر ادامې ګران او ستونزمن وي سره له دې چې په عام ډول د لنډې کیسې پیلامه زیاتره لیکوال د خپل ذوق له مخې کوي، خو بیا هم د پیلامې لپاره ځینې داسې غوره لارې چارې هم شته چې اوس تقریبا د یو معیار په توګه ګڼل شوي او منل شوي دي.

د لنډې کیسې پیلامه باید داسې وشي چې لوستونکي لوستو او اورېدو ته داسې لیوال کړي چې تر پای پورې هغه پرې نږدي.

په هنري ادبي لیکنو کې دا چار په دوو لارو ترسره کیږي:

یوه لاره دا ده چې لیکوال کیسه له پای څخه پیل کوي او د لیکوالۍ په فني او تخنیکي مهارت پیل ته راځي او بیا په کیسه کې د شاملې موضوع تفصیل بشپړوي.

تر دی هم بله غوره لاره دا ده چې لیکوال د کیسې د ټولو نه غوره مکالمه یا په پېښه او واقعه کې حساس ټکی لومړی بیان او بیا د نورې پېښې تفصیل راوړي.

۴. کرکټر: کرکټر د انسان دایمي کړنو، خصوصیاتو او عادتونو ته شخصیت ویلای شو، په لنډه کیسه کې باید د کرکټرونو درې ګوني اړخونه په نظر کې ونیول شي چې عبارت دي له:

الف ـ خارجي کرکټر اړخ: دا اړخ د کرکټر یا شخصیت ظاهري بڼه څرګندوي چې ایا زمونږ د کیسې کرکټر هلک دی که نجلۍ، زوړ دی که ځوان او داسې نور...

ب ـ داخلي اړخ: د کرکټر نفسیاتي بڼه او فطرت څرګندوي، چې ایا زمونږ د کیسې کرکټر کوم ډول اند لري، د کومې مفکورې او عقیدې خاوند دی، دخپلې ټولنې او خلکو او یا د نورو اشیاوو په مقابل کې لیدلوری څه دی.

ت ـ ټولنیز او اجتماعي اړخ: دلته باید جوته شي چې کرکټر په ټولنه کې کوم موقف لري ایا ډاکټر دی، بزګر دی، که خیاط او داسې نور...

دغه درې اړخونه مونږ باید د تصویر او انځور په واسطه ترسیم کړو، تر ټولو لومړی دا مهمه ده چې راوي او یا دکیسې لیکوال دخپلې کیسې د کرکټرونو ټولو خواوو سره بلد وي، خپل کرکټرونه باید داسې وپیژني لکه: یو نژدې ملګری چې د ملګري په ټولو خصوصیاتو بلد وي او بیا یې نورو ته د کیسې د ضرورت او اړتیا له مخې

انځور کړي؛ دا چې د نانځکو په څېر بې روحه وي او راوي يې هاخوا او دې خوا کوي. يا پخپله روح ولري، ژبه ولري، حس او درک ولري او د ستونزو او پېښو په مقابل کې عواطف څرګند کړي.(نوري، ۱۳۹۸ل، ص. ۲۴)

۵. تخيل(خيال پردازي): په لنډه کيسه کې هم د نورو ادبي او هنري ليکنو په څېر تخيل اړين دی، دا ځکه چې تخيل د هنري ليکنو آر توکی دی او بې له دې هېڅ ادبي هنري ليکنه ادبي نه ګڼل کيږي. د تحقيقي او تخليقي ليکنو يو غټ توپير هم دا دی، چې تحقيقي ليکنې ډېرې وچې وي، ځکه چې ټول پېچلي الفاظ پکې رانغاړل کيږي او عادي خلک ډېر ژر ستړي کوي؛ خو تخليقي ليکنو ته بيا تخيل دومره رنګ ورکوي چې تر ډېره ځايه لوستونکي راضي ساتي.

٦. اوج يا (climax): د لنډې کيسې هره طرحه بايد د اوج او پرېکنده شيبې ولري ، چې هغه بايد په ډېرې اسانۍ سره وپيژندل شي. دې ته بايد پاملرنه وشي چې د يو سبه اوج ټکي ليکنه ډېره ستونزمنه او له کړاوه ډکه ده. دکيسې لوړ ټکی د مسايلو او مشکلاتو د حل پړاو وي. د مخه اچولې غوټې يو پربل پسې خلاصيږي او کيسه د منطقي پايلې پرلور راونيږي.

۷. دکيسې پايله: هرپېښه چې په کيسه کې وړاندې کيږي خماخا به پيل، اوج او پای لري. د کيسې پېښه د کرکټرونو، مکالمو، اعمالو، افعالو او منظرکښنې په وسيله ورو ورو پر مخ ځي، ناڅرګنده اړخونه يې څرګند او اچول شوي غوټې خلاصيږي، تر څو روان کشمکش وروستي پړاو ته ورسيږي او منطقي پايلې وړاندې کولو ته لاره پرانيستل شي. دا په واقعيت کې هغه پړاو دی چې دلته بايد ټول هغه مقصد، اغېز او تاثير يا پيغام چې ليکوال يې لوستونکي ته رسول غواړي، بشپړ شي. (نوري، ۱۳۹۸ل، ص: ۲٦ او مختار، ۲۰۱۸م، ص. ۳۹)

۸. تلوسه: کيسه په تلوسه کيسه ده، له تلوسې پرته کيسه يو، روايت، نصيحت يا هم يو حکايت دی. يا کولای شو ووايو چې همدې تلوسې له لنډې کيسې کيسه جوړه کړې کنې له ګڼو نورو هنري ادبي فورمونو سره به يې توپير ګران و.

تلوسه هغه مهارت دی چې لوستونکی له وېرې، شک او تردد سره مخ کوي او لوستونکی اړباسي څو حقيقت ځان ته معلوم کړي.

۹. مکالمې او منظرکښنه: مکالمې د تلوسې په څېر د لنډې کيسې اساسي عنصر نه دی، کيدای شي په يوه کيسه کې مکالمې بيخي رانه شي خو د تلوسې شتون په هره کيسه کې حتمي دی. داسې کيسې هم شته چې مکالمې پکې راځي، خو ليکوال بايد دا مکالمې په ډېر دقت سره راوړي او د هغه کرکټر د حالت څرګندوونکې وي.

یعنې د خوشحالۍ پر وخت باید مکالمې هم د خوشحالۍ په انداز وویل شي او د خپګان پر وخت باید د خپګان حالت څرګندوونکې وي.

۱۰.د لنډې کیسې پیغام: هر لیکوال د کیسې له لیکلو یوه موخه لري او غواړي څو یو پیغام ټولنې ته ورسوي. د پیغام لېږدول د لیکوال اصلي رسالت دی. لیکوال هڅه کوي څو د ټولنې ناخوالې په هنري انداز خلکو ته ورسوي دا پیغام کله د لنډې کیسې په چوکاټ کې بیانوي، کله د تکل، کله د ناول او کله هم د نورو ادبي هنري نثرونو له لارې. لیکوال په ټولنه کې یوه ستونزه وینې نو ځکه تکل کوي چې دې ستونزې ته د خپل قلمي ځواک له لارې انعکاس ورکړي څو د حل په موخه یې اقدام وشي یا هم داسې پیغام بیانوي څو نور پند ترې واخلي. (نوري، ۱۳۹۸ل، ص. ۲۴)

پرتلنه

د عربي او پښتو ادب دلنډې کیسې ترمنځ د ورته والي او توپیرونه په لاندې شکل سره بیانولی شو:

۱- عربي او پښتو ادب لنډې کیسې ورته والی.

الف- عربي او پښتو دواړه ادبونو ته لنډه کیسه دژانړ له لارې داخله شوې.

ب ـ په عربي او پښتو دواړه ادبونو کې لنډه کیسه دې یوشان بنسټیزو توکو څخه جوړه شوې ده.

ج – په عربي او پښتو دواړه ادبونو کې لنډه کیسه دیوشان موضوعاتو لپاره کارول کیږي لکه: اخلاق، دټولنې ناخوالو مخنیوی، دروح خوشحالي او نور...

۲- د عربي او پښتو ادب لنډې کیسې توپیرونه:

الف- په عربي ادب کې لنډه کیسه درې پړاونه لري: ۱- ژباړه ۲- تقلید ۳- تخلیق او ابتکار او په پښتو ادب کې لنډه کیسه دوه پړاونه لري: ۱- ژباړه ۲- تخلیق او ابتکار

ب- په عربي ادب کې لومړۍ ژباړل شوې لنډه کیسه دسلیم بستاني د (رمیة من غیر رام) په نامه چې په (۱۸۷۰م) کال کې خپره شوه او یا هم عربي ته لنډه ژباړل شوې کیسه د رفاعة طهطاوي د (مغامرات تلیماک) په نامه د فنلون فرانسوي لیکوال لنډه ژباړل شوې کیسه بلل کیږي او په پښتو ادب کې د لنډې کیسې ژباړونکی او ژباړل شوې لنډه کیسه معلومه نه ده.

ج – په عربي ادب کې د معیاري لنډې کیسې لیکوالان محمد حسین هیکل چې د (زینب) په نامه یې ولیکله او میخائیل نعیمة چې د (سنتها الجدیدة) په نامه یې لیکلې دلنډې کیسې لومړني لیکوالان شمېرل کیږي او په پښتو ادب کې راحت زاخیلي په کوزه پښتو نخوا کې د (شلیدلې پنه) په نامه (۱۹۰۸م) کال کې لنډه کیسه

ولیکله او په افغانستان کې استاد حبیبي د "سرو زرو گیند" چې په (۱۳۱۲ل) کال یې ولیکله د لنډې کیسې لومړني لیکوالان بلل کیږی.

د – دعربي ادب دلنډې کیسې مشهور لیکوالان: سلیم بستاني، رفاعة طهطاوي، محمد حسین هیکل، توفیق حکیم، محمود تیمور اوداسې نور شمیرل کیږي او دپښتو ادب لنډې کیسې مشهور لیکوالان: سید راحت زاخیلي، عبد الحی حبیبي، ماستر عبد الکریم او داسې نور شمیرل کیږي.

پایله

دا پرتلیزه څېړنه چې د عربي او پښتو ادب په ساحه کې د لنډې کیسې د تاریخي سیر او لومړنیو پړاونو او هنري هڅو په اړه ترسره شوه چې لاندې پایلو ته رسیږو:

عربي د سامي او پښتو د هند و اروپایي ژبکورنۍ سره تړاو لري، خو په ادبي نړۍ کې د سرحداتو د نشتون له امله اکثریت ژبې یو له بل سره ادبي تعامل لري نو پدې سبب عربي ژبې د لنډې کیسې په رامنځته کولو کې له فرانسوي ژبې ادب څخه متاثره ده او پښتو ادب کې د لنډې کیسې راتګ له اردو ادب څخه اغېزمن دی په دې توپیر چې په عربي ادب کې لنډه کیسه په (۱۹) مه پیړۍ کې داخله شوه چې پیل یې له ژباړې څخه وشو او په پښتو ادب کې بیا د عربي په پرتله څو لسیزې وروسته په (۲۰) مه پیړۍ کې د ژباړې پواسطه داخله شوه. په لومړنیو کې د دواړو ژبو په ادبیاتو کې لنډې کیسې معیاري هنري برخې نه درلودې لکه په عربي کې د سلیم باستاني او په پښتو کې د راحت زاخیلي هڅې. وروسته بیا د دواړو ژبو په ادبیاتو کې په معیاري بڼه لنډې کیسې ولیکل شوې چې عربي کې محمد حسین هیکل (زینب) او میخایل (سنتها الجدیده) په ۱۹۱۴ز کال خپرې کړې او په پښتو کې راحت زاخیلي (کونډه جینۍ) په ۱۹۱۷ ز کال کې خپره کړه او په افغانستان کې علامه حبیبي صیب (توریالۍ پښتنه) ولیکله.

په عربي او پښتو لنډو کیسو کې د بنسټګرو او لارویانو که څه هم د بهرنیو سبکونو او تخنیکونو پیروي کوله، خو د کیسو روح، چاپیریال او موضوعات یې په بشپړ ډول محلي، اصلاحي، ټولنیزې نندرۍ او ناخوالې دي. دوی د خپلو ټولنو د فکري سمون او د دردونو د انځورګرۍ په پار دا نوی نثري ژانر په ډېر مهارت وکاراوه. په پای کې ویلای شو چې په عربي او پښتو ادب کې دلنډې کیسې تاریخي پړاونه د یو بل په اندول کې د تکامل وروسته مسیرونه چې د ژباړې څخه پیلیږي او په وروستیو کې د تخلیقي او مستقلو ادبي پنځونو لوړ پړاونو ته رسیږي.

وړاندیزونه

دا څېړنه چې په عربي او پښتو ادب کې د لنډې کیسې په تاریخي سیر باندې تر سره شوې، کچېرې لاندې برخو کې هم علمي کار وشي لا به ښه او پاتې برخې به روښانه او بشپړې شي:

۱-د شیخ زاید پوهنتون اړوند ادبیاتو پوهنځی عربي او پښتو ځانګې محصلانو ته دې ګډ علمي سمینارونه او ناستې برابرې شي.

۲-د ژبو او ادبیاتو پوهنځی هغه شمېر استادان او محصلان چې په پښتو او عربي ژبو باندې برلاسي دي راتلونکې څېړنې دې د دواړو ژبو په نثري ساحه کې تر سره کړي.

A Comparative Study of Short Stories in Arabic and Pashto Literature

Teaching assistant Masihullah Mohib[1], Teaching assistant Abdulrashid Rashid[2], Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Arbic Department[1,] Urdu Department[2].

Emails: abdurashidrashid786@gmail.com/mmasihullah846@gmail.com

Abstrac

This comparative study titled "A Comparative Study of Arabic and Pashto Short Stories" uses descriptive and Library research methods and draws on major sources from Arabic and Pashto literature. It explarcy the emergence of the short story, its early authors and the fundamental similarities and differences between the two literatures. This research is important because it compares the prose genre of the short story in both languages and indicates shared features and distinctions for students, teachers and writers of Arabic and Pashto literature, while guiding future research. In Pashto, there is little scholarly work that specifically compares Arabic and Pashto short stories. The study's results show that the short story entered both Arabic and Pashto literature through translation. In both languages its characteristics and basic elements are similar and is used for social reform, spiritual consolation and conveying messages to people.

According to some scholars, the short story came into Arabic literature from French literature and into Pashto literature from Urdu. In Arabic literature, the earliest short stories are attributed to Mohammad Husain Haykal—his Zaynab in 1914 and Mikhail Naimy's "Sunnatuha al-Jadida" (her new method). In Pashto literature the earliest short story is by Rahat Zakheili, "Shlidalay Panna" (The Torn Page) in 1908 and "Kunda Jina" in 1917; later, Abdul Hai Habibi wrote the short story "Da Saru Zaro Gaind" in 1933.

عربي سرچينې

أحمد سراج،(۲۰۱۸م) أنيس منصور ومساهمته في فن القصة القصيرة، رسالة الماجستير قسم اللغة العربية بجامعة دلهي

الأفريقي ابن منظور(۱۴۱۹هـ ق)، لسان العرب، مكتبة داراحياء التراث العربي بيروت: لبنان

أمين مختار، (۲۰۱۸م) فن كتابة القصة القصيرة ونصوص تطبيقية، دار المختار لنشر والتوزيع

قنديل فؤاد، (۲۰۰۲م) كتابة القصة، مكتبة الهيئة العامة لقصور الثقافة

الكبلوطي عبد الرحمن، القصة القصيرة في الأدب العربي، كتاب المصور

وادي طه، (۱۹۹۴م) دراسات في النقد الرواية، الطبعة الرابعة، دار المعارف، القاهرة

پښتو سرچينې

انځور، زرين.(۱۳۹۳ل). پښتو معاصر داستاني ادبيات. کابل: دانش خپرندويه ټولنه

رشيد، عبدالرشيد.(۱۴۰۴ل). دپښتو او اردو هنري داستاني ژانرونو پرتليز جاج، کابل(ماسټرۍ تيزس، تعليم تربيه پوهنتون، ادبياتو پوهنځی، پښتو څانګه).

سهيم، نورمحمد.(۱۳۹۷ل). په افغانستان کې پښتو لنډه کيسه. کابل: بيهقي کتاب خپرولو رياست

سيدي، سيدنظيم.(۱۳۹۸ل). د شلمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې د پښتو ادب د پرمختايي بهير څېړنه.کابل: د افغانستان علومو اکاډمي اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

عمرخېل، حميدالله.(۱۴۰۱ هـ ش). د پښتو هنري نثر محتوايي او شکلي څېړنه(دوکتورا ډيزرټيشن کابل پوهنتون ادبياتو پوهنځی پښتو څانګه).

ناوک داد محمد، (۱۳۹۱ش) دلنډې کيسې کريکټر، مومند خپرنديه ټولنه

نوري، أحمد جاويد(۱۳۹۸ه ش) پښتو هنری نثری شکلي او محتوايی شننه، ماسټري تيزس کابل پوهنتون ادبياتو پوهنځی پښتو څانګه

نوري، عطاالرحمن.(۲۰۱۶م). اردو اصناف ادب.اسلامپوره: سيفی آفيسټ پريس

هاشمي، سيدمحی الدين.(۱۳۹۲ل). د نثري ادب ډولونه. کابل: وحدت خپرندويه ټولنه

د هېوادنۍ مېنې بنسټونه د اسلامي شريعت په رڼا کې

پوهنیار حبیب الرحمن حبیبي د شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد
برېښنا لیک: habiburamanhabibi786@gmail.com

لنډیز

څېړنه د هېوادنۍ مینې بنسټونو ترعنوان لاندې ترسره شوی ده.د هېواد تعریف شوي، له هېواد سره مینه د انسان طبیعي خاصه ده بناء اسلامي شریعت یې په اړه داسې صراحت لري چې د وطن سره مینه یو منل شوي اصل دی، لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که زه خپل قوم ستاځخه وتلو ته اړ کړی نه وی هیڅ کله به له تا څخه بل چیرې نه وای تللی. د وطن سره مینه د دې باعث کیږي ترڅو په اخلاص او صداقت خپل هېواد ته هر وګړی خدمت وکړي. کوم خلک چې له خپل هېواد سره مینه لري په هر ډګر کې غښتلي وي، او هېواد یي پرمخ ځي. دا چې فقهاء کرامو د هېواد سره مینه غوره عمل بللی دی، بنا لازمه ده چې هر افغان له خپل هېواد سره په پوره صداقت او امانت داری د زړه له تله مینه وکړي. او د ریښتونې مینې څرګندونه په دې کیږي چې په پوره اخلاص سره خپل هېواد ته ژمن او کار وکړي. په هر صورت په یاده څېړنه کې د هېواد سره دمینې بنسټونه په قرأني ایاتونو، نبوي احادیثو او د فقهاء کرامو په اقوالو سره مزین شوي دي. د څېړنې پایله دا ښیي چې د هېواد سره مینه د اسلام خلاف عمل نه دی، په دې څېړنه کې د تشریحي او توصیفي میتود څخه استفاده شوې ده، مومندنې ښیي چې د هېواد سره د مینې په موخه د عامو خلکو پوهول دي

کلیدي ټکي:- اسلام، خاوره، رعیت،شریعت، مېنه، هېواد.

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم الحمدلله الذی من علینا بنعمة الاوطان وادام علینافیهاالفضل والاحسان والصلوة والسلام علی نبیناوحبیبناٰمحمدسیدولدعدنان وعلی آله واصحابه ومن تبعهم باحسان الی یوم المعیادامابعد: {وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنْفُسَكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ} [البقرة: ٨٤]. و قوله تعالى: {أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ} [البقرة: ٢٤٦]، وقال سبحانه: {لا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ * إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} [الممتحنة: ٨ – ٩].

څرنګه چې په ننني وخت کې د هېواد سره مینې ته ترټولو زیاته اړتیا لیدل کیده؛ نو ما هم خپله علمي مقاله د(هېوادنۍ مېنې بنسټونه د اسلامي شریعت په رڼا کې) ترعنوان لاندې انتخاب کړه ،د انتخاب لاملونه یې دا وو چې یو خو زما په آند اړتیا ورته ډیره زیاته ده او بل زما په آند هېوادنۍ مینه کولای شي، چې هېواد ته سوله او امنیت راولي؛ ځکه چې د خلاف په صورت کې هېواد د بدامنۍ ،وینې تویولو،چورچپاول او داسې نورو ناوړه عواقبو سره مخ کیږي .

موخې

د نوموړی څېړنې څخه لاندې موخې تر لاسه شوي دي:

۱.د هېواد سره مینه یو منل شوي اصل دی بنا عام ولس ترې اګاه کول اړین دي.

۲. په نبوي احادیثو کې د هېواد سره مینه په ضمني ډول مشروعیت لري بنا عام ولس ترې اګاه کول غوره عمل دی.

۳. دهېواد له بنسټونو څخه د علم او پوهې خاوندان اګاه کول.

۴.د پوهنتون محصلین د هېواد سره د مینې اصل څخه اګاه کول

مېتود او کړنلاره

د څېړنې لیکنی مېتود کتابتوني بڼه لري، لومړی له قرأنې ایاتونو څخه، بیا له نبوي احادیثو څخه او په اخرکې د فقهاوو اقوالو څخه ګټه پورته شوې ده او تشریحي، توصیفي شکل لري.

د څېړنې اهميت

نوموړي موضوع په ننني زمانه کې ډيره مهمه ده ځکه زيات خلک له هېواد سره مينه نه لري، په لوي لاس يي په شکل داشکالو تخريبوي، علمي کادرونه تري په منډو دي، زياتره ژمن نه دي، بناء دا چې هېواد د مور حيثيت لري نو غوره مې وګڼله ترڅو په دې اړه يوه ليکنه او څېړنه وکړم .

تاريخي پس منظر

د هېواد سره مينې په اړه مختلفو شاعرانو ليکنې کړي دي، لکه شهيد احمد غني، فقير محمد درويش، رحمان بابا، خوشحال خان خټک، علامه محمد اقبال لاهوري او داسې نور، لکن د مشروعيت په اړه يې يادو کسانو په خپلو ليکنو کې څه نه دي ذکر کړي. نو دا څېړنه د هېواد سره د مينې بنسټونه ، مشروعيت، او غوره والي باندې څرخي.

اصل موضوع

لومړی د اسلامي شريعت لغوي او اصطلاحي تعريفونه شوي دي، اسلامي شريعت د دو کلمو څخه جوړ دی چې يوه کلمه يې اسلام او بله يې شريعت دی، چې هره يوه يې بېله بېله تر څېړنې لاندې نيول شوې ده.

الف ـ د اسلام لغوي او اصطلاحي څېړنه

لغوي څېړنه: والاسلام هُوَ التَّسْلِيم والإنقياد.

اسلام په لغت کې غاړه کېښودلو او تسليمېدلو ته وايي

اصطلاحي تعريف: اصطلاحي تعريف يې په فقه اکبر کې دا ډول کړی دی ((**والاسلام هُوَ التَّسْلِيم والإنقياد لأوامر الله تَعَالَى**)). (**ابوحنيفة، ١٤١٩هـ ق الفقه الاكبر، ص ٥٧**).

ژباړه: د الله تعالی ټولو احکامو ته ځان تسليمولو ته اسلام وايي.

تعريف: هېواد عبارت له خاوري، سلطې او راعيت(واګړيو) څخه عبارت دی.

مشروعيت

لومړی قرآني آيوتونه:-

قال الله تعالى:{وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنْفُسَكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ} [البقرة: ٨٤] .

ژباړه: او ياد کړئ چې کله مونږ تاسې نه پخه وعده اخستې وه چې تاسو به د يو بل وينه نه تويوئ او خپل خلک به د خپلو کورونو څخه نه وباسئ بيا تاسو پخپله د دې ګواهان يئ. (کابلي تفسير، ج ١، ص٥٧)

قال الله تعالى:{{أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ} [البقرة: ٢٤٦].

ژباړه: آیا تا ته د موسی علیه السلام نه وروستو د بني اسرائیلو د هغه د ډلې علم نشته چې هغوی خپل نبي ته ویلي وو چې مونږ لره یو بادشاه مقرر کړه د لپاره چې (د هغې د جهنډې د لاندې) مونږ د الله تعالی په لاره کې جهاد وکړو، پیغمبر علیه السلام ورته وویل چې آیا نه دا خبره څه لیرې نه ده، چې په تاسو باندې جنګ فرض شي؛ نو تاسو به جنګ نه کوئ؟ هغوی وویل چې په مونږ څه شوي دي چې مونږ به د الله تعالی لاره کې جنګ نه کوو حالانکې مونږ د خپلو زامنو او کورونو نه ویستلي شوي یو بیا (دا وشول) چې کله په هغوی جنګ فرض شو؛ نو په هغوی کې د لږو خلکو نه علاوه نور ټول واوړیدل او الله تعالی ظالمان ډیر ښه پیژني.(پاسنی مرجع، ص۲۰۱)

وقال سبحانه: {لا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ * إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ} [الممتحنة: ٨ – ٩].

ژباړه: الله تعالی تاسو د هغه چا څخه نه منع کوي، چې د دین په باره کې یې تاسو سره جنګ نه وي کړی او نه هغوی تاسو د خپلو کورونو نه ویستلي یئ، چې تاسو د هغوی سره ښه سلوک کوئ او انصاف ورسره کوئ بېشکه الله تعالی خوښوي انصاف کونکي خلک.

الله تعالی خو تاسو د هغه خلکو د دوستۍ نه منع کوي، چې د دین په باب کې درسره جنګیدلي دي او هغوی تاسو د خپلو کورونو نه ویستلي یئ او ستاسو په ویستلو کې یې د یو بل سره مدد کړی دی او څوک چې دغې خلکو سره دوستي کوي؛ نو هم دغه خلک ظالمان دي. (مفتي محمد شفیع، معارف القرآن، ج ۱۰ ص. ۱۵۸).

قرآن کریم د وطن او هېواد څخه شړل او ایستل کټ مټ د قتل او وژلو په څیر ګرځولي دي، چې دا د قرآن کریم د ګڼ شمېر هغو آیتونو څخه معلومیږي کوم چې د خپل هېواد څخه د شړلو په وخت جهاد واجبوي، چې پاس مونږ ترې یادونه وکړه او د وطن څخه په شړلو کې که څه هم د ژوند مصلحتونه فوت کیږي؛ خو اصلي سبب یې کیدای شي دا وي چې د دین اقامه یوازې په ټاکلي هېواد او جغرافیا کې امکان لري؛ نو د دین اقامې، د ژوند جوړولو او د ځمکې ابادولو لپاره هېواد او وطن اړین دی.

دويم : د نبوي احاديثو په رڼا کې

۱ـ فعن عَن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ ابْنِ حَمْرَاءَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى الْحَزْوَرَةِ فَقَالَ وَاللَّهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللَّهِ وَأَحَبُّ أَرْضِ اللَّهِ إِلَى اللَّهِ وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ.[ابن ابي شيبة، مسند، ۱۹۹۷م، ج۲ ص۱۹۳].

ژباړه:دحضرت عبدالله بن حمراء رضی الله عنه څخه روايت دی هغه ويلي دي، چې مادالله رسول صلی الله عليه وسلم په حزوره ځای ولاړولیدو؛ نوويې فرمايل :سوګند په خدای تعالی بې شکه تا دالله تعالی دځمکې غوره ځمکه يې ،اودالله تعالی په ځمکه ترټولوپه الله تعالی ګرانه يې ،اوکه چيرې زه له تاځخه ايستل شوی نه وای زه به نه وای وتلی .

۲- عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَّةَ مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ. (ابو عيسى، ترمذی ، ب.ت ج ۲ ص ۷۱۱).

ژباړه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايلي دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مکې ته وفرمايل :تادټولوښارونوځخه پاکه يې اوتاپرماباندې ډيره ګرانه يې اوکه چيرې زه خپل قوم له تاځخه ويستلی نه وای،ما به په بل ځای کې استوګنه نه وای غوره کړې.

۳ـ وعن عايشه رضی الله عنها ان ورقه بن نوفل قال للنبی صلی الله عليه وسلم لَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا حِينَ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ قَالَ نَعَمْ،الحديث.(ابو عبدالله محمدبن اسماعيل، ۱۹۹۵م، صحيح البخاري، ج اول ص ۳).

ژباړه:دحضرت عايشه رضی الله عنها څخه روايت دی، چې ورقه بن نوفل نبی (عليه السلام) ته وفرمايل :کاش چې زه ژوندی وای کله چې تاخپل قوم وباسي؛ نونبي (عليه السلام) وفرمايل :آيادوی به ماوباسي؟ هغه وفرمايل :بلې.

۴ـ وعن عايشه رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال «اللهم حبب إلينا المدينة كحبنا مكة، أو أشد».الحديث (پاسنی مرجع ج اول ص۲۵۳).

ژباړه :دحضرت عايشه رضی الله عنهاځخه روايت دی چې د الله رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي:ای الله مدينه منوره مونږته راګرانه کړي لکه څه ډول چې مونږدمکې مکرمې سره مينه کوو يا د هغې نه زياته .

۵. **وعن انس رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال (اللهم اجعل بالمدینة ضعفي ما جعلت بمکة من البرکة)**.(بالقشيري، صحيح المسلم ج ۲ص ۹۹۴).

ژباړه:حضرت انس (رضی الله عنه) دنبي کريم عليه السلام څخه روايت کوي، چې نبي کريم (عليه السلام)فرمايلي دي:ای الله په مدينه منوره کي دمکې معظمې دوه برابره برکت واچوی.

۶. وعن انس رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم کان إذا قدم من سفر، فنظر إلی جدرات المدینة، أوضع راحلته وإن کان علی دابة حرکها من حبها»".(ابو عبدالله، صحیح بخاری ج اول ص ۲۵۳).

ژباړه:دحضرت انس (رضی الله تعالی عنه)څخه روايت دی ،بېشکه نبي کريم عليه السلام به چې څه وخت دسفرڅخه راستون شو؛ نودمدينې منورې په ديوالونوبه يې چې نظرپريوتلو،خپله سورلي به يې تونده کړه اوکه چيرې به په سوارلي باندې وو؛ نوهغې ته به يې حرکت ورکړو او دا ډول يې د مدينې منورې سره د مينې او محبت له وجې کول.

۷ـ وعن انس بن مالک رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم طلع له احد فقال هذاجبل یحبناونحبه ،الحدیث.(ابو عیسی، سنن ترمذی ج ۲ ص ۷۱۱)

د اووم حديث ژباړه :دحضرت انس بن مالک (رضی الله تعالی عنه)څخه روايت دی بېشکه د الله رسول عليه السلام ته احد ښکاره شو؛ نو نبي کريم عليه السلام وفرمايل: نوموړی غرد مونږسره مينه کوي او مونږ د هغه سره مينه کوو.

(**حب الوطن من الایمان**) نوموړي سره له دي چې حديث نه دي لکن د عامو خلکو په اند په حديث باندې مشهور شوي دي بلکي يوه مقوله ده.

ژباړه: د هېواد سره مينه د ايمان څخه ده.

بلادی وان جارت علی عزیزة
وقومی وان ضننواعلی کرام

(**علی الجارم، البلاغة الواضحة، ص۵۰**).

د عربي ژبې شعر ژباړه:

زماهېوادخوږدی که څه هم هغه زماسره جفا وکړي
او زما قوم مکرم دی که څه هم هغه په ما باندې بخل وکړي

دربیم د فقهاؤ استدلال

نوموړیو مبارکو احادیثو څخه داحقیقت په ډاګه کیږي، چې د هېواد سره مینه او د هغې سره تعلق یوفطري اوطبعي امر دی او اسلامي شریعت هغې ته دوام ،پوره والی اوحفاظت وروښلو.

حافظ ابن حجر(رحمه الله)د انس رضی الله عنه حدیث په شرح کې ویلي دي :چې په دې کې دلالت دی په دې خبره باندې چې د هېواد سره مینه اود هغې سره عشق مشروع او روا عمل دی .(العسقلاني، ابن حجر، فتح الباري شرح صحیح البخاري ج۵ ص ۳۵۰).

ځینوعلماوو په حدیث د ورقه کې د نبي کریم (علیه السلام) د قول (اومخرجیَ هم) په اړه ویلي دي :چې په نوموړي حدیث کې دلیل دی په دې خبره باندې، چې د هېواد سره مینه یو فطري امر دی او د هغې څخه جلاکیدل په نفس باندې ډیرګران اوسخت تمامیږي.

څلورم د دولت د جوړښت اړین عناصر یا ارکان

هر دولت د لاندې اړینو عناصرو څخه جوړ وي، چې په لنډو الفاظوکې مونږ ویلی شو، چې هغه د حاکم ،خاورې او رعیت څخه عبارت دي.

علامه محمدمبارک (رحمه الله) لیکلي دي (**تتکون کل دولة من ثلاثة عناصر**) . (**علامه، محمد مبارک، ظام الاسلام ص۵۸**).

هردولت له دریوعناصروڅخه جوړیږي **۱:–السلطه ۲:–الشعبه اوالامة ۳:–الارض التی یسکنها ذالک الشعب ویجری فیهاحکم تلک السلطة**.(پاسنی مرجع).

یعنې اول عنصر سلطه ،اختیاراو قوه ده ، چې دخلکو دکارونو اداره ،تنظیم اواصلاح کوي ، چې د نوموړې سلطه په سر کې امیرالمؤمنین قرار لري او بیا د هغه لاندې نورپرسونل کارکوي .

دوهم عنصر امت او رعیت دی کوم، چې حاکم د دوی د کارونو اداره ،اصلاح اوساتنه کوي.

دربیم عنصر هغه خاوره او منطقه ده ، چې نوموړي خلک پکې اوسیږي او د حاکمې طبقې احکام پکې جاري کیږي .

د دریو اجمالي عناصرو لنډ تفصیل په لاندې ډول دی.

اول عنصر:**سلطه :السلطه اوالولایة اوالحکم هی صفة من یتولی سیاسة الدولة .الخ** (علامه، محمد مبارک،نظام الاسلام ص۵۸).

یعنې د دولت اول عنصر چې هغه سلطه ،ولایت او یا حکومت دی؛ نو دا د هغه چا صفت دی څوک چې د دولت سیاست کوي او د دولت امورتنظیموي او د خلکو مشکلات حلوي د دوی د ژوند کارونه برابروي ، د

دوی تعمیراتي کارونه کوي او د دوی څخه دفاع کوي کله، چې د خپل دولت او یا د نورو قبیلو سره مشکل پیدا شي دا ورته حل کوي.

د دوهم عنصر اهمیت:(رعیت او قوم)

نوموړی عنصر ډیر اهم عنصر دی ،د هم دې لپاره د دولت جوړښت او دحاکمانو ټاکنه کیدای شي .

علامه محمد مبارک (رحمه الله) لیکلي دي :

بل هو فی الحقیقة العنصرالاول من حیث الاهمیة والاسقیة .الخ .(پاسنی مرجع، ص ۵۸).

ژباړه : بلکې دا دوهم عنصر په حقیقت کې داهمیت او واړندې والي په لحاظ لومړی عنصردی ، د دې عنصرله وجې او د دې لپاره حاکمان ټاکل کیږي ، د یو حاکم د وجود هیڅ معنی اوحقیقت نشته بدون د قوم نه هغه که بادشاه وي ،ریس وي ،امام وي اوکه خلیفه وي .

د اسلامي دولت خاوره ، ساحه او د اسلام هېواد یا وطن :

د دریم عنصرپه اړه علامه محمدمبارک(رحمه الله)لیکلي دي:

ان ارض الدولة الاسلامیة تحصل لها باحد سببین .الخ.پاسنی، ص ۱۳۵)

یعنې دریم عنصر د اسلامي دولت د پاره هغه خاوره او ساحه ده ، یو هېواد چې اسلامي ګرځي په دوو سببونو سره ګرځي: یو دا چې اوسیدونکي یې اسلام راوړي او دوهم دا، چې مسلمانانو په زور سره فتح کړی وي او اسلامي دولت یې پکې جوړکړی وي او د اسلام احکام یې پکې تطبیق کړي وي.

اسلامي دولت د خاورې په اړه مسؤلیت لري:

په دې اړه علامه محمد مبارک (رحمه الله) لیکي :

وعلی الدولة حمایة الارض التی هی دارالاسلام وحمایة حدودهابالقوة الخ .(پاسنی مرجع، **ص ۱۳۶**).

یعنې اسلامي دولت د خاورې او هېواد په ارتباط دا مسولیت لري چې د دې خاورې د حدودو حفاظت اوساتنه به کوي او په دې خاوره او د دې خاورې په اوسیدونکو باندې د تجاوز مخنیوی به کوي .

د اسلامي دولت د خاورې او هېواد په ارتباط د اوسیدونکو مسؤلیت:

په دې اړه علامه محمدمبارک(رحمه الله)لیکلي دي:

کذالک من مواطنی الدولة حمایتها و الدفاع عنها و هو فرض دینی علیهم بل الواجب علی المسلم السکنی فی دارالاسلام الخ (پاسنی مرجع،ص۱۳۶).

یعنې هغه خلک چې په اسلامي خاوره او هېواد کې استوګنه لري ټول دا مسؤلیت لري، چې دې نوموړې خاورې او هېواد حمایت او له دې څخه دفاع وکړي او دا د دوی دیني فرض دی؛ بلکې په هر مسلمان باندې لازم دي،

چې په اسلامي هېواد کې استوګنه غوره کړي او په کفري هېوادکې استوګنه د مسلمان لپاره روا نه دی خو په هغه صورت کې چې یو سبب عارض شوی وي؛ نو د مسلمان اوکفر ګډ او شریک ژوند سره نه تیریږي.

د انساني ټولنې لپاره دحکومت او حاکم ضرورت:

په انساني ټولنه کې د انسانانو لپاره یوسالم حکومت اوصالح حاکم شتون ډیر اړین دی ، چې له دې څخه علاوه دخلکو ژوند ګران دی

کله چې امامت باطل اوله منځه لاړشي؛ نو د امامت مربوط د قضا نظام باطل او منحل شي ، دخلکو تعلق د اداري څخه ختم او ذات البیني شي ،د نفسونو،وینو،عزتونو،مالونو په رابطه د نه تصرف او نه مداخلې سلسله له منځه لاړه شي او په دې غټو اموروکې د شریعت فرش راټول شي او له دینه زیات د خلکو ارادې او نفسي خواهشات یو د بل سره په ټکرکې واقع شي، چې په پایله کې رذیل خلک په نیکو خلکو غلبه وکړي او د اسلام په علماوو او مشرانو خلکو باندې سرکشه او بې دینه خلک حمله وکړي او دخلکو مالونه اوعزتونه په خپل منځ کې محفوظ نه وي مغلوبه اولاندې طبقه خلک غالب شي.همدې خبرې ته امام غزالي (رحمه الله) داسې اشاره کوي :**وليس يخفى ذالک من حل عصام الامورالدينية والدنيوية الخ .(غزالي، محمد بن محمد، فضايح الباطنه ص ۱۷۰)**.

یعنې د ديني او دنیوي امورو د حل په خاطر د امام د تقرير اړتیا له هیڅا پټه نده ؛ نو د بصیرت څښتن ته ښکاره شوه ، چې د امام شتون د حق په تثبیت او د باطل په دفع کولو کې د خلکو لپاره اړین دی.

په حکومت اوحاکم کې د خلکو تحفظ او مصالح پټ دي:

کله چې په ټولنه کې اسلامي حکومت شتون ولري؛ نو د خلکو نفسونه، مالونه اوعزتونه محفوظ وي او یو په بل باندې ظلم اوزیاتی نه کوي او که کوم وخت یې په خپل منځ کې نزاع اولانجې راشي نوحکومت او حاکم د دوی ترمنځ فیصله کوي او نزاع له منځه وړي نو په حکومت کې د خلکو ټول مصالح خوندي دي.

امام غزالي (رحمه الله) په دې اړه لیکلي دي :

(اعلم وتيقن ان الله سبحانه و تعالى اختار من بني آدم طائفتين الخ).(غزالي، محمد بن محمد،**التبرالمسبوک فی نصيحة الملوک ص ۴۹)**.

یعنې ته په علم یقین سره پوه شه، چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو څخه دوه ډلې غوره کړې دي: لومړی ډله دپیغمبرانو(علیهم الصلواة والسلام) ده، چې دوی به د الله تعالی مخلوق ته د الله تعالی د عبادت طریقه اولاړې ورښایي .

دوهمه ډله د بادشاهانو او آمرانو ده، چې دوی به د الله تعالی مخلوق ساتي یو پربل باندې د تجاوز او زیاتي څخه او دوی ته یې د خلکو د ټرلو او پرانستلو واګې سپارلې دي او د خپل حکومت غوښتنه یې دوی پورې د

خلکو په ژوندون کې د خلکو مصالح او گټې ترلې دي او دخپل قدرت له مخې يې دوی ته غوره منزلت اومرتبه وربښلې ده لکه په حديث شريف کې راغلي دي (**السلطان ظل الله فی الارض**)(الهندي ، علي المتقي.(ب.ت) کنزالعمال ج۶ ص۵۰) .

يعنې عادل پادشاه دالله تعالی په ځمکه کې دالله تعالی رحمت دی.

اسلامي هيواد او اسلامي حکومت او صالح حاکم لوی نعمت دی او د دې قدرداني واجب ده.
هر کله چې په اسلامي حکومت او صالح حاکم کې د خلکو گټې پټې دي او د دې په نه شتون سره خلک د بېلا بېلو ستونزو سره مخامخ کيدلی شي؛ نو په خلکو باندې د نوموړي نعمت قدرداني واجب ده، مينه ورسره وکړي او په شرعي امورو کې يې په پوره توگه اطاعت وکړي او د نافرمانۍ څخه يې ډډه وکړي.
د دې په اړه امام غزالي (رحمه الله) داسې ليکلي دي:« **فينبغی ان يعلم ان من اعطاه الله درجة الملوک وجعله ظله فی الارض فانه يجب علی الخلق محبته الخ**» (الغزالی، محمد بن محمد، التبرالمسبوک فی نصيحة الملوک، ص ۱۳۷).
ژباړه: نو ځکه مناسب دي چې مالومه کړای شي چې چاته الله (جل جلاله) د بادشاهانو او حاکمانو درجه ورکړي او الله (جل جلاله) يې په مخ د ځمکې خپل رحمت وگرځوي؛ نو په خلکو باندې د دوی سره مينه ضروري ده او په خلکو د هغه اطاعت لازم دی او د خلکو له پاره د هغه خلاف او د هغه سره نزاع کول روا نه دي.

د هېواد سره د ړيښتنې هېوادنۍ مينې موارد

دا چې هېواد د خاورې ، ټولنې او سلطې څخه عبارت دی ، لکه څرنگه چې مو په تېرو بحثونو کې ورته اشاره وکړه؛ نو اسلامي شريعت د دې له پاره راغی، چې د هېوادونو سره نوموړې مينې ته بشپړتيا وروبښي د دې له پاره چې نوموړي مينه هغو ټولو شيانو ته ورشامله شي ، چې يو هېواد د هغه له امله شتون مومي او د هېواد مينه يې يوازې دعوه نده گرځولي، چې هغه هېڅ مفهوم او معنا نلري او نه يې داسې شعار گرځولی دی، چې هغه شخصي ، گوندي او يا هم د يوه ټولنې موخو او اهدافو ته تحقق وروبښي؛ بلکې هغه يې يو داسې عام عنوان گرځولی، چې د يوه هېواد ټول اصول او مقررات په ځان کې رانغاړي.
نو اسلامي شريعت فرد هڅولی دی، چې هغه بايد د هېواد نېک وگړی واوسي اوهغه ته يې امر کړی دی ، چې هر وخت نيکي ترسره کړي او په سمې لارې استقامت وکړي او هېواد په نېکيو او د خېر په کارونو سره اباد کړي او هر وخت د نېکو اخلاقو ښکارندوی واوسي او په اصلي اصولو پورې منگولې ولگوي او ځان په علم او پوهې ښايسته کړي.
صحيح صافه عقيده او صحيح مثبت کلتور او فرهنگ خپور کړي او ټول شته وسايل د هېواد په چوپړ کې واچوي.

هغه لاملونه اوذرایع چې په هغې سره د هېواد په مینه کې زیاتوالی راځي

اسلامي شریعت په هرهغه څه امر کړی دی په کومو سره چې د ټولنې د وګړیو تر منځ ټینګې اړیکې قوي کیږي او د دوی تر منځ د مینې اومحبت شعارونه خپروي له دې امله یې د سلام په خورولو هڅونه کړې ده، لکه په حدیث د عبد الله بن سلام کې راځي عبد الله بن سلام لومړی د یهودو لوی عالم وو او بیا په اسلام مشرف شوی دی، هغه وایي چې:« دبشریت ستر لارښود حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) چې مدینې منورې ته تشریف راوړو؛ نو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه مې واوریدل چې ویې فرمایل:«اې خلکو! سلام خورکړئ، ډوډۍ ورکړئ،خپلوي وپالئ او لمنځونه وکړئ په داسې وخت کې چې خلک ویده وي ، نو جنت ته به په سلامتیا سره وردننه شئ».

همدغه شان یې هڅونه کړې، چې د ټولنې وګړي په خپلو ځانونو کې د ایثار ،مرستې ، خیر غوښتنې ، بخښنې خویونه او عادتونه پیدا کړي.

د مشرانو درناوی او په کوچنیانو شفقت، د غم ځپلو سره غم شریکي او ډادګیرنه ورکول او د بې وزلو سره یې د مرستې په کولو ټینګار کړی دی.

ددې تر څنګ یې د مور او پلار سره د نیکۍ په کولو، د خپلوانو سره د خپلوۍ په پاللو، د ګاونډیانو سره یې د ښیګڼې په کولو، د میلمانو پر درناوي کولو، دوستانو او ملګرو سره د ښې معاملې په کولو ، اولاد ته دښې روزنې په ور کولو او د نورو سره یې دښې رښتنې مینې په کولو هم زیات ټینګار کړی دی.

ځینې نور چې د مکارم الاخلاق په نوم یاد شوي دي: په لاندې توګه په حدیث شریف کې بیان شوي دي.

(مکارم الاخلاق عشرة) الحدیث. (الهندي، علی المتقي،(ب . ت کنزالعمال ج۳ ص ۶۶۵).

ژباړه:« مکارم الاخلاق لس شیان دي چې په پلار کې وي په زوی کې نه وي او کله په زوی کې وي په پلار کې نه وي، په غلام کې وي په بادار کې نه وي د چا په حق کې چې الله (جل جلاله) دنیکمرغۍ اراده کړي وي؛ نو الله (جل جلاله) یې ورته ورکوي هغه لس شیان دا دي:

۱) رښتیا ویل
۲) دکفارو سره ریښتنی جهاد کول
۳) سوال کوونکي ته څه ورکول
۴) عمل کوونکي ته بدله ورکول
۵) د امانت ساتل
٦) د خپلوانو او حق دارانو سره اړیکه ساتل او د دوی حقوق پر ځای کول
۷) د ګاونډیانو دحقوقو پرځای کول او دهغوی درناوی کول

۸) د ملگري امان
۹) میلمه ته میلمستیا ورکول
۱۰) او حیا چې د ټولو بنسټ دی

په همدې ډول یې د مصرف په ځای کې د مال د مصرف کولو په اړه او د خلکو د عزتونو د ساتلو په اړه هڅونه کړې ده.
هغه لاملونه او کړنې چې د ټولنې د وګړیو په خپل منځي اړیکو ناوړه اغیزې لري او هغه کمزوري کوي.

اسلامي شریعت دټولنې وګړي د هغو ټولو کړنو او لاملونو څخه منع کوي ،چې د هغې له امله په سینو کې د غچ اخیستنې اور ته لمن وهل کیږي او د ټولنې د اتفاق صفونه په بې اتفاقۍ باندې اړوي.

همدا لامل دی ، چې اسلامي شریعت د غیبت، چغلخورۍ، ظلم، کینې،ضد لویۍ او د ناوړه ډلو ټپلو څخه د ځان ساتنې امر کړی دی، چې په اړه یې بې شمېره قرآني او نبوي نصوص شتون لري.

ددې له پاره، چې لیکنه اوږده نشي یوازې د نومونو په یادلو یې بسنه کوم.

اسلامي شریعت یو اړخ ته د هېواد د ساتنې او د هغه د ګټو د ساتنې او د هغه د لاس ته راوړلو، د هر مکر او فریب څخه د هېواد دفاع، د هېواد د قیادت چاپېره د را ټولیدلو او په سم اوصحیح ثقافت سره د هېواد دساتلو امر کړی او بل اړخ ته یې د پردیو د ثقافت او کلتور څخه د ډډې کولو او هر هغه ضد کړنې او قولونو(ویناوو)څخه، چې د هېواد قیادت او خاورې ته صدمه رسوي د ځان ساتنې امر کړی دی.

د هېواد سره د مینې په اړه، چې کوم تحقیق مونږ وکړو هغه دا، چې دغه مینه یو عام مفهوم او معنا لري، چې د هېواد اړوند ټولې خواوې په ځان کې رانغاړي.

دمینې دغه معنا له یو اړخه مونږ ته د هېواد سره د مینې او د هغې ځایونه را په ګوته کوي او له بله اړخه مونږته له هغه دروغجنو او کمزورو ادعاوو څخه، چې هېواد ته صدمه رسوي پرده لرې کوي.

پایله

کله چې مونږ د هېواد سره مینه او د هغې اړوند ځایونه وپېژندل ، اوس مونږ هغه شیان پیژندلی شو، چې د هېواد سره په ریښتینې مینه کې خلل او زیان راولي. نو د هغه کس مینه د هېواد سره کومه معنا نلري کوم، چې په زهر جنو آندونو ، فاسدو ، بدو اخلاقو او نیشایي توکو سره د هېواد د بچیانو عقلونه د تباهۍ کندې سره مخامخ کوي.

او د هغه کس مینه هم معنا نلري چې د قیادت پرخلاف سرکشي کوي اوخپل دولت ته زیان رسوي. دهغې شکل بدرنګه کوي او پر خلاف يې خلک راپاروي.

لنډه دا، چې هر هغه خوی او عادت چې د اسلام دروح او د هغې د ښوونو سره په ټکر کې وي او په هغې سره خپل ځان یا هم بل کس ته زیان رسیږي د هېواد سره مینه نشو بللی.

دټول بحث څخه لاندې ګټې په لاس راځي.

دا چې د هېواد سره مینه او تعلق فطري ده ؛ نو اسلامي شریعت نوموړي مینې ته دوام او پوره والی وروبخښلو.

هېواد خاوره ده ، چې مونږ پرې استوګنه کوو،قیادت دی او منظمه ټولنه ده.د هېواد نېک او صالح وګړی هغه څوک دی ، چې خپل مسؤلیتونه ادا کړي او د خپل ځان او نورو سره غوره اخلاق مراعات کړي. د هېواد سره د مینې تر ټولو لوی مورد د امیرانو عزت او په اطاعت، مینې او دوستۍ کې د دوی امر پرځای کول دي.

و ړاندیزونه

۱.له امر بالمعروف او نهی عن المنکر محترم وزارت څخه مې غوښتنه دا ده، چې په مختلفو غونډې او سیمینارونه د هېواد سره د مېنې په پار جوړ کړي او د جیدو او نامتو شیوخ کرامو او علماء عظامو له لوري ورته په دې اړه بیانونه وشي.

۲. له دعوت و ارشاد محترمو ریاستونو مې دا غوښتنه ده، چې د جامع جوماتونو اړوند خطیبانو ته د هېوادنۍ مېنې ترڅنګ موضوعات ورولېږي، ترڅو عام وګړي هم هېوادنۍ مېنې ته تشویق شي.

۳. د لوړو زده کړو محترم وزارت د شرعیاتو پوهنځیو اړوند استادان مکلف کړي، چې وخت په وخت محتصین هېوادنۍ مېنې ته تشویق کړي او په دې ورته یو څو دقیقې بیان وکړي.

The foundation of the Islamic Shariat is the foundation

Teaching Assistant Habibur Rahman Habibi, Sheikh Zayed University, Faculty of Law, Jurisprudence and Law Department.
Email: habiburamanhabibi786@gmail.com

Summary
This research is done under the title of patriotism. The definition of patriotism is the love of patriotism, especially for the natural human being. The Islamic Shari'ah is so clear about it that the love of patriotism is based on the principle, as the Messenger of God, may God's prayers and peace be upon him, said: "If you do not force your people to leave you, they will never go anywhere. Love of patriotism will make you serve your country with sincerity and honesty." A person who loves his country is strong in any field, his country will go forward. If the honorable jurists chose to act with love for the country, then it is necessary that every Afghan should love his country with full honesty and trust in his heart. He really wants to work with his country with pure sincerity. In any case, in your research, you have decorated the country with the foundations of the Qur'an, the prophetic hadiths and the sayings of the eminent jurists.

Key words: Islam, subjects, land, Sharia, love, country.

ماخذونه

القرآن الكريم

ابوحنينة، نعمان بن ثابت، (الفقه الأكبر (١٤١٩هـ – ١٩٩٩م)مطبوع مع الشرح الميسر على الفقهين الأبسط والأكبر المنسوبين لأبي حنيفة تأليف محمد بن عبد الرحمن الخميس)، الطبعة: الأولى، الناشر: مكتبة الفرقان – الإمارات العربية.

أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي. (١٩٩٧م). مسند ابن أبي شيبة، الطبعة: الأولى، الناشر: دار الوطن – الرياض.

بخاري ، محمدبن اسماعيل .(ب .ت). صحيح بخاري ج ١.كراچي :قديمي كتب خانه

ترمذي، محمدبن عيسى.(ب.ت).سنن ترمذي ج٢.اردوبازارلاهور:مكتبه رحمانيه.

الدمشقي ، يحى بن شرف النووي.(١٩٩١ع). شرح نووي، رياض:مكتبه دارالسلام.

العسقلاني ، احمدبن علي بن حجر.(ب.ت). فتح الباري شرح صحيح البخاري، پيشاورمحله جنگي :مكتبه حقانيه.

علي الجارم ومصطفى امين .(ب.ت).البلاغة الواضحه .پيشاورمحله جنگي:مكتبه امداديه

الغزالي ،محمدبن محمد.(ب.ت). التبرالمسبوک في نصيحة الملوک، مكتبه حقانيه، محله جنگي پښور.

الغزالي ،محمدبن محمد.(ب.ت). **فضايح الباطنة.دمشق:دارالثقافة العربيه.**

القشيري النيسابوري، أبو الحسن، مسلم بن الحجاج . (ب . ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

كابلي تفسير، د افغانستان د جيدو علماو جماعت. (ب ـ ت).

مفتي محمد شفيع، معارف القرآن. دارالعلوم كراچي.

محمدمبارک.(ب.ت).نظام الاسلام الحكم والدولة.رياض:مكتبه دارالسلام.

الهندي ، علي المتقي بن حسام الدين.(ب.ت).كنزالعمال.پيشاور:مكتبه حقانيه.

په معاصر اقتصاد کې د انرژۍ بحران د کمښت عوامل او د اغېزو مدیریت

پوهنیار توریالی سنګین، شیخ زاید پوهنتون، اقتصادپوهنځی، اداره تجارت څانګه
برېښنالیک:tooryalaisangeen2019@gmail.com

لنډیز

انرژي د هر هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره یو مهم بنسټیز عنصر ګڼل کیږي. بې له برېښنا، تېلو، ګاز او نورو انرژیکي منابعو څخه، صنعتي فعالیتونه، ترانسپورت، زراعت، فابریکې او د خدماتو نورې برخې په سمه توګه فعالیت نشي کولی. له بده مرغه په ډېرې هېوادونو کې د انرژۍ کمښت یوه جدي ستونزه ده، چې د تولید د کچې راکمېدو، د بیو د لوړېدو، د بیکارۍ زیاتېدو، د صادراتو کموالي او د پانګوالو د باور له منځه تلو لامل ګرځي. په څېړنه کې هڅه شوې چې د انرژۍ د کمښت عوامل، د هغې اقتصادي اغېزې او ممکنه حل لارې وڅېړل شي. د معلوماتو د راټولولو لپاره د مختلفو معتبرو منابعو نه ګټه اخیستل شوې او هم د احصایو او راپورونو تحلیل شوی دی. موندنې څرګندوي چې د انرژۍ کمښت نه یوازې دا چې د خلکو ژوند له ستونزو سره مخ کوي، بلکې د ملي اقتصاد جوړښت ته هم ستر زیان رسوي. په ځانګړي ډول، د صنعتي تولیداتو کمښت، د خامو موادو د تولید ځنډ، د کارګرانو د معاشونو ستونزې او د انفلاسیون زیاتوالی هغه عمده مسایل دي چې له دې کمښت سره تړاو لري. دغه څېړنه وړاندیز کوي چې حکومتونه باید د انرژۍ د بدیلو سرچینو لکه د لمر، باد او اوبو څخه ګټه پورته کړي، پانګوال دې تشویق شي چې په نوي ټیکنالوژۍ کې پانګونه وکړي او عام خلک باید د انرژۍ د سپما فرهنګ ته وهڅول شي. همدارنګه، د انرژۍ مدیریت باید عصري شي او د فساد مخنیوی باید جدي ونیول شي، که پر وخت مناسب اقدامات ونه شي، نو د انرژۍ کمښت به د اوږدمهاله اقتصادي بحران سبب شي. له همدې امله، دا موضوع باید د ستراتېژیکو پالیسیو له لارې مدیریت شي.

کلیدي ټکي: انرژي ، د انرژۍ اغېزه، د کمښت اغېزه، د انرژۍ ډولونه، د انرژۍ منابع.

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدالله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین محمد وعلی اله واصحابه اجمعین!

انرژي د معاصر اقتصاد یو له مهمو ستنو څخه شمېرل کیږي، چې د بشري ژوند هره برخه پرې تړلې ده. له کورني ژوند څخه نیولې تر صنعتي تولید، زراعت، ترانسپورټ، تکنالوژۍ او خدماتو پورې، ټولې چارې د انرژۍ له شته والي سره مستقیم تړاو لري. د انرژۍ دوامداره شتون نه یوازې دا چې د اقتصادي وده تضمینوي، بلکې د یو ملت د پرمختګ، ثبات او د خلکو د هوسا ژوند نښه هم ګڼل کیږي.

په معاصرو اقتصـادونو کې د انرژۍ غوښـتنه ورځ تر بلې لوړیږي، خو سرچینې یې یا محدودې دي، یا هم د ناسـمو پالیسـیو، کمزوري مدیریت او سـیاسي بې ثباتۍ له امله د لاسرسي وړ نه وي. له همدې امله، د انرژۍ کمښت د یوه جدي بحران بڼه خپله کړې، چې نه یوازې پر صنعت، سوداګرۍ او زراعت ناوړه اغېز کوي، بلکې د خلکو پر ورځني ژوند، عاید، کاري فرصتونو او عمومي اقتصادي وضعیت هم منفي تاثیرات لري.

دغه څېړنه د همدې ستونزې د تحلیل هڅه ده، ترڅو دا وڅېړل شي چې څنګه د انرژۍ کمښت رامنځته کیږي، کوم اقتصـادي عوامل ترې متاثره کیږي او حکومتونه او خلک باید کوم اقدامات ترسره کړي تر څو دا بحران کنټرول او مدیریت کړي. سریزه د دې لپاره لیکل کیږي چې لوستونکي ته د موضوع اهمیت، د څېړنې دلیل او د څېړنه عمومي موخې روښانه شي.

په افغانسـتان او د نړۍ په ګڼو نورو هېوادونو کې، د انرژۍ د تولید بنسـټونه زاړه، ناتکمیل او له عصرې تجهیزاتو بې برخې دي. سربېره پر دې، د انرژۍ ضایع کېدل، اداري فساد، د پانګونې کموالی او د بدیلو سرچینو نشتوالی هم د انرژۍ کمښـت ته زمینه برابروي. دا ډول وضعیت د اقتصـاد د ودې لپاره لوی خنډونه رامنځته کوي، چې باید جدي وارزول شي.

نو له همدې امله، دا څېړنه نه یوازې علمي ارزښـت لري، بلکې د پالیسي-جوړونکو، پانګوالو، زده کوونکو او د ټولنې د عامو وګړو لپاره هم یوه مهمه مرجع جوړیږي، تر څو د انرژۍ په اهمیت، کمښـت او اقتصـادي اغېزو باندې ژور درک تر لاسه کړي او د ستونزو د حل لارې وموميي.

د څېړنې موخې

- د انرژۍ د کمښت د اصلي عواملو مشخص کول.
- د اوږدمهاله اقتصادي ودې لپاره د ارزښتناکوپالیسیو وړاندې کول.

د څېړنې پوښتنې

- د انرژۍ د کمښت تر ټولو مهم عوامل کوم دي؟
- حکومت، خلک او خصوصي سکتورونه په ګډه سره څنګه کولی شي دا ستونزه حل کړي؟

دڅېړنې اړوند تېرو آثارو ته کتنه

د انرژۍ کمښت او د هغې اقتصادي اغېزې هغه مو ضوع ده چې د نړیوالو او سیمه‌ییزو څېړونکو پام یې جلب کړی، خو سره له دې، لا هم دې برخې ته کافي، مشخص او د تطبیق وړ وضاحت نه دی ورکړل شوی. ما د دې څېړنې لپاره بېلابېل علمي او تخنیکي مأخذونه وکتل، خو زیاتره لیکنې یا ډېرې عمومي وې، یا یې د افغانستان او ورته لږ مخ په ودې هېوادونو له نظره ستونزې نه وې تحلیل کړي.

د بېلګې په توګه، Audinet (۲۰۰۹) په خپل کتاب "Managing an Electricity Shortfall: A Guide" کې د برېښنا د کمښت د مدیریت په اړه عمومي ستراتیژۍ وړاندې کړې دي، خو پدې کې یې د انرژۍ کمښت د اقتصاد پر تولید، کارګمارنه او بیو د اغېزو و ضاحت نه دی ورکړی. همداراز، دا اثر د پرمختللو هېوادونو لپاره یو لارښود ښکاري، چې د افغانستان په شان اقتصاد ته تطبیق یې ګران دی.

"Energy poverty assessment" (۲۰۲۴) چې د Journal of Energy and Quality of Life Studies له خوا خپور شوی، د انرژۍ فقر د کیفیت ژوند باندې اغېزې بیان کړې، خو دا لیکنه اقتصادي شاخصونه لکه GDP، سوداګرۍ، پانګونه، یا د صنعت کمزوري نه دي تحلیل کړي. دا اثر ډېر تمرکز پر ټولنیزو خدمتونو لري، نه اقتصادي تحولاتو باندې. Bureau of Energy Efficiency په خپل Basics of Energy and its Various Forms نومي اثر کې یوازې د انرژۍ ډولونه او فزیکي بنسټونه بیان کړي، خو د کمښت او اقتصاد ترمنځ رابطه پکې نده روښانه شوې. دغه راز، ERIC (۲۰۲۳) د انرژۍ مفهوم معرفي کړی، خو هیڅ ډول اقتصادمحور تحلیل نه لري. د Fahimi, Upham, & Gencer (۲۰۲۲) څېړنه چې د Sustainability ژورنال کې خپره شوې، د افغانستان لپاره د نوي HVDC سیستم تخنیکي او اقتصادي ارزونه وړاندې کوي، خو دا تمرکز یوازې د انرژۍ تولید نویو سیستمونو باندې دی او د کمښت ستونزه یې په پراخه توګه نه ده څېړلې. همداراز، Hernández & Bird (۲۰۲۰) د امریکا د انرژۍ ستونزو ته کتنه کړې، خو د هغوی د څېړنې تمرکز د انرژۍ د مصرف پر لګښتونو دی، نه د انرژۍ پر کمښت او عمومي اقتصاد. Internet Geography (۲۰۲۵) د انرژۍ د شتون عواملو ته اشاره کړې، خو د اقتصادي اغېزو و ضاحت نلري او Mashele (۲۰۲۳) چې د Wikipedia یوه مقاله ده، د سویلي افریقا د انرژۍ بحران یادونه کوي، خو دا علمي منبع نه بلل کیږي او معلومات یې د

اکاډمیکې څېړنې لپاره کافي ژور نه دي. د دې ټولو منابعو له مطالعې وروسته دا څرګنده شوه چې د انرژۍ کمښت او د هغې د اقتصاد پر بېلابېلو اړخونو اغېزه لا هم یو نیمګړی څېړنیز بحث دی او له همدې امله ما هڅه کړې چې په دې څېړنه کې نه یوازې د انرژۍ کمښت تعریف، عوامل او ډولونه تشریح کړم، بلکې دا هم تحلیل کړم چې دا ستونزه څنګه د اقتصادي ودې، صنعت، پانګونې، بیو او د ژوند په معیار باندې مستقیمه او غیرمستقیمه اغېزه لري.

د څېړنې میتودولوژي

په نوموړي څېړنه کې د کیفي او توصیفي میتودونو څخه استفاده شوې ده او دغه څېړنه دوهمي معلوماتو ته اړتیا لري چې دغه دوهمي معلومات د مختلفو معتبرو داخلي او خارجي منابعو، د انټرنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

د انرژۍ پېژندنه

انرژي د مادې هغه خاصیت ته ویل کیږي چې له مخې یې کار، تودوخه یا وړانګه تولیدېدای شي. د ډېرې لغاتونو له مخې، انرژي "د کار کولو وړتیا" تعریف شوې، خو دا تعریف که څه هم سم دی، خو بشپړ نه دی. ځکه انرژي یواځې کار نه تولیدوي، بلکې د تودوخې او وړانګو په بڼه هم بروز کوي. انرژي یو انتزاعي (غیر ملموس) مفهوم دی او تر هغو پورې یې ارزښت نه احساسوو، څو چې هغه په کار، تودوخه یا نورو ډولونو بدل شي. د بیلګې په ډول، موږ په دوبي کې د کورونو یخ ساتلو لپاره انرژي مصرفوو او ژمي کې یې د تودوخې لپاره کاروو. دا ښیي چې انرژي د انسانانو او نورو ژوو او غیر ژوو شیانو یوه طبیعي سرچینه ده. د انرژۍ یو ښه تشبیه دا ده چې دا د بانکي پیسو په څېر ده او کار، تودوخه یا وړانګه د نغدو، چک یا حوالې بڼه لري. همداراز، دا هم مهمه ده چې پوه شو انرژي نه پیدا کیږي او نه له منځه ځي، بلکې له یوې بڼې بلې ته انتقالیږي. همدا اصل د انرژۍ د ساتنې قانون بلل کیږي او دا د طبیعت یو اساسي قانون دی. په طبیعت کې اصلي انرژي سرچینې لکه لمر، کیمیاوي، ثقلي (جاذبې) او اتومي انرژي دي، خو دا سرچینې باید لومړی په کار، تودوخې یا نورو ګټورو بڼو بدلې شي تر څو زموږ لپاره د استفادې وړ وګرځي. نو له همدې امله، د انرژي د موجودیت مسأله په حقیقت کې د هغې د تبدیلۍ مسأله ده — یعنې موږ باید غیر مستقیم، نه مناسب شکلونه د انرژۍ واخلو او هغو ته په داسې بڼو بدلون ورکړو چې زموږ د ژوند او اقتصاد اړتیاوې پوره کړي. د انرژۍ دا تعریف او ماهیت موږ دې ته هڅوي چې د انرژۍ په مصرف کې سپما وکړو او د هغې اغېزناکه استفادې ته توجه وکړو، ځکه انرژي زموږ د عصري اقتصاد بنسټ جوړوي (Radovic, 2025).

انرژي په فزيک کې تر ټولو مهم او بنسټيز مفهوم بلل کيږي، ځکه دا د فزيک ټولو برخو ته پراخ نفوذ لري. له ميخانيکي انرژۍ، ثقلي (جاذبوي) انرژۍ، حرارتي انرژۍ، برقي، کيمياوي، اټومي او ساړه يا ثابت حالت انرژۍ څخه يادونه کيږي. تر ټولو عام تعريف دا دی چې انرژي هغه فزيکي کميت (اندازه) ده چې د يوه جسم د کار ترسره کولو وړتيا ښيي. خو دا تعريف عام قبول نه دی، ځکه انرژي ځينې داسې فزيکي بڼې هم لري چې يوازې د کار کولو وړتيا ته نه شي راکمېدای.

يو غوره تعريف چې د انګليسي-ويکيپېډيا لخوا وړاندیز شوی، دا دی: «انرژي يو اندازه يي خاصيت دی چې يوه جسم يا فزيکي سيستم ته انتقاليږي او دا د کار، تودوخې يا رڼا په بڼه کې ښکاره کيږي.»
د انرژۍ تعريف ستونزمن بلل کيږي، ځکه فزيک پوهان پخپلو تعريفونو کې يوه خوله نه دي. دا پديده ښيي چې انرژي له نورو اساسي فزيکي کميتونو سره متفاوت حيثيت لري.
مشهور فزيکپوه ريچارد فېنمن، انرژي داسې تعريف کړې ده چې: «يو قانون شته چې د طبيعي پېښو واکمن دی او تر اوسه هېڅ استثنا نه لري. دا قانون د انرژۍ د بقا قانون نوميږي او دا وايي چې يو خاص کميت (چې مونږ يې انرژي بولو) د طبيعت د بدلونونو سره سره نه بدليږي. دا يو ريا ضيکي اصل دی، نه يو عادي ميخانيک يا محسوس شی؛ دا يو عجيبه حقيقت دی چې مونږ يو شمېر محاسبه کوو، طبيعت ته ګورو او ښېرته چې شمېر وکړو، هماغه شمېر پاتې وي.»
نو، که څه هم د انرژۍ تعريف يوه مجرده او څه ناڅه پېچلې موضوع ده، خو د فزيک د زده کړې لپاره د انرژۍ د بقا اصل درک کول د انرژۍ د مفهوم د لومړني فهم لپاره بنسټيز رول لري(ERIC, 2023).

د انرژۍ ډولونه

انرژي په بيلابيلو ډولونو وېشل شوې ده، چې هر يو يې د توليد، زيرمه کولو او کارونې ځانګړی ميکانيزم لري. تر ټولو مهمې او کارېدونکې سرچينې يې فوسيل انرژي، لـــمريزه انرژي، اوبه (هايډرو انرژي)، بادي انرژي او اټومي انرژي دي.

فوسيل انرژي: دا انرژي له هغو کيمياوي موادو څخه تر لاسه کيږي چې د ميليونونو کلونو زاړه عضوي مواد لکه نفت، طبيعي ګاز، سکاره او پروپان لري. دا مواد د کيمياوي انرژۍ ښه مثالونه دي، چې د اتومونو او مالېکولونو ترمنځ په تړاؤ کې زېرمه وي. فوسيل انرژي د نړۍ د ډېرو صنعتي او ټرانسپورتي برخو لپاره عمده سرچينه ده، خو چاپېريال ته يې منفي اغېزې زياتې دي.

اټومي انرژي: اټومي انرژي د اتوم د هستې (nucleus) څخه ترلاسه کيږي. دا انرژي هغه وخت رامنځته کيږي کله چې د يورانيم په څېر عناصر تجزيه شي يا سره يوځای شي. اټومي انرژي د بريښنا د توليد لپاره کاريږي او په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې د انرژۍ يوه مهمه سرچينه بلل کيږي، خو د خطرناکو فضلاتو د مديريت له امله له جنجال سره مخ ده.

لمريزه انرژي: لمر د انرژۍ يوه پاکه او ناپايه سرچينه ده. لمريزه انرژي د برېښنا يا تودوخې په بڼه د فوتوولټيک حجراتو يا سولر سيستمونو له لارې تر لاسه کيږي. دا انرژي د شعاعو په بڼه (radiant energy) خپريږي او د اقليم د بدلون پر وړاندې د مبارزې لپاره خورا مهمه ګڼل کيږي.

بادي انرژي: بادي انرژي د باد د خوځښت له لارې تر لاسه کيږي، چې د توربينونو په مرسته برېښنا ته بدليږي. دا انرژي د خوځنده انرژۍ (kinetic energy) يو ډول دی، چې چاپېريال ته پاکه بلل کيږي او د بيا توليدېدونکو انرژيو له مهمو ډولونو څخه شمېرل کيږي.

اوبه يا هايډرو انرژي: د اوبو د خوځښت له لارې تر لاسه کېدونکې انرژي هم يو له مهمو او بيا توليدېدونکو سرچينو څخه ده. کله چې اوبه د بندونو شاته زېرمه شي او بيا خوشې شي، د توربينونو په مرسته برېښنا توليدوي. دا انرژي هم د خوځنده انرژۍ يو ډول بلل کيږي، چې د اوبو د جاذبې انرژۍ له بدلون څخه منځته راځي (Bureau, n.d).

د انرژۍ منابع

د انرژۍ منابع د يوې هېوادنۍ اقتصادي ودې لپاره حياتي اهميت لري. دا منابع په عمومي ډول دوه ډوله دي: داخلي منابع او وارداتي منابع. داخلي منابع هغه دي چې هېواد يې په خپل طبيعي جغرافيايي جوړښت کې لري، لکه د اوبو، باد، لمر، طبيعي ګاز، ډېرو سکارهاو د ځمکې تودوخه (geothermal). دا منابع که په سمه توګه وکارول شي، کولی شي چې هېواد له وارداتو بې نيازه کړي او د انرژۍ د ځان بسايۍ پر لور ګام واخلي. وارداتي منابع هغه انرژي ده چې له نورو هېوادونو څخه واردېږي. دا ډول منابع معمولاً فوسيل سون توکي وي لکه نفت، ګاز يا برېښنا چې له ګاونډيو يا لرې هېوادونو واردېږي. افغانستان د انرژۍ وارداتو له مخې ډېره تکيه پر ګاونډيو هېوادونو لري، لکه ايران، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان. وارداتي منابع که څه هم د فوري اړتياوو پوره کولو لپاره مهم دي، خو په اوږدمهاله توګه دا ډول تکيه پر بهرنيو منابعو د ملي امنيت، اقتصادي ثبات او انرژۍ د دوام لپاره يو ستر ګواښ ګڼل کيږي. له همدې امله، د داخلي منابعو پراختيا او مؤثر مديريت اړين ګڼل کيږي. د يو بااعتماده انرژيکي سيستم لپاره بايد حکومتونه داخلي منابع فعالې کړي، لکه د سولر فارمونو جوړول، د

اوبو برېښـــناکوټونو فعالول او د باد یا بایوماس انرژي پراخول. په دې توګه به د وارداتو اړتیا کمه شي او هېواد به له بهرنیو سیاسي فشارونو خلاص شي(Zhwak, 2025).

د انرژۍ د تولید سیستمونه

د انرژۍ تولید سیستمونه هغه تخنیکي او تخنیکي محیطي وسایل دي چې له طبیعي یا خامو منابعو څخه انرژي تولیدوي. دا سیستمونه د طبیعي منابعو د ډولونو مطابق بیلابیل ډولونه لري، خو تر ټولو عام یې دا دي:

حرارتي سیستمونه: دا سیستمونه فوسیل سون توکي (لکه ډبري سکاره، نفت یا طبیعي ګاز) سوځوي تر څو تودوخه پیدا کړي او له هغې څخه برېښـــنا تولید کړي. دا ډول ســیســـتمونه په ډېرو هېوادونو کې شـــته، خو د چاپېریال لپاره خطرناک دي.

هایډرو پاور سیستمونه: دا سیستمونه د اوبو له فشار څخه برېښنا تولیدوي. دا تر ټولو پاکه او د باور وړ طریقه ګڼل کیږي، خو د غټو بندونو اړتیا لري.

سولر سیستمونه: د لمر وړانګو څخه د فوتوولټاییک (PV) پینلونو په وسیله برېښنا تولیدیږي. دا سیستمونه اسانه، ارزانه او د اوږد مهاله کارونې وړ دي، خصوصاً د لمر زیات لرونکو سیمو لپاره.

بادي سیستمونه: باد د توربینونو پر مټ حرکت کوي او دا حرکت برېښنا ته اړول کیږي. دا سیستم هم د پاکې انرژۍ یو ډول دی او چاپېریال ته زیان نه لري.

اټومي سیستمونه: دا سیستمونه د یورانیمو یا نورو رادیواکتیف موادو د شکیدو له طریقه انرژي تولیدوي. دا سیستمونه ډېر ځواکمن وي، خو د خوندیتوب له پلوه ډېر حساس دي.

د انرژۍ د تولید ســیســـتمونه باید د هېواد د جغرافیې، اقلیم، تخنیکي ظرفیت، پانګونې توان او ټولنیزو شرایطو مطابق انتخاب شي. همداراز، د انرژۍ سیستمونه باید د چاپېریال ساتنې معیارونه پوره کړي تر څو د راتلونکي نسل لپاره پایدار اقتصاد تضمین شي (Zhwak, 2025).

د انرژۍ د مصرف بیلابیل سکتورونه

د انرژۍ مصرف د یو هېواد د اقتصادي فعالیت انعکاس کوي. انرژي د ټولنې تقریباً ټولو برخو ته اړتیا لري، خو تر ټولو مهم مصرفوونکي سکتورونه دا دي:

صنعتي سکتور: فابریکې، تولیدي شرکتونه، کانونه او ساختماني کارونه د انرژۍ تر ټولو زیات مصرفوونکي دي. دا سکتور برق، تیل، ډبري سکاره او طبیعي ګاز ته اړتیا لري.

زراعت سکتور: که څه هم زراعت له دودیزه پلوه د انرژۍ کم مصرفوونکی ګڼل کیږي، خو عصري زراعت د اوبو رسونې پمپونه، ماشینونه، ژمي کې د حرارت وسایل او کیمیاوي سرې تولید ته انرژي ته اړتیا لري.

خدماتي سکتور: د روغتونونو، ښوونځیو، ادارو، رستورانتونو او د مخابراتي شرکتونو فعالیتونه د برېښنا او تیلو پر بنسټ روان دي. دغه سکتور د لوړ کیفیتي خدماتو لپاره باثباته انرژي ته اړتیا لري.

نقلیه سکتور: وسایط اورګاډي، الوتکې او کښتۍ د انرژۍ بنسټیز مصرفوونکي دي. دا سکتور اکثراً د تیلو، ډیزلو او په وروستیو کې برېښنایي وسایطو ته اړتیا لري.

کورنۍ سکتور: د کورونو لپاره انرژي د رڼا، پخلي، تودوخې، یخولواو د بریښنایي وسایلو لپاره کارول کیږي. د انرژۍ مصرف په دې برخه کې د ټولنیز ژوند د کیفیت له کچې سره تړاو لري.

په عمومي توګه، د انرژۍ د مصرف بیلابیل سکتورونه یو له بل سره تړلي دي. هر سکتور که له انرژۍ بې برخې شي، نو دا د ټول اقتصاد پر وده او ثبات منفي اغېز کوي. له همدې امله، د انرژۍ منظم مدیریت، عادلانه وېش او پایدار عرضه د اقتصادي پرمختګ لپاره ضروري ګڼل کیږي (Zhwak, 2025).

د انرژۍ کمښت پېژندنه

په تېرو څو کلونو کې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د برېښنا عرضه او تقاضا ترمنځ د توازن نشتوالی جدي ستونزې رامنځته کړې دي. حکومتونه او د برېښنا شرکتونه د تولید او تقاضا ترمنځ له واټن سره مخ شوي، چې له امله یې د برېښنا بندښتونه (blackouts) او بار کمونې (load shedding) رامنځته شوې او دا حالت د برېښنا په دوامداره کمښت بدل شوی دی.

د انرژۍ کمښت هغه حالت ته ویل کیږي چې د برېښنا یا نورو انرژیو عرضه د خلکو او صنعتونو له اړتیاوو سره برابره نه وي. دا کمښت ښایي د فني ستونزو، پلان نه درلودو، د انرژۍ د ضایع کېدو، د لیږد د خنډونو، یا د انرژۍ د تولید د محدودیت له امله وي. دا وضعیت نه یوازې د خلکو ورځنۍ ژوند اغېزمنوي، بلکې اقتصادي پراختیا، صنعتي فعالیتونه او د هیواد مالي ثبات هم تر تأثیر لاندې راولي.

په نړیوالو تجربو کې لیدل شوي چې د انرژۍ کمښت مدیریت د برېښنا غوښتنې کمولو او یا د هغې عر ضې زیاتولو له لارې ترسره کیږي. له دې اقداماتو څخه د انرژۍ د سپما پراخ کمپاینونه، د مصرف کوونکو د عادتونو بدلول، د انرژۍ د مؤثره وسایلو کارول او د تولید له اړخه د تاوانونو کمول شامل دي.

په لنډ ډول، د انرژۍ کمښت یوه ستره اقتصادي او ټولنیز ننګونه ده چې د هغې د حل لپاره هم مهاله، منځمهاله او اوږدمهاله تګلارو ته اړتیا ده، څو د برېښنا عر ضه او تقا ضا ترمنځ توازن رامنځته شي او د اقتصـاد پر مختلفو سکتورونو یې منفي اغېزې کمې شي (Audinet, 2009).

د انرژۍ د کمښت عوامل

د انرژۍ کمښـت ته بېلابېل عوامل لاره هواروي، چې له ډلې یې فزیکي عوامل، د اسـتخراج او تولید لګښـت، ټکنالوژي او سیاسي عوامل مهم رول لري.

فزیکي عوامل: د ځمکې جوړښـت (جیولوژي) په فوسـیلي سـونګ توکو لکه نفت، طبیعي ګاز او ډبرو سـکرو باندې مسـتقیم اغېز لري. دا توکي په هغو سـیمو کې زیات موندل کیږي چې رسـوبي طبقات لري، ځکه د فوسیلي سونګ توکو د جوړېدو پروسه د عضوي موادو د رسوب سره تړاو لري.

همداراز، اقلیم او د ځمکې لوړوالی (توپوګرافي) هم په اسـتخراج باندې تأثیر لري. غرنۍ سـیمې یا ډېرې سړې او سختې سیمې لکه الاسکا او سایبیریا، د استخراج او ترانسپورت له پلوه لویې ننګونې لري.

یوشـمېر فوسـیلي زېرمې د ژورو او خطرناکو بحرونو لاندې موندل کیږي، چې اسـتخراج یې له سـتر تخنیکي او مالي خنډونو سره مل وي.

خو فزیکي شرایط ځینې فرصتونه هم برابروي، لکه د اوبو د بندونو جوړول په لوړو سیمو کې، چې له هغه لارې برېښنا تولیدیږي. همداراز، هغه سیمې چې دوامداره لمر لري، د لمریزې برېښنا لپاره کارېدلی شي او باد لرونکې سیمې د برېښنا تولید لپاره د توربینونو له لارې کارول کیږي.

د اسـتخراج او تولید لګښت: لکه څرنګه چې غیر تجدیدېدونکي انرژیکي سرچینې کمیږي، د هغوی اسـتخراج ورځ تر بلې زیات لګښت ته اړتیا لري. د انرژۍ د ترلاسه کولو لګښت له عرضه او تقاضا سره تړلی وي، یعنې که تقاضا زیاته شي، بېې لوړیږي او استخراج له اقتصادي پلوه توجیه پیدا کوي. هلته چې د تولید لګښت ټیټ وي، انرژي ارزانه وي او تقاضا هم لوړیږي، خو برعکس حالت کې کمښت رامنځته کیږي.

ټکنالوژي: د ټکنالوژۍ پرمختګ داســې نوې لارې رامنځته کړې دي چې نوي انرژيکي منابع لکه فريکينګ (Fracking) څخه ګټه واخيســتل شي. سربېره پر دې، د تجديدېدونکو انرژيو پراختيا هم د ټکنالوژۍ له پرمختګ سره زياته شوې، څکه اوس دا ډول انرژي له اقتصادي پلوه هم ارزانه شوې او توليد يې اسانه شوی دی.

سياسي عوامل: سياسي ستونزې هم د انرژۍ کمښت سبب کيږي. د انرژۍ د نه امنيت له امله شخړې رامنځته شوې دي، لکه د منځني ختيځ په هېوادونو کې. دا ډول شخړې د انرژۍ د بهيرونو په ټپه درېدو پای ته رسېدلې دي، لکه په ليبيا کې چې د کورنيو جګړو له امله د نفتو صادرات کم شوي دي. د انرژۍ د دوامداره عرضه لپاره، پرمختللي هېوادونــه هڅــه کوي لــه نورو هېوادونو سره خپلې ســيــاسي اړيکې ښــې وســاتي (Internet Geography, 2025).

د انرژۍ کمښت نښې او شواهد

د انرژۍ کمښت نښې او شواهد هغه څرګندې نښې دي چې د يوې ټولنې يا هېواد د انرژۍ سکتور کې د منابعو محدودتيا، بې ثباتي او د عرضې او تقاضا ترمنځ نابرابري څرګندوي. دغه نښې د اقتصاد، ټولنې او ورځنۍ ژوند په بېلابېلو برخو کې راڅرګنديږي.

تر ټولو لومړۍ نښــه د برېښــنا منظم پرېکېدل يا لوډشــيډنګ دی، چې په ډېری پرمختللو او مخ په وړاندې روانو هېوادونو کې هم تجربه شــوې ده. د برېښــنا پرېکېدل نه يوازې د کورنيو چارو پر فعاليتونو اغېز کوي، بلکې د صنعت، زراعت او خدماتو سکتورونه هم له خنډ سره مخ کوي.

دوهمه مهمه نښه د انرژۍ بيو لوړېدل دي، څکه چې د تقاضا زياتوالی او عرضه کموالی د بازار قانون له مخې د بيو په لوړوالي تمامېږي. دا و ضعيت د انفلاســيون، د توليد کمښــتاو د مصرف کوونکو د ژوند کيفيت خرابېدو لامل ګرځي.

بله نښــه د وارداتو پر انرژۍ زيــاته تکيه ده. کله چې يو هېواد د خپلو داخلي منابعو پر ځای انرژي له نورو هېوادونو واردوي، دا نه يوازې د بهرنيو سياستونو تابع کيږي، بلکې د اسعارو پر زېرمو هم منفي اغېز کوي.

ځلورمه نښه د چاپېريال ستونزې دي. د انرژۍ د کمښت له امله ډېری هېوادونه بديلو منابعو ته نه ورځي، بلکې موجوده فوسيلي منابع زياتوي چې له امله يې د چاپېريال ککړتيا، ګازونو زيات اخراج او د اقليم بدلون ستونزې زياتيږي. همداراز، د صــنعتي فعاليتونو ټيټېدل، د کاري فرصــتونو کمښــت او د توليدي واحدونو بندېدل هم د

انرژۍ کمښت نښې دي. دا ټول شواهد دا څرګندوي چې انرژي د يو هېواد د ثبات، پرمختګ او اقتصادي وده لپاره اساسي عنصر دی او د دې نشتوالی ټول سیستم له ګډوډۍ سره مخ کوي (Zhwak, 2025).

د انرژۍ سکتور اوسنی وضعیت

د افغانستان د انرژۍ سکتور له جدي ستونزو سره مخ دی. زاړه او ناکافي کورنۍ بریښنا تولیدوونکي بندونه او همداراز غیر باوري، ناامنه او ګرانه وارداتي انرژي، دا سکتور له اساسي ننګونو سره مخامخ کړی. که څه هم افغانستان د نوي کیدونکو انرژیو (لکه لمر او باد) پراخې سرچینې لري، خو د مناسب لیږد شبکې نشتوالي له امله دغه سرچینې په کافي ډول پراختیا نده موندلې. په هیواد کې وارداتي بریښنا ۷۷.۴٪ ته رسیږي، چې له ګاونډیو هېوادونو څخه راوړل کیږي، خو دا واردات له بې ثباتۍ، د سوداګریزو ټرونونو د نه پلي کېدو، د راتلونکو نرخونو د نه معلوموالي او له امنیتي خطرونو سره مخ دي. سربېره پر دې، د افغانستان د ننه بریښنا تولیدوونکي مرکزونه یا خو خپل کاري عمر پای ته رسولی، یا هم کافي پراختیا نه لري.

افغانستان د نویو، چاپېریال سره دوستانه انرژیو (لمر، باد، اوبه، بایوماس او تودې څمکې) د تولید ستر ظرفیت لري، خو تر ټولو لوړ تخنیکي امکانات د لمریزې او بادي انرژۍ په برخه کې موجود دي، چې که وکارول شي، هېواد به د انرژۍ اړخه ځان بساینې ته ورسیږي.

د بادي او لمریزې انرژۍ تر ټولو لوړ پوتانشیل د هېواد په جنوب او لویدیځ ولایتونو (لکه هرات، فراه، نیمروز، کندهار او هلمند) کې موندل شوی، خو دا سیمې له پلازمینې کابل او نورو عمده بار مرکزونو څخه لرې پرتې دي. له همدې امله، یوه تخنیکي او اقتصادي مناسبه لیږد شبکه اړینه ده تر څو تولید شوې انرژي اصلي مصرفي سیمو ته انتقال شي.

د انرژۍ د اوږده واټن لیږد لپاره د لوړ ولتاژ مستقیم جریان (HVDC) سیستم د متناوب جریان (HVAC) په پرتله یوه غوره او اغېزمنه تخنیکي بدیله ده. HVDC نه یوازې د لیږد واټن محدودیت نه لري، بلکې د ثبات ستونزې هم نه لري، ځکه چې دا د فریکونسۍ ستونزه نه لري. د هرات ولایت، چې د باد او لمر ستره ذخیره لري، د HVDC له لارې د کابل سره نښلول کیدلای شي، څو د هېواد اصلي بار مرکز ته دوامداره انرژي ورسوي. دا چاره نه یوازې د تخنیکي او اقتصادي پلوه عملي ده، بلکې د هېواد د انرژۍ امنیت او اقتصادي ثبات لپاره هم مهمه ده. اوس مهال، د افغانستان د انرژۍ لیږد شبکه ټوټه ټوټه ده او د بېلابېلو سرچینو څخه بېلابېل سیستمونه لري، چې اکثره وارداتي سرچینې د یو بل سره همغږي نه لري. د هیواد شمال ختیځه برخه د تاجکستان او ازبکستان سره نښلول شوې، سوېل ختیځه برخه له کجکي سره او هرات له ایران او ترکمنستان سره تړاو لري، خو

دا برخې د یو بل سره تړلې نه دي، بلکې جلا جلا سیستمونه لري. د (CASA(1000 پروژه، چې له قرغزستان او تاجکستان څخه د اوړي په موسم کې اضافي انرژي د کابل له لارې پاکستان ته لیږدوي، هم د HVDC سیستم یوه بیلګه ده. خو دا پروژه د کورنۍ عر ضه او تقا ضا ترمنځ توازن نه راولي، بلکې یواځې د ترانزیت له لارې عواید ترلاسه کوي.

سربېره پر دې، داسې پروژې لکه د ازبکستان ـــ افغانستان ـــ پاکستان بریښنا لیږد پروژه (UAP_EST)، هم د تخنیکي لحاظه ګټورې بلل شوې، خو د افغانستان د برېښنا د اوسني او راتلونکي تقاضا د پوره کولو لپاره کافي نه دي.

د افغانستان د انرژۍ سکتور لپاره تر ټولو مهم خنډونه عبارت دي له:

- ✓ د برېښنا لیږد د شبکو نشتوالی.
- ✓ د وارداتي برېښنا لوړ لګښت.
- ✓ د خلکو کم عاید.
- ✓ د ناامنۍ شرایط.

د دغو ننګونو له منځه وړل او د داخلي نویو انرژیو پراخ کارونه کول، کولای شي د افغانستان د انرژۍ سکتور وضعیت ته مثبت بدلون ورکړي .(fahimi,2022, pages 1-5)

مناقشه

د څېړنې موندنو ته په کتو، څرګندیږي چې د انرژۍ کمښت نه یوازې د تولیدي سکتور پر فعالیتونو ناوړه اغېزه کوي، بلکې د اقتصادي نظام په ټولو برخو کې بې ثباتي رامنځته کوي. د انرژۍ دوامداره کمښت د دې سبب شوی چې د صنعت، کرنې او خدماتو سکتورونه له جدي خنډونو سره مخ شي. دا خنډونه نه یوازې اقتصادي وده ورو کوي، بلکې د کار بازار هم متضرر کوي، چې پکې بیکاري زیاتیږي او د خلکو اقتصادي حالت کمزورۍ کیږي. په مناقشه کې دا هم څرګندیږي چې هغه هېوادونه چې پر یو یا دوه انرژیکي سرچینو تکیه لري، د انرژۍ کمښت ته ډېر حساس دي. د افغانستان په څېر هېوادونه، چې تر ډېره پورې وارداتي انرژۍ ته اړتیا لري، د انرژۍ د نشتون له امله د وارداتو په زیاتوالي، اسعارو د تبادلې د کچې د خرابوالي او د ملي بودیجې د کسر سره مخ وي. دغه حالت د انفلاسیون یا د قیمتونو د عمومي لوړېدو لامل ګرځي، چې د ټولنیز نابرابرۍ، بې وزلۍ او د عامو وګړو د ژوند د معیار د ټیټېدو سبب هم کیږي. د مناقشې بله مهمه برخه دا ده چې ولې تر اوسه د انرژۍ بدیلې سرچینې، لکه د لمر، باد او اوبو انرژي، په پراخ ډول نه دي کارول شوي. دلته اقتصادي، تخنیکي او سیاسي

خنډونه مطرح دي. د پانګوالو د باور نشتوالی، د زېربناوو کمښت، د اړینو تګلارو نشتوالی او د علمي متخصصینو کمبود، هغه عوامل دي چې د بدیلو سرچینو د پرمختګ مانع ګرځي. همداراز، د مناقشې پر بنسټ دا هم ویلای شو چې د انرژۍ کمښت د صادراتو په کچه هم منفي اغېز کوي، ځکه چې د تولیداتو کچه راټیټیږي او د نړیوالو بازارونو لپاره د سیالۍ وړ توکي تولیدېدل ستونزمن کیږي. دا حالت د تجارتي کسر لامل هم ګرځي. بل خوا، بهرني پانګوال هم د انرژۍ د نشتوالي له امله زړه نه ښه کوي چې په هېواد کې پانګونه وکړي. مناقشه دا ځرګندوي چې د انرژۍ کمښت یوه ژوره ملي ستونزه ده چې بېلابېلې اقتصادي، ټولنیزې او سیاسي اغېزې لري. د دې ستونزې د حل لپاره باید د ملي کچې جامع او پایښت لرونکې تګلارې جوړې شي. که چېرې دا چاره جدي ونه نیول شي، نو د هېواد اقتصادي راتلونکې به له جدي ننګونو سره مخ شي.

پایله

دې څېړنې ځرګنده کړه چې انرژي نه یوازې د تولیداتو، صنعت، ترانسپورت او زراعت لپاره بنسټیزه اړتیا ده، بلکې د هر هېواد د اقتصادي نظام د ثبات او پرمختګ لپاره هم حیاتي ارزښت لري. د انرژۍ کمښت یوه داسې مسئله ده چې مستقیماً د هېواد اقتصادي فعالیتونه له خنډ سره مخ کوي. څېړنو وښوده چې کله چې په یوه هېواد کې انرژي کمه شي، نو هلته د تولید کچه راټیټیږي، د کارخانو فعالیتونه محدودیږي، بیکاري زیاتیږي، د توکو بیې لوړیږي او ټولنیزه نابرابري او فقر لا پراخیږي. په دې څېړنه کې تر سره شوې شننه ښیي چې د انرژۍ کمښت اوږدمهاله اغېزې لري، لکه د بهرنیو پانګوالو د علاقې کمښت، د وارداتو زیاتوالی، د صادراتو کموالی او د ملي بودجې د عایداتو کمېدل. دغه ستونزې د اقتصادي ودې مخه نیسي او د هېواد اقتصاد له کړکېچ سره مخ کوي. همدارنګه، انرژي د تعلیم، روغتیا، مخابراتو او نورو خدماتي برخو بنسټ دی؛ نو د هغې کمښت پر ټولنیزو خدماتو هم منفي اغېز لري. د څېړنې موندنې دا هم ځرګندوي چې که چېرې د انرژۍ کمښت ته پاملرنه و نه شي، نو دا ستونزه به د وخت په تېرېدو سره لا پراخه شي. له همدې امله، اړینه ده چې حکومتونه او اړوند بنسټونه د انرژۍ د بدیلو سرچینو پراختیا ته لومړیتوب ورکړي، د عامه پوهاوي پروګرامونه پیل کړي او پانګوال وهڅوي چې د پاکو، ارامو او دوامدارو انرژیو لکه لمر، باد او اوبو څخه ګټه واخلي. دا به نه یوازې د انرژۍ د کمښت ستونزه راکمه کړي، بلکې نوي کاري فرصتونه به هم رامنځته کړي، د وارداتو اړتیا به کمه شي او د اقتصادي ثبات زمینه به برابره شي.

دې څېړنې دا ثابته کړه چې انرژي د اقتصاد د وجود روح ده او د هغې کمښت د اقتصادي نظام د ګډوډۍ سبب کیږي. له همدې امله، هر هېواد باید د انرژۍ مدیریت ته جدي توجه وکړي او دا مسئله د ملي امنیت او اقتصادي پالیسۍ یوه مهمه برخه وګڼي. سربېره پردې، د انرژۍ کمښت د چاپېریال له آلودګۍ سره هم تړاو لري،

ځکه چې هېوادونه او کیږي د ارزانه خو زیانمنونکو سون توکو لکه سکرو او ناپاکو تېلو ته مخه کړي، چې دا کار نه یوازې د هوا کیفیت خرابوي، بلکې د خلکو روغتیا ته هم جدي ګواښ پېښوي. د دوامداره اقتصادي ودې لپاره، اړینه ده چې د انرژۍ تولید او مصرف دواړه په هوښیارانه توګه تنظیم شي. د انرژۍ مؤثر مدیریت، عصري ټکنالوژۍ ته لاسرسی او د انرژۍ د ضایعاتو مخنیوی کولی شي د اقتصادي ستونزو په حل کې کلیدي رول ولوبوي. همدارنګه، د سیمه‌ییزو همکاریو له لارې د انرژۍ شریکو پروژو پراختیا لکه د بریښنا واردات او صادرات، د هېواد لپاره د عاید نوی لوری کیدی شي. د انرژۍ سکتور پیاوړتیا د ملي خپلواکۍ تضمین کوي او هېواد له بهرنیو فشارونو څخه ژغوري. دا څېړنه وړاندیز کوي چې د انرژۍ مو ضوع باید د اوږدمهاله پلانونو برخه وګرځي، د پالیسۍ جوړوونکو لپاره ستراتیژیک لومړیتوب وي او په تعلیمي نصاب کې هم د انرژۍ مدیریت ته ځانګړی ځای ورکړل شي. یواځې د دوامدارو او مسؤلو پرېکړو له لارې کېدای شي چې د انرژۍ کمښت ستونزه کابو شي او هېواد د اقتصادي، ټولنیز او چاپېریالي ثبات پر لور روان شي.

وړاندیزونه

۱. حکومت دې د بدیلو انرژیو لکه لمر، باد او اوبو څخه د استفادې لپاره پانګوالو ته اسانتیاوې برابرې کړي.

۲. د انرژۍ د مصرف د کموالي لپاره دې عامه پوهاوی پیاوړی شي او د سپما فرهنګ ته وده ورکړل شي.

۳. د موجوده انرژۍ سرچینې دې په عصري او مؤثر ډول مدیریت شي ترڅو ضایعات کم شي.

۴. په صنعتي فابریکو کې دې د انرژۍ موثریت لوړولو لپاره نوې ټکنالوژي وکارول شي.

۵. کورني او بهرني پانګوال دې د نوي، پاکو او دوامدارو انرژیو په برخه کې وهڅول شي.

٦. تعلیمي اداري دې د انرژۍ اړوند مضمونونه خپل نصاب کې شامل کړي ترڅو راتلونکی نسل یې په اړه پوهاوی ولري.

۷. ښاروالۍ او حکومتي اداري دې د انرژۍ د سپما قوانینو عملي کول په نظر کې ونیسي.

۸. رسنۍ دې د انرژۍ د ارزښت او کمښت له خطراتو سره د خلکو عامه ذهنیت جوړ کړي.

۹. سیمه ایز حکومتونه دې د خپل شاوخوا طبیعي منابعو څخه د انرژۍ ترلاسه کولو پروژې پیل کړي.

۱۰. نړیوالو مرستندویه ادارو سره دې د انرژۍ برخې کې د ګډو پروژو لپاره همکاري وشي.

Energy Crisis in the Modern Economy Causes of Shortage and Impact Management

Teaching Assistant،Tooryalai Sangeen, Shaikh Zayed university, faculty economic, deportment business administration
Email: tooryalaisangeen2019@gmail.com

Abstract

Energy is considered a fundamental element for the economic growth and development of every country. Without electricity, oil, gas, and other energy resources, industrial activities, transportation, agriculture, factories, and other service sectors cannot function properly. Unfortunately, in many countries, energy shortages are a serious problem, leading to a decline in production levels, rising prices, increased unemployment, reduced exports, and the loss of investor confidence. This research attempts to investigate the factors of energy shortages, their economic impacts, and possible solutions. For data collection, various reliable sources were utilized, and statistics and reports were analyzed. The findings indicate that energy shortages not only create difficulties in people's lives but also cause significant damage to the structure of the national economy. In particular, the decline in industrial production, delays in raw material production, workers' wage issues, and rising inflation are major problems associated with this shortage. This research recommends that governments should utilize alternative energy sources such as solar, wind, and hydropower, investors should be encouraged to invest in new technologies, and the general public should be motivated to adopt a culture of energy conservation. Furthermore, energy management should be modernized, and corruption prevention must be taken seriously; if timely measures are not taken, energy shortages will lead to a long-term economic crisis. Therefore, this issue must be managed through strategic policies.

Keywords: Energy, impact of energy, impact of shortage, types of energy, energy resources

مأخذونه

Audinet, P. (2009). Managing an electricity shortfall: A guide. ESMAP.

Author(s) Not Listed .(2024). Energy poverty assessment: indicators and implications for quality of life. Journal of Energy and Quality of Life Studies.

Bureau of Energy Efficiency. (n.d.). Basics of Energy and its Various Forms.

ERIC. (2023). Introducing the concept of energy.

Fahimi, H., Upham, P., & Gencer, E. (2022). Technical and Economic Analysis of an HVDC Transmission System for Renewable Energy Connection in Afghanistan. Sustainability.

Hernández, D., & Bird, S. (2020). Do energy burdens contribute to economic poverty in the United States? A panel analysis. Center for Social Studies and the Network, 1999–2017. CSSN.

Internet Geography. (2025). What factors affect energy availability.

Mashele, L. (2023). South African energy crisis: economic effects and GDP eduction. In Wikipedia.

Ministry of Energy and Water, Afghanistan. (2016). Afghanistan Renewable Energy Policy (2015–2032) [Policy document, English & Dari]. Kabul: Author.

Ozili, P. K., & Ozen, E. (2023). Global energy crisis: impact on the global economy. MPRA Paper No. 118791. Retrieved from MPRA repository.

Radovic, A. (2025). Concept of Energy.

Sharma, R., & Yadama, B. (2020). Technical and economic analysis of an HVDC transmission system for renewable energy connection in Afghanistan. Sustainability.

Timilsina, G. R., & Malla, S. (2021). Clean cooking: why is adoption slow despite large health and environmental benefits? Economics of Energy & Environmental Policy.

Yacout, D. A. (2014). Energy Management Concept. ResearchGate.

Zhwak, Ahmadi .(2025). Energy Shortage.

نقش رهبری در سازمان های اموزشي

پوهنیار شاه ولی محمدی پوهنتون شیخ زاید، پوهنځي تعلیم و تربیه دیپارتمنټ تعلیم و تربیه عمومی

ایمل درس: shahwalimohammadi84@gmail.com

چکیده

هدف این تحقیق تبیین و بررسی نقش رهبری در بهبود عملکرد و تحقق اهداف سازمان‌های آموزشی است. نقش رهبری از مهمترین موضوعات حوزه مدیریت است که پیامد آن، که نقش رهبری در به دست آوردن هدف های آموزشی سازمان های آموزشی به نحوی اثربخش و کارامد می باشند. نوع تحقیق از لحاظ هدف تحقیق توصیفی است این مقاله از لحاظ تحقیقی مروري است. ابزار و روش جمع اوری تحقیق ما از نوع اسنادی است. در این تحقیق شیوه های تجزیه و تحلیل از نوع تحلیل محتوا است. نتایج این تحقیق نشان میدهد که نقش های رهبری در سازمان های آموزشی؛از طریق نقش رهبری بهتر می توانیم که هدف های سازمان اموزشی را به نحوی مؤثر و کارامد به دست آوریم و همچنان میتوانیم تغییرات مطلوبی را در رفتار فراگیران به وجود آوریم. رهبری بهتر می تواند بین کارکنان سازمان های اموزشی ایجاد انگیزه نمایند و باعث تغییرات مطلوبی می شود. رهبری نقش اساسی را در ارزشیابی واقعی و منصفانه از عملکرد کارکنان و دانش اموزان بر اساس عدل و انصاف می کند و باعث رضایت کارکنان و دانش آموزان می شود.

واژگان کلیدی: رهبری،سازمان هایی اموزشي، نقش رهبری.

مقدمه

بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین

مدیران بزرگ، محققان، کارشناسان، مربیان و مشاروان و حتی رهبران در حوزه رهبری برای انواع رهبری و سبک هایی خاص ان دارای موقف و مو ضع خود شان هستند. در نتیجه انواع مختلف از سبک هایی رهبری وجود دارد؛ پیشنهاد دهنده این مطلب است که حالا هم رهبری در حوزه هایی مختلف خصوصاً در سازمان هایی اموزشي در حال گسترش و توسعه سازی است. بهترین نوع مدیریت و رهبری اموزشي، مدیریتی است که همراه با رهبری باشد. مدیر موفق کسی است که علاوه بر پشتوانه قانونی و رسمي از حمایت افراد تحت مدیریت نیز برخودار باشد. کسی که از یک طرف از امکانات رسمي و قانونی و از طرف دیگر از مساعدت های بی دریغ فکری،روانی، و عاطفی داوطلبانه زیر دستانش استفاده می کند، توان قدرتش دو چندان می شود و می تواند به سادگی و با سرعت مشکلات سازمان اموزشي را حل و راه های رسیدن به اهداف اموزش و پرورش را در مدرسه خود هموارسازد.این فرد می تواند علاوه بر استفاده از اختیار و اقتدار قانونی، تسهیلات و تمهیدات قانونی، از ذخیرۀ پر ارزش انسانی نیز بهره بگیرد. تأثیر و نفوذ بر انسانها و جلب همکاری انها از پر ارزش ترین منابع سازمانی است. شاید، اگر بگوئیم که ارزش ذخیره داوطلبانۀ انسانی، کارائي بیشتری از حکم رسمی دارد. مدیریت و رهبری در اموزش و پرورش، لازم و ملزوم یکی دیگر اند و وجود هر یکه بدون وجود دیگری میزان کارامدی فرد مسؤل را کم می کند. اگر با مقداری دقت، به محیط اطراف خود نگاهی بیندازیم، می بینیم که در محیط اموزشي، کسانی هستند که از محبوبیت، جذبه و پذیرش خاصی بر خوردارند، ولی چون ابلاغ رسمی مدیریت ندارند نمی توانند خدمات ارزنده ای برای افراد دیگر و سازمان انجام دهند. گویی علی الرغم میل و خواسته این افراد و کسانی که ان ها را پذیرفته اند، دستشان کوتاه و خرما بر نخیل است. ازجهت دیگر، مدیرانی نیز وجود دارند که با تمام چالاکی ها و مهارت هایی که در بکارگیری قانون دارند و با همه پیشتیبانی قانونی و سازمانی که می شوند، به علت پذیرفته نشدن از طرف انسانها، در کارشان موفق نیستند. در چنین مو ضوعی، معلمان با آنها همکاری های صمیمانه و از ته قلب دارند و با همه کوشش هایشان به موفقیت دست نمی یا بند. رهبری اموزشي، بر بهبود فرایندی های تدریس و یادگیری در هسته فنی تآکید می کند. رهبران اموزشي تلاش می کند عواملی را در مدرسه همچون محتوای درسی، روشهای تدریس، رهبردهای ارزیابی، و هنجارهای فرهنگی پیشرفته تحصیلی را تغیر دهند. این نوع رهبری از انواع منابع از جمله،مدیران مدارس و سایر کادر اموزشي، معلمان، اولیا، و خود دانش اموزان نشأت میگیرد. به طور کلی رهبری یک بعد اساسی و بنیادی هر سازمان است و نقش رهبری در سازمان های اموزشي بسیارمهم و ارزش قابل قبول همه جوامع امروزی

است؛ چراکه فعالیت های مرکزی سازمان هایی را هدف قرار می دهند. لذا اختصاص یک موقعیت برجسته به رهبری برای یادگیری در برنامه هایی اموزش و هدفهای اموزشی کمک های بسیار ارزشمند می کند تا هدف های سازمان های اموزشي به واسطه سبک هایی گوناگون رهبری با اثر بخشي- و کارامدی به شکل علمی ومنطقی بدست اید. سوال اصلی تحقیق این است که رهبری چگونه نقشی در بهبود عملکرد و دستیابی به اهداف سازمان‌های آموزشی دارد؟ این مقاله سعی بر آن است که با توجه به دانش موجود مقاله ای از نوع تحلیلی ارائه گردد.

هدف کلی تحقیق: تبیین و بررسی نقش رهبری در بهبود عملکرد و تحقق اهداف سازمان‌های آموزشی.

اهداف جزئی تحقیق

۱. بررسی نقش رهبری در تحقق اهداف و مأموریت‌های سازمان‌های آموزشی
۲. شناسایی نقش رهبری در افزایش اثربخشی سازمان‌های آموزشی.
۳. بررسی نقش رهبری در بهبود کیفیت تدریس و یادگیری.
۴. تبیین نقش رهبری در ایجاد انگیزه و رضایت شغلی اعضای کادر علمی و کارکنان.

سوال کلی تحقیق: رهبری چگونه نقشی در بهبود عملکرد و دستیابی به اهداف سازمان‌های آموزشی دارد؟

سوالات جزئی تحقیق

رهبری چگونه در تحقق اهداف و مأموریت های سازمان‌های آموزشی نقش دارد؟

رهبری چه تأثیری بر اثربخشی سازمان‌های آموزشی دارد؟

رهبری چگونه کیفیت آموزش و یادگیری را بهبود می‌بخشد؟

رهبری چه نقشی در افزایش انگیزه و رضایت شغلی کارکنان دارد؟

تعریف رهبری

در مورد واژه رهبری تعریف های گوناگون بیان شده است که ذیلاً بیان می گردد.

- از دید رابینز،پی. استیفن، رهبری، توانایی اعمال نفوذ یا اثر گذاردن بر یک گروه در جهت تآمین هدفها است(قاسمی،۱۳۹۱،۴۳۴).
- فرایندی نفوذ، برانگیختن و هدایت پیروان جهت دستیابی به اهداف گروهی یا سازمانی (شیرازی،۱۳۹۲،۲۵۴).

- از نظر نورتاوس، رهبری به طوری کلی فرایندی اجتماعی ک دران فرد یا یک گروه بر رفتار دیگران در جهت دستیابی به هدفی مشترک تاثیر می گذارد(سلیمانی و همکاران،۱۳۹۴،۵۹۳).
- رهبری عبارت است از رفتار فرد در جهت هدایت فعالیت‌های یک گروه برای دستیابی به هدف مشترک (Hemphill & Coons, 1957).
- فرآیند تأثیرگذاری بر فعالیت‌های یک گروه سازمان‌یافته برای دستیابی به هدف (Rauch & Behling, 1984) .
- رهبری فرآیند تأثیرگذاری بر دیگران برای درک و توافق درباره آنچه باید انجام شود و چگونگی انجام مؤثر آن، و همچنین تسهیل تلاش‌های فردی و جمعی برای تحقق اهداف مشترک است(Yukl, 2013).

به قول هرسی وبلانچارد، برای تحت تاثیر یا نفوذ قرار دادن دیگران (پیروان) از طرف رهبر، سه قابلیت اساسی لازم است:

- ✓ تشخیص. توانایی شناخت و ضعیتی که قصد نفوذ در ان داریم.
- ✓ انطباق. توانایی تطبیق رفتار خود و سایر عواملی که در کنترل ما هستند، با مقتضیات و ضعیت مورد نظر.
- ✓ ارتباط راغبانه. توانایی ارسال پیام به گونه ای که افراد ان را به راحتی درک کرده و پذیرا باشد(سروری،۱۳۹۹،۲۳۳).

نظریه های رهبری

نظریه های متعددی در ارتباط به رهبری مطرح شده است که از تعداد انها قرار ذیل است:

۱) نظریه خصوصیات رهبری

رویکرد خصیصه ای یا تیوری مرد بزرگ بر مبنای این فرض استوار بود که انسان ها به دو گروه تقسیم می شوند: رهبران و پیروان. رهبران خصوصیات معینی دارند که پیروان شان از ان خصوصیات بی بهره اند. از جمله افلاطون و کنفیسوس، به این فرضیه معتقد بودند. به گفته افلاطون «از بدو تولد، سرنوشت بعضی ها در فرماندهی و برخی دیگر در فرمانبری رقم زده است». مفروضات این تیوری قرار ذیل بیان می گردد:

- فرد با خصوصیات ذاتی رهبر متولد می شود.
- برخی از خصوصیات افراد برای رهبری مناسب است(سروری،۱۳۹۹،۲۳۷).

۲) نظریه های رفتار رهبری

در شیوه های رفتاری رهبر، رهبر به جای این که مشخص کند چه کسانی رهبران مؤثری هستند، کوشش کردند تا معین نمایند رهبران مؤثر چه می کند، چگونه وظایف را واگذار می کنند،چگونه با پیروان و کارکنان خود ارتباط بر قرار می کنند،چگونه وظایف را واگذار می کنند و انان را بر می انگیزانند، چگونه وظایف خود را اجرا می کنند. به صورت مشخص مفروضات نظریه های رفتاری رهبری عبارتند از:

- رهبران می توانند ایجاد و یا تربیت شوند و عمل کنند به جای این که رهبر متولد شده باشند.
- موفقیت رهبری به جای خصوصیات فردی بر اساس رفتار قابل یادگیری و اموزش است(سروری،۲۳۹، ۱۳۹۹).

۳) نظریه های موقعیتی و اقتضایی

در این نظریه ها اصولاً جست وجوی بهترین راه برای رهبری که در همه ای موارد بتوان ان را به کار برد، امری محال است. در واقع، نظریه های اقتضایی و موقعیتی بر اساس شرایط و به اقتضای موقعیت ها و شیوه های مناسب و مطلوب رهبری تعین می شود. مفروضات نظریه های موقعیتی و اقتضایی عبارت از این است که بهترین عمل یا اقدام رهبر بستگی به میزان فاکتورهای موقعیتی دارد(سروری،۱۳۹۹،۲۴۰).

۴) نظریه مسیر – هدف

در این تیوری رهبران باید مسیر و راه ها را برای کارکنان مشخص نمایند تا انان باید کجا و چگونه بروند و در کجا حرکت نمایند(سروری،۱۳۹۹،۲۵۸). در نظریه ای مسیر- هدف چهارسبک عبارتند از:

i. سبک رهبری امرانه. این سبک بر تعین برنامه و نحوه ای کار و هدایت انان برای اجرای برنامه ها و دستورالعمل ها تکیه دارند. این سبک به نام سبک دستوری و ارشادی نیز یاد می شود. این سبک تا حدی زیادی شبیه تعیین ساختار و کار مدار یا وظیفه گرایی است.

ii. رهبری حمایتی. این سبک به رفاه و نیازی های کارکنان وروابط دوستانه و بر خورد یکسان انان توجه دارد. این سبک شبیه مراعات و ملاحظه کاری ی رابطه گرایی است.

iii. سبک مشارکتی. این سبک بر تعین برنامه ها و نحوه انجام کار وهدایت انان برای اجرای برنامه ها و دستور العمل ها تکیه دارد. تصمیم ها با مشارکت کارکنان انجام می گیرند.

iv. سبک توفیق گرا. این سبک کارکنان رابه انجام کارها و وظایف مهم از طریق تعیین هدفهای چالشی تکیه بر استفاده بهتر از توانایی هایشان تشویق می کند.

۵) نظریه کاریز ماتیک

در نظری کاریزماتیک رابرت هوس گفته می شود که رهبران کاریزما از نظر قدرت مرجعیت در سطح بسیار بالایی هستند. رهبرکاریزما دارای سطح بسیار بالایی از اعتماد به نفس و اعتقاد راسخ در باورها و عقاید معنوی و صحت و درستی عقاید خود است یا دست کم می تواند پیروان خود را متقاعد سازد که دارای چنین اعتماد به نفسی است. به طور کلی، رهبران کاریزما علاوه براین ها:

- دارای نوعی دیدگاه هستند که از طریق اهداف سازمانی را به صورت یک عقیده و نه عملکرد بیان می کنند.
- انتظاراتشان از پیروان زیاد، ولی در عین حال واقع بینانه است.
- با رفتار خویش، الگو یا نمونه ایجاد می کنند که مورد تقلید پیروانشان قرار می گیرد.
- نسبت به توانایی های پیروانشان برای رسیدن به اهداف چالشی، اعتماد نشان می د هند (قاسمی، ۱۳۹۰، ۴۷۹).

٦) نظریه رهبری توزیع شده

بنت(۲۰۰۳) بیان می دارد که رهبری توزیع شده، پدیده است که در ان فعالیت های رهبری توسط یک نفر انجام نمی شود؛ بلکه در میان افراد مختلف و گروه های کاری تسهیم می شود. در واقع رهبری توزیع شده انجام دادن کارها توسط یک نفر یا یک مجموعه ای از افراد که به سازمان یا گروه های خدمات دهی کنند، نیست؛ بلکه بیش از انکه شخصی و به صورت منفرد باشد؛ فعالیت های گروهی را شامل می شود که در ارتباط با هم صورت می گیرد. این از رهبری در منابع مختلفی تبلور می یابد و حول یک موضوع و در ارتباط با کسانی که مهارت و خلاقیت دارند شکل می گیرد (بنت،۲۰۰۳).

۷) نظریه رهبری از نظر علمای اسلامی

رهبری در اندیشه اسلامی تنها به معنای اعمال قدرت و فرمان‌روایی بر دیگران نیست، بلکه نوعی امانت، مسئولیت، هدایت، عدالت‌گستری و خدمت به جامعه محسوب می‌شود .یکی از مهم‌ترین مبانی رهبری در قرآن کریم، امانت و سپردن مسئولیت به افراد شایسته است. خداوند متعال می‌فرماید:

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا

ترجمه:

«همانا خداوند به شما فرمان می‌دهد که امانت‌ها را به صاحبانش بسپارید و هنگامی که میان مردم داوری می‌کنید، به عدالت داوری نمایید. همانا خداوند شما را به نیکو چیزی پند می‌دهد؛ بی‌گمان خداوند شنوا و بیناست » (قرآن کریم، سوره نساء، آیه ۵۸)

از این آیه می‌توان نتیجه گرفت که رهبری و مدیریت نوعی امانت است و نباید به افراد فاقد صلاحیت سپرده شود. بنابراین، شایستگی، توانایی و عدالت از ویژگی‌های اساسی رهبر در دیدگاه اسلامی محسوب می‌شود. در جایی دیگرخداوند ج می فرماید: عدالت یکی از بنیادی‌ترین اصول رهبری اسلامی است. قرآن کریم رهبران و مؤمنان را به رعایت عدالت حتی در شرایط دشوار فرمان داده است:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ ۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا ۚ اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ

ترجمه

«ای کسانی که ایمان آورده‌اید! برای خدا به عدالت قیام کنید و به عدالت گواهی دهید؛ و دشمنی با گروهی شما را وادار نکند که عدالت نکنید. عدالت کنید که آن به تقوا نزدیک‌تر است؛ و از خدا پروا کنید، زیرا خداوند به آنچه انجام می‌دهید آگاه است» . (قرآن کریم، سوره مائده، آیه ۸).

بر اساس این آیه، رهبر اسلامی نباید تحت تأثیر علاقه، دشمنی، روابط شخصی یا منافع گروهی قرار گیرد. بنابراین می‌توان از این مبنا، نظریه رهبری عدالت‌محور را استخراج کرد.

در متون دیگر اسلامی از رهبرییکی دیگر از اصول مهم رهبری اسلامی، شورا و مشورت است. خداوند در توصیف مؤمنان می‌فرماید:

وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ

ترجمه:

«و کسانی که دعوت پروردگارشان را پذیرفته‌اند و نماز را برپا داشته‌اند و کارهایشان با مشورت میان آنان انجام می‌شود و از آنچه به آنان روزی داده‌ایم انفاق می‌کنند» (قرآن کریم، سوره شوری، آیه ۳۸).

همچنین خداوند خطاب به پیامبر اکرم ﷺ می‌فرماید: وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ

ترجمه:
«و در کارها با آنان مشورت کن» .(قرآن کریم، سوره آل‌عمران، آیه ۱۵۹).

این آیات نشان می‌دهد که رهبر مطلوب اسلامی نباید خودرأی باشد، بلکه باید از دانش، تجربه و دیدگاه دیگران استفاده کند.

از این جهت، می‌توان گفت یکی از ویژگی‌های رهبری اسلامی رهبری مشارکتی است؛ زیرا شورا باعث مشارکت افراد در تصمیم‌گیری و افزایش اعتماد میان رهبر و پیروان می‌شود. در اخیر از چند تا نظریه علمای اسلامی پیرمون رهبری را ذکر می نمایم:

✓ دیدگاه امام غزالی درباره رهبری

ابوحامد غزالی (۴۵۰–۵۰۵ق) در آثار خود توجه زیادی به اخلاق، عدالت و رفتار حاکمان دارد. یکی از آثار مهم او در این زمینه التبر المسبوک في نصيحة الملوک است.

از نظر غزالی، قدرت سیاسی هنگامی ارزشمند است که در خدمت دین، عدالت و مصالح مردم قرار گیرد. او حاکم را از ظلم، خودخواهی و سوءاستفاده از قدرت برحذر می‌دارد.

بر اساس اندیشه غزالی، رهبر مطلوب باید:

- عادل باشد؛
- از ظلم اجتناب کند؛
- دارای اخلاق نیک باشد؛
- مصالح مردم را در نظر بگیرد؛
- از افراد صالح و شایسته استفاده کند؛
- در برابر خداوند احساس مسئولیت داشته باشد .

بنابراین، دیدگاه غزالی را می‌توان نظریه رهبری اخلاق‌محور نامید.

✓ دیدگاه ابن‌تیمیه درباره رهبری

ابن تیمیه (٦٦١–٧٢٨ق) در کتاب السیاسة الشرعية في إصلاح الراعي والرعية درباره مدیریت جامعه و مسئولیت حاکم بحث کرده است.

از دیدگاه ابن‌تیمیه، هدف اصلی حکومت و رهبری، اصلاح جامعه و تأمین مصالح مردم است. او بر دو اصل مهم تأکید می‌کند:

امانت و قوت

یعنی فرد مسئول باید از یک طرف امین و درستکار و از طرف دیگر توانمند و شایسته انجام مسئولیت باشد.

از این دیدگاه، برای یک رهبر تنها تقوا کافی نیست؛ بلکه باید توانایی، دانش و قدرت مدیریت نیز داشته باشد.

✓ **دیدگاه ابن‌خلدون درباره رهبری**

ابن خلدون (٧٣٢–٨٠٨ق) در المقدمة مو ضوع حکومت، دولت، قدرت و رهبری را از دیدگاه اجتماعی و تاریخی بررسی کرده است.

مفهوم مهم در اندیشه ابن‌خلدون عصبیه است. از نظر او، همبستگی و انسجام اجتماعی نقش مهمی در ایجاد و حفظ قدرت سیاسی دارد.

بنابراین، موفقیت رهبر تنها به ویژگی‌های شخصی او وابسته نیست؛ بلکه حمایت اجتماعی، انسجام گروهی، شرایط تاریخی و روابط میان گروه‌های اجتماعی نیز بر قدرت و رهبری تأثیر می‌گذارند.

از این جهت، دیدگاه ابن‌خلدون را می‌توان با نظریه‌های اجتماعی و موقعیتی رهبری مقایسه کرد.

سبک های رهبری

در واقع سبک رهبری مناسب، یک عامل تسهیل کننده و بر انگیزانده کارکنان است که به طور مسقیم و غیر مستقیم بر رفتار انان تأثیر می گذارد(رجایی پور،احمدی و بابایی،١٣٨٩). سبک های متفاوت رهبری سازمان عبارت اند از:

١. رهبری اقتدارگرایانه: در سازمان هایی که دچار بحران جدی شده اند و نیاز به تصمیم گیری سریع دارند و فرایندی های کاروی روتین و غیری تخصصی است، اجرا می شود. برای سازمان های نظامی این سبک رهبر مناسب است و مزایایی مانند سرعت در تصمیم گیری و قدرت بلا منازع در رهبری را به همراه دارد(رجایی پور،احمدی و بابایی،١٣٨٩).

٢. رهبری بورو کراتیک: برای سازمان های که کارهای دقیق و علمی و اناایمنانجام می دهند و لزوم توجه به قوانین و دستورالعمل ها برای انجام درست و ایمنی جدی است، بسیار مناسب است. مزایایی این روش

رهبری سازمانی بالا بردن ایمنی و کم کردن ریسک ناشی از کارکرد های تعیین نشده است(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۳. رهبری کاریز ماتیک: برای سازمان های که از بی تفاوتی و عدم احساس مسؤلیت کارکنان ناراضی هستند، انتخاب این سبک رهبری می تواندمفید باشد که با شور وانرژی خود سازمان را به حرکت در می اورند. این سبک برای سازمان هایی که به تغیرات درونی نیاز دارند، مناسب است و رهبری در این سبک باید با الگو قراردادن خود سایرین را به عملکردهای فوق العاده مجاب کند(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۴. رهبری مشارکتی: در سازمان های که نو آوری و خلاقیت رمز موفقیت ونیاز به مشارکت کارکنان مهم ترین عامل در ماندگاری سازمان است این سبک از رهبری مناسب است. این نوع رهبری برای شرایط بحرانی که نیاز به سرعت در تصمیم گیری دارد پاسخ معکوس می دهد. برای سازمان های که تمرگز بر بهبود های عملیاتی و بهبود محصول یا ارائه بهتر خدمت دارند، نیز مناسب استو از معایب ان طولانی شدن تصمیم گیری ها و مشخص نشدن برخی از نا کارامدهای فردی است(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۵. رهبری عدم مداخله: برای سازمان هایی که به روش های خود مدیریتی دارند و مدیریت زمان اهمیت زیادی دارد مورد استفاده قرار می گیرد. برای کارهایی که نیاز به هدایت نداشته و اطمینان داریم که کارها با حداقل خطا انجام می گیرد مناسب است و اگر دانش مناسب در بین کارکنان نباشد ریسک زیان دهی آن بالا است(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

٦. رهبری مردم محور: این سبک رهبری برای توسعه کارهای تیمی است و با توجه به اینکه رهبری سازمان نگاه یکسانی به کارکنان دارد تیم های مقتدر و قوی در ان تشکیل می شود. نقطه ضعف بزرگ این نوع سبک رهبری فراموشی مسؤلیت های فردی است و باعث می شود قابلیت های فردی کارکنان نادیده گرفته شود(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۷. رهبری خدمتگزار: این سبک رهبری برای سازمان های اموزشی یا خدماتی مانند بیمارستان، دانشگاه بسیار مناسب است و معمولاً رهبری سازمان به شاخص های فرهنگی و ارزشی بسیار پایبند است و تعهد به کار،صداقت، راست گوییو همدلی از ارزش های مطرح در این نوع رهبری است. در این سبک به رغم کندی تصمیم گیری ایجاد فرهنگ ارزشی و خدمت در سازمان از نکات مثبت است(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۸. رهبری وظیفه گرا: این سبک از رهبری توجه وسیعی بر کنترل کار، و ظایف و دستورالعمل ها دارد و معمولاً به دلیل عدم توجه به مشکلات کارکنان نا رضایتی در بین آن ها گسترش می یا بد(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۹. رهبری تعاملی: این نوع سبک رهبری مناسب با سازمان های است که کارها را به شکل پروژه ای انجام می دهند و برای سازمان های دانش محور که نیاز به نوآوری و خلاقیت دارند، مناسب نیست(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۱۰. رهبری تحولی: این سبک رهبری باتعیین چشم انداز و اهداف روشن ومکالمه آن در سازمان سعی در جذب مشارکت کارکنان می کند. این مهم با درک درستی از تحولات پیرامونی و شیوه های ایجاد انگیزه امکان می یابد و رهبری با هوش عاطفی خود توانمندی های جدیدی نسبت به قبل برای سازمان ایجاد می کند. از نقاط ضعف این سبک تآییدی رهبری از سوی تمامی رده های سازمانی است و در صورتی که زیر ساخت های تغییر را ایجاد نکند امکان موفقیت بسیار کاهش می یابد.(رشیدی و همکاران،۱۳۹۵).

۱۱. سبک خود مختار: رهبران بر خوردار از این سبک بدون نظر خواهی از اعضای گروه تصمیم می گیرند و به اعضای امر و نهی می کنند.

- (رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۱۲. سبک رفیق نما: رهبران این سبک ضمن علاقمندی به همزیستی، خود را مکمل پیروان می دانند. ویژگیهای رهبران این سبک قرار زیر است:

- دوستدار زندگی جمعی.
- جدی در مسؤلیت.
- بدور از قضاوت در مورد پیروان.
- کم هراس از سختیها(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

۱۳. سبک تشخیص گرایی :رهبران این سبک سعی می کنند تا گروه شان مشخص و زبانزد خاص و عام شود. ویژگیهای این سبک در زیر بیان می شود:

- قدرت پیش بینی دارند.
- دوست دارند ریسک بپذیرند.
- بیشتر شنونده اند تا گوینده(رجایی پور،احمدی و بابایی،۱۳۸۹).

توانایی های رهبری اموزشی

الف، توانایی های عمومی: توانایی های عمومی مدیر و رهبر اموزشی شامل، سلامتی جسمی، سلامتی روانی، سلامتی عاطفی، سلامتی عقل و قدرت تفکر و ادراک، ایمان، تقوی و تعهد می باشد(میرکمالی، ۱۳۹۲).

ب، توانایی های بلوغی: توانایی بلوغی مدیر و رهبر اموزشی شامل، دانش عمومی، دانش تخصصی و مهارت های روابط انسانی می باشد(میرکمالی،۱۳۹).

وظایف رهبر

نقش رهبران را می توان با خلاصه ای از وظایف انها در شرایط و وضعیت های مختلف توضیح داد. طبیعی است که وظایف رهبری در ارتباط با نوع گروه و ساختار آن و مشخصات داخلی و خارجی گروه تفاوت خواهد کرد، ولی معولاً رهبران گروه ها و سازمان ها مجموعه ای از وظایف مختلف رابه عهده دارند و ان چه در این قسمت توضیح داده می شود و ظایف مختلفی است که یک رهبر ممکن بر عهده بگیرد. این وظایف به صورت زیر دسته بندی می شوند(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۰).

a) داوری کردن: زمان که اعضای سازمان موافقت چندانی با انجام یک عمل نداشته باشد، رهبر ممکن است از طریق حکمت یا تصمیم گیری شخصی به حل مشکل بپردازد(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۰).
b) دریافت پیشنهاد: ارائه و تآکید بر پیشنهاد توسط رهبر، این فرصت را به وی می دهد تا بدون ان که از دستورات مستقیم استفاده کند، از جانب زیر دستان خود نیز نظرات و عقاید گوناگون رادریافت دارد. همچنین به موازات این فرایند، وقار و احترام زیر دستان و احساس مشارکت و همکاری در انان نیز تقویت می شود(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۱).
c) تدارک و عرصهٔ اهداف: هدف های یک سازمان یک معیار مشخص نیست، بلکه باید به وسیله رهبرتهیهٔ؛ تنظیم و ارایهٔ شود. برای این که سازمانی، اثربخش باشد، این اهداف باید متناسب با سازمان بوده و امکانات کار و تلاش جمعی و گروهی را فراهم اورد(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۱).
d) بازبینی اجرای عملیات: رهبر یک گروه یا سازمان اعم از این که خود سیاست های گروه را تعیین می نماید یا ننماید، در هردو صورت مسؤلیت بازبینی اجرای این سیاست ها را به عهده خواهد داشت(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۱).
e) برنامه ریزي: یکی از وظایف رهبری، تصمیم گیری در مورد انتخاب روش ها و وسایل برای رسیدن به هدفها است که جز برنامه ریزی گروه می باشد.(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۱).
f) سیاستگذاری: درگیر شدن در طراحی هدف ها و سیاستگذاری های یک گروه یا سازمان و دخالت برای پیاده کردن ان ها، یکی از وظایف مهم رهبری گروه یا سازمان است(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۱).

g) کنترل کنندۀ روابط داخلی: با توجه به میزان تسلطی که رهبر نسبت به جزئیات ساختار گروه و روابط گروهی دارد، می تواند نسبت به کنترل روابط داخلی گروه نقش مهم و سازمان دهنده ای را دا شته باشد(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۱).

h) شتاب بخشیدن: برای اغاز یا افزایش یک حرکت یا ایجاد تحرک در یک سازمان، به یک نیرو یا شدت عملی نیاز خواهد بود که این نیرو می تواند به مانند یک شتاب دهنده، باعث بر انگیختگی و تحریک کارکنان برای انجام کار شود(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۲).

i) تأمین امنیت: یک رهبر در برخورد با مسائل و مشکلات، چنان چه طرز تلقی و نگرش مثبت و خوش بینانه ای داشته باشد، قادر خواهد بود، امنیت خاطری را برای زیردستان خود فراهم اورد. چنین امنیتی برای اعضای سازمان بسیار مهم است و همواره در معرض تهدید بر داشت های رهبر قرار دارد (قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۲).

j) شویق و تمجید: یکی دیگر از نیاز های انسانی، نیاز به تشخیص؛ احترام و شناسایی در بین دیگران است. بر این اساس، رهبران می توانند از طریق تشویق و ستایش صادقانه این نیاز رامورد تأکید قرار دهند(قاسمی،۱۳۹۱،۴۴۲).

نقش های رهبری

مینتزبرگ این ده نقش راتحت عنوان اصلی گروه بندی کرد؛ نقش روابط بین افراد(میان فردی)، نقش اطلاعاتی و نقش تصمیم گیری است(سروری، ۱۳۹۹،۲۰).

۱. نقش های ارتباطی یا میان فردی

مدیران با اجرایی نقش های ارتباطی رابطه ای خود را در سازمان حفظ می کنند و ان را گسترش می بخشد. این نقش ها به سه دسته تقسیم می شوند.

الف. نقش تشریفاتی. در این نقش که از مهم ترین و اسان ترین نقش های مدیر است، مدیر وظایف تشریفاتی را به عنوان مقام مسؤول سازمان اجرا می کند. لوحه تقدیری که مدیر در طی یک مراسم به کارکنان نمونه می دهد، همگی نقش های تشریفاتی را ایفا می کنند(سروری،۱۳۹۹،۲۰ به نقل از فیضی، ۱۳۸۹،۱۸).

ب، نقش رهبری. نقش رهبری شامل مسؤولیت هدایت و هماهنگی فعالیت های زیردستان در راستای رسیدن به هدف های سازمانی است. مدیر چون با دیگران کار میکند و آمور سازمانش را به وسیله ای دیگران انجام دهد مسؤول اعمال زیر دستانش است، همان طوری که مسؤول اعمال خودش نیز هست. هدف اصلی

نقش رهبری، یگانه سازی نیازها و هدف های کارکنان با هدف ها و مقاصد سازمانی است (سروری،۱۳۹۹،۲۰).

ج. نقش رابط. در نقش رابط، مدیر با افراد و همتایان خود در خارج از سازمان دیدار و گفت گو می کند. به عبارت دیگر،این نقش مربوط به ارتباط مدیر با اعضای هیئت مدیره و افراد خارج از سازمان است که جلب حمایت آنان در موفقیت سازمان تأثیری به سزای خواهد داشت. مانند مراجعان یا ارباب رجوع، مقام های رسمی دولتی، مشتریان، عرضه گنندگان مواد اولیه و مانند آن ها(سروری،۱۳۹۹،۲۰).

۲. نقش های اطلاعاتی

مدیران با برقراری ارتباطات متقابل شبکه ای از روابط در درون و بیرون سازمان ایجاد می کنند که موجب می شود مدیر موفقیت منحصر به فردی در دریافت و ارسال اطلاعات داشته باشد. یکی از نظریه پردازان معتقد است، بخش عظیمی از کار مدیر به نقش های اطلاعاتی و اختصاص می یابد نقش اطلاعاتی سه نقش دیگر را دربر می گیرد.

الف) نقش گرد اورنده اطلاعات. این نقش شامل جست وجو، دریافت و انتخاب اطلاعات است. مدیران که به طوری جدی اطلاعاتی مفید و مورد نیاز را از داخل و خارج سازمان جمع اموری می کنند. از آن جا که بیشتر اطلاعات دریافت شده شفاهی است. مدیران باید اطلاعاتی را ارزیابی و از میان آن ها اطلاعاتی دقیق و مورد نیاز خود را انتخاب کنند این نقش اغلب مدیران را به عنوان اماده ترین عضو گروه مطرح می کنند.(سرروی،۱۳۹۹،۲۱).

ب) نقش اطلاع رسان. مدیر ، اطلاعات و اخبار مهم را بین زیر دستان توزیع می کند. بعضی از آن ها اطلاعات واقعی اند که در جلسات مشترک و مذاکرات نقل می شود، اما بعضی از این اطلاعات ناشی از تعبیر و تفسیر مدیر از وقایع و رویداد ها ست(سروری،۱۳۹۹،۲۱ به نقل از رفیعی،۱۳۸۹،۱۹). مدیران در این نقش باید اطلاعات دریافتی را مرتب و مشخص کنند که، چه اطلاعاتی به چه کسانی انتقال یابد.

ج) نقش سخنگو. در نقش سخنگویی، مدیران اطلاعات را به افراد در خارج از سازمان، به ویژه مقام هایی بالاتر، سیاستمداران و مانند آن ها منتقل می کنند. مدیر در نقش سخنگو در باره ای برنامه، سیاست ها و فعالیت ها و نتایج اقدامات، اطلاعات لازم به افراد در اخل سازمان و به خارج سازمان می دهد(سروری،۱۳۹۹،۲۱ به نقل از شریعتمداری، ۱۳۹۱،۳۴).

نقش های تصمیم گیری

نقش های تصمیم گیری شاید مهم ترین نقش مدیریتی باشد، زیرا مدیران اطلاعات را برای تصمیم گیری به کار می برند تا زمانی و چگونگی تعهد سازمان را در رسیدن به هدفها و فعالیت های مورد نظر تعیین کنند. در این چهار نقش را بازی می کنند:

الف) نقش نوآور یا کار آفرین. مدیران زمانی این نقش را بازی می کند که طرح جدیدی را آغاز کنند، به تعبیر و اصلاح سازمان بپردازند، فعالیت های سازمان را بسنجد، زمینه های نوی را بیازمایند یا به شغل و کسب و کار جدیدی وارد شوند. در این نقش آنان تغییر تازه را در خواست ها و برنامه های خود ایجاد می کنند(سروری،۱۳۹۹،۲۱).

ب) نقش آشوب زدایی یا حل کننده مسأله. امر هیچ سازمانی همیشه به ارامی پیش نمی رود. هنگام بروز مشکلات از قبیل اعتصاب کارکنان، ورشکستگی عرضه کنندگان، فسخ قرار داد توسط مشتریان، مشکلات مالی و مانند انها از مدیران انتظار می رود حتی با اتخاذ تصمیم های غیر معمول و با یافتن راه حل های بر این مشکلات چیره شوند و نگذارند که این مسایل به بحران تبدیل شود(سروری،۱۳۹۹،۲۲).

ج) نقش های تخصیص دهنده منابع. مدیران مسؤول تصمیم گیری برای تقسیم و توزیع منابع میان واحدهای سازمانی اند. انان به طور مستمر باید درباره ای چگونگی توزیع منابع مالی، انسانی، مادی و زمان تصمیم گیری کنند(سروری،۱۳۹۹،۲۲).

د) نقش مذاکره کننده. مدیران، بخش مهمی از اوقات خود را به مذاکره و گفت و گو اختصاص می دهند. مدیران در این نقش به عنوان نماینده سازمان خود، مراجعان، مشتریان، عرضه کنندگان مواد و خدمات مورد نیاز سازمان، اتحادیه های مرتبط به کارکنان سازمان، یا دولت و مقامات دولتی طرف مذاکره و گفت و گو قرار می گیرند(رابینز،۱۳۹۹،۲۳ به نقل از سروری،۱۳۹۹،۲۲).

تعاریف سازمان اموزشي

در اینجا در باره سازمان های اموزشی تعاریف گوناگون صورت کرفته است ولی ما در اینجا بعضی از تعاریف مهمی را ذکر می کنیم:

- سازمان های اموزشي عبارت از مجموعۀ برنامه ها، روشها و مواد فراهم اورده شده بری دستیابی به اهداف مشخصی اموزشي(فردانش،۱۳۹۰،۳).

- سازمان های اموزشی، عبارت از سازمان های خاص اموزش و یادگیری هستند که هدف های نهایی آن ها تحقق یادگیری و پرورش انسان ها و ایجاد رفتار های نسبتاً پایدار در دانش آموزان و دانش جویان است(میر کمالی،۲۸۱،۱۳۹۲).

روش تحقیق

نوع این تحقیق از لحاظ هدف تحقیق توصیفی و مقاله مروری است. ابزار و روش جمع اوری تحقیق ما از نوع اسنادی است. و در این تحقیق شیوه های تجزیه و تحلیل از نوع تحلیل محتوا است. برای بررسی تئوری‌ها، نظریه‌ها، تحقیقات و مقالات انجام شده در رابطه با موضوع تحقیق(پیشینه نظری عملی) از روش کتابخانه‌ای استفاده شده است. بنابر ضرورت تحقیق و دسترسی به مقالات و پایان نامه از اینترنت استفاده شده است.

بحث و مناقشه تحقیق

یافته‌های این تحقیق نشان می‌دهد که رهبری یکی از اساسی‌ترین عوامل موفقیت سازمان‌های آموزشی محسوب می‌شود و نقش تعیین‌کننده‌ای در تحقق اهداف آموزشی، ارتقای کیفیت تدریس و یادگیری، افزایش اثربخشی سازمانی و بهبود انگیزه و رضایت شغلی کارکنان دارد. بر اساس مبانی نظری تحقیق، رهبری فرایندی است که از طریق نفوذ، هدایت و انگیزش افراد، زمینه دستیابی به اهداف مشترک را فراهم می‌سازد. در سازمان‌های آموزشی نیز رهبران با ایجاد چشم‌انداز روشن، هماهنگ‌سازی فعالیت‌ها و فراهم‌سازی محیطی مناسب برای یادگیری، نقش مهمی در موفقیت سازمان ایفا می‌کنند.

نتایج بررسی نظریه‌های رهبری نشان می‌دهد که هیچ سبک واحدی نمی‌تواند در تمام شرایط آموزشی مؤثر باشد. نظریه‌های موقعیتی و اقتضایی تأکید دارند که اثربخشی رهبر به شرایط محیطی، ویژگی‌های کارکنان و نوع وظایف بستگی دارد. بنابراین مدیران و رهبران آموزشی باید با توجه به شرایط موجود، سبک مناسب رهبری را انتخاب نمایند. این یافته با دیدگاه سروری (۱۳۹۹) همسو است که موفقیت رهبری را وابسته به شرایط و موقعیت‌های مختلف سازمانی می‌داند.

همچنین یافته‌ها بیانگر آن است که رهبری تحولی در سازمان‌های آموزشی از جایگاه ویژه‌ای برخوردار است. رهبران تحولی از طریق ایجاد انگیزه، ترسیم چشم‌انداز روشن، تقویت روحیه همکاری و تشویق نوآوری می‌توانند کارکنان و اعضای کادر علمی را به عملکرد بهتر سوق دهند. این موضوع با نظریه برنز و باس مطابقت دارد که معتقدند رهبران تحولی موجب ارتقای سطح انگیزش و تعهد کارکنان می‌شوند.

از سوی دیگر، رهبری مشارکتی و توزیع‌شده نیز در محیط‌های آموزشی اهمیت فراوانی دارد؛ زیرا پوهنتون‌ها سازمان‌هایی دانش‌محور هستند و موفقیت آن‌ها به میزان مشارکت استادان و کارکنان وابسته است. هنگامی که رهبران فرصت مشارکت در تصمیم‌گیری را برای اعضای سازمان فراهم می‌کنند، احساس تعلق، مسئولیت‌پذیری و رضایت شغلی افزایش می‌یابد و در نتیجه عملکرد سازمانی بهبود پیدا می‌کند. این نتیجه با دیدگاه بنت (۲۰۰۳) درباره رهبری توزیع‌شده همخوانی دارد.

در زمینه کیفیت آموزش و یادگیری نیز مشخص شد که رهبران آموزشی با نظارت بر فرایند تدریس، حمایت از استادان، فراهم نمودن فرصت‌های توسعه حرفه‌ای و ایجاد فرهنگ یادگیری مستمر، می‌توانند کیفیت آموزشی را ارتقا دهند. رهبران آموزشی موفق نه تنها مدیر امور اجرایی هستند، بلکه هدایت‌کنندگان فرایند یاددهی و یادگیری نیز محسوب می‌شوند.

همچنین یافته‌های تحقیق نشان می‌دهد که رهبران اخلاق‌مدار و خدمتگزار می‌توانند با ایجاد فضای اعتماد، احترام متقابل، عدالت سازمانی و حمایت از کارکنان، سطح انگیزه و رضایت شغلی را افزایش دهند. زمانی که کارکنان احساس کنند رهبر به نیازها و مشکلات آنان توجه دارد، تعهد سازمانی و تمایل آنان برای مشارکت در تحقق اهداف سازمان افزایش می‌یابد.

در مجموع، نتایج این تحقیق نشان می‌دهد که رهبری مؤثر در سازمان‌های آموزشی فراتر از اعمال قدرت و مدیریت اداری است و شامل ایجاد انگیزه، هدایت منابع انسانی، تقویت فرهنگ سازمانی، توسعه روابط انسانی و فراهم‌سازی شرایط مناسب برای یادگیری و رشد حرفه‌ای کارکنان می‌شود. بنابراین موفقیت سازمان‌های آموزشی تا حد زیادی به توانایی رهبران در انتخاب سبک مناسب رهبری، ایجاد مشارکت، تقویت انگیزش و هدایت صحیح منابع انسانی وابسته است

نتیجه گیری

بر اساس مباحث مطرح‌شده می‌توان نتیجه گرفت که رهبری اثربخش یکی از مهم‌ترین عوامل تحقق اهداف سازمان‌های آموزشی است. رهبران آموزشی با بهره‌گیری از سبک‌های مناسب رهبری، به‌ویژه رهبری تحولی، مشارکتی و اخلاق‌مدار، می‌توانند کیفیت آموزش، اثربخشی سازمانی، انگیزه کارکنان و موفقیت کلی سازمان را به طور قابل توجهی افزایش دهند. از این رو توجه به توسعه شایستگی‌های رهبری مدیران آموزشی، یکی از ضرورت‌های اساسی نظام‌های آموزشی معاصر به شمار می‌رود.

پیشنهادات تحقیق

۱. برنامه‌های آموزشی و سیمینارهای تخصصی رهبری برای مدیران و مسئولان سازمان‌های آموزشی برگزار شود تا مهارت‌های رهبری آنان تقویت گردد .

۲. مدیران آموزشی از سبک رهبری تحولی استفاده نمایند تا انگیزه، تعهد و خلاقیت کارکنان و اعضای کادر علمی افزایش یابد .

۳. سازمان‌های آموزشی از رهبری توزیع‌شده استفاده نمایند و بخشی از مسئولیت‌ها و اختیارات را میان اعضای توانمند سازمان تقسیم کنند .

۴. رهبران سازمان‌های آموزشی از تشویق و قدردانی منظم کارکنان و اعضای کادر علمی برای افزایش انگیزه و بهبود عملکرد استفاده نمایند .

The Role of Leadership in Educational Organizations

Teaching assistant: Shah Wali Mohammadi Faculty of Education, Department of General Education, Shaikh Zayed University, Khost Afghanistan.
Email Address: shahwalimohammadi84@gmail.com.

Abstract

The purpose of this study is to examine and explain the role of leadership in educational organizations. Leadership is considered one of the most important concepts in the field of management, as it plays a critical role in achieving the educational objectives of educational organizations effectively and efficiently. In terms of research purpose, this study is descriptive in nature. Based on the nature of the data, it adopts a qualitative research approach. The data collection method is documentary and library-based, and the unit of analysis is non-case-oriented. Content analysis was employed as the primary method for data analysis. The findings of the study indicate that effective leadership significantly contributes to the successful attainment of educational goals within educational organizations. Furthermore, leadership facilitates desirable changes in learners' behavior and promotes the overall effectiveness of the educational process. Effective leaders are capable of motivating employees, enhancing organizational performance, and fostering positive organizational change. In addition, leadership plays a fundamental role in ensuring fair and objective evaluation of both staff and students based on principles of justice and equity, thereby increasing their satisfaction and commitment. Consequently, leadership serves as a key factor in improving organizational effectiveness, employee motivation, and educational outcomes.

Keyword Educational Organization, Leadership, The Role of Leadership.

منابع و مأخذ

قرآن کریم.

ابن تیمیه، أحمد بن عبد الحلیم .السیاسة الشرعیة في إصلاح الراعي والرعیة .ریاض: وزارة الشؤون الإسلامیة والأوقاف والدعوة والإرشاد.

ابن خلدون، عبدالرحمن بن محمد .المقدمة .بیروت: دار الفکر.

رحمانی، عبدالطیف.(۱۴۰۰). مبانی اصول مدیریت. چاپ ششم، کابل: انتشارات سعید.

رحمتی کوهرودی،سارا،السادات مصطفوی،زینب(ویرستار). (۱۳۹۵). تبین نقش رهبری؛منبع بنیادی سازمان های موفق. تهران: سالن همایش های بین المللی دانشگاه شهید بهشتی.

سروری،خلیل الرحمن. (۱۳۹۹). مبانی سازمان و مدیریت. چاپ دوم، کابل: انتشارات عازم.

شیرازی،علی.(۱۳۹۲). مدیریت اموزشي. تهران: مؤسسه کتابمهربان نشر.

الغزالی، أبو حامد محمد بن محمد .التبر المسبوک في نصیحة الملوک .تحقیق احمد شمس‌الدین. بیروت: دار الکتب العلمیة، ۱۴۰۹ق/۱۹۸۸م.

فردانش،هاشم(مترجم).(۱۳۹۰). رهبردها و فنون طراحی اموزشي(سینتیابی وهمکاران). تهران: اتشارات سمت.

قاسمی، بهروز. (۱۳۹۱). مدیریت رفتار سازمانی.چاپ سؤم، تهران:انتشارات سپاهان.

ک، وین و همکاران.(۱۹۳۸). مدیریت اموزشي (ترجمه نادر سلیمانی و همکاران).(۱۳۹۷). تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها(سمت).

میرکمالی، سید محمد.(۱۳۹۲). رهبری و مدیریت اموزشي. چاپ نوزدهم، انتشارات یسطرون.

Hemphill, J. K., & Coons, A. E. (1957). Development of the Leader Behavior Description Questionnaire. In R. M. Stogdill & A. E. Coons (Eds.), Leader Behavior: Its Description and Measurement. Columbus, OH: Bureau of Business Research, Ohio State University.

Rauch, C. F., & Behling, O. (1984). Functionalism: Basis for an alternate approach to the study of leadership. In J. G. Hunt, D. M. Hosking, C. A. Schriesheim, & R. Stewart (Eds.), *Leaders and Managers: International Perspectives on Managerial Behavior and Leadership*. New York: Pergamon Press.

Yukl, G. (2013). Leadership in Organizations (8th ed.). Boston, MA: Pearson.

د خلفای راشدینو په دور کې له غیر مسلمو اقلیتونو سره تعامل

نوماند پوهنیار شاهین الله امیرزی د شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت څانګې استاد
ایمل ادرس: Shaheenamirzaisa@gmail.com

لنډیز

اسلامي شریعت د عدالت، رحمت او انساني کرامت پر بنسټ د ټولنې د ټولو وګړو، په ځانګړي ډول د غیر مسلمو اقلیتونو، د حقوقو د خوندیتوب لپاره روښانه او متوازن اصول وضع کړي دي. د خلفای راشدینو دوره د دغو اصولو د عملي تطبیق غوره تاریخي بېلګه ګڼل کېږي. د دې څېړنې اساسي موخه د خلفای راشدینو په دوره کې له غیر مسلمو اقلیتونو سره د تعامل د شرعي بنسټونو، حقوقي اصولو او عملي تګلارو علمي ارزونه ده. په څېړنه کې له وصفي، تاریخي او تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او معلومات د قرآن کریم، نبوي سنتو، د اسلامي فقهې له معتبرو مآخذو او تاریخي سرچینو څخه راټول او تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې څرګندوي چې اسلامي فقه د غیر مسلمو اقلیتونو حقوق د «اهل الذمة» تر عنوان لاندې تنظیم کړي او د هغوی لپاره یې د ځان او مال د مصونیت، قضایي عدالت، اقتصادي انصاف او ټولنیز خوندیتوب بنسټیز اصول ټاکلي دي. همدارنګه څرګنده شوې چې راشدو خلفاوو د معاهداتو د وفادارانه پلي کولو، د ظلم د مخنیوي، عادلانه مالي تعامل او انساني مساواتو له لارې د دغو اصولو عملي بېلګې وړاندې کړې دي. څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې د خلفای راشدینو تعامل د عدالت، زغم او ګډ ژوند پر بنسټ ولاړ و او د معاصرې نړۍ لپاره د اقلیتونو د حقوقو د خوندیتوب، متقابل احترام او سوله‌ییز ګډ ژوند په برخه کې یو اغېزمن اسلامي سمبول وړاندې کوي.

کلیدي کلمې: اقلیتونه، تعامل، تسامح، خلافت راشده، عدالت، غیر مسلم

سریزه

بِسمِ اللَّهِ الرَّحمنِ الرَّحیمِ. الحَمدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِینَ والصَّلاةُ والسَّلامُ عَلَیَّ سَیِّدِ الْمُرسَلینَ وَ عَلیَّ آلهِ وَ اصحابِهِ اجمَعینَ!

اسلام د رحمت، عدالت، زغم او انساني کرامت دین دی، چې د انسانانو ترمنځ د همغږۍ، امن او متقابل احترام بنسټونه یې ټینګ کړي دي. اسلامي شریعت نه یوازې د مسلمانانو حقوق خوندي کړي، بلکې د غیر مسلمو اقلیتونو د ژوند، مال، عقیدې او عزت ساتنې ته یې هم ځانګړې پاملرنه کړې ده؛ د اسلام له نظره د انسان د ارزښت معیار قوم، ژبه، رنګ او نسل نه دی، بلکې تقوی، عدالت او نېک عمل دی. الله تعالی فرمایي: ﴿**يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ**﴾ **[الحجرات: ۱۳]**.

ژباړه: ای خلقو بیشکه مونږ کړی ئی تاسی (ټول اصلا) له یوه سړی چی (آدم) او له یوی ښځی چی (حوا) ده او گرځولی ئی مونږ تاسی ځانګی او قبیلی قبیلی دپاره د دی چې وپیژنی یو له بل سره بیشکه چی ډیر مکرم او معزز له تاسی څخه په نزد د الله ډیر متقی ادب لرونکی ستاسی دی(کابلی تفسیر، ب.ت ج۲ص.۱۲۱۴).

اسلامي تاریخ په ځانګړي ډول د خلافتِ راشده دوره د عدالت، زغم او له غیر مسلمو اقلیتونو سره د انساني او عادلانه تعامل روښانه بېلګې وړاندې کوي. راشدو خلفاوو د نبوي لارښوونو پر بنسټ له غیر مسلمو اقلیتونو سره داسې تعامل کړی، چې د هغوی د ديني ازادی، اقتصادي امنیت، قضایي عدالت او ټولنیز کرامت بشپړ تضمین پکې موجود و. د هغوی معاهدات، سیاسي تګلارې او عملي اقدامات څرګندوي چې اسلامي نظام د ګډ ژوند، امن او متقابل احترام یو متوازن او انساني چوکاټ وړاندې کړی دی.

په معاصر وخت کې چې د اقلیتونو د حقوقو او د ادیانو ترمنځ د تعامل موضوع نړیوال اهمیت پیدا کړی، د خلافتِ راشده د تعاملاتو علمي څېړنه ځانګړی ارزښت لري. له همدې امله دا څېړنه هڅه کوي چې د راشدو خلفاوو له لوري له غیر مسلمو اقلیتونو سره د تعامل بنسټونه، تاریخي بېلګې او شرعي اصول په علمي او تحلیلي بڼه وڅېړي، ترڅو د اسلامي شریعت د عدالت، رحمت او انساني کرامت حقیقي انځور روښانه شي.

د څېړنې موخې

عمده موخه

د خلفای راشدینو په دور کې له غیر مسلمو اقلیتونو سره د تعامل د اصولو، بنسټونو او عملي تګلارو علمي څېړنه او ارزونه.

فرعي موخې

د خلافتِ راشده په دوره کې د غیر مسلمو اقلیتونو ټولنیز او اقتصادي خوندیتوب څرنګوالی بیانول .

د اسلامي شریعت د عدالت، زغم، رحمت او انساني کرامت هغه اړخونه روښانه کول چې د اقلیتونو سره په تعامل کې عملي شوي دي .
د معاصرې نړۍ لپاره د خلافتِ راشده له تعاملاتو څخه د ګټې ژوند، سولې او متقابل احترام اړوند ګټور اصول او درسونه وړاندې کول.

د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې اهمیت او ارزښت په لاندې ټکو کې څرګندېږي:

۱. څېړنه څرګندوي چې اسلامي نظام د عدالت، زغم، رحمت او انساني کرامت پر بنسټ د اقلیتونو لپاره د امن او ګټې ژوند متوازن چوکاټ وړاندې کړی دی .
۲. دا موضوع د خلافتِ راشده په دوره کې د غیر مسلمو اقلیتونو د ديني ازادۍ، اقتصادي خوندیتوب، قضایي عدالت او ټولنیز تعامل تاریخي بېلګې په علمي ډول بیانوي .
۳. څېړنه د اسلامي فقهې او معاصر بشري تعامل ترمنځ اړیکه پیاوړې کوي او څرګندوي چې اسلامي شریعت د مختلفو قومونو، دینونو او کلتورونو ترمنځ د سولهییز ګډ ژوند وړتیا لري .

د څېړنې پوښتنې

عمده پوښتنه

د خلفای راشدینو په دور کې له غیر مسلمو اقلیتونو سره د اقتصادي تعامل د اصولو، بنسټونو او عملي تګلارو علمي څېړنه څنګه ارزوی؟

فرعي پوښتنې

د خلافتِ راشده په دوره کې د غیر مسلمو اقلیتونو د ټولنیز او اقتصادي خوندیتوب څرنګوالی څه ډول وو؟
د اسلامي شریعت د عدالت، زغم، رحمت او انساني کرامت هغه اړخونه روښانه کول چې د اقلیتونو سره په ټولنیز او اقتصادي تعامل کې عملي شوي دي څه وو؟
د معاصرې نړۍ لپاره د خلافتِ راشده له تعاملاتو څخه د ګټې ژوند، اقتصادي اصول او درسونه څه ډول وړاندې کولی شو؟

د څېړنې تګلاره

په دې څېړنه کې له وصفي او تحلیلي مېتود څخه کار اخیستل شوی دی. د موضوع اړوند معلومات د قرآن کریم، نبوي سنتو، د اسلامي فقهې له معتبرو کتابونو او د معاصرو علماوو او څېړونکو له اثارو څخه راټول شوي دي.

همدارنګه د خلفای راشدینو د تعامل تاریخي بېلګې په علمي او مقارن ډول ارزول شوې دي، ترڅو د غیر مسلمو اقلیتونو سره د اسلامي تعامل حقیقي انځور روښانه شي.

پخوانیو لیکنو ته کتنه

پخوانیو او معاصرو علماوو د غیر مسلمو اقلیتونو سره د تعامل په اړه بېلابېلې علمي لیکنې او څېړنې کړې دي، اسلامي معاهدات او د خلفای راشدینو تعاملات بیان شوي دي. خو ډېری دغه لیکنې په عربي ژبه او پراخ تفصیلي سبک لیکل شوې دي. دا څېړنه هڅه کوي چې یاده موضوع په روانه او علمي پښتو ژبه، په منظم او تحلیلي ډول وړاندې کړي، ترڅو لوستونکي تړې په اسانه او ښه توګه ګټه واخلي.

د اقلیتونو پېژندنه

د اقلیتونو حقوق مرکب لفظ دی "اقلیتونه" او "حقوقو " کلمو څخه چې هر یو یې جلا جلا تعریف کوو:

د اقلیت او اقلیتونو پېژندنه

اقلیتونه د اقلیت جمع ده، په لغت کې له قل ریښې څخه اخستل شوی، د ډېر (کثرت) خلاف دی، د کم یا لږ په معنا سره راځي؛ یعنې هغه خلک یا شیان چې شمېر یې د نورو په پرتله کم یا لږ وي(ابن منظور، ۱۴۱۴هـ، ق، ج،۱۱ص.۵۶۳).

اقلیت کلمې کارونه په شرعي نصوصو کې

د «قِلَّة» کلمه په قرآن کریم او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سنتو کې یادوری شوې؛ خو ډېر ځله د همدې لغوي معنا لپاره کارول شوې، چې د شمېر لږوالي (**عددي قِلَّت**) پرمحور راځرخي، د شمېر د ډېرښت (کثرت) پر خلاف کارول شوي، د نورو معنوي اړخونو لپاره نه ده کارول شوې، لکه: په دې ایت کې چې الله تعالی جل جلا له فرمایي: ﴿**وَإِذْ كُنْتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ**﴾ **[الأعراف: ۸۶]**.

ژباړه: او یاد کړئ تاسی. هغه وخت چه وئ تاسی لږ((په سړیو او مالونو کښ)) نو ډیر کړئ (الله) تاسی(کابلی تفسیر، ب.ت ج۱، ص. ۹۰۱).

پورتني ایت مبارک کې د قلیلا کلمه یوازې د لږ یا کم مفهوم افاده کوي، بل کوم ځانګړی مفهوم له ځان سره نه لږدوي.

او همدا ډول په بل ځای کې الله تعالی فرمایي: ﴿**وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ**﴾ **[الأنفال: ۲۶]**.

ژباړه: او یاد کړئ تاسی هغه وخت چه تاسی لږ ضعیفان (مغلوبان) کړی شوی وئ په ځمکه کښی ویریدئ تاسی له دی نه چه وبه تښتوی په جلتی سره تاسی خلق(کابلی تفسیر، ب.ت ج۱،ص. ۱۰۰۲).

دلته هم د قله کلمه د عددې کمښت په موخه کارول شوي، په لفظي بعد کې بل ځانګړی مفهوم نه لري.

په نبوي سنتو کې د حضـرت انس رضی الله تعالی عنه په حدیث کې راغلي دي: **أن نفراً سألوه عن عبادة الرسول صلى الله عليه وسلم "فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا"**(البخاري، ۱۴۲۲هـ.ق. ج۷، ص. ۲).

ژباړه: یوه شمېر کسان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادتونو پوښتنه وکړه، کله چې هغوی ته بیان کړل، (خبر ورکړل شو) نو هغوی تقالوها؛ یعنې هغوی ته داسې معلومیده چې عبادت یې لږ وګڼلو.

د اقلیت اصطلاحي پېژندنه

د اقلیت اصـطلاح په اصـل کې اسـلامي ریښـه نه لري، دغه اصـطلاح د غربي نړۍ لخوا یوه نوی رامنځته شـوي اصـطلاح ده، ځکه اسـلام د قوم، رنګ، نسـل او ژبې په نوم څه نه پېژني، خو په ډېر لږ تړاو یې په اسـلامي ژبینو مشـتقاتو کې د «قِلّة» په نوم یاده شـوي، دا په دې معنا نه ده، چې د اسـلامي فقهې په سـاحه کې داقلیت مفهوم او هدف شـتون نه لري، بلکې د «أهل الذمة» تر عنوان لاندې د اقلیت مفهوم او احکام بیان کړي دي، په دې توګه د اقلیت د پېژندنې بنسټ په اسـلامي فقه کې یوازې د دین له مخې شـونی دی نه هم د نورو ځانګړنو په بنسټ(الکیالي، ب.ت، ج۱، ص. ۲۴۴).

شـیخ یوسـف القر ضاوي وایي: هغه معناوې چې د «قِلّة» لپاره په عربي په ژبه کې ذکر شـوي، یو یې دا دی چې«**قُلَلٌ من الناس**» یعنې د خلکو هغه ډله چې په یوه ټولنه کې یو خاصـه کړۍ یا (حلقه) جوړوي، اقلیت بلل کېږي؛ دغه تعریف د ټولنپوهنې تعریف ته ډېر نېږدې دی، چې نن ورځ په ټولنه کې د اقلیت لپاره ډېری وخت کارول کېږي(القرضاوي، ۱۴۲۶هـ.ق ص. ۱۵).

پورتنیو نکاتو ته په کتو د اقلیت لپاره د اسـلامي نړۍ معاصرو علماوو کرامو بېلا بېل تعریفونه کړي، چې د هغې د جملې څخه د ځینو یادونه کوو:

د عبدالوهاب الکیالي په اند د اقلیت تعریف

اقلیت: د یو هېواد، سـیمې یا دولت د نفوسـو هغه ډله ده چې له اکثریت څخه د نژاد، ژبې یا دین له مخې توپیر لري، خو دا توپیر لازماً کوم ځانګړی سیاسي یا ټولنیز دریځ نه ښیي(الکیالي، ب.ت، ج۱، ص. ۲۴۴).

د قاموس سیاسي تعریف

اقلیت: په نړیوال عرف کې هغه سلګونه وګړي دي چې د یوه دولت تابعیت لري؛ خو له نژادي، ژبني یا مذهبي اړخه د دغه دولت له اکثریت تابعینو سره توپیر لري(أحمد، ۱۹۸۵م، ص. ۹۶).

د شیخ یوسف القرضاوي په اند د اقلیت تعریف

اقلیت: هره هغه بشـــري ډله چې په یو هېواد کې د اکثریت له خلکو څخه په دین، مذهب، نژاد، ژبه یا په ورته هغو بنسټیزو ځانګړنو سره توپیر ولري، چې د انساني ډلو ترمنځ د بېلوالي سبب ګرځي(القرضاوي، ۱۴۲۶هـــق ص. ۱۵).

خو اسلامي شریعت یو بنسټیز اصل بیان کړی دی، هغه دا چې ټول انسانان د یوه اصل څخه پیدا شوي دي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: ﴿ **يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ**﴾ **[الحجرات: ۱۳]**.

ژباړه: ای خلکو بیشکه موږ پیدا کړی یې تاسې (ټول اصلاً) له یوه سړي چې (آدم) او له یوې ښځې چې (حوا) ده او ګرځولی یې موږ تاسې خانګې او قبیلې قبیلې د پاره د دې چې وپېژنی یو له بل سره بیشکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسې څخه په اند دالله ډېر متقي ادب لرونکی ستاسې دی(کابلی تفسیر، ب.ت ج۲، ص.۱۲۱۴).

دې آیت څرګنده کړه، چې د انسانانو اصل یو دی، دا چې الله تعالی هغوی په قومونو او قبیلو ووېشل، د دې لپاره نه چې یو له بل سره دښمني، شخړه او ټکر وکړي، بلکې د دې لپاره چې یو بل وپېژني، مینه او همغږي رامنځته کړي؛ خو څېړونکي د دې ټولو تعریفونو له منځه د شیخ یوسف القرضاوي تعریف غوره او راجح بولي، ځکه هغه د اقلیت په تعریف کې یوازې پر دیني اړخ تمرکز نه دی کړی، بلکې د مذهب، نژاد او ژبې توپیر یې هم د اقلیت د نومولو له لاملونو څخه ګڼلي دي. له همدې امله د هغه تعریف جامع او پراخ دی؛ که څه هم د اقلیت د مفهوم په ټاکلو او د دې څېړنې په موضوع کې دیني اړخ تر ټولو مهم ګڼل کېږي(الکیالي، ب.ت، ج۱، ص. ۲۴۶).

د خلفای راشدینو په دور کې له غیر مسلمو اقلیتونو سره تعامل

د ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلافت او د اقلیتونو سره تعامل

حضـرت ابوبکر صدیق رضی‌الله عنه د خلافت پر مهال د غیر مسلمو اقلیتونو د حقوقو د تضمین تړونونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته، حضـرت ابوبکر صدیق رضی‌اللهعنه (۱۱–۱۳هـ) د اسلامي خلافت مشـري په داسې حساس پړاو کې پر غاړه واخیسته چې له یوې خوا د ارتداد فتنې موجودې وې او له بلې خوا د عراق او شام فتوحات پیل شول؛ د دغو فتوحاتو په پایله کې اسلامي دولت له بېلا بېلو غیرمسلمو اقلیتونو سره مخ

شو، د همدې اړتیا له مخې، حضرت ابوبکر صدیق رضی‌الله‌عنه د نبوي سنتو پر بنسټ، له دغو اقلیتونو سره منظم، لیکلي او حقوقي ټرونونه وکړل چې د هغوی ديني، مدني او اقتصادي حقوق يې تضمین کړل(محمد، ۱۴۰۵هـ. ق،ص.۱۵۳).

اول: د اهلِ حِيْرَه اوسیدونکو سره د ابوبکر صدیق رضي الله عنه تعامل

د اهل حیره سره ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خپل خلافت په دوره کې د یو ټرون په اساس داسې تعامل وکړ، چې په هغې کې د دوی ځاني، مالي او ورته نور حقوق تضمین شوي ول؛ چې مونږ يې د یو څو مادو ذکر کوو:

اوله ماده: د هغوی ځانونه، کورونه، ځمکې او شتمنۍ خوندي دي.

دویمه ماده: جزیه د مالي توان مطابق ټاکل کېږي، زاړه، معلولین او فقیران ترې معاف دي.

درېیمه ماده: که کوم ذمي فقیر شي، د هغه لګښت به د اسلامي دولت له بیت‌المال څخه ورکول کېږي.

څلورمه ماده: اسلامي دولت د اهلِ حِيْرَه د دفاع مسؤول دی او که دا دفاع ممکنه نه وي، جزیه به بېرته ورکول کېږي.

دا ټرون د اسلامي فقهې د «أهل الذمة» باب یو بنسټیز سند ګڼل کېږي، په ځانګړي ډول د ټولنیز کفالت ماده چې د اسلامي دولت د عدالت لوړ معیار څرګندوي(محمد، ۱۴۰۵هـ. ق، ص.۳۵۴).

د عمر فاروق رضي الله عنه خلافت او د اقلیتونو سره تعامل

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د غیر مسلمو اقلیتونو سره د تعامل بېلګه د اهل مابهر اذان له ټرون څخه څرګندیږي، چې د اسلامي نظام د عدالت او انساني کرامت روښانه بېلګې لري؛ د ټرون څو مهمو مادو څخه یادونه کوو:

اوله ماده: د هغوی شتمنۍ، ژوند او ځمکې باندې د هر کس د مالکیت حق تل پاتې دی او درناوی به يې کېږي.

دویمه ماده: هغوی به هر کال یو ځل جزیه (د حکومت مالیه) ادا کوي، چې د ټاکل شوي امیر له لارې ته ورکول کېږي؛ د جزیې په مقابل کې به د هغوی ملاتړ او حفاظت تضمین شي.

درېیمه ماده: د جزیې اندازه به د هر کس د مالي وسعت سره سم وي.

څلورمه ماده: د جزیې مکلف یوازې بالغ سړي دي(محمد، ۱۴۰۵هـ. ق، ص.۳۵۸).

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه تر وروستۍ شېبې پورې د اقلیتونو د حقونو ساتنې خیال ساته، سره له دې چې د یوه اقلیتي فرقې یو کس ورته په شهادت ورسوه. بیا هم، د خپل آخري وخت په مجلس کې وفرمایل:"**اوصی**

الخليفة من بعدى بذمة الله وذمة رسوله أن يوفي لهم بعهدهم وأن يقاتل من ورائهم وأن لا يكلّفوا فوق طاقتهم (البخاري، ۱۴۲۲، هـ. ق، ج۴، ص. ٦٩).

ژباړه: زه له ځان وروسته راتلونکي خليفه ته د الله او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم د ذمې (امانت) په نوم دا وصيت کوم، چې د اقليتونو سره شوي ټرونونه پوره عملي کړي، د هغوی د ساتنې لپاره وجنګېږي او هغوی له خپلې وسې ځخه زيات مسؤليت او تکليف ورنه کړي.

د عثمان رضي الله عنه خلافت او د اقليتونو سره تعامل

د حضـرت عثمان بن عفان رضي الله عنه خلافت (۲۳–۳۵هـ) د اسلامي دولت د پراختيا، اداري تنظيم او د پخوانيو شرعي معاهداتو د دوام پراو و. په دې دوره کې د غيرمسلمو اقليتونو حقوق د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د دوو مخکنيو خلفاوو (ابوبکر صديق او عمر رضي الله عنهما) د سياسي، حقوقي سنت پر بنسټ خوندي وساتل شول او په رسمي اسنادو کې يې تائيد او تجديد وشو(محمد، ۱۴۰۵هـ. ق، ص.۵۳۲).

حضـرت عثمان رضي الله عنه د خلافت له پيله اعلان وکړ چې:

د اهل‌ذمې او معاهدينو ټول پخواني ټرونونه نافذ دي؛ هېڅ والي او امير حق نه لري چې دا معاهدات لغوه يا تر پښو لاندې کړي؛ جزيه دې د خلکو د توان مطابق واخيستل شي؛ زاړه، کمزوري، فقير او راهبان دې تر فشار لاندې نه راځي.

علي رضي الله عنه خلافت او د اقليتونو سره تعامل

د حضـرت علي المرتضى رضي الله عنه د خلافت دوره ډېره له فتنو او کړکېچونو ډکه وه، خو سره له دې هم د هغه په خلافت کې د غير مسـلمو اقليتونو حقوقو ته هېڅ ډول زيان ونه رسېد. يو ځل د هغه حضـور ته داسې يوه قضيه راوړل شوه چې قاتل مسلمان و او مقتول غير مسلمان وو. حضـرت علي رضي الله عنه حکم وکړ چې قاتل دې د مقتول وارثانو ته وسپارل شي، او دا پرېکړه يې د حضـــرت عمر رضي الله عنه د فتوا پر بنسټ وکړه. خو د مقتول وارثانو غوښتل چې د قصاص پر ځای ديت واخلي او قاتل وبخښي.

کله چې دا خبره حضـــرت علي رضي الله عنه ته ورسېده، نو هغه د مقتول وارثان بيا راوغوښتل او په ټينګار يې ترې وپوښـتل: «ايا پر تاسـو کوم فشـار اچول شـوی دی؟» هغوی عرض وکړ: «نه، پر موږ هېڅ ډول فشـار نه دی شوی.» نو بيا حضـــرت علي رضي الله عنه هغوی ته هغه ديت ورکړ، چې د مسلمان د ديت په اندازه و. او ويې فرمايل: «**مَنْ كَانَ لَهُ ذِمَّتُنَا فَدَمُهُ كَدَمِنَا وَدِيَتُهُ كَدِيَتِنَا**»

ژباړه: «هر هغه غير مسلمان چې زموږ تر ذمې او ملاتړ لاندې وي، د هغه وينه زموږ د وينې په شان ده، او د هغه ديت هم زموږ (د مسلمانانو) د ديت په څېر دی.

د اقلیتونو د حقوقو په اړه چې قرآن او سنت کومې لارښوونې ورکړي دي، او همدارنګه د نبوت په دوره او د خلافتِ راشده په زمانه کې د اقلیتونو د حقوقو د درناوي او ساتنې هغه روښانه بېلګې، دا حقیقت په بشپړه توګه څرګندوي چې په اسلامي دولت کې اقلیتونو ته داسې امنیت او حقوق ورکړل شوي دي چې د بل هېڅ ټولنیز نظام په چوکاټ کې یې تصور هم نه شي کېدای(القادري، ۲۰۰۶م، ص.۵۵).

یاد شوي تعامل غیر مسلمو اقلیتونو د عقیدوي ازادۍ او د دوی د دیني مقدساتو ته د درناوي روښانه بېلګې په خپله غېړه کې رانغاړي.

مقارنة او معاصر تطبیق

د خلفای راشدینو رضي الله عنهم د خلافت په دورو کې د غیر مسلمو اقلیتونو سره د تعامل بېلګې په حنفي فقه او د افغانستان اسلامي امارت عالیقدر امیرالمؤنین حفظه الله په فرامینو کې واضحي بېلګې په بېلا بېلو بڼو پیدا کولی شو، چې دا د اسلامي نظام یوه عادلانه بېلګه په لاس راکوي.

۴۴ ګڼه فرمان او د شخصي جایدادنو او ملیکیتونو ساتنه

د اسلامي امارت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی هم د (۴۴) ګڼې فرمان په اساس هغه څوګ چې د اسلامي امارت تر واک لاندې جایدادونه او شخصي ملکیتونه لري، ټول شخصي مالکیتونه یې خوندې او پرته د شرعي محاکمو له پرېکړو یې له تصرف څخه منع کړي(فرمان، ۱۴۴۰هـ.ق. ګڼه:۴۴).

نوموړی فرمان د ټولو هغو وګړو جایدادونو او شخصي ملکیتونو د ساتنې په مورد دی چې د اسلامي امارت تر واک لاندې ملکیتونه لري.

حنفي فقه او د غیر مسلمو اقلیتونو سره اقتصادي تعامل

په مالي برخه کې اقتصادي عدالت د اسلامي نظام له مهمو اصولو څخه دی، څه ډول چې دغه اقتصادي عدالت د خلفای راشدینو په دورو کې په پام کې نیول شوی وو همدا ډول په حنفي فقه کې ورته تګلاره او قواعد شتون لري.

اسلام

که اهل ذمي اسلام راوړو د اسلام په راوړو سره جزیه ساقطېږي، د احنافو رحمهم الله په اند جزیه پرې واجب نه دی. (بدائع الصنائع، ۱۴۰۶هـ. ق، ج۷، ص. ۱۱۲).

ماشومان

حنفي فقهاء وايي: چې په ماشومانو باندې جزیه وجب نه ده، ځکه جزیه په هغه چا وجب دی چې د جګړې اهل وي ماشوم د جګړې اهل نه دی په همدې اساس جزیه پرې وجب نه ده(الفتاوى الهندية، ۱۳۱۰ هـ. ق. ج۲، ص. ۲۴۴).

لیوانی

په حنفي فقه کې په لیونی (مجنون) جزیه واجب نه دی(فتح القدیر، ب. ت٦/٥٠).

فقیر او عاجز

هغه غیر مسلم چې د جزیې د ادا کولو څخه عجز شي جزیه ترینه ساقطیږي، د عجز او فقر په اساس جزیه پرې واجب نه ده(ابن عابدین،١٤١٢هـ.ق، ج۴، ص. ۲۰۰).

مرګ

د ذمي په مړینې سره جزیه ساقطیږي، د هغه د ترکې څخه نه اخستل کیږي(البدائع، ١٤٠٦هـ.ق ج۷، ص. ۳۲۹). پورته ذکر شوي ټول فقهي اقوال د غیر مسلمو اقلیتونو سره د اقتصادي عدالت ټولنیزو نازکتونو ښکاره بېلګې وړاندې کوي، اسلامي شریعت د یو عدلانه نظام په حیث د ټولنې ټول وګړي د خپل ترحم تر چتر لاندې راټولوي همدا شان په ټولنه کې د هغوی پوښتونو لپاره هم ځواب ویونکي دی چې په دې مورد د ټولنې له وګړو سره پیدا شوي دي.

د څېړنې پایله

د الله تعالی په فضل او توفیق سره، د دې څېړنې له ترسره کولو وروسته لاندې مهمو پایلو ته ورسېدو:

۱. څېړنې څرګنده کړه چې اسلامي شریعت د غیر مسلمو اقلیتونو د حقوقو د ساتنې لپاره روښانه او متوازن اصول لري، او د «اهل الذمة» تر عنوان لاندې یې د ژوند، مال، عزت او انساني کرامت د خوندیتوب بنسټیز حقوق تضمین کړي دي.

۲. د حنفي فقهې د فقهي احکامو له څېړنې څخه څرګنده شوه چې د جزیې په نظام کې د ماشومانو، لیونیو، بېوزلو، معذورانو او مړو په اړه د اسانتیا او عدالت اصول په پام کې نیول شوي، چې دا د اسلامي اقتصادي عدالت څرګند انعکاس دی

۳. د معاصر تطبیق له ارزونې څخه څرګنده شوه چې د شخصي ملکیتونو د ساتنې او د خلکو د حقوقو د خوندیتوب په برخه کې د اسلامي امارت ځینې فرامین د اسلامي شریعت له هغو اصولو سره موازي دي چې د خلفای راشدینو په دوره کې عملي شوي وو.

۴. په ټولیز ډول، څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې د خلفای راشدینو د تعامل تګلاره د عدالت، زغم، متقابل احترام او سوله‌ییز ګډ ژوند پر بنسټ ولاړه وه، او د معاصرې نړۍ لپاره د اقلیتونو د حقوقو د خوندیتوب او د بېلابېلو دینونو او ټولنو ترمنځ د سالم تعامل یوه بریالۍ اسلامي بېلګه وړاندې کوي.

د څېړنې موندنې

۱. څېړنې څرګنده کړه چې د خلفاوو راشده د حکومت بنسټیز اصل د عدال، مساوات ساتنه وه، دا اصول د غیر مسلمو اقلیتونو په اړه هم په عملي ډول پلي شوي وو.

۲. وموندل شوه چې د حنفي فقهې احکام د غیر مسلمو اقلیتونو د حقوقو په ساتنه کې د خلفاوو راشده له عملي سیاستونو سره پراخ توافق لري.

۳. وموندل شوه چې د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی په فرامینو او حکمونو کې د غیر مسلمو اقلیتونو د حقوقو د ساتنې اړوند اصول د اسلامي شریعت په توافق شتون لري.

وړاندیزونه

د اسلامي سیاست څېړونکو ته وړاندیز کېږي چې د خلفاوو راشدینو سیاسي تګلاره مطالعه کړي او د ټولنې لپاره ترښه سیاسي عدلانه قواعد استنباط کړي.

علماوو کرامو او خطیبانو ته واندیز کېږي چې د خلفاوو راشدینو عدلانه سیاست څخه عام خلک اګاه کړي.

پالیسۍ جوړونکو ادارو ته وړاندیز کېږي چې د اهل ذمه د حقوق تضمین په موخه دې د حنفي فقهې په رڼا کې عدلانه او متوازن قوانین جوړ کړي.

Candidate Lecturer Shaheenullah Amirzai

Lecturer at the Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Shaikh Zayed University
Email Address: Shaheenamirzaisa@gmail.com

Abstract

Islamic Sharia has established clear and balanced principles for safeguarding the rights of all members of society, particularly non-Muslim minorities, based on the values of justice, mercy, and human dignity. The era of the Rightly Guided Caliphs represents one of the most significant historical models for the practical implementation of these principles. This study aims to examine the legal foundations, juristic principles, and practical approaches adopted in the treatment of non-Muslim minorities during the period of the Rightly Guided Caliphs. The research employs descriptive, historical, and analytical methods, drawing on data collected from the Holy Qur'an, the Prophetic Sunnah, authoritative works of Islamic jurisprudence, and reliable historical sources. The findings reveal that Islamic jurisprudence regulates the rights of non-Muslim minorities under the legal framework of Ahl al-Dhimmah, guaranteeing the protection of life and property, judicial justice, economic fairness, and social security. Furthermore, the study demonstrates that the Rightly Guided Caliphs translated these principles into practice through faithful adherence to treaties, the prevention of injustice, equitable financial administration, the protection of religious freedom within the framework of Islamic law, and respect for human dignity and equality. The study concludes that the interaction of the Rightly Guided Caliphs with non-Muslim minorities was founded on justice, tolerance, and peaceful coexistence. These principles provide a sustainable Islamic model for the protection of minority rights, the promotion of mutual respect, social cohesion, and peaceful coexistence in contemporary pluralistic societies. The findings also highlight the continued relevance of the Rashidun model in addressing modern challenges related to minority rights and interfaith relations.

Keywords: Rightly Guided Caliphs, Non-Muslim Minorities, Ahl al-Dhimmah, Justice, Tolerance, Peaceful Coexistence, Islamic Jurisprudence.

اخځليکونه

قرآن الکریم
ابن الهام، کمال الدین محمد بن عبدالواحد السیواسي المعروف بابن الهمام (ب.ت) فتح القدیر. الناشر: دار الفکر بترقیم مکتبة الشاملة.

ابن عابدین، محمد أمین بن عمر بن عدالزیز عابدین الدمشقي الحنفي.(۱۴۱۲هـ. ق۱۹۹۲م) رد المحتار علی الدر المختار. الناشر: دار الفکر – بیروت.
ابن منظور، محمد بن مکرم.(۱۴۱۴هـ). لسان العرب الناشر: دار صادر – بیروت.

أحمد, عطیة الله (۱۹۸۵م) القاموس السیاسي. الناشر: دار النهضة العربیة، القاهرة

البخاري، محمد بن اسماعیل. (۱۴۲۲). صحیح البخاري. الناشر: دار طوق النجاة.

د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی (۴۴) ګڼه ۱۴۴۰هـ.ق فرمان.

دیوبندي، محمود حسن دیوبندي. (د.ت) تفسیرکابلی. با فواید موضع الفرقان: شبیر احمد عثماني دیوبندي. له اوردو څخه پښتو ته ترجمه: د افغانستان د جیدو علماء د هیئت تر نظر لاندې،(۱۳۲۳هـ ش). (د.ط) کویته: المکتبة الحبیبیة.
القادري، د. محمد طاهر.(۲۰۰۶م). اسلام میں اقلیتوں کے حقوق. (ب.ط). الناشر: منهاج القرآن ماډل ټاون لاهور.
القرضاوي، یوسف.(۱۴۲۶هـ. ۲۰۰۵م). في فقه الأقلیات المسلمة. (ط.۲). الناشر: دارالشروق القاهره

الکاساني، علاء الدین، أبوبکر بن مسعود بن أحمد الکاساني الحنفي.(۱۴۰۶هـ.ق ۱۹۸۶م). بدائع الصنائع في ترتیب الرائع. الناشر: دار الکتب العلمیة.
الکیالي، عبدالوهاب.(ب.ت). موسوعة السیاسیة العربیة. الناشر: دارالشروق القاهره.

لجنة علماء برئاسة نظام الدین البلخي،(۱۳۱۰هـ ق). الفتاوی الهندیة الناشر: دار الفکر.

امحمد، حمید الله.(۱۴۰۵هـ ۱۹۸۵م). مجموعة الوثائق السیاسیة للعهد النبوي والخلافة الراشدة.

په ځينو روغتيايي احکامو کې د لا ضرر ولا ضرار فقهي قاعدې تطبيقات

نوماند پوهنيار شاهين الله اميرزی د شيخ زايد پوهنتون د شرعياتو پوهنځي د اسلامي ثقافت څانګې استاد
ايمل ادرس: Shaheenamirzaisa@gmail.com

لنډيز

دا څېړنه د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعدې په ځينو روغتيايي احکامو کې د تطبيق په اړه دی. دغه قاعده د اسلامي فقهې له بنسټيزو اصولو څخه ده، چې هدف يې د هر ډول ضرر مخنيوی او د انسان د ژوند، عزت او حقونو ساتنه ده. په اسلامي شريعت کې د ضرر د منع ګڼ نصوص راغلي دي، چې له همدې څخه فقهاوو ګڼ فرعي قواعد استنباط کړي دي، چې د نومورو قواعد څخه يوه هم د لا ضرر ولا ضرار فقهي قاعده ده. د څېړنې اساسې موخه دا ده؛ چې نومورې قاعده په ځينو معاصرو روغتيايي احکامو کې تطبيق شي؛ څېړنه د کتابتوني، توصفي او مقارنه ميتود پر بنسټ تر سره شوې ده، چې په قرآن کريم، احاديثو او د فقهاوو په اقوالو مستنده ده، په څېړنه کې ځينې روغتيايي احکام لکه: د مړي تشريح؛ په ولادت کې که طبيعي زېږون ممکن وي نو قيصري عملياتو ته اړتيا نشته، د سقط جنين او ورته نور احکام روښانه شوی دي؛ د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د نومورې قاعدې په اساس به ځينې روغتيايي احکام روښانه شي او د روغتيايي فقهې اړخ به قوي او په اړوند برخه کې ستونزو او پوښتنو ته به حل پيدا شي.

کليدي کلمې: احکام، تطبيقات، روغتيايي ، فقهې، قاعده.

سریزه

بِسمِ اللَّهِ الرَّحمنِ الرَّحيمِ. الحَمدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ والصَّلواةُ والسَّلامُ عَلَيَّ سَيِّدِ المُرسَلينَ وَ عَلَيَّ آلهِ وَ اصحابِهِ اجمَعينَ!

اسلام د یو کامل او هر اړخیز دین په توګه د انسان د ژوند ټولې برخې تنظیم کړې دي، په ځانګړي ډول یې د انسان د ژوند، صحت او عزت ساتنې ته ځانګړی اهمیت ورکړی دی؛ په همدې اساس اسلامي شریعت د ضرر رسولو هر ډول عمل منع کړی او د خلکو ترمنځ یې د عدل، رحمت او همغږی اصول ټینګ کړي دي. الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ [البقرة: ۱۹۰].

ژباړه: او مه کوئ زیادت(پر هیچا باندی ای مؤمنانو!) بیشکه چه الله نه خوښوی تیریدونکی له حده. (کابلی تفسیر، ب.ت ج ۱، ص.۱۴۶).

له همدې مهمو اصولو څخه په اسلامي فقه کې د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعده ده چې د اسلامي فقهې له لویو او بنسټیزو قواعدو څخه شمېرل کېږي.

دا قاعده په خپله لنډه بڼه کې د شریعت یو پراخ مفهوم رانغاړي، چې هدف یې د هر ډول ضرر مخنیوی، د ضرر لرې کول او د انسان د ژوند او حقونو ساتنه ده؛ د همدې قاعدې پر بنسټ فقهاوو ګڼ شمېر فرعي فقهي اصول استنباط کړي او د ژوند په بېلابېلو برخو کې یې تطبیق کړي دي، په ځانګړي ډول په روغتیایي مسایلو کې.

په معاصر وخت کې روغتیایي پرمختګونو نوي فقهي مسائل رامنځته کړي دي، لکه د مړي تشریح، قیصري عملیات، سقط او د وینې انتقال. دا ټول مسائل د فقهي اصولو په رڼا کې ځانګړې څېړنې او شرعي حکم ته اړتیا لري؛ له همدې امله د دې څېړنې هدف دا دی چې وښیي څنګه «لا ضرر ولا ضرار» قاعده په معاصرو روغتیایي احکامو کې عملي تطبیق لري او څنګه د شریعت د رحمت او حکمت څرګندونه کوي.

په پای کې دا څېړنه هڅه کوي چې د اسلامي فقهې د اصولو په رڼا کې د انسان د ژوند د ساتنې او د ضرر د مخنیوي عملي لارې روښانه کړي.

د څېړنې موخې

اصلي موخه

د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعده په معاصرو روغتیایي احکامو کې تطبیقېږي کول.

فرعي موخې

۱. د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعدې د مفهوم، شرعي دلایلو او فقهي مقام څرګندول .

۲. په معاصرو روغتيايي مسايلو لکه د مړي تشريح (سپرل) قيصري (جراحي) عمليات، سقط او د حمل د مخنيوي وسايلو کې د دې قاعدې د تطبيق بيانول .

۳. د اسلامي شريعت له نظره د روغتيايي ضررونو د دفع او د انسان د ژوند د ساتنې د اصولو روښانه کول .

د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې اهميت په لاندې ډول واضح کېږي:

دا څېړنه د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعدې اهميت او د هغې شرعي بنسټونه د قرآن کريم، نبوي سنتو او د فقهاوو د اقوالو په رڼا کې روښانوي، او څرګندوي چې اسلامي شريعت د انسان د ژوند، صحت او عزت ساتنې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده .

دا موضوع د معاصرو روغتيايي مسائلو؛ لکه د مړي تشريح، قيصري عمليات، سقط او د وينې انتقال شرعي احکام بيانوي، او د دغو مسائلو لپاره د اسلامي فقهې مناسب حلونه وړاندې کوي .

دغه څېړنه د اسلامي فقهې او معاصر طب ترمنځ اړيکه پياوړې کوي او څرګندوي چې اسلامي شريعت د هر وخت د نوو روغتيايي ستونزو د حل وړتيا او پراخوالی لري .

دا څېړنه د ضرر د مخنيوي، د انسان د ژوند د ساتنې او د مصلحت د تحقق په برخه کې د فقهي قواعدو عملي تطبيقات بيانوي، چې د اسلامي شريعت د رحمت، عدالت او اعتدال ښکاره نمونه ده .

د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه

د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعده په معاصرو روغتيايي احکامو کې څنګه تطبيق کولی شو؟

فرعي پوښتنې

۱. د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعدې مفهوم، اهميت او شرعي بنسټ څه دی؟

۲. په معاصرو روغتيايي مسايلو کې د دې قاعدې مهم تطبيقات کوم دي؟

۳. اسلامي شريعت د روغتيايي ضررونو د مخنيوي او د انسان د ژوند د ساتنې لپاره کوم اصول وړاندې کړي دي؟

د څېړنې کړنلاره

د څېړنې کړنلاره (کتابتوني، وصفي او مقارنة) ده چې په لاندې ډول دی: له قرآن کريم او مبارکو نبوي سنتو څخه معلومات راټول کړي؛ د احنافو له معتبرو سرچينو څخه معلومات راټول کړي؛ د اهل السنة علماوو له مشترکو

سرچینو څخه معلومات راټول کړي؛ د معاصرو څېړونکو د علماوو له کتابونو او سرچینو څخه مې معلومات راټول کړي.

پخوانیو لیکنو ته کتنه

پخوانیو علماوو کرامو او څېړونکو د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعدې د تطبیق په مورد لیکنې کړي خو ما د خپل ولس د پاره په روانه او په خلص ډول په پښتو ملي ژبه کې لیکنه وکړه تر څو فهم په اسانه او بسیط ډول ترې واخستل وشي.

د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې پېژندنه

د قاعدې د مفرداتو تشریح

د ضرر لغوي معنا: ضرر د نفع ضد دی، یعنې بل چا ته د اذیت، تکلیف او ناخوښۍ رسول.(الفیروزآبادي،۱۴۲۶هـ ق، ج۲ص.۱۰۷).

د (ضرر) او «ضرار» د مفهوم په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف شته؛ ځینو ویلي چې دواړه یوه معنا لري او په حدیث کې یې تکرار د تأکید لپاره راغلی دی.

خو مشهوره او راجحه خبره دا ده چې د دواړو ترمنځ فرق شته؛ په اړه ببلابل نظرونه وړاندې شوي، چې له هغو څخه ځینې په لاندې ډول ذکر کوو:

ضرر دېته وایي: چې انسان هغه چا ته زیان ورسوي چې هغه ورته زیان نه وي رسولی او ضرار دا دی چې یو څوک د بل د ضرر په بدل کې داسې زیان ورسوي چې شرعاً جواز ونه لري او یا دچې: ضرر هغه دی چې انسان بل ته داسې زیان ورسوي چې خپله ترې ګټه اخلي، خو ضرار هغه دی چې بل ته زیان ورسوي بې له دې چې خپله ترې کومه ګټه ترلاسه کړي. (ابن الأثیر،۱۳۹۹هـ.ق ج۳، ص. ۸۱۸۱).

شیخ أحمد الزرقاء وایي: تر ټولو غوره تفسیر دا دی چې: د «ضرر» معنا په مطلق ډول بل چا ته د مفسدې او زیان رسول دي، او د «ضرار» معنا دا ده چې بل ته د مقابلې او مقابله بالمثل په ډول زیان رسول، خو پرته له دې چې د مشروع انتقام یا د حق د دفاع قید پکې موجود وي.دا تفسیر د «ضرار» له لفظ سره ډېر مناسب دی؛ ځکه «فعال» د «فاعل» قیاسي مصدر دی او د مشارکت او متقابل عمل معنا افاده کوي. (الزرقا، ۱۲۸۵هـ.ق، ص. ۱۶۵).

د قاعدې عمومي معنا دا ده چې زموږ په اسلامي شريعت کې هېڅا ته د ضرر او زيان رسول روا نه دي؛ يعنې هېڅوک شرعاً حق نه لري چې بل انسان ته زيان، اذيت يا ضرر ورسوي، که په مستقيم ډول وي او که د مقابلې او انتقام په بڼه، په حديث کې دا تعبير د «نفي جنس» په اسلوب سره راغلی، څو په نهی، منع او زجر کې لا زيات قوت او مبالغه څرګنده کړي. (الزرقا، ۱۲۸۵هـ.ق، ص. ١٦٥).

المناوي وايي: په دې حديث؛ يعنې د «لا ضرر ولا ضرار» په حديث کې، د هر ډول ضرر حرمت ثابتېږي، مګر هغه ضرر چې د شرعي دليل له مخې جواز ولري؛ ځکه نکره کلمه چې د نفي په سياق کې راشي، عموم افاده کوي. همدارنګه په حديث کې حذف هم شته، او اصلي عبارت يې داسې اټکل کېږي: **لا لحوقَ ضررٍ ولا إلحاقَ ضررٍ»، يا «لا فعلَ ضررٍ ولا ضرارٍ بأحدٍ في ديننا.** (المناوي، ١٣٥٦هـ.ق، ج٦، ص. ۴۳۱).

ژباړه: زموږ په دين کې هېڅا ته د ضرر او زيان رسول روا نه دي، مګر هغه حالت چې ځانګړی شرعي موجب موجود وي.

د دې قاعدې متن په مطلق ډول د ضرر نفی کوي؛ نو ځکه د هر ډول ضرر مخنيوی لازم ګرځي، که هغه عام ضرر وي او که خاص.همدارنګه دا قاعده د ضرر د واقع کېدو تر مخه د هغه د مخنيوي غوښتنه هم کوي، د هغو ممکنه وقايوي لارو په وسيله چې د ضرر د پېښېدو مخه نيسي.دغه قاعده دا هم رانغاړي چې که ضرر واقع شي، نو بايد د مناسبو تدابيرو او لارو چارو له لارې يې آثار له منځه يووړل شي او د بيا تکرار مخه يې ونيول شي (الغزي، ١۴١٦هـ.ق، ص.۲۵۴).

له «منفي ضرر» څخه مراد هغه ضرر دی چې په ناحقه او بې له شرعي جوازه وي؛ خو هغه ضرر چې پر داسې چا واردېږي چې مستحق يې وي، دا د قاعدې له دائرې بهر دی؛ لکه: هغه څوک چې د الله تعالی له حدودو تېر شوی وي او د خپلې جرم مطابق سزا ورکول کېږي، يا هغه ظالم چې پر ځان يا نورو يې ظلم کړی وي، نو مظلوم د عدالت له مخې د خپل حق غوښتنه کولی شي، دا ډول ضرر روا دی او د قاعدې له منفي ضرر څخه نه شمېرل کېږي؛ له همدې امله دا قاعده په هغو ضررونو پورې محدوده ده چې شارع اجازه نه وي ورکړې؛ اما هغه ضررونه چې شريعت مشروع کړي دي؛ لکه قصاص، حدود، تعزيرات او نورې شرعي سزاګانې، نو که څه هم په ظاهره کې پکې ضرر موجود وي، خو په حقيقت کې د لوی ضرر د دفع کولو لپاره مشروع شوي دي؛ ځکه په اسلامي فقه کې دا اصل مقرر دی چې: د مفاسدو دفع کول، د مصالحو تر جلبولو مقدم دي (الزرقا، ١٢٨٥هـ.ق، ص. ١٦٥).

د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې اهمیت

د «لا ضرر ولا ضرار» قاعده د فقهي قواعدو له سترو او بنسټیزو قواعدو څخه شمېرل کېږي او د اسلامي شریعت په بېلابېلو برخو کې پراخ تطبیقات لري، علماوو د دې قاعدې د مقام او اهمیت په اړه لاندې څرګندونې لري.

جلال الدین السیوطي رحمه الله وایي: په دې قاعده کې دومره فقهي معاني او احکام شته چې شمېرل کېدای نه شي او ښایي د فقهې نیمایي برخه پکې شامله وي؛ ځکه ټول شرعي احکام یا د مصالحو د جلب لپاره وي او یا د مفاسدو او ضررونو د دفع لپار نو په دې قاعده کې د هغو پنځو ضروري مقاصدو ساتنه شامله ده چې عبارت دي له:

د دین ساتنه.

د نفس (ژوند) ساتنه.

د نسب ساتنه.

د مال ساتنه.

د عزت او آبرو ساتنه.

دغه قاعده په اصل کې د شریعت د مقاصدو د تحقق لپاره ده، چې مفاسد دفع یا کم کړل شي (ابن النجار، ۱۴۱۸ هـ. ق، ج۴، ص.۴۴۳).

دا قاعده د فقهي قواعدو له تر ټولو مهمو او پراخو قواعدو څخه شمېرل کېږي او په اسلامي فقه کې ډېر زیات تطبیقات لري؛ دا قاعده د ضرري عمل د منع کولو بنسټیز اصل دی او د قاضي لپاره یو مهم معیار (میزان) ګڼل کېږي، څو د قضیو په پرېکړه کې عدالت او انصاف مراعت کړي.همدارنګه دا قاعده د «استصلاح» له اصل سره هم تړاو لري؛ یعنې د مصالحو د جلب او د مفاسدو د دفع کولو بنسټیزه تکیه ده.دا قاعده د فقهاؤ لپاره د تکیې او استناد مهمه وسیله ده، چې د شریعت احکام پرې د نوو پېښو په اړه ټاکي او ارزوي. له همدې امله دا قاعده د ضرري فعل د مخنیوي اساسي بنیاد دی، او همدارنګه د هغه ضرر د پایلو په اړه هم کارول کېږي؛ لکه مالي تاوان او جزایي سزا؛ دا قاعده د دې اصل ملاتړ هم کوي چې: مصلحتونه باید جلب شي او مفاسد باید دفع کړل شي؛ نو دا قاعده د فقهې په بېلابېلو څانګو کې د ډېرو احکامو د ټاکلو او تفسیر لپاره بنسټیزه ستون ګڼل کېږي (أحمد، (ب.ت، ص.۱۴).

د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې اصل او بنسټ

د دې قاعدې شرعي بنسټ په قرآن کريم او سنتو کې څرګند دی؛ لاندې دلايل د دې قاعدې د اصل د اثبات لپاره وړاندې کوو:

اول: د قرآن کريم دلايل

قرآن کريم په بېلابېلو ځايونو کې د ضرر او زيان منع څرګنده کړې ده، چې له هغو څخه مهم آيتونه دا دي:

الف: الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا﴾[البقرة: ۲۳۱].

ژباړه: او مه ساتئ تاسو! دا ښځې (په رجعت سره) له پاره د ضرر رسولو له جهته د دی چه (پر دوی باندی) تیری وکړئ. (کابلی تفسير، ب.ت. ج۲، ص. ۱۸۷).

ب:الله تعالى فرمايي: ﴿لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ﴾[البقرة: ۲۳۳].

ژباړه: نه دی ضرر رساوه کیږی مور ته په سبب د ولد د دی سره او نه (دی ضرر رساوه شی) پلار د دی ولد ته په سبب د ولد د ده سره.(کابلی تفسير، ب. ت. ج۱، ص. ۱۹۰).

دوهم: د سنتو څخه دليل

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ , أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , قَالَ: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَار (الدارقطني، ۱۴۲۴هـ.ق، ج۴، ص.۵۱).

ژباړه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه رويت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د ضرر رسول او د ضرر په مقابل کې ضرر رسول روا نه دي.

هغه فقهي قواعد چې له «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې څخه څرنګندیږي.

د «لا ضرر ولا ضرار» قاعده د اسلامي فقهي قواعدو له بنسټيزو اصولو څخه ده، او له دې قاعدې څخه ګڼ شمېر فرعي قواعد رامنځته شوي دي چې د فقهې په بېلابېلو برخو کې عملي کېږي. له هغو څخه مهمې دا دي:

لومړی قاعده: **الضرر يزال.**

ضرر بايد له منځه يووړل شي.

دويمه قاعده: **الضرر يُدفع بقدر الإمكان**

ضرر بايد تر ممکنه حده پورې دفع شي.

دريمه قاعده: **الضرر لا يُزال بمثله.**

ضرر د بل ضرر په وسيله نه لرې کېږي.

څلورمه قاعده: **الضرر الأشد يزال بالضرر الأخف**

سخت ضرر د لږ ضرر په وسیله لرې کړي.

پنځمه قاعده: **يتحمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام**

د عام ضرر د مخنيوي لپاره شخصي (خاص) ضرر زغمل کېږي.

شپږمه قاعده: **درء المفاسد أولى من جلب المصالح**

د مفاسدو دفع کول د مصالحو له ترلاسه کولو څخه غوره دي (الغزی، ب.ت، ص. ۲۵۶).

د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې لاندې راټول شوې ځینې روغتیایي احکام

د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعده یوازې نظري اصل نه دی، بلکې په عملي ژوند کې په ځانګړې ډول د طب او روغتیا په برخه کې پراخ تطبیقات لري. د معاصرې روغتیایي فقهې ډېرې احکام د همدې قاعدې پر بنسټ ولاړ دي، ځکه د طب اساسي موخه د ضرر لرې کول او د انسان د ژوند ساتنه ده.

د اړتیا پرته د مړي تشریح (تشريح الجثة) حکم

په قرآن کریم او په نبوي سنتو کې د مړي د تشریح په اړه کوم صریح او مستقیم حکم نه دی راغلی، خو هغه نصوص شته چې د انسان د عزت او حرمت د ساتنې پر اصل دلالت کوي او دا اصل هم د ژوند او هم د مرګ په حالت کې منل شوی.

الله تعالی فرمایي: ﴿**وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا**﴾ [الإسراء: ۷۰].

ژباړه: او خامخا په تحقیق ډیر عزت ورکړی مونږ اولاده د آدم ته او سواره کړی مو دی دوی پر مرکوباتو باندی په بر (وچه) کې او په بحر (سیند) کې او رزق روزی مو ورکړی ده دوی ته له طیباتو پاکیزه ؤ شیانو او غوره کړی مو دی دوی پر ډیرو له هغه چا چه پیدا کړی مو دی په غوره کولو (ډیرو) سره. (کابلی تفسیر، ب. ت ج۱، ص. ۱۶۴۶).

همدارنګه په نبوي حدیث کې راغلي دي، لکه د عائشة رضي الله عنهاروایت: رسول الله صلى لله عليه وسلم وفرمایل: **عن عائشة، أن رسولَ الله –صلَّى الله عليه وسلم– قال: "كَسْرُ عَظمِ الميّتِ ككَسرِهِ حيّاً** (سنن أبي داود، ب.ت،ج۳، ص.۲۱۲).

ژباړه: د مړي د هډوکي ماتول داسې ګناه ده لکه د ژوندي انسان د هډوکي ماتول.

د تشريح د حرمت علتونه

د مړي تشريح په اصل کې څو شرعي ستونزې لري:

دا د مړي سپکاوی او بې‌عزتي ده، ځکه د هغه جسد ټوټه ټوټه کېږي، د بدن پرې کول، نس پرانستل او د هډوکو ماتول پکې شامل دي، چې دا ټول د انسان د حرمت خلاف کارونه دي په ځينو مواردو کې د هډوکو ماتول هم پکې راځي، چې په حديث کې يې سخت منع راغلې ده (الشنقيطي، ۱۴۱۵هـ.ق ص. ۱۷۴-۱۷۶).

فقهي اصل

له همدې امله فقهاوو ويلي چې: اصل دا دی چې د معصوم انسان په جسد کې تصرف جواز نه لري، پرته له هغو شرعي استثناوو چې شريعت يې اجازه ورکړې وي (الهندية، ۱۳۱۰هـ. ق، ج۴، ص.۱۱۴).

د مسألې او د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې اړيکه

د مړي د تشريح حکم له «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعدې سره مستقيم تړاو لري. کله چې تشريح د اړتيا له مخې وي، نو د همدې قاعدې پر اساس جواز لري، ځکه په دې حالت کې لوی ضرر د لږ ضرر په وسيله دفع کېږي او يا د عام ضرر د مخنيوي لپاره شخصي ضرر منل کېږي، لکه د ساري ناروغيو پېژندنه او د ټولنې ساتنه؛ خو که اړتيا نه وي، نو تشريح منع ده، ځکه په دې کې د مړي سپکاوی او ضرر شامل دی او شرعي ضرورت يې نه شته، لکه: د زده کړو په موخه يا دېته ورته نور.

د قيصري عمليات ترسره کول په داسې حال کې چې طبيعي ولادت ممکن وي

قيصري ولادت يو جراحي روغتيايي عمليات دی، د داسې عملياتو د ترسره کولو لپاره دا شرط دی چې بل داسې بديل موجود نه وي چې کم ضرر ولري او د مور درملنه او د ماشوم زيږون په طبيعي ډول ترې ممکن نه وي.که لږ ضرر لرونکی او اسانه بديل موجود وي، نو هماغه غوره کېږي او د قيصري عملياتو ته اړتيا نه ليدل کېږي؛ ځکه د شريعت اصل دا دی چې درملنه بايد په اسانه طريقه وشي، او تر هغه وخته بايد سختې لارې ته مراجعه و نه شي څو اسانه حل ممکن وي (الشنقيطي، ۱۴۱۵هـ.ق ص. ۲۰).

که د ښځې د ولادت په حالت کې ضرورت او اړتيا موجوده نه وي او طبيعي ولادت ممکن وي، نو ډاکټر ته جواز نه لري چې د کوم علت له مخې قيصري عمليات ترسره کړي، لکه د ولادت په خونه کې ازدحام يا يوازې د ښځې او مېړه غوښتنه؛ ځکه په قيصري عملياتو کې زيات ضرر وي نسبت طبيعي ولادت ته(الشنقيطي، ۱۴۱۵هـ.ق ص. ۱۵۸).

د مسألې او د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې اړیکه

د قیصري او طبیعي ولادت ترمنځ مسأله له «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې سره داسې تړاو لري چې کله دوه ضررونه موجود وي، نو هغه ضرر لرې کېږي چې زیات او سخت وي، او کم ضرر زغمل کېږي. په طبیعي ولادت کې که ضرر د معمول اندازې څخه زیات نه وي، نو دا زغمل کېږي او یوازې د همدې لپاره قیصري عملیاتو ته تلل جواز نه لري، څکه په قیصري کې نسبتاً زیات ضرر موجود وي.خو که اړتیا یا ضرورت موجود وي، نو بیا قیصري عملیات روا کېږي، څکه په دې حالت کې د لوی ضرر مخنیوی کېږي او کم ضرر غوره کېږي.

د سقط (إجهاض) حکم

د سقط تعریف

د لغت له مخې "الإجهاض" (سقط) په دوو صورتونو اطلاقېږي:

الف .د داسې حمل غورځول چې لایې خلقت (بدني جوړښت) بشپړ شوی نه وي.

ب: د داسې حمل غورځول چې د حمل موده یې لا بشپړه شوې نه وي.

دا اطلاق هغه وخت هم سم دی چې حمل خپله ښځه وغورځوي او یا یې بل څوک د غورځېدو سبب شي.

همدارنګه، د لغوي معنا له مخې توپیر نه کوي چې حمل د کوم فاعل په اقدام سره وغورځول شي او که په طبیعي (بې اختیاره) ډول پخپله سقط شي(ابن منظور، ۱۴۱۴هـ.ق، ج۷، ص.۱۳۳).

په فقهي اصطلاح کې له سقط (إجهاض) څخه هدف دا دی چې ښځه خپل جنین له وخته مخکې وغورځوي، که مړ وي او که ژوندی، خو ژوندی پاتې نه شي او د بدن ځینې نښې یې څرګندې شوې وي؛ که روح پکې پوکل شوې وي او که نه وي او دا کار که د ښځې له لوري وي یا د بل چا له لوري (خالد سیف الله، ۱۴۳۱هـ.ق،ص.۱۹۰).

د سقط حکم

فقهاوو د سقط جنین په دوو مرحلو ویشلی دی؛ د روح له پوکل کېدو وروسته مرحله د روح له پوکل کېدو مخکې مرحله.

په لومړۍ مرحله کې چې د روح پوکل کېدو وروسته مرحله ده، علماء تقریباً اتفاق کړی چې سقط جواز نه لري، حتی که د حمل پاتې کېدل مور ته ضرر هم ولري او که د مور د مرګ سبب هم شي؛ څکه له دې مرحلې وروسته جنین بشپړ انساني حرمت پیدا کوي (الموسوعة الفقهية الكويتية، ۱۴۰۴- ۱۴۲۷ هـ. ق، ج۲، ص.۵۷).

د روح له پوکل کېدو وروسته د سقط حکم په اړه علماء د نظر اختلاف شتون لري.

لومړی نظر: د روح له پو کېدو (نفخ الروح) مخکې د حمل د سقط د حکم په اړه د فقهاوو ېېلابېل لیدلوري او ګڼ نظرونه شته، آن تر دې چې په یوه مذهب کې هم مختلف اقوال موندل کېږي. له دغو نظرونو څخه یو دا دی چې د حمل سقط په مطلق ډول جایز دی، او دا هغه نظر دی چې ځینو حنفي فقهاوو نقل کړی دی. دوی وایي: چې د حمل له تثبیت وروسته، تر هغه وخته چې د جنین د خلقت کومه نښه نه وي څرګنده شوې، د هغه سقط کول روا دي. له «تخلق» څخه مراد په جنین کې د روح پو کېدل (نفخ الروح) دي (الردالمحتار، ۱۴۱۲هـ.ق، ج۳، ص.۱۷٦).

خو د روح له پو کېدو مخکې د حمل سقط یوازې د شرعي عذر په صورت کې جایز دی او همدا زمور د حنفي مذهب حقیقي او معتمد نظر دی(الموسوعة الفقهية الكويتية، ۱۴۰۴- ۱۴۲۷ هـ. ق، ج۲، ص. ۵۸).

دوهم نظر: د مالکي مذهب معتمد او راجح نظر دا دی چې د حمل سقط مخکې د روح پوکل کېدو هم حرام دي(الموسوعة الفقهية الكويتية، ۱۴۰۴- ۱۴۲۷ هـ. ق، ج۲، ص. ۵۸).

درېیم نظر: د شوافعو او حنابله په اند پرته له شرعي عذر هم سقط جنین باندې قایل دي. (الموسوعة الفقهية الكويتية، ۱۴۰۴- ۱۴۲۷ هـ. ق، ج۲، ص. ۵۸).

ابن الهمام وایي : ایا له حمل وروسته سقط روا دی؟ هغه وخت جواز لري چې د جنین د خلقت کومه نښه لا نه وي ښکاره شوې.بیا یې ویلي:دا حالت تر یو سل او شلو ورځو پورې وي او له دې څخه ښکاري چې د «تخلق» مراد د روح پوکل کېدل دي (ابن الهام، ب.ت، ج۳، ص. ۲۷۴).

د مسألې او د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې اړیکه

د سقط (إجهاض) مسأله له «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې سره ښکاره اړیکه لري. اصل دا دی چې سقط جواز نه لري؛ ځکه دا د بې‌ګناه نفس له منځه وړل دي؛ خو که د حمل دوام د مور لپاره یقیني ضرر ولري، نو په ځینو حالاتو کې د ضرر د دفع لپاره د جنین سقط جواز پیدا کوي؛ دا ځکه چې د مور ضرر تر هغه جنین لوی ګڼل کېږي چې لا یې خلقت بشپړ شوی نه وي او دا حکم د دې فرعي قاعدې لاندې راځي: «ستر ضرر د کوچني ضرر په وسیله دفع کېږي.

د حمل د مخنیوي د ګولیو استعمال حکم

په قرآن کریم او نبوي سنتو کې ډېر داسې دلایل راغلي چې د نکاح مشروعیت او د نسل زیاتوالي ته هڅونه کوي.

الله تعالی فرمایي: ﴿فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ﴾[النساء: ۳].

ژباړه: نو په نکاح سره واخلئ تاسی (نوری) هغی ښځی چه خوښی (حلالی) وی تاسو ته له ښځو دوه دوه او دری دری او څلور څلور،(کابلی تفسیر، ب.ت. ج۱، ص. ۴۲۶).

همدارنگه له أنس بن مالك څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نکاح امر کاوه او له تجرد او نکاح پرېښودلو یې سخت منع کوله او فرمایل یې:عن أنس بن مالک قال یقول **تزوجوا الودود الولود فإني مكاثر بكم الأمم يوم القيامة** (البيهقي، ۱۴۰۰هـ.ق. ج۳، ص.۱۰).

ژباړه: له مینه ناکو او ډېر اولاد زېږوونکو ښځو سره نکاح وکړئ، ځکه زه به د قیامت په ورځ ستاسې په ډېروالي ویاړ کوم.

له همدې امله، د حمل د دایمي مخنیوي نظریه د دې شرعي نصوصو خلاف ده؛ ځکه اسلام د نکاح او د نسل د زیاتوالي هڅونه کوي. همدارنگه دا کار د انسان له فطرت سره هم ټکر لري، ځکه الله تعالی انسانان د اولاد له مینې سره پیدا کړي دي.

د مسألې او د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې اړیکه

د حمل د مخنیوي د وسایلو او ګولیو مسأله له «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې سره څرګنده اړیکه لري. اصل دا دی چې د حمل مخنیوی مناسب نه ګڼل کېږي؛ ځکه دا د اسلامي شریعت له هغو مقاصدو سره ټکر لري چې د نکاح او نسل د زیاتوالي هڅونه کوي، خو که د حمل له امله ښځې ته د ضرر وېره وي، نو د ضرورت او اړتیا په حالت کې ځینو فقهاوو د حمل د مخنیوي جواز ورکړی دی، او د همدې له جملې څخه د حمل د مخنیوي ګولی هم دي.دا جواز د ضرر د دفع کولو لپاره دی، او د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې له اصل سره سمون لري.

د وینې د اخیستلو حکم

د وینې خرڅول په اسلامي شریعت کې حرام دي، ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿**إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ**﴾[البقرة: ۱۷۳].

ژباړه: بیکه هم دا خبره ده چه حرام کړی دی (الله) په تاسی باندی (خوراک) د مرداری او (حرام کړی دی الله خوراک د) وینی (بهیدونکی). (کابلی تفسیر، ۱۱۸/۱).

همدارنگه له ابن أبو جحیفة څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ثمن الدم** (البخاري، ۱۴۲۲هـ.ق، ج۳، ص. ۸۴).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د وینې له بیې اخیستلو منع کړې ده

نو د همدې نصوصو له مخې د علماوو اجماع ده چې د وينې پلورل او د هغې قيمت اخيستل جواز نه لري.خو که داسې اضطراري حالت وي چې د انسان د ژوند ژغورل د وينې په ترلاسه کولو پورې تړلی، نو د ضرورت په اندازه د پيسو په بدل کې وينه اخيستل جواز لري. (الهندية، ۱۳۱۰هـ. ق، ج۴، ص۱۱۲).

د مسألې او د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې اړيکه

د وينې د اخيستلو مسأله له «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې سره روښانه تړاو لري، اصل دا دی چې د وينې پلورل جواز نه لري، ځکه په شريعت کې د وينې خرڅول منع شوي دي، خو کله ناکله داسې اضطراري حالت رامنځته کېږي چې ناروغ ته وينه ورنه کړل شي ژوند له لاسه وکوي، نو په داسې حالت کې د وينې اخستل روا دي، خو گناه د پلورونکي پر غاړه ده؛ دا حکم د دې لوی فقهي اصل پر بنسټ دی: «لا ضرر ولا ضرار» همدارنگه د دې قاعدې پر بنسټ: "ضرورات محظورات" اخستل روا کوي.

پايله

اسلام د رحمت، حکمت او اعتدال دين دی، چې د انسان د ژوند، دين، عقل، نسل او مال ساتنه يې د خپلو سترو مقاصدو له ډلې گرځولې ده. د همدې مقاصدو د تحقق لپاره يې داسې فقهي اصول او قواعد وضع کړي چې د هر وخت او هر ځای د نوو پېښو او ستونزو د حل وړتيا لري. له دغو بنسټيزو قواعدو څخه يوه هم د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعده ده، چې د اسلامي فقهې له مهمو کلياتو څخه شمېرل کېږي او د هر هغه ضرر د مخنيوي غوښتنه کوي چې د فرد يا ټولنې د زيان سبب گرځي.

د طب او روغتيا په برخه کې د معاصرې زمانې پرمختگونو گڼې نوې فقهي پوښتنې راولاړې کړې دي، چې د شريعت د مقاصدو، د انسان د کرامت او د عامه مصلحت په رڼا کې دقيقې څېړنې ته اړتيا لري. د مړي تشريح، قيصري عمليات، د غړو تبرع، سقط جنين، د حمل د مخنيوي وسايل او د وينې انتقال هغه مهم روغتيايي مسائل دي چې د اړتيا، مصلحت او ضرر ترمنځ د توازن غوښتنه کوي. له همدې امله فقهاوو د دغو مسائلو د شرعي حکم په بيان کې د «لا ضرر ولا ضرار» قاعدې او د هغې له فرعي قواعدو؛ لکه «**الضرر يزال**»، «**الضرر الأشد يزال بالضرر الأخف**» او «**يتحمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام**» څخه پراخه استفاده کړې ده.

په دې څېړنه کې هڅه شوې ده چې د يادې فقهي قاعدې په رڼا کې د يادو روغتيايي مسائلو شرعي احکام، د فقهاوو نظرونه، د جواز او منع دلايل، او د شريعت د مقاصدو سره يې اړيکه په علمي او تحليلي ډول وڅېړل شي، څو څرگنده شي چې اسلامي شريعت د انسان د ژوند، روغتيا او کرامت د ساتنې ترڅنگ د اړتيا او مصلحت په وخت کې د ستونزو لپاره متوازن او عادلانه حللارې وړاندې کوي.

وړاندیزونه

۱ ـ د اسلامي علماوو او فقهي مراکزو لپاره.

اړینه ده چې د معاصرو روغتیایي مسایلو په اړه د «لا ضرر ولا ضرار» فقهي قاعدې پر بنسټ نوې او معیاري فقهي څېړنې ترسره کړي، ترڅو د طب او شریعت ترمنځ رامنځته شوې نوې روغتیایي موضوعات په واضح او معتدل ډول حل شي.

۲ ـ د روغتیا وزارت او روغتیایي ادارو لپاره.

غوره ده چې د روغتیایي خدماتو په برخه کې د اسلامي فقهي اصولو مراعات ته ځانګړې پاملرنه وشي، په ځانګړي ډول د قیصري عملیاتو، سقط او د مړي د تشریح په موضوعاتو کې، څو د ناروغانو د حقونو او انساني کرامت ساتنه وشي.

۳ ـ د پوهنتونونو او شرعیاتو پوهنځیو لپاره.

وړاندیز کېږي چې د اسلامي روغتیایي فقهې او معاصرو روغتیایي احکامو اړوند مضامین د شرعیاتو او طب پوهنځیو په درسي نصاب کې لا پیاوړي شي، ترڅو محصلین د معاصرو فقهي او روغتیایي ستونزو د حل وړتیا ترلاسه کړي.

۴ ـ د ډاکټرانو او روغتیایي کارکوونکو لپاره.

ضروري ده چې ډاکټران او روغتیایي کارکوونکي د روغتیایي تصمیمونو پر مهال د «ضرر د دفع» اصل په پام کې ونیسي، او هغه روغتیایي لارې غوره کړي چې د ناروغ لپاره کم ضرر او ډېره ګټه ولري.

Applications of the Jurisprudential Maxim "No Harm and No Reciprocating Harm" in Some Medical Rulings

Candidate Lecturer Shaheenullah Amirzai, Lecturer at the Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Shaikh Zayed University
Email Address: Shaheenamirzaisa@gmail.com

Abstract
This study explores the applications of the Islamic legal maxim "Lā Ḍarar wa Lā Ḍirār" (Neither Harm nor Reciprocal Harm) in selected healthcare rulings. This maxim is one of the fundamental principles of Islamic jurisprudence, aiming to prevent all forms of harm and to safeguard human life, dignity, and legitimate rights. Islamic law contains numerous textual evidences prohibiting harm, from which Muslim jurists have derived several subsidiary legal maxims, including the maxim of Lā Ḍarar wa Lā Ḍirār. The primary objective of this research is to examine the application of this legal maxim to selected contemporary healthcare issues. The study adopts a library-based, descriptive, and comparative methodology and is grounded in evidence drawn from the Holy Qur'an, the Prophetic Sunnah, and the opinions of classical and contemporary Muslim jurists. The research discusses a number of healthcare-related rulings, including autopsy, the preference for natural childbirth over cesarean section when no medical necessity exists, abortion, and other related issues. The significance of this study lies in its contribution to clarifying selected healthcare rulings in light of this legal maxim, strengthening the field of Islamic medical jurisprudence, and providing solutions to contemporary medical and ethical questions. The study concludes that the maxim of *Lā* Ḍarar wa Lā Ḍirār provides a comprehensive juristic framework for addressing modern healthcare issues by balancing medical needs with the objectives of Islamic law and by preventing harm while promoting human welfare.

Keywords: Lā Ḍarar wa Lā Ḍirār, Islamic Legal Maxim, Healthcare Rulings, Islamic Medical Jurisprudence, Harm Prevention, Contemporary Fiqh.

اخځليکونه

قرآن کریم

ابن الأثير، محمد بن محمد ابن عبدالكريم.(۱۳۹۹هـ ۱۹۷۹م) النهاية في غريب الحديث والأثر. الناشر: المكتبة العلمية- بيروت.

ابن النجار، تقي الدين أبو البقاء.(۱۴۱۸هـ- ۱۹۹۷م). شرح الكوكب المنير. الناشر: مكتبة العبيكان من الشاملة.

ابن الهمام, كمال الدين محمد بن عبدالواحد. (ب.ت) فتح الالقدير. الناشر: دار الفكر، بيروت.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر. (۱۴۱۲هـ ۱۹۹۲م). رد امحتار على الدر المختار. الناشر: دار الفكر- بيروت.

ابن منظور، محمد بن مكرم.(۱۴۱۴هـ). لسان العرب الناشر: دار صادر – بيروت.

أحمد بن محمد. (ب.ت) تطبيقات قاعدة لا ضرر ولا ضرار.

البخاري، محمد بن اسماعيل أبو عبدالله(۱۴۲۲هـ) صحيح البخاري. الناشر: دارطوق النجاة. بيروت- لبنان.

البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي. (۱۴۰۰هـ . ۱۹۸۹م). السنن الصغير للبيهقي. الناشر: جامعة الردارسات الا سلامية، كراچی پاكستان.

الدارقطني، أبو الحسن علي بن عمر. (۱۴۲۴هـ- ۲۰۰۴م). منن الدارقطني. الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت- لبنان.

ديوبندي، محمود حسن ديوبندي. (د.ت) تفسيركابلی. با فواید موضع الفرقان: شبير احمد عثماني ديوبندي. له اوردو څخه پښتو ته ترجمه: د افغانستان د جيدو علماء د هيئت تر نظر لاندې،(۱۳۲۳هـ ش). (د.ط) كويته: المكتبة الحبيبية.

رحماني، خالد سيف الله. (۱۴۳۱-۲۰۱۰). نوازل فقهية معاصرة. الناشر: مكتبة سهارنفور، ارابرديش هند.

الزرقا، أحمد بن الشيخ محمد.(۱۲۸۵هـ ۱۳۵۷م). شرح القواعد الفقهية. الناشر: دار القلم – دمشق/ سوريا.

السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن اسحاق.(ب.ت) سنن أبي داود. الناشر: المكتبة العصرية، صيدا- بيروت.

السيوطي، عبدالرحمن بن أبي بكر جلال الدين. (١٤١١هـ١٩٩٠م). الأشباه والنظائر. الناشر: دارالكتب العلمية، بيروت- لبنان.

الشنقيطي، محمد بن محمد المختار. (١٤١٥هـ- ١٩٩٤م)، أحكام الجراحة الطبية والآثار المترتبة عليها. الناشر: مكتبة الصحابة، جدة

الغزي، محمد صديقي. (١٤١٦هـ١٩٩٩٦م). الوجيز في ايضاح قواعد الفقة الكلية. الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت- لبنان.

الفيروزآبادي. مجد الدين بن يقوب. (١٤٢٦هـ ٢٠٠٥). القاموس المحيط. الناشر: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر، بيروت- لبنان

لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي،(١٣١٠هـ ق). الفتاوى الهندية الناشر: دار الفكر.

المناوي، زين الدين مححد المدعو.(١٣٥٦م). فيض القدير شرح الجامع الصغير. الناشر: المكتبة التجارية الكبرى – مصر.

وزارة الاوقاف والشئون لاسلامية. – كويت. (١٤٠٤- ١٤٢٧ هـ). الموسوعة الفقهية الكويتية. الناشر: دار الصفوة – مصر.

د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو د زده کړې پر کیفیت د تغذیوي وضعیت اغیزو څېړنه

مجید هڅاند د زیړوک ولسوالۍ د انکشاف مسلکي علمي غړی
برېښنالیک : majidhasand77@gmail.com

لنډیز

تغذیه د انسان د فزیکي ودې، ذهني وړتیا، عصبي فعالیتونو او تعلیمي پرمختګ له مهمو بنسټونو څخه شمېرل کېږي. دا څېړنه د پکتیکا ولایت د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو د تغذیوي وضعیت او د زده کړې پر کیفیت د هغې د اغیزو د ارزونې په موخه ترسره شوې ده. د څېړنې اساسي هدف دا و چې د زده کوونکو غذایي حالت په علمي ډول وارزول شي، د تغذیې د کمښت او د زده کړې د کیفیت ترمنځ اړیکه روښانه شي، او د ستونزې د حل لپاره عملي سپارښتنې وړاندې شي. څېړنه د کمیتي میتود پر بنسټ ترسره شوې او د معلوماتو راټولولو لپاره پوښتنلیکونه، میداني مشاهدې او له ښوونکو او والدینو سره مرکې کارول شوې دي. د مورګان جدول له مخې د پنځو ښوونځیو څخه ۲۳۳ زده کوونکي په تصادفي ډول د نمونې په توګه وټاکل شول. د څېړنې موندنې څرګندوي چې د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو تغذیوي وضعیت د اندېښنې وړ دی. ډېری زده کوونکي له سهارنۍ پرته ښوونځي ته ځي، او د هغوی ورځنی خوراک د پروټین، ویټامینونو، لبنیاتو او تازه میوو له کمښت سره مخ دی. څېړنه ښیي چې د تغذیې کمښت د زده کوونکو پر حافظه، تمرکز، ذهني فعالیت، حاضري او تعلیمي لاسته راوړنو منفي اغیز لري. همداراز د کورنیو اقتصادي ستونزې، د تغذیې په اړه د پوهاوي کمښت او د ښوونځیو د تغذیوي پروګرامونو نشتوالی د ستونزې مهم عوامل بلل شوي دي.

کلیدي ټکي: تغذیه، د زده کړې کیفیت، زده کوونکي، سوء تغذیه، زیړوک ولسوالۍ

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین، والصلواة والسلام علی سیدنا محمد وعلی آله واصحابه أجمعین.

تغذیه د انسان د ژوند، روغتیا، ذهني ودې او علمي پرمختګ له اساسي اړتیاوو څخه ګڼل کېږي. سالمه تغذیه نه یوازې د بدن د غړو د فعالیت، انرژۍ او فزیکي ودې سبب ګرځي، بلکې د مغزو د سالم فعالیت، حافظې، تمرکز او فکري وړتیاوو په پیاوړتیا کې هم مهم رول لري. هغه زده کوونکي چې متوازنه غذا ترلاسه کوي، عموماً د زده کړې په بهیر کې له لوړې ذهني وړتیا، ښه تمرکز او غوره تعلیمي لاسته راوړنو څخه برخمن وي، خو د تغذیې کمښت د ذهني کمزورۍ، ستړیا، کم تمرکزۍ او ټیټو تعلیمي پایلو سبب ګرځي.

د افغانستان ډېرې کلیوالي سیمې، په ځانګړي ډول د پکتیکا ولایت زیړوک ولسوالۍ، له اقتصادي ستونزو، د خوراکي موادو د تنوع له کمښت، د روغتیایي خدمتونو د محدودیت او د عامه پوهاوي د ټیټې کچې سره مخ دي. د همدې ستونزو له امله ډېرې زده کوونکي د پروټین، ویټامینونو، منرالونو او نورو ضروري غذایي موادو له کمښت سره مخامخ دي، چې دا حالت د هغوی د زده کړې پر کیفیت مستقیم منفي اغېز کوي. له همدې امله، دا څېړنه هڅه کوي چې د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو د تغذیې اوسنی وضعیت په علمي ډول وڅېړي، د تغذیې او زده کړې ترمنځ اړیکه روښانه کړي، او د ستونزې د حل لپاره عملي او علمي وړاندیزونه وړاندې کړي.

د مسئلې بیان

په زیړوک ولسوالۍ کې د زده کوونکو د تغذیې وضعیت د یوې جدي تعلیمي او ټولنیزې ستونزې په توګه مطرح دی. د سیمې اقتصادي کمزوري، د خوراکي موادو محدود لاسرسی، د والدینو د پوهاوي ټیټه کچه او د ښوونځیو د تغذیې د ملاتړ پروګرامونو نشتوالی د دې لامل شوی چې ډېرې زده کوونکي له سوء تغذیې سره مخ شي.

د تغذیې کمښت د زده کوونکو پر حافظه، تمرکز، ذهني فعالیت، حاضري او تعلیمي پرمختګ مستقیم اغېز لري. ډېرې زده کوونکي له سهارنۍ پرته ښوونځي ته ځي او د ورځې کافي کالوري نه ترلاسه کوي، چې په پایله کې د درس پر مهال ستړیا، بې‌حوصلګي او کم تمرکزي تجربه کوي.

سره له دې چې په نړیواله کچه د تغذیې او زده کړې د اړیکې په اړه ګڼې څېړنې ترسره شوې دي، خو د زیړوک ولسوالۍ په کچه تر اوسه داسې علمي او مستنده څېړنه نه وه ترسره شوې چې د زده کوونکو د تغذیې وضعیت او د زده کړې پر کیفیت یې اغېزې په واضحه او علمي ډول بیان کړي. همدې اړتیا د دې څېړنې ترسره کول ضروري وبلل.

عمومي موخه

په زیړوک ولسوالۍ کې د زده کوونکو تغذیوي وضعیت په علمي ډول ارزول او د غذایي کمښت د زده کړې پر کیفیت، ذهني وړتیا، حاضري او تعلیمي لاسته راوړنو د اغېزو معلومول.

فرعي موخې

- د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو د تغذیې عمومي وضعیت معلومول.
- د تغذیې د کمښت او د زده کړې د کیفیت ترمنځ اړیکه تحلیلول.
- د کورنۍ او ښوونځي د چاپېریال رول ارزول.
- د والدینو او ښوونکو د تغذیې په اړه د پوهاوي کچه معلومول.

د څېړنې پوښتنې

۱ د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو تغذیوي وضعیت څنګه دی؟
۲ د تغذیې کمښت د زده کړې پر کیفیت څه اغېز لري؟
۳ د سوء تغذیې اصلي عوامل کوم دي؟
٤ د کورنیو اقتصادي وضعیت د زده کوونکو پر تغذیه څه اغېز لري؟
۵ د والدینو د پوهاوي کچه څومره ده؟

د څېړنې ارزښت

دغه څېړنه د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو د تغذیوي د وضعیت په اړه یو روښانه علمي انځور وړاندې کوي او څرګندوي چې سالمه تغذیه د زده کړې د بریا لپاره څومره اړینه ده. د څېړنې موندنې کولی شي د ښوونځیو، روغتیایي ادارو، والدینو او مرستندویه بنسټونو لپاره د پالیسۍ جوړونې او عملي پروګرامونو د طرحې بنسټ وګرځي.

د څېړنې تګلاره

دا څېړنه د کمیتي میتود له اصولو سره سم ترسره شوې ده. د معلوماتو د راټولولو لپاره پوښتنلیکونه، میداني مشاهدې او له ښوونکو او والدینو سره مرکې کارول شوې دي. د مورګان جدول له مخې د زیړوک ولسوالۍ د پنځو ښوونځیو څخه ۲۳۳ زده کوونکي په تصادفي ډول د نمونې په توګه وټاکل شول. راټول شوي معلومات د توصیفي احصایې له لارې تحلیل شول، او د زده کوونکو د تغذیوي وضعیت، د سهارنې استعمال، اقتصادي حالت او د زده کړې د کیفیت ترمنځ اړیکې څرګندوي.

نظري بنسټ

تغذیه د انسان د بقا، روغتیا او فکري وډې لپاره یوه اساسي اړتیا ګڼل کېږي. د نړۍ د ښوونیز تاریخ په اوږدو کې د زده کوونکو تغذیه او د هغوی د فکري وړتیا ترمنځ مستقیم تړاو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. د یونان، روم او اسلامي تمدنونو په تعلیمي مرکزونو کې د زده کوونکو روغتیا او تغذیه د زده کړې له اساسي شرطونو څخه ګڼل کېده. د شلمې پېړۍ له نیمایي وروسته، د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) او یونیسف د ښوونځیو د تغذیې پروګرامونه پیل کړل، څو د زده کوونکو د لوږې مخه ونیسي او د زده کړې کیفیت لوړ کړي (د خوړو نړیوال پروګرام، ۲۰۲۳). همدارنګه په افغانستان کې هم د ۲۰۰۱ کال وروسته د زده کوونکو تغذیه د نړیوالو مؤسسو د تعلیمي پروګرامونو یوه مهمه برخه وګرځېده (یونیسف، ۲۰۲۴).

امام غزالي رحمه الله په خپلو اثارو کې د سالم بدن او سالم ذهن ترمنځ اړیکه بیان کړې ده. ابن خلدون هم په "المقدمه" کې لیکي چې لوږه او ناروغي د ادراک او زده کړې ځواک کمزوری کوي (ابن خلدون، ۲۰۰۴). جان لاک (۲۰۱۱) او ژان ژاک روسو (۱۹٦٦) هم د ماشوم د سالمې وډې لپاره متوازنې تغذیې ته ځانګړی اهمیت ورکړی دی.

د تغذیې او زده کړې ترمنځ اړیکه

تغذیه د انسان د بدن د حیاتي فعالیتونو لپاره بنسټیز ارزښت لري. بدن د کاربوهایډریټونو، پروټینو، شحمیاتو، ویټامینونو، منرالونو او اوبو له لارې انرژي ترلاسه کوي (ګیټون او هال، ۲۰۱۷). د انسان بدن د ورځې د اړتیا وړ انرژي د کالوری په واسطه سنجول کېږي، او د بدن د غړو د فعالیت، د مغزو د کار، تنفس، د زړه ضربان او د انساجو د ترمیم لپاره انرژي ضروري ده. د دې فورمول 480 = 0.20 \times 2400 له مخې محاسبې ښیي، که یو زده کوونکی هره ورځ ۲۴۰۰ کالوري انرژی ته اړتیا ولري، نو شاوخوا ۴۸۰ کالوري یې یوازې د عصبي سیستم او مغزو له لوري مصرفېږي. دا ځرګندوي چې د مغزو سالم فعالیت د مناسبې تغذیې سره ژوره اړیکه لري.

د طبي فزیولوژۍ له مخې، عصبي حجرې د بدن د انرژۍ شاوخوا ۲۰٪ مصرفوي. له همدې امله، که زده کوونکي کافي غذایي مواد ترلاسه نه کړي، نو لومړۍ اغېز یې د مغزو پر فعالیت، حافظې او تمرکز ځرګندېږي. هغه ماشومان چې له مناسب غذایي رژیم څخه بېبرخې وي، ډېر ژر ستړي کېږي، په ټولګي کې تمرکز له لاسه ورکوي او د سبق په یادولو کې ستونزې لري.

علمي څېړنې څرګندوي چې د اوسپنې، ویټامین A ، ویټامین B او پروټینو کمښت د ماشومانو پر ذهني وړتیاوو مستقیم منفي اغېز کوي (بلیک او نور، ۲۰۰۸). د اوسپنې کمښت د ستړیا، کمزورۍ او حافظې د کمښت سبب ګرځي، په داسې حال کې چې د ویټامین A کمښت د لید ستونزې رامنځته کوي. همداراز، د پروټینو کمښت د بدن د ودې او د دماغي حجرو د فعالیت مخه نیسي.

په زیړوک ولسوالۍ کې ډېرې زده کوونکي له پروټیني، لبنیاتي او ویټامین لرونکو خوړو بې‌برخې دي، چې دا حالت د هغوی د ذهني ودې او زده کړې کیفیت اغېزمن کړی دی. د سیمې ډېرې کورنۍ د اقتصادي ستونزو له امله نه شي کولای خپلو ماشومانو ته غوښه، شیدې، هګۍ، مېوې او نور مغذي خواړه برابر کړي. د زده کوونکو ورځنی غذایي رژیم اکثره له وچې ډوډۍ، لوبیا، کچالو او محدودو سبزیجاتو څخه جوړ دی.

د تغذیې او زده کړې اړیکه یوازې د بدني انرژۍ تر کچې محدوده نه ده، بلکې د مغزو د ودې له بیولوژیکي اړخ سره هم تړاو لري. د ماشوم د ژوند لومړني پنځه کاله د دماغي ودې لپاره تر ټولو مهم پړاو ګڼل کېږي، ځکه چې په همدې موده کې د دماغي حجرو ترمنځ اړیکې ډېرېږي. که په همدې موده کې ماشوم له مناسبې تغذیې بې‌برخې پاتې شي، د هغه د ذهني ودې او زده کړې وړتیاوې اغېزمنې کېږي (ګرانتم-مک ګریګور او نور، ۲۰۰۷).

په هغو ټولنو کې چې د ښوونځیو د تغذیې پروګرامونه فعال وي، زده کوونکي د حاضرۍ، تمرکز او تعلیمي لاسته راوړنو له پلوه غوره پایلې لري. د نړۍ په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې د ښوونځیو د تغذیې ځانګړي پروګرامونه عملي کېږي، چې له مخې یې زده کوونکو ته شیدې، مېوې او نور مغذي خواړه ورکول کېږي. دا پروګرامونه د زده کوونکو د ذهني تازه‌والي او د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري. خو د زیړوک ولسوالۍ ښوونځي له دې ډول پروګرامونو بې‌برخې دي. ډېرې زده کوونکي له سهارني پرته ښوونځي ته ځي او تر غرمې پورې په لوږه کې پاتې کېږي، چې دا حالت د هغوی د ذهني تمرکز، حافظې او درسي ګډون پر کیفیت مستقیم منفي اغېز کوي.

موندنې


۱ـ د زده کوونکو تغذیوي وضعیت

څېړنې څرګنده کړه چې د زیړوک ولسوالۍ ډېرې زده کوونکي له متوازن غذایي رژیم څخه بې برخې دي. د هغوی ورځنی خوراک تر ډېره په ډوډۍ، لوبیا، کچالو او محدودو سبزیجاتو ولاړ دی، په داسې حال کې چې د پروټین، لبنیاتو، هګیو، غوښو او تازه مېوو استعمال خورا کم دی.

۲ـ د تغذيې کمښت او د زده کړې کيفيت

څېړنې وښودله چې د تغذيې کمښت د زده کوونکو پر تمرکز، حافظه، حاضري او تعليمي لاسته راوړنو منفي اغېز لري. هغه زده کوونکي چې له سهارنۍ پرته ښوونځي ته ځي، د درس پر مهال د ستړيا، کم تمرکزۍ او ذهني کمزورۍ ستونزې تجربه کوي.

ګراف ۱: د سهارني خوراک په اړه



د (۱) ګراف د معلوماتو له مخې ٪۴۰ زده کوونکي هيڅ سهارنۍ نه خوري، ٪۳۳ زده کوونکي نيمګړې سهارنۍ استعمالوي، او يوازې لږ شمېر زده کوونکي نسبتاً مناسب سهارنۍ خوراک لري. دا ګراف څرګندوي چې د سهارنۍ کمښت د انرژۍ د کموالي او د تمرکز د ضعف اساسي لامل دی.

۳ـ دسوء تغذيې اصلي عوامل


د څېړنې له مخې د سوء تغذيې مهم عوامل عبارت دي له:

- ✓ اقتصادي کمزوري
- ✓ د متوازن غذايي رژيم په اړه د پوهاوي کمښت
- ✓ د ښوونځيو د تغذيې د پروګرامونو نشتوالی
- ✓ د خوراکي موادو محدود لاسرسی

۴ـ د کورنیو اقتصادي وضعیت

له والدینو سره د مرکو له مخې، شاوخوا ٦٧٪ کورنۍ د متوازن خوراک د برابرولو توان نه لري. ډېرې زده کوونکي له سهارنۍ پرته ښوونځي ته ځي او د پروټین لرونکو خوړو استعمال یې محدود دی.

ګراف : د کورنیو اقتصادي وضعیت




ګراف ښیي چې ٦٧٪ کورنۍ د متوازن غذایي رژیم د برابرولو اقتصادي توان نه لري. دا حالت د زده کوونکو د سوء تغذیې او کمزورې تعلیمي پایلې له اصلي عواملو څخه ګڼل کېږي.

۵ـ د والدینو د پوهاوي کچه

څېړنه ښیي چې د والدینو د تغذیې اړوند پوهاوی ټیټ دی. ډېرې کورنۍ د متوازن غذایي رژیم د ارزښت او د ماشومانو د ذهني ودې لپاره د ضروري موادو په اړه کافي معلومات نه لري.

ګراف : د والدینو د پوهاوي کچه



د پوهاوي ګراف خرګندوي چې یوازې ۱۹٪ والدین د سالمې تغذیې په اړه مناسب معلومات لري، په داسې حال کې چې اکثریت کورنۍ د غذایي تنوع او متوازن خوراک په ارزښت نه دي خبر.

مناقشه

د دې څېړنې موندنې د نړیالو علمي څېړنو له پایلو سره ورته والی لري Organization . World Health او UNICEFپه خپلو راپورونو کې څرګنده کړې چې د پروټین، اوسپنې او ویټامینونو کمښت د ماشومانو د ذهني ودې، حافظې او تعلیمي پرمختګ پر کیفیت منفي اغېز لري.

د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو د تغذیې وضعیت هم د همدې نړیوالو څېړنو تائید کوي. د اقتصادي ستونزو، د غذایي تنوع کمښت او د عامه پوهاوي نشتوالی د دې سبب شوي چې زده کوونکي له کافي غذایي موادو بې برخې پاتې شي. د څېړنې موندنې ښیي چې هغه زده کوونکي چې مناسبه تغذیه نه لري، د زده کړې په بهیر کې د تمرکز، حافظې او ذهني فعالیت له جدي ستونزو سره مخ وي.

همداراز د ښوونځیو د تغذیې د پروګرامونو نشتوالی د ستونزې شدت زیات کړی دی. په هغو ښوادونو کې چې د ښوونځي د خوړو پروګرامونه پلي شوي، د زده کوونکو حاضري، تمرکز او تعلیمي بریا لوړه شوې ده، خو په زیړوک ولسوالۍ کې دغه ډول پروګرامونه نه تر سترګو کېږي.

پایله

د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې د زیړوک ولسوالۍ د زده کوونکو تغذیوي وضعیت د اندېښنې وړ دی او د زده کړې پر کیفیت مستقیم منفي اغېز لري. ډېری زده کوونکي له متوازن غذایي رژیم، سهارنۍ، پروټین لرونکو خوړو، لبنیاتو او تازه میوو څخه بې برخې دي، چې د هغوی پر حافظه، تمرکز، ذهني فعالیت او تعلیمي لاسته راوړنو منفي اغېز کوي.

څېړنې وښودله چې اقتصادي کمزوري، د والدینو د پوهاوي ټیټه کچه، د ښوونځیو د تغذیې د پروګرامونو نشتوالی او د خوراکي موادو محدود لاسرسی د سوء تغذیې اساسي عوامل دي. همداراز څرګنده شوه چې هغه زده کوونکي چې مناسب غذایي رژیم نه لري، د درس پر مهال له ستړیا، کم تمرکزۍ، کمزورې حافظې او ټیټو تعلیمي پایلو سره مخ وي.

په ټولیز ډول، د تغذیې ستونزه یوازې روغتیایي موضوع نه ده، بلکې د تعلیمي پرمختګ، ذهني ودې او د ټولنې د راتلونکي پرمختګ سره مستقیم تړاو لري. له همدې امله اړینه ده چې روغتیایي، تعلیمي او ټولنیزې ادارې په ګډه د زده کوونکو د تغذیې د ښه والي لپاره عملي او دوامدار پروګرامونه پلي کړي.

وړاندیزونه

په ښوونځیو کې دې د تغذیې ځانګړې پروګرامونه پیل شي.

والدینو ته دې د سالمې تغذیې په اړه عامه پوهاوی ورکړل شي.

بې وزلو کورنیو ته دې د خوراکي موادو د ملاتړ پروګرامونه پراخ شي.

په ښوونځیو کې دې د روغتیایي څارنې منظم سیستم فعال شي.

ښوونکو ته دې د تغذیې او روغتیا په اړه روزنیز پروګرامونه برابر شي.

د حکومت او مرستندویه بنسټونو له لوري دې د ماشومانو د تغذیې ملي پروګرامونه پیاوړي شي.

Assessing the Impact of Nutritional Status on the Quality of Students' Learning in Zeruk District

Majid Hutsand, Academic Member of the Professional Development Program, Zeruk District
Email: majidhasand77@gmail.com

Abstract

Nutrition is considered one of the fundamental pillars of physical growth, mental ability, nervous system functioning, and academic achievement. This study was conducted to evaluate the nutritional status of students in Zeruk District of Paktika Province and to examine its effects on the quality of learning. The main objective of the research was to scientifically assess students' nutritional conditions, clarify the relationship between malnutrition and learning quality, and provide practical recommendations for addressing the problem. The study was carried out using a quantitative research method. Questionnaires, field observations, and interviews with teachers and parents were used as tools for data collection. Based on the Morgan Table, a random sample of 233 students was selected from five schools in Zeruk District. The findings of the study indicate that the nutritional status of students in Zeruk District is concerning. Most students attend school without breakfast, and their daily diet lacks sufficient proteins, vitamins, dairy products, and fresh fruits. The study further reveals that malnutrition negatively affects students' memory, concentration, mental performance, school attendance, and academic achievement. In addition, family economic difficulties, lack of awareness about proper nutrition, and the absence of school nutrition programs were identified as major contributing factors to the problem.

Keywords: Malnutrition , Nutrition, Quality of Learning, Students, Zeruk District

مأخذونه

ابن خلدون، عبدالرحمن. (۲۰۰۴). المقدمه. بیروت: دارالفکر.

احمدي، محمد. (۱۴۰۰). د تغذيې اساسات. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

خاورين، غلام دستگير. (۱۳۹۹). اناتومي او فزيولوژي انسان. کابل: انتشارات.

محمدي، احمد. (۱۳۹۹). د تغذيې او زده کړې اړيکې. کابل: د پوهنتون خپرندويه ټولنه.

نجفي، سميع الله. (۱۳۹۹). «د شاګردانو پر زده کړه د خوراک اغېزې». د ننګرهار پوهنتون ژورنال

Black, R. E., Allen, L. H., Bhutta, Z. A., Caulfield, L. E., de Onis, M., Ezzati, M., Mathers, C., & Rivera, J. (2008). Maternal and child undernutrition: Global and regional exposures and health consequences. The Lancet, 371(9608), 243–260. [https://doi.org/10.1016/S0140-6736(07)61690-0](https://doi.org/10.1016/S0140-6736%2807%2961690-0)

Grantham-McGregor, S., Cheung, Y. B., Cueto, S., Glewwe, P., Richter, L., & Strupp, B. (2007). Developmental potential in the first five years for children in developing countries. The Lancet, 369(9555), 60–70. [https://doi.org/10.1016/S0140-6736(07)60032-4](https://doi.org/10.1016/S0140-6736%2807%2960032-4)

Guyton, A. C., & Hall, J. E. (2017). Textbook of Medical Physiology (13th ed.). Elsevier.

Levitt, E., Kostermans, K., Laviolette, L., & Mbuya, N. (2010). Malnutrition in Afghanistan: Scale, Causes, and Economic Consequences. Washington, DC: The World Bank.

Locke, J. (2011). Some Thoughts Concerning Education. Cambridge: Cambridge University Press.

Rousseau, J.-J. (1966). Émile, ou De l'éducation. Paris: Garnier-Flammarion.

UNICEF. (2024). Nutrition Programme Afghanistan. Kabul: UNICEF Afghanistan Office.

World Food Programme. (2023). State of School Feeding Report. Rome: WFP.

مرکې

- ✓ د شرمي ابتدايه ښوونځي د ساينس استاد حسن الله سره مرکه. (۱۰ سنبله ۱۴۰۴).
- ✓ د زيړوک ولسوالۍ له قومي مشر حاجي محمد سره مرکه. (۸ سنبله ۱۴۰۴).
- ✓ د مرکزي لېسې د بيولوژي استاد محمد عيسی سره مرکه. (۵ سنبله ۱۴۰۴).
- ✓ د مرکزي لېسې مدير برکت خان بشردوست سره مرکه. (۲۰ اسد ۱۴۰۴).

د انسان په بد ن کې د سود يم مرکباتو اهميت

پوهنوال امرالله اصفي شيخ زايد پوهنتون - ښوونې اوروزنې پوهنځی - د کيميا څانګې استاد
بريښنا ليک: AmrullahAsefi53@Gmail.com

لنډيز

د سود يم مرکباتو پيژند نه : سوديم يو فعال فلز دي چې په حالص ډول سره نه پيداکيږي مګر په مرکب ډول سره پيداکيږي چې مرکبات يې سوديم کلوراید ، سوديم ايوداید سوديم سو لفاید ، سوديم کاربو نيت چې د هغې د جملې څخه سوديم کلوراید او سوديم ايوداید. سوديم سلفيټ ، سوديم نايتريت ، سوديم فاسفيټ ، د سوديم فعاليت اونور څيړل شوی دي. موخې : زمونږ موخې په دې څيړنيزه مقاله کې دادي چې د انسات په بدن اود انسان د بدن په مايعل تو کې د سوديم د مرکباتو په اهميت او په کموالي سره يې د هغې منفي اغيزې په بدن باندې څرکند شي. ارزښت : د تايراید په غده کې د سوديم ايوداید اهميت اود ايودين په نه شتون کې د جاغور ناروغي پيدا کيد ل د بدن په داخلي مايعاتو کې د سوديم کلور اید رول او اهميت او ارزښت دادي **چې** د وينې اسموتيک فشار په نارمل ساتلو کې ښه رول لری او سوديم فاسفيټ د مرکزي عصبي سيستيم د تقويه لپاره يو ضروري مرکب دي. دسوديم ميتابوليزم : سوديم د خارج الحجروی مايعاتو لپاره ضروري ماده ، سوديم د بدن په مايعاتو کې خاص اهميت لري. سری اعراض او علايم : د سوديم په کموالي سره د دماغی حجرو په مايعاتو کې د دماغی حجم زياتوالی سبب کيږي او کوما مينځ ته راځي. پايله : دسوديم مرکباتو څخه سوديم ايوداید او سوديم کلوراید د انسان بدن په نارمل ساتلو کې ډير رول لري چې سوديم کلوراید په زياته پيمانه سره سره الله ج په معدنونو او بحر په اوبو کې پيداکيږي دي. ددې څيړنيزې مقالې په ليکنه کې د کتابخانې او نيټ د سر چينو څخه کار اخستل شوي دي .

کليدي کليمي

الف :د سوديم پيژند نه ب :د PH کنترول د سوديم مرکباتو په واسطه ج: د سوديم ميتابوليزم د :دبدن په مايعاتو کې د سوديم اهميت

سریزه

بسم الله الرحمان الرحیم ، الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین

د انسان په بدن کې د سودیم اهمیت تر سرلیک لا ندې څیړه نیزه مقاله چې په هغې کې د سودیم پیژند نه ، د سودیم پیدایښت ، دسودیم فزیکي او کېمیاوي خواص ، دسودیم تاثیرات په چاپیریال ، دسودیم میتابولیزم ، دسودیم سری ، اعراض او علایم ، تداوي ، دوینې ازموتیک فشار کې دسودیم رول په A.snode کې دسودیم رول، په sinus کې دسودیم رول په بر کې نیسي

موخې

زما موخې پدې څیړه نیزه مقاله کې دادي چې د انسان په وجود کې دسود یم او د سودیم د مرکباتو رول وپیژنو او څرنګه وکولی شو چې سودیم د هغې د منابعو څخه ترلاسه کړو ترڅو چې د سودیم لرونکو موادو په خوړلو سره سودیم په بدن کې ذ خیره کړو.

کړنلاره

د دې څیړه نیزې مقالې په لیکلو کې ما د کتابخانې او نیټ د سرچینو څخه کار اخستی .

د سوډ یم مرکباتو رول په بد ن کې

په ګرمۍ کې دناتوانۍ اوګرمۍ وهلویاجل وهلومخه نیسي.د اعصابواوعضلاتوعمل تقویه کوي،دعضلاتومنقبض کیدو اوراټولیدوکې موثردي.دبدن داوبوکنترول اوتنظیم وظیفه په غاړه لري،دبدن داوبوډیرښت یاکمښت دبدن دوچید وسبب نه کیږي همدارنګه دعصبي موجونوپه هدایت کې کومک کوي دPH داسیدونواندازه دسوډیم په واسطه ساتل کیږي یاداچې دسوډیم ښه رول دساده قندونواوامین اسیدونو په جذب کولو کې دي چې د نشایستې اوپروټینو څخه لاسته راځی.،سوډیم په هډوکوکې هم شتون لري چې دغذایې موادوشیره هلته جذب اودوینې تولید سبب کیږي. ،یوبالغ انسان په ورځ کې حداقل ۲۰۰میلی ګرامه سوډیم ته اړتیالري اودهغه ضرورت رفع کولی شي،په عمومي ډول ډیرزیات خلک په متوسط ډول د۱۱-۷ ګرامه پورې مالګه په ورځ کې مصرفوي چې له دې لارې روزانه ۴ګرامه سوډیم ترلاسه کوي. ،په طبیعی ښکل ځینې غذایې موادوکې په زیاتې اندازه سوډیم شتون لري،لکه غوښه طبیعی مالګه،سبزیجات اونوروکې شتون لري هغه غذاګانې چې کنسروشوی وی په زیاته اندازه مالګې لري،له همدې وجهې هغه کسان چې دوینې لوړفشارلري ورته توصیه کیږي.چې ددغه خوراکې موادو څخه خپل ځان وساتي .

د سوډیم میتابولیزم

سوډیم دخارج الحجروي مایعاتویومهم cation دی اوخارج الحجروي مایعاتوپه اسمولاریتي کې اساسي رول لري اوله همدې کبله سوډیم داخل دامعایې مایعاتودحجم دمحافظې لپاره ضروری دي له درې فیصدوڅخه لږسوډیم په داخل دحجرواود ۴۰٪څخه زیات سوډیم په هډوکواودسوډیم نور پاتې شوي مقداریي په بین الخلالې اوداخل وعایې مایعاتوکې موجود وي.داخل الحجروي سوډیم دغلظت کموالي(10Meq/l) د Na-k ATPase په واسطه پوره کیږی او داخل الحجروي سوډیم اوحجرودسوډیم خارج اوپه مقابل کې یې خارج الحجروي پوتاشیم په حجروکې داخلیږي دهغه chemical gradient په واسطه چې دسوډیم خارج الحجروي غلظت دزیاتومواد و داخلیدولپاره انرژي تولیدوي.سوډیم جذب په معدې ا معایې سیستم کې صورت نیسي. Mineralcorticoids په عضویت کې دسوډیم ترانسپرټ دزیاتوالی سبب کیږي.گلوکوزد Co-transporids دموجودیت له کبله دسوډیم جذب زیاتوي اوله همدې کبله ORS کې موجودوي سوډیم دغایطه مواداوخولو(Sweat) په واسطه دعضویت څخه خارجیږي.همد ا رنگه د پښتورگوپه واسطه دسوډیم اطراح او Balance دواړه صورت نیسي.په غایطه موادوکې سوډیم اطراح لږوي مگرداسهال په وخت کې دسوډیم ضایع په غایطه موادوکې زیاتیږي.په خولوکې دسوډیم مقدار 5-40mEq/L دي مگرد cystic fibrosis په ناروغانوکې زیاتیږي.داوبو Balance دسوډیم په واسطه صورت نیسي ــ کله چې دسوډیم غلظت زیات شی نودپلازماداسمولاریتي زیاتیږي پلازماداسمولاریتي زیاتوالی تندي(Thirst) دزیاتیدواودADH دافراز زیاتیدوسبب کیږي اوپه نتیجه کې عضویت اوبومقدارپه پوښتورگوکې د ضایع کیدوڅخه مخافظه کیږي اوسوډیم مقصد نورمال حالت ته رسیږی دHyponatrimia په حالت کې دپلازما داسمولاریتي کموالی د ADH دافرازدقطع کیدوسبب کیږي اودپښتورگوپه واسطه اوبه اطراح اوپه نتیجه کې دسوډیم غلظت زیاتیږي.که څه هم داوبوBalance داسمولاریتي په واسطه تنظمیږي مگردمایعاتودحجم کموالی،دتندی به حالت کې دADH افرازاوRenalconservationofwater تنبه کوي اوله همدې کبله دسودیم مشخصات پوهیدل ضروری دي.،دپښتورگوپه واسطه دسوډیم اطراح دپلازما داسمولاریتي په واسطه نه تنظمیونکې سیستمونه لکه Renine hoteni Angsms aldosterone اوداخل قحفی میکانیزمونه(Mechanisms) رول لري.Hyponatremis Hyponatremia په حالاتوکې سببی pathophysiology د ادراراودسوډیم مقدارتعینوی مگردسیروم دسوډیم غلظت نه تعینوي.

سودیم کلورایډ (Na Cl)

سودیم کلورایډ یو ډیر مهم مرکب دي چې په طبیعت کې په زیاته پیمانه سره پیدا کیږي معمولا په تجارتې سیستم کې سودیم کلورایډ د بحر او کا نونو څخه لاسته راوړي .

طبي سودیم کلورایډ د سودیم کاربنیټ او هایدرو کلوریک اسید د تعامل څخه لاسته راځي یعنې :

$$Na_2CO_3 + 2\,H\,Cl \rightarrow 2NaCl\ \ H_2CO_3$$

فزیکي خواص

ترش خوند لري په اوبو کې حلیږي او سپین جامد کرستلي شکل لري

طبي استعمال

د سودیم کلورایډ محلولونه له هغه اساسي تر کیب څخه عبارت دی چې د پلازماتیک مایعاتو د تعویض کونګي په توګه تري کار اخستل کیږي . سودیم کلورایډ د وینې په ترکیب او حجروي مایعاتو کې شامل دي. په وینه کې د سودیم کلورایډ غلظت 0,5 فیصده دی او اساسي رول یي د وینې د فشار توازن یا نار مل ساتل دي .

د ایزو تانیک محلول په اور ګانیزم کې د سودیم کلورایډ د کموالي په صورت کې (۹) فیصده د هغو د زرقي لارې په ورید او تریست لاندې اخستل کیږي اود سودیم کلورایډ درې ډوله درملنه رسمي پیژند ل شوي ده .

د سودیم کلورایډ (۹) فیصده محلول د یوبیرنګه او شفافي مایع څخه عبارت دی چې مالګین خوند لري او د سودیم کلو راید 5,3 فیصده او محلول د 10 دبیرون له طرفه د مکروبي زخمونوپه ونځلو کې کارول کیږي په همدې ترتیب د سودیم کلورایډ محلول څخه د ستونې درد د مینځه وړلو لپاره هم کار اخستل کیږي .

د سوډ یم تاثیرات دهستوګنې په ځای

دسوډیم اندازه چې دماهیانومختلف ډولونه یې ترلاسه کوي په ۹۶ساعتونوکې د۱۲۵ppm سره برابردي(په خوړواوبوکي)دسوډیم اندازه په اوبوکې چې ماهیان یې د۴۸ساعتونوکې ترلاسه کوي ۹۴ میلی ګرامه دي. ،په جامدحالت کې سودیم دتحریک حاب نه دي،که څه هم په دې حالت کې په ډیره تیزۍ سره رطوبت جذبوي،په مایع کې سوډیم هایدرواکسایډدمینځل شوې خاورې(خټو)په اساس داوبوسرچنې ته رسیږي او اوبه ککړوي.

د سودیم او پوتاشیم بروایدونه

د هغو رسمي درملونه عبارت دي له

داعصابو ارامونکی تاثیرات لري د مخلوط په شکل او د تابلیتو په شکل نارو غانو ته ورکول کیږي .

د سودیم او پوتاشیم ایوداید

د هایپر تا ئیریوز (Hyper throes) یا جاغور په درملنه کې ترې کار اخستل کیږي . کوم وخت چې په خوړو او اوبو کې په پوره اندازه وجود ونلري په ځانګړي ډول سره په ځینو غرنیو سیمو کې د هغې ځای خلق د جاغور په د ناروغي مبتلا کیږي .

ایو دین د داخل له لارې د محلول یا مخلوط په شکل سره ناروغانو ته ورکو ل کیږي .

فزیکي خواص

کلو رایدونه ، بروماید‌ونه او ایوداید‌ونه سپین جامد کرسلي شکل لري اود پودر په شکل سره پیدا کیږي خو یوازي ایوداید سپک زیړ رنګ لري چې د کاربن داي اکساید او لنده بل سره په تما س کې شي ایودین ورخه ازادیږي .

د ټول په اوبو کې حلیږي خو په الکولو کې حلیدل سره فرق لري په دې ډول چې پوتاشیم کلوراید په اوبو کې نه حلیږي ، سودیم بروماید او سودیم کلوراید په الکولو کې لږ حلیږي اږ ایوداید‌ونه په الکولو کې منحل دي.

لاسته راوړلو طریقه :

سودیم کلوراید د بحر او کانونو څخه په زیاته پیمانه لاسته راځي او کلورایدونه ، ایداید‌ونه په مختلفو طریقو سره لاسته راوړي لکه :

$$FeBr_2+B_{r2} \rightarrow Fe_3Br_8$$

وروسته په اوسپنه باندې د د سودیم کاربنات محلول ورزیاتوي او په نتیجه کې بروماید او ایوداید‌ونه استه راځي په لوړو دوزونوسره د بروماید‌ونو دوامداره کارول تسمما ت منځ ته راوړي لکه (ریزش، ټوخي ، د اعصابو کمزور تیا) د بروم د تسمم لپاره معمولا سودیم کلوراید ورکول کیږي چې په زیاته اندازه سره ۱۰-۲۰ ګرامه پورې په ۲۴ ساعتونوکې د ۳-۲ لیتره پورې ورکول کیږي

په همدې ترتیب سره د پوتاشیم کلسیم ، مګنیزیوم او باریوم عناصرو مرکبات د انسان بدن لپاره ډیر ګټور دي.

د سودیم او پوتاشیم ایوداید

د هایپر تا ئیریوز (Hyper throes) یا جاغور په درملنه کې ترې کار اخستل کیږي . کوم وخت چې په خوړو او اوبو کې په پوره اندازه وجود ونلري په ځانګړي ډول سره په ځینو غرنیو سیمو کې د هغې ځای خلق د جاغور په د ناروغي مبتلا کیږي .

ايو دين د داخل له لارې د محلول يا مخلوط په شکل سره ناروغانو ته ورکو ل کيږي .

فزيکي خواص

کلو رايدونه ، بروميدونه او ايوديدونه سپين جامد کرسلي شکل لري اود پودر په شکل سره پيدا کيږي خو يوازي ايوداید سپک زيړ رنګ لري چې د کاربن داي اکساید او لنده بل سره په تما س کې شي ايودين ورخه ازاديږي .

د ټول په اوبو کې حليږي خو په الکولو کې حليدل سره فرق لري په دې ډول چې پوتاشيم کلوراید په اوبو کې نه حليږي ، سوديم بروماید او سوديم کلوراید په الکولو کې لږ حليږي اږ ايوديدونه په الکولو کې منحل دي.

مګنيزيم ، کلسيم ، جست او باريوم هم داسی عناصر دي چې دانسان وجود لپاره ګټور دي او په درملنه کې کارول . ددغه عناصرو ځني خصوصيات د نمونې په ډول سره په دې څېړنيزه مقاله کې څر ګندوه .

مګنيزيم

مګنيزيم د دوهم اصلي ګروپ عناصرو د جملي څخه يو عنصر دی چې اتومي نمبر يي ۱۲ ، اتومي وزن يي ۲۴ او ولانس يي ۲ دی په طبيعت کې په مرکب شکل سره پيدا کيږي لکه مګنيزيوم اکساید ، مګنيزيم کار بو نات ، مګنيزيوم سلفيټ ، مګنيزيون فاسفيت ، مګنيزيوم نايتريت اونور.

مګنيزيم اکساید او مګنيزيوم هايدرو اکساید

مګنيزيوم اکساید د مګنيزيوم د سوزيد و څخه لاسته را ځي اوکوم وخت چې مګنيزيوم اکساید ته په اوبو کې جوش ورکړل شي مګنيزيوم هادروکساید حاصليږي .

خواص

سپين رنګه پود ر دي په اوبو کې لږ حليږي خو په رقيق تيزابونو کې زيات حليږي .

د رقيق نايتريک اسيد په اسطه پيژند ل کيږي .

طبي استعمال

مګنيزيم اکساید د ۱۰-۵ ملیګرام پوري د انتي اسيد او رطوبت جذ بونکي مادې په حيث او مګنيزيوم هايدرو اکساید د ارسنيک اکساید تسمماتو ضد مادې په حيث استعماليږي .

مګنیزیوم کاربونات

مګنیزیوم کاربونیټ یو قلوي مالګه ده چې ۴۰- ۴۵ فیصده پورې مګنیزیوم اکساید لري اود سودیم باي کاربونیټ او مګنیزیوم کلوراید د تعامل څخه لاسته راځي .

$$MgCl_2 + NaHCO_3 \rightarrow Mg\ CO_3_ CO_2 + H_2O$$

خواص

مګنیزیوم کاربونات په ۷۰۰ درجو د سانتیګراد کې مګنیزیوم اکساید بد لیږي .

$$MgCO_3 \rightarrow MgO + CO_2$$

مګنیزیوم کاربونیټ یو انتي اسید دی او خفیف مسهل (Laxative) په حیث ، دغذا زیاتونکي او د مخ او غاښونوپه کریم کې شتون لري .

دغه مرکب په معده کې کاربن داي اکساید ازادوي .

مګنیزیوم اکساید

دغه مرکب ۹۸ فیصده مګنیزیوم اکساید لري ، سپین رنګه پودر دي په اوبو کې لږ حلیږي او القلي خواص لري.

د مګنیزیوم اکساید طبي استعمال

مګنیزیوم اکساید یو انتې اسید دی اود معدې داسیدو د ورکولو لپاره هم استعمالیږي بر سیره پر دې سره د خوراکې مواد و په زیات خوراک کې هم استعمالیږي .

مګنیزیوم کلوراید

مګنیزوم کلوراید یو خنثا مالګه ده چې یو اتوم مګنیزیوم او دوه اتومه کلورین لري ، بیرنګه جامد کرستلي شکل لري او تریخ خوند لري په اوبو کې زیات حلیږي مګر په الکولو کې په مناسبه اندازه سره حلیږي .

که چیرې هایدرو کلوریک اسید په مګنیزیوم کاربو نات باندې وا چول شي مګنیزیوم کلوراید لاسته راځي .

$$MgCO_3 + 2HCl \rightarrow MgCl_2 + CO_2 + H_2O$$

طبي استعمال

د بیرون له طرفه دزخمونو په در ملنه کې کارول کیږي .

مګنیزیوم اسیتات

سپین رنګه پودر د په اوبو ،الکولو او ایتر کې غیر منحل دي مګر په پیرسدین کې حلیږي .

معمولا دا مرکب په طبابت کې د رطوبت جذبونکي مادې په حیث استعمالیږي .

کلسیم

کلسیم د ځمکنۍ القلي فلزاتو د جملي څخه دی چې په عضویت کې ډیر مهم فزیا لوجیکي رول لري په مختلفو انساجو خصو صا په هډ کو کې زیات شتون لري . اتومي نمبر یي (۲۰) ، اتومي وزن یي (۴۰) او ولانس یي (۲) دی .

کلسیم په طبیعت کې په ازاد حالت سره نه پیدا کیږي بلکي په مرکب شکل سره پیدا کیږي لکه کلسیم اکساید (CaO) ، کلسیم هایدرواکساید (Ca(OH)2] ، کلسیم سلفیټ

($CaSO_4$) ، کلسیم فاسفیټ $Ca_3 (PO_4) 2$ ، کلسیم کلورایډ اونور .

کلسیم د هډ کو په تر کیب کې شتون لري چې د هغې د کموالي په صورت کې د هډکو دردونه احساس کیږي او په ماشومانو کې د هډ کو د کوږ والې سبب کیږي .

کلسیم کاربونیت

کلسیم کاربونیت سپی رنګه پو د ر دی چې د ۱۰۰-۹۵ پوري خالص کلسیم کاربونیت لري .که چیري د کاربن داي اکساید غاز د کلسیم هایدرواکساید څخه تیر شي کلسیم کاربونیت حاصلیږي .

$$CO_2 + Ca(OH)2 \rightarrow CaCO_3 + HOH$$

طبي استعمال

کلسیم کاربونیت د انتي اسید په ډول کارول کیږي همدارنګه په هډکو د کموالي په صورت کې هم کلسیم کاربونیت استعمالیږي اود انتي بیتیک په شکل کارول کیږي.

باریوم

باریم هم یو ځمکني القلي فلز دی چې پا طبیعت کې د مرکب په شکل سره پیدا کیږي

اتومي نمبر یي ۵۶ ، اتومي وزن یي ۱۳۷ او ولانس یي (۲) دی .

باریم سلفیټ

باریوم سلفیت ذد باریم ډیر مهم مرکب دیچې د باریوم او سلفوریک اسید دتعامل څخه په اسانې سره لاسته راځی ږ باریوم سلفیت یو سپین بیرنګه او بي خونده پودر دیپه اوبو کې غیر منحل او الکولو او اسیټرن کې حلیږي

طبي استعمال

معمولا دکانترست موادو په شکل په رادیو گرافي کې کارول کیږي د معدې په داسیدي جوسونو کې منحل دي نو له دې کبله د سیستماتیک اغیز باعث نه کیږي .

زنگ یا جست

جست دانتقالي عناصرو د جملی څخه یو عنصر دي چې طبي اهمیت لري اتومي نمبر یي (۳۰) ، اتومي وزن یي ٦٥ او ولانس یي ۲ دی دکتالست په حیث او په کیمیاوي تعاملاتو کمې د لمړي مادې په حیث استعمالیږي.

دد جستو مهم مرکبونه عبارت دي له د جستو اکساید (Zn O) ، د جستو کاربونیت

($ZnCO_3$) ، د جستو سلفیت ($ZnSO_4$) او نور دي .

زنک اکساید (Zn O)

د جستو اکساید په زیاته پیمانه سره د فلزي جستو د سوزیدو څخه د هوا په شتون کې لاسته را ځي .

$$Zn + O_2 \rightarrow ZnO$$

د جستو اکساید یو سپین رنگه پود ر دی د تود وخې په ا ثر تجزیه کیږي په ا وبو کې غیر منحل دي چې د تودوخې په اثر زیر رنگ اختیاروي ا وو رسته بیرته خپل اولنې شکل څانه نیسي .

د جستواکساید د پیژند نې لپاره هغه سوزوي اوروسته یو اندازه سودیم هایدرو اکساید ور باندې علاوه کوي چې په شنه رنگه رسوب سره پیژندل کیږي .

طبي استعمال

د جستو اکساید عصبي نارو غیو په در ملنه کې ، د تشنج دمینځه وړلو لپاره د (۵۰) ملیگرام څخه گا ر اخستل کیږي ، مهم استعمال یي د پوستکي نا روغیو په در ملنه کې دی بر سیره پر دې سره د ستر گو تاروغیو په در ملنه کې د ملهمونوپه شکل سره کارول کیږي او همدارنگه د ماشومانو په پودرونو کې هم ور څخه کار اخستل کیږي .

د جستو سلفیټ

د جستو سلفیټ د د فلزي جستو او سلفوریک اسید د تعامل څخه په اسانې سره لاسته را ځي .

$$Zn + H_2SO_4 \rightarrow ZnSO_4 + H_2$$

سپین کرستلي شکل لري او ډی شفاف معلومیږي په اوبو منحل مگر پا الکولو کې نه حلیږي

طبي استعمال

د ضد عفوني يا مکروب وژونکي مادې په حيث استعماليږي ، يو (۱) فيصده محلول يي د سترگو نا رو غيو په د ر ملنه ا ود ستر گو د التهابونو په منځه و ړلو کې کا ر ول کيږي

اعراض اوعلا يم

Hypernatremia ناروغان عموماً په Dehydration اخته اوديهايډريشـن وصـفی اعراض اوعلايم موجود وي Hypernatremia په حالت کې داخل وعايې مايع Hypertonic يعنې داسموتيک فشاريې زيات وي داســموتيک gradiet موجوديت له کبله مايعات دحجرودمينځ څخه خارج حجروي مايعاتوته داخل دوينې فشــارمحافظه اودادرار زياتوالی صــورت نيســی هغه ماشــومان چې دمورشــيدوپه واســطه تغذيه کيږي دHypernatremia لـه کبلـه پـه شـــد يـدDehydration اختـه وي اوپوســـتکی يـي زيـړ رنـگـه وي.Hypernatremia پـه حـالـت کې دمرکزي عصـبی سـيسـتم عوارض هم ليـدل کيږی.مـاشـومـان مـخرش،نـارامـه، ضعيـف اوlethergic وي شـــديـدې تـنـدې دزړه بـدوالي،تـبـه،hyperglycemia اوHypercalcemia موجوده وي چې هايپرگلايسيمااوهايپرگلسيما ميکانيزم معلوم نه دی دماغي ضعف هم ليـدل کيـدا ی شي ځکه چې دخارج الحجروي مايعاتواســمولاريټي زياتوي اودماغي حجروڅخه مايعات نقليږي اود دماغي حجم زياتوالی ســبب کيږي.دماغي ضعف څخه ورســته اختلاج اوکوما پيداکيدای شي.دشديد Hypernatremia dehydration له کبله comolication thrombotic هم ليدل کيدای شي.

تداوي

که چېرې دناروغ شعوري حالت بيداروي نو ORSا ستعماليږی اوتداوي بايددلنډ وخت لپاره نه بلکې تداوي بايدداوږدې مودې لپاره اجراشي longer duration خالص اوبه اومورشـيدې هم بايددناروغ ته ورکړل شي داخل وريدی مايعات په هغه خالت کې اســتعماليږی چې ناروغ په شــعوري حالت کې بدلون پيداشــوي وي Hypercalcemia تداوی بايدورو،وروصورت ونيسي-اوچټکتياونشي-اوپه ۲۴ساعتونوکې دسيروم سوديم دمقدارکميدل بايد 12mEq/L څخه لږاوپه يوســاعت کې 0-5mEq/L وي دتداوی په ترڅ کې دســيروم سوډيم تعينول ډيراهميت لري ترڅوچې تداوي په مناسب اومعقول ډول سره سرته ورسيږي که چېرې دچټکې تداوي څخه ورسته اختلاج د دماغي نقصان پيداشي بايدHypotonic مايعات قطع اوsaline3%تطبيق شي چې دنوموړي تداوی په واسطه دسيروم سوډيم لوړاود دماغي اذيمادښه والی سبب کيږي Hypernatremic dehydration دموجوديـت پـه حـالـت کې داخـل وعـايې مـايعـاتوvolume بـايـد اعـاده شي اودنوموړی

منظوردتامین لپاره normalsaline ته دringer lactate په نسبت ترجیح ورکول کیږي څکه چې Ringerlactate سوډیم مقدارکم اودسیروم دچټک کموالی سبب کیږي حاده شدیده Hypernatremia چې په تالی ډول سره سوډیم دتطبیق څخه وروسته پیداکیږي بایدپه ډیرچټک ډول سره تداوي شي ترڅودosmol ldiogenic تجمع څخه مخنیوی وشی که چېرې ته شدیده sodium intoxication له کبله پیداشوي نودکافی مایعاتوتطبیق په واسطه تداوي ښایې امکان ونه لري په نومورې حالت کې peritoneal dialysis سوډیم دله منځه وړلولپاره اغیزناک دي په Dialysis کې بایدداسې مایع استعمال شي چې دګلوکوزمقداریې زیات اودسوډیم مقداریې کم وي په لږشدیدوناروغانوکې دDiuetcs تطبیق په واسطه سوډیم دعضویت څخه اطراح اودمایعاتودoverloadخخه هم مخنیوی کیږي دسوډیمس overload په حالت کې Hypernatremia چې دHypernatremia له کبله مینځته راځي عموماًدانسولین په واسطه نه تداوي کیږي څکه چې دګلوکوزچټک کموالی دپلازماداسمولاریتي دکموالی اوښایې د دماغي اذیمادچټکتیاسبب شي که چېرې دتداوي استطباب موجووي تالی Hypocamia هم تداوي کیږي هغه ماشومان چې په diabetes insipidus باندې اخته دي نو Desmopressin acetate ورته تطبیقیږي څکه چې دپښتورګوله لارې دمایعاتوداطراح دکموالی سبب کیږي اختلاج دسالین اویاHypertonic manito په واسطه تداوي کیږي .

د وینې په اسموتیک فشارکې د سودیم رول

دیومحلول اسموتیک فشاریوازې په مجموعي تعداد یوازې چې په محلول کې موجودوي ارتبات لري دوینې ازموتیک فشاردپښتورګوپه واسطه نسبت ثابت ساتل کیږي.دوینې ازموتیک فشاردانجمادټکې دښکته کیدلوداندازه کولوپه نتیجه کې معلومیدلای شي.د وینې مطابقت کوي.NaCL مولارمحلول دیوالکترولایت مولار(molar) په مقایسه دوه چنده اسموتیک فشارتولیدوي د0,9gm/100ml Na محلول یا0,15 مولارمحلول اسموتیک فشار،ټولې وینې یادپلازماداسموتیک فشارسره مساوي دي.د الکترولایتولپاره اسمولاریتي xدزراتوتعدادچې دهرمالیکول دآیونایزیشن څخه حاصلیږي.واحد داسموتیک فشارosmoses اسمول في لیترافاده کیږي چې Atmosphere یا17024mm Hg سره مطابقت کوي چې په بیولوژی کې په 1,100 osmoses mille ormolu ښودل کیږي چې د17mm Hg سره برابردي.

زمونږپه وینه کې دوه ډوله فشارونهشتون لري :

1ـ osmotic pressure یا Oncotic pressure

2ـ Hydrostatic pressure

0,9 NaCl ml/g محلول ته lsotonic یاphysiologic (که سره کرویات پدې محلول کې واچول شي خپل شکل ته تغیرورکوي)محلول وایې اماNaCl سوډیم کلورایډمحلول په حقیقت کې فزیالوجیک نه دي ځکه چې بدن ته ضروری ځینې نورآیونونه پکې نشته ځینې نورمحلولات چې نه یوازې ازوماټونیک دې بلکې دا آیونونه په ټاکلي اندزه پکې شته دفزیالوجیک له نظره مناسب ګڼل کیږي د دې متوازن ایزوټونیک محلولاتومثالونه دRinger Locke Ringer اوTyode محلولونه دي وینې پلازما Pancreatic Juice gastric juice دځیګرصفرا اوCar eosin nalfluid تقریباً نېژدې اسموتیک فشارونه تولیدوي اومساوي د300milli oms سره دي.


جدول: فزیالوژیک محلولات چې مختلف ایونیک ترکیب لري

	Saline (%)	Mammalian Ringer (%)	Ringer Locke (%)	Tyrode (%)
$Nacl$	0.9	0.86	0.9	0.8
$Cacl_2$	000	0.033	0.024	0.02
kcl	000	0.03	0.042	0.02
$NaHCO_3$	000	000	0.01-0.03	0.1
Glucose	000	000	0.01-0.02	0.01
$Mgcl_2$	000	000	0000	0.01
NaH_2po_4	000	000	0000	0.005

په کاهل نارینه ووکې دهیماتوکریت اندازه دښځوپه پرتله لوړه ده.اوهمدرنګه دپلازمااودسروکروياتونارمل مقدارپه نارینوکې نسبت وښځوته لوړدي.دسروکروياتودحجم نورمال اعدادپه نارینه ووکې د30ml/kg وزن دبدن اوپه ښځوکې د24ml/kg په حدودوکې دي.دوینې حجم دنارینه دبدن دوزن تقریباً75% اودښځودبدن دوزن65% تشکیلوي دوینې حجم دبدن **دmass په تناسب** یادبدن دسطحې دمساحت لوړښودل کیږي دشحمي نسج نسبت عضلاتي یاپرانشیمي نسج ته لږدي.

A-Snooded کې د بنسهي ریتم دایجادیدومیکانیزم

A-Snooded په داخل کې دAction potential په ثبت دزړه په درې سیکلونوکې ښودل شوي دي دبطینې دعضلینې دیو واحدAction potential سره پرتله شوي دي.



د دووچارجونوترمنځ دAnode S دالیافو potential د 60-55 ملي ولتوپوري وي چې د دې په پرتله همدرنګه potential په بطني الیافوکې د85-90mv پورې وي داحالت ځکه منځ ته راځي چې په بطني عضلي الیافوحجروي عشاء دسوډیم اوکلسیم ایون په وړاندې Leak وي چې د دې مثبتوایونونو ننوتلو دداخلي منفی حالت دکولمولامل ګرځي.په زړه کې Action potential د ولتیج په تغیرتوکې لاندې درې چاینلونه رول لري.

۱- Fast Sodium channels
۲- Slow Cacium Channels
۳- Potassium Channels

East sodium Channels یوې ثانیې په 1/10000 برخه کې خلاصیږي اودبطني عضلاتوپه Action potential کې دSpike دمنځته راتلومسولیت په غاړه لري ځکه چې په چټک ډول دسوډیم ایون دخپل مثبت چارج سره یوځای دحجرې داخل ته نفوذ کوي اوداحالت منخته راوړي ورپسې په بطني عضلاتوکې دAction potential په جریان کې دplateu صفحي دایجادیدوعلت Slow Calcium sodium Channels دوروخلاصیدوځخه عبارت دي چې داهم ثانیې په کم وخت کې (0,3sec) صورت نیسي،بالاخره دپوتاشیم چاینلونودخلاصیدودزیاتووالی له امله په زیاته اندازه پوتاشیم دخپل مثبت چارج سره یوځای دحجرې له داخل ځخه وځي،اوپه دې توګه داخلي potential بیرته داستراحت حا لت کې ورته ضرورت وي

د Sinus دعقدوي الیافو په خپله تنبه کیدنه:

لکه چې پوهیږوپه حجروي مایعاتوکې دسوډیم غلظت زیات دي،همدې امله داستراحت په حالت کې **Sinus** دعقدوي الیافوپه داخل کې برقي چارچ موجود دي اوسوډیم مثبت چارج سره یوځای دعقدی الیافوپه خارج کې موجود دی خونارمل حالت کې دسوډیم آیون په وړاندې حجروي عشاء **Leak** ده داستراحت په حالت کې **Sinus** عقدوي الیاف په منځني تعدادسره

چاینلونه لري چې همېشه دسوډیم آیون په وړاندې خلاص دي سوډیم آیون نفوذ دخپل مثبت چارج سره یوځای Membrane pop entail د+ په لورې وړي لکه څنګه معلومیږي تدریجی ډول دزړه دهردووضربانوپه منځ کې زیاتیږی خودقدمي یا**Threshold** دایجاد لپاره د **pop** Resting entail اندازه تقریباً40mv- ده چې په دې منفی برقي Threshold کې Calcium +sodium چاینلونه فعالیږي اوپه چټک ډول دواړه دسوډیم اوکلسیم ایونونه داخل ته ننوځي او پَه دې ترتیب د**Action potential** دایجادیدوسبب ګرځي،اساساً **Sinus** دعقدوي الیافوله لارې دسوډیم ذاتي داخلیدنه د Self-Excitation سبب ګرځي.که پوښتنه وشي چې دسوډیم ایونونوذاتي داخلیدنه د**AS**دعقدوي الیافودایمی Depolarization باعث ولې نه کیږي؟ ځواب یې دادی چې دوه واقعې Action potential په اثناکې د دې حالت (دایمی Depolarization مخنیوی کوی).کلسیم سوډیم چاینل دخلاصیدوځخه **150-100** ملی ثانیې وروسته بیرته بندیږي.دوړومبی حادثې سره جوحت دپوتاشیم چاینلونه خلاصیږي اوپه زیاته اندازه پوتاشیم دخپل مثبت چارج سره یوځای دحجرې د داخل ځخه خارج ته نفوذ کوي او **potential** Action ختمیږي،نوله یوپلوه داخل ته دمثبتوآیونونوته داخلیدل اوله بله پلوه له داخل نه دمثبتوایونونوبهرته د و تلولامل ګرځي.

پایله

سود یم داسي یو عنصر دي چې په زیاته پیما نه سره د سودیم کلورایډ ځخه لاسته راځي ، سود یم کلورایډ په طبعي ډو ل سره الله ج په زیا ت مقدار سره د بحر په اوبو کې او معد نو نو کې پیدا کړي دي ، سود یم کلورایډ د بدن په داخلي مایعاتو کې شتون لري . سر بیره پر دې سره سود یم کلورایډ په وینه دانسان کې **0,5%,** شتون لري ، سود یم کلورایډ داسي یو کیمیاوي مرکب دي دوه مهم عناصر چې سودیم یې فلز او کلورین یې غیر فلز دي ، د سود یم نور مر کبات هم په طبابت او ورځینې ژوند هم ښه رول لري .

و ړاند یزونه

۱: د ښوونې رو زني پوهنځي اداره ته دا وړاندیز کوم چې د کیمیا څانګې دلابراتوار لپاره داسي لابراتواري و سایل مهیا کړي تر څو چې استادان وکولي شي د محصلینو لپاره سودیم کلوراید په مختلفو نور مونو سره لاسته راوړي ،

۲: د شیخ زاید پوهنتون مشر تابه احتراما دا هیله کوم چې د ښوونې اوروزنې پوهنځي لابراوار لپاره داسي وساییل برابر کړي تر څو چې دکیمیا څانګې استادان او محصلین په هغې کې په مختلفو کیمیاوي موادو باندې ځیړنې په عملي ډول سره وکړي، سبب کېږي او کوما مینځ ته راځي.

The Importance of Sodium Compounds in the Human Body

Associate Professor. Amrullah Asifi Sheikh Zayed University – Faculty of Education – Department of Chemistry
Amrullah Asefi 53 @ gmail .com

Abstract
Sodium is a highly reactive metal that does not occur naturally in its pure elemental form but is found mainly in the form of compounds. Important sodium compounds include sodium chloride, sodium iodide, sodium sulfide, sodium carbonate, sodium sulfate, sodium nitrite, and sodium phosphate. Among these compounds, the biological importance and physiological roles of sodium chloride, sodium iodide, sodium sulfate, sodium nitrite, and sodium phosphate have been discussed. Objectives: The objective of this research article is to explain the importance of sodium compounds in the human body and body fluids and to highlight the adverse effects that may occur as a result of sodium deficiency. Significance: Sodium iodide plays an important role in thyroid function, while insufficient iodine intake may lead to the development of goiter. Sodium chloride is an essential component of body fluids and plays an important role in maintaining normal osmotic pressure and fluid balance in the blood. Sodium phosphate is also an important compound involved in several physiological processes, particularly those related to cellular metabolism and the nervous system. Sodium Metabolism: Sodium is an essential electrolyte of the extracellular fluid and has a vital role in maintaining the normal physiological functions of body fluids. It contributes significantly to the regulation of fluid balance, osmotic pressure, and normal cellular function. Signs and Symptoms of Sodium Deficiency: A deficiency of sodium in the body can cause an imbalance in the extracellular fluid and may lead to an increase in brain cell volume due to water movement into brain cells. In severe cases, hyponatremia may result in neurological symptoms, including confusion, seizures, loss of consciousness, and coma. Conclusion: Sodium compounds, particularly sodium chloride and sodium iodide, play important roles in maintaining normal physiological functions in the human body. Sodium chloride is widely distributed in nature, especially in mineral deposits and seawater. Adequate sodium and iodine intake is essential for maintaining fluid balance, normal cellular function, and thyroid health. Methodology: This research article was prepared using a library-based research method, with information collected and reviewed from relevant books, scientific literature, and reliable Internet sources.

ما خذ ونه

۱. احسان الله احسان (۱۳۹۴ل). د اندوکراین ، زړه رګونو او پښتورګو فزیالوژي ننګرهار پوهنتون. (ص ۱۰۴۰ ، ۱۰۵۰).

۲: احمدي احمد سير (۱۳۹۳ل). د دکوچنیانو ناروغي دوهم ټوک ننګرهار پو هنتون دطب پوهنځی (ص. ۱۰۴، ۱۰۵)

۳. اخکزی، درویزه (۱۳۷۸ل). عموعي عضوي او غیر عضوي کیمیا دریم ټوک ننګرهار پوهنتون (ص. ۲۵، ۳۸ ، ۸۹).

۴. احمدي، یعقوب. (۱۳۸۲ل). شیمیک کابل پوهنتون فارمسی پوهنځی. (ص. ۳۰، ۴۶ ،۱۲۱).

۵. سیفي، قمر الدین (۱۳۷۸ل). حیاتي کیمیا د ویني بیوشیمي افغان پوهنتون پشاور. (ص. ۲۸ ، ۵۴ ،۸۶ ،۹۳)

6- A textbook of organic chemistry b.sbahl. arunbahl 2008

pp (873,883)

7-Dr Boa C301;an;boa; hall;ac;nk; Heterocyclic chemistry pp(250,263)

8- Hart Harold Organic chemistry A short Course SsventhEdition Michigan State University PP(347,349)

9-Modren Alkaloid wileyvchverlagGmbhadCo KGAApp(320,340)

10-Organic Chemistry David Klein Johns Hopkins University(pp285,287)

11-Organic chmistryJohn McMurrypp (250,252)

12-Tapio Nevalainen Drug Synthesis11 (2012)University OF Eestern Finland pp(130,131)

په برېښنايي وسايلو باندې د ساکنې برېښنا اغېزې او د هغې د مخنيوي لارې چارې څېړل

پوهندوی توریالی همدرد د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي، بیزیک ساینس څانګې استاد
برېښنا لیک: tooryalai.hamdard1984@gmail.com

لنډیز

ســاکنه برېښــنا یوه عامه پدیده ده چې د جســمونو پر ســطحه د برېښــنایي چارجونو د ناانډولي له امله رامنځته کېږي. او د جسمونه یو بل منبلو، انډکشن په واسطه ساکنه بریښنا رامنځته کېږي، دا ناانډولي د الکټروستاټیکي تخلیې (Electrostatic Discharge - ESD) سبب ګرځي، چې د حساسو برېښنایي وسایلو د زیانمنډو وړتیا لري. پر عصري برېښــنایي وســایلو د ســاکنې برېښــنا اغېزې ورځ تر بلې د اندېښــنې وړ ګرځېدلې دي، ځکه چې برېښنایي وسایل ورځ تر بلې کوچني، نازک او پېچلي کېږي. په دې څېړنه کې د ساکنې برېښنا اغېزې پر بېلابېلو برېښــنایي وســایلو، لکه کمپیوټرونو، ځیرکو موبایلونو او نورو کورنیو برېښــنایي وســایلو باندې څېړل شــوې دي. همدارنګه، دا څېړنه څرګندوي چې ESD څنګه رامنځته کېږي، کوم ډول زیانونه رامنځته کوي، او تر ټولو مهمه دا چې د دغو زیانونو د مخنیوي یا کمولو لپاره کومې لارې او تخنیکونه کارول کېدای شي. په دې څېړنه کې بېلابېل میتودونه او ټکنالوژۍ، لکه د ساکنې بریښنا ضد دستکشې او د چاپېریال د رطوبت کنټرول ارزول شوی، ترڅو معلومه شي چې د ساکنې برېښنا د راټولېدو او تخلیې په کمولو کې څومره اغېزمن تمامیږي. د دې څېړنې موندنې د برېښــنایي وســایلو د ســاکنې برېښــنا پر وړاندې د ســاتنې لپاره عملي حل لارې وړاندې کوي، چې په پایله کې د برېښنایي وسایلو د عمر، باور وړتیا او کاري کیفیت ښه والي سبب ګرځي. همدارنګه، د دې مخنیوي لارو پلي کول دا لامل کېږي چې د ساکنې برېښنا اغېزې په خوندي او اغېزمن کاري چاپېریال کې تر ټولو ټیټې کچې ته راکمې شي.

کلیدي کلیمي : الکټروستاټیکي تخلیه(ESD) ، برېښنایي وسایل، د مخنیوي تخنیکونه، ساکنه برېښنا، ساکنې برېښنا ضد تدابیر.

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

ساکنه برېښنا یوه عامه فزیکي پدیده ده چې د جسمونو پر سطحه د برېښنایي چارجونو د راټولېدو له امله رامنځته کېږي او کولای شي پر برېښنایي وسایلو د پام وړ اغېزې ولري. دا برېښنا هغه وخت تولیدېږي چې دوه بېلابېل مواد له یو بل سره تماس پیدا کړي او الکترونونه له یو جسم څخه بل جسم ته انتقال کړي، چې په پایله کې د برېښنایي چارج نااندولي رامنځته کېږي(۱).

د ساکنې برېښنا اغېزې پر حساسو برېښنایي اجزاوو له کوچنیو ګډوډیو څخه نیولې تر جدي او بشپړو خرابیو پورې رسېدای شي. لکه څنګه چې ننني نړۍ ورځ تر بلې پر برېښنایي وسایلو ډېره تکیه کوي، د ساکنې برېښنا د خطرونو پېژندنه او د هغو مخنیوی ځانګړی اهمیت مونږلی، په ځانګړي ډول په هغو صنعتونو کې چې لوړ دقت لرونکي تجهیزات کاروي(۲).

د مصرفي برېښنایي وسایلو، د کمپیوټر د هارډویر او د مخابراتي وسایلو چټک پرمختګ د لا پرمختللو، کوچنیو او نازکو برېښنایي اجزاوو اړتیا زیاته کړې ده(۳) .

ساکنه برېښنا د دغو وسایلو لپاره یو جدي ګواښ ګڼل کېږي، ځکه چې حتی یوه کوچنۍ الکټروسټاټیکي تخلیه هم کولای شي یو ځای شوي سرکټونه ، د حافظې ماډیولونه او نور کوچني برېښنایي اجزاوې زیانمن کړي(٤).

له همدې امله، په تولیدي چاپېریالونو، پرچون پلورنځیو او د وسایلو د ورځني کارونې پر مهال د ساکنې برېښنا اغېزمن مخنیوی او سم مدیریت د برېښنایي وسایلو د سالمتیا، کیفیت او اوږدمهاله کارونې لپاره خورا مهم دی(۵).

د دې څېړنې موخه دا ده چې پر برېښنایي وسایلو د ساکنې برېښنا اغېزې وڅېړو، هغه خطرونه وارزوو چې دا پدیده یې رامنځته کوي، او د هغو مخنیوي تدابیر په هر اړخیز ډول تحلیل کړو چې د ساکنې برېښنا اغېزې کمولی شي. همدارنګه، دا څېړنه د هغو صنعتي معیارونو او اصولو ارزونه کوي چې د ساکنې برېښنا پر وړاندې د حساسو برېښنایي وسایلو د خوندي ساتنې لپاره کارول کېږي، د الکټروسټاټیکي تخلیې د مخنیوي غوره کړنلارې بیانوي، او د دې ستونزې د حل په برخه کې د نوې ټکنالوژۍ رول هم ارزوي. د برېښنایي وسایلو پر

زياتېدونکي کارونه او اړتيا سربېره، د ساکنې برېښنا درک او اغېزمن مديريت تر بل هر وخت ډېر مهم ګرځېدلی، ترڅو دا وسايل د وروستي کاروونکي لپاره په خوندي، باوري او اغېزمن ډول کار وکړي(۵).

ساکنې بريښنا تخليه د هغو خرابيو يوه فرعي برخه ده چې د برېښنايي زيات فشار په نوم پېژندل کېږي. دا حالت هغه وخت رامنځته کېږي چې يو برېښنايي تحريک کېدنه يوې برخې ته د هغې له ټاکل شوي زغم څخه بهر ورکړل شي(٦).

د ESD پېښه څلور اساسي پړاوونه لري:

١. د چارج توليد(Charge Generation) :په دې پړاو کې ساکن برېښنايي چارج رامنځته کېږي .
٢. د چارج لېږد(Charge Transfer) :په دې مرحله کې چارج له يوه جسم څخه بل جسم ته انتقالېږي .
٣. د چارج هادي (Charge Conduction) :چارج د برېښنايي لارې له لارې حرکت کوي او جريان جوړوي .
٤. د چارج له امله رامنځته شوی زيان (Charge-Induced Damage) :د چارج د لوړې انرژۍ له امله برېښنايي برخې خرابېږي(6).

د څېړنې موخه

د په برېښنايي وسايلو باندې د ساکنې برېښنا اغېزې او د هغې د مخنيوي لارې چارې څېړل تر عنوان لاندې د دې څېړنې موخه دا ده چې د ساکنې برېښنا او الکټروستاټيکي تخليې د رامنځته کېدو لاملونه، د برېښنايي وسايلو پر فعاليت، اعتبار او عمر باندې د هغې اغېزې وڅېړل شي. همدارنګه، د ESD د مخنيوي لپاره کارېدونکي علمي او تخنيکي ميتودونه، لکه ځمکې سره نښلول ،د ساکن بريښنا ضد وسايل، ESD ساتندوی سرکټونه او نړيوال معيارونه وپېژندل شي، څو د برېښنايي وسايلو د زيان مخه ونيول شي او د هغو خوندېتوب او اعتبار لوړ شي.

د څېړنې ارزښت

دا څېړنه له علمي، تخنيکي او عملي پلوه ځانګړی ارزښت لري، ځکه چې ساکنه برېښنا د برېښنايي وسايلو د خرابېدو، د نيمه‌هادي وسايلو د زيانمنېدو او د صنعتي توليداتو د کيفيت د کمېدو له مهمو لاملونو څخه ده. د دې څېړنې پايلې به د برېښنايي انجينری، الکترونيک، کمپيوټر او مخابراتو د محصلينو، استادانو، څېړونکو او تخنيکرانو لپاره ګټوړې وي. همدارنګه، د ESD د مخنيوي د اغېزمنو لارو چارو په پېژندلو سره به د برېښنايي

وســایلو اعتبار او کاري عمر زیات، د ترمیم او بدلون لګښــتونه کم، او د تولید او ســاتنې په چاپېریال کې به د نړیوالو ESD معیارونو د پلي کولو اهمیت لا روښانه شي.

میتود او کړنلاره

په دې څېړنه کې د ګډې څېړنیزې طریقې څخه کار اخیستل شوی، ترڅو پر برېښنایي وسایلو د ساکنې برېښنا اغېزې وڅېړل شي او د هغې د مخنیوي مناســبې لارې وموندل شي. په دې طریقه کې کیفي (Qualitative) او کمي (Quantitative) میتودونه یوځای کارول شــوي، چې پکې عملي تجربې او د اړوندو علمي سرچینو هراړخیزه بیاکتنه شامله ده.

د څېړنې په عملي برخه کې **د** الکټروستاټیکي تخلیې (Electrostatic Discharge - ESD) پېښې د انساني بدن ماډل (Human-Body Model - HBM) او د ماشــین ماډل (Machine Model - MM) له لارې رامنځته شوې، ترڅو د هغو اغېزې پر مصرفي برېښنایي وسایلو لکه ځیرکو موبایلونو، لپټاپونو او برېښنایي سرکټي تختو وڅېړل شي. په کنټرول شــویو ازموینو کې د ولټاژ کچه، د تخلیې سرعت او د رامنځته شــوي زیان اندازه شــوې، ترڅو هغه حدونه معلوم شي چې په کومه کچه الکټروستاټیکي تخلیه وسایلو ته زیان رسوي.

له دې سره یوځای، د تیرو ادبیاتو ته کتنه کې پخوانۍ علمي څېړنې، صــنعتي معیارونه او د ســاکنې برېښــنا ضد ټکنالوژۍ وروســتي پرمختګونه ارزول شــوي، ترڅو د الکټروســتاټیکي تخلیې عامې سرچینې، د خطر د کمولو لارې او غوره عملي کړنلارې وپېژندل شي.

د معلوماتو د راټولولو لپاره د الکټروســتاټیکي تخلیلي د اندازه کولو وســایل، ظاهري کتنې او د الکټرونیکي وســایلو خرڅونکو او بریښــنایي ماهرینو سره مرکې کارول شــوې دي. همدارنګه، د تجربوي معلوماتو د تحلیل لپاره احصایوي تحلیل او د کیفي معلوماتو د ارزونې لپاره موضوعي تحلیل ترسره شوی دی.

دا ګډه څېړنیزه طریقه د الکټروستاټیکي تخلیې د اغېزو په اړه هر اړخیزه پوهه وړاندې کوي او د تولیدوونکو او مصرفوونکو لپاره د هغو نوښــتګرو حل لارو په پېژندلو کې مرســته کوي چې د ســاکنې برېښــنا له امله رامنځته کېدونکي خطرونه په اغېزمنه توګه راکم کړي.

پايلې او مناقشه

د دې څېړنې پايلې په دوو برخو وېشل شوې دي: د عملي تجربو (Experimental Investigation) موندنې **او** د علمي ادبياتو د بياکتنې (Literature Review) موندنې. دغه موندنې پر برېښنايي وسايلو د ساکنې برېښنا اغېزې په روښانه ډول بيانوي او د دې ستونزې د مخنيوي لپاره اغېزمنې سپارښتنې او مناسبې لارې چارې وړاندې کوي.

د ولتاژ او الکټروسټاټيکي تخليې کچه: د تجربو پر مهال ساکنه برېښنا د انساني بدن ماډل (HBM) او د ماشين ماډل (MM) په وسيله توليد شوه. ازموينو وښودله هغه برېښنايي وسايل چې د HBM له لارې د 2Kv او د MM له لارې د 4Kv ولتاژ سره مخامخ شول، د زيان خرګندې نښې يې ښکاره کړې. په ازموينو کې ځيرک موبايلونه ، لپټاپونه او برېښنايي سرکټي تختې شاملې وې. په ډېرو مواردو کې، ټيټ ولتاژ سمدستي ښکاره زيان نه رامنځته کاوه، خو د څو ساعتونو يا څو ورځو کارونې وروسته يې د وسايلو په فعاليت کې ستونزې پيدا کړې. د بېلګې په توګه، په لپټاپونو کې د پردې يا سکرين رېپدل ليدل کېدل، او په ځيرکو موبايلونو کې ناڅاپي بياچالانېدل او د لمس پردې د حساسيت ستونزې رامنځته شوې(۷).

د زيان حد: د راټولو شــويو معلوماتو له مخې، د HBM لپاره د 3Kv او د MM لپاره د 5Kv ولتاژ هغه حد و، چې له هغې پورته برېښنايي وسايلو ته دايمي زيان رسېده. په دغو زيانونو کې د برېښنايي اجزاوو سوځېدل او د سرکټي تختو بشــپړ له منځه تلل شــامل وو. هغه وســايل چې له دې ټاکل شــوې کچې څخه د لوړې الکټروسټاټيکي تخليې سره مخامخ شوي وو، د جدي کاري خرابيو ښکار شول، لکه شارټ سرکټ، او يا هم وسايل په بشپړه توګه نه چالانېدل(7).

ځيرک موبايلونه: د ځيرک موبايلونو پردې د ســاکنې برېښــنا پر وړاندې ډېرې حســاســې ثابتې شــوې. الکټروسټاټيکي تخليه د پردې د ناسم ښودنې، د لمس پردې د نه ځواب ويلو او په ځينو مواردو کې د پردې د پکسلونو دايمي زيان سبب شوه(۸).

لپټاپونه: لپټاپونه په عمومي ډول د الکټروسټاټيکي تخليې پر وړاندې تر ځيرکو موبايلونو ډېر مقاومت لرونکي وو، خو د هغوی ځينې داخلي برخې، لکه USB پورټونه او د چارج کولو سرکټونه زيانمن شــول. په ځينو ازموينو کې د معلوماتو خرابوالی يا له منځه تګ هم مشاهده شول(۳).

برېښـــنايي سرکټي تختې: د لوړې کچې الکټروســـتاټيکي تخليې له امله يوځای شـــوي سرکټونو ICs ته نه جبرانېدونکی زيان ورسېږ، او ځينې برېښنايي چپونه په بشپړه توګه شارټ شول او له کاره ولوېدل(۵).

د دې څېړنې پايلې ځرګندوي چې ساکنه برېښنا د برېښنايي وسايلو پر حساسو داخلي اجزاوو خورا جدي او زيانمنې اغېزې لري، او که مناسب محافظتي تدابير ونه نيول شي، د وسايلو د خرابېدو او د کار له لاسه ورکولو احتمال ډېر لوړ وي(۷).

د الکټروســـتاټيکي تخليې عامې سرچينې: د علمي ادبياتو د بياکتنې پايلو وښـــودله چې په هغو چاپېريالونو کې چې برېښنايي وسايل کارول کېږي، د ساکنې برېښنا څو عامې سرچينې شتون لري. مهمې سرچينې يې په لاندې ډول دي: الف) د انسان فعاليت: د خلکو تګ راتګ او حرکت، په ځانګړي ډول په هغو ځايونو کې چې د هوا رطوبت ټيټ وي، د ســاکنې برېښـنا د چارجونو د توليد لامل کېږي. دغه چارجونه وروســته د الکټروســتاټيکي تخليې په بڼه نړدې برېښـــنايي وســـايلو ته انتقالېږي او هغوی ته زيان رســـولای شي. ب) مصـــنوعي مواد :هغه فرنيچر، غالۍ او جامې چې له مصنوعي يا سنتيټيک موادو څخه جوړې شوې وي، د ساکنې برېښنا د چارجونو په راټولېدو کې مهم رول لري او د الکټروســـتاټيکي تخليې احتمال زياتوي. ج) چاپېريالي عوامل :د هوا ټيټ رطوبت د الکټروستاټيکي تخليې د پېښـو د زياتېدو له مهمو لاملونو څخه ګڼل شـوې ده. کله چې رطوبت کم وي، ساکنه برېښنا په اسانۍ سره راټولېږي او د برېښنايي وسايلو د زيانمنېدو خطر زياتېږي(7).

د مخنيوي تدابير او غوره کړنلارې : د علمي ادبياتو د بياکتنې له مخې، يو شـــمېر مهم تدابير او غوره کړنلارې پېژندل شـوې دي چې د ساکنې برېښـنا له امله رامنځته کېدونکي خطرونه په اغېزمنه توګه کموي. دغه تدابير په لاندې ډول دي. الف) ځمکې سره نښـــلونه (Grounding) او د الکټروســـتاټيک تخليې ضد مېټونه (ESD) :(Mats د هغو کسانو لپاره چې پر حساسو برېښـنايي وسايلو کار کوي، د ځمکې سره نښلونې په وخت کې د ساکنې بريښنا ضد ميټونه او ساکن بريښنا ضد دستکشې کارول د الکټروستاټيکي تخليې د مخنيوي له تر ټولو مهمو او اغېزمنو لارو څخه ګڼل کېږي. ب) د چاپېريال کنټرول: ســپارښـتنه شـوې چې په هغو ځايونو کې چې برېښـــنايي وســـايل کارول کېږي، د هوا رطوبت د 40% څخه تر 60% پورې وســـاتل شي، ځکه دا کچه د ســـاکنې برېښـــنا د راټولېدو احتمال کموي. په وچو ســـيمو کې د رطوبت زياتولو لپاره د هوا لمدونکو وســـايلو کارول هم د دې خطر په کمولو کې اغېزمن تمامېږي. ج) د الکټروستاټيک تخليه پر وړاندې خوندي مواد: نن سبا ډېر توليدوونکي شرکتونه د برېښنايي وسايلو او د هغوی د اجزاوو په جوړولو کې د الکټروستاټيک تخليې پر وړاندې خوندي مواد کاروي، چې د ساکنې برېښـنا پر وړاندې د وسايلو حساسيت کموي او د زيان احتمال

راټيټوي. د) سمه ساتنه او زېرمه کول: د برېښنايي اجزاوو ساتل په ساکنې بريښنا ضد کڅوړو کې، او همدارنګه د وسايلو بند ساتل کله چې کار ورځخه نه اخيستل کېږي، د الکټروستاټيکي تخليې له امله د رامنځته کېدونکي زيان د مخنيوي لپاره مهم او اغېزمن اقدامات ګڼل کېږي(1).

ټکنالوژيکي پرمختګونه: د علمي ادبياتو بياکتنې دا هم څرګنده کړه چې د ساکنې برېښنا ضد ټکنالوژۍ په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي. نوي مواد، لکه هادي پوښونه او د ساکنې برېښنا خپروونکي پلاستيکونه، اوس د برېښنايي وسايلو په جوړولو کې کارول کېږي، ترڅو د الکټروستاټيکي تخليې پر وړاندې د وسايلو ساتنه لا پياوړې شي. سربېره پر دې، په نويو برېښنايي وسايلو کې د جوړشوو الکټروستاټيک تخليې محافظتي کارونه ورځ تر بلې عام کېږي. دغه محافظتي سرکټونه د الکټروستاټيکي تخليې زيانمنې اغېزې کموي او د حساسو برېښنايي اجزاوو د خوندي پاتې کېدو، د وسايلو د باور وړتيا او د هغوی د کاري عمر د زياتېدو لامل ګرځي. د څېړنې پايلې دا هم څرګندوي چې که څه هم ځينې وسايل، لکه لپټاپونه، د ساکنې برېښنا پر وړاندې نسبتاً ډېر مقاومت لري، خو ځيرک موبايلونه او برېښنايي سرکټي تختې د الکټروستاټيکي تخليې پر وړاندې ډېرې حساسې دي. له همدې امله، د دغو وسايلو د توليد، لېږد، ساتنې او کارونې پر مهال بايد لا پياوړي محافظتي تدابير او غوره کاري اصول په پام کې ونيول شي.(۹)

د ساکنې برېښنا سرچينې او د مخنيوي تدابير : د علمي ادبياتو د بياکتنې له مهمو موندنو څخه يوه دا ده چې د ساکنې برېښنا عامې سرچينې وپېژندل شوې، چې پکې د انسان فعاليتونه، مصنوعي مواد او چاپېريالي عوامل شامل دي. ساکن برېښنايي چارجونه د حرکت له امله (لکه پر غالیو قدم وهل) يا د مصنوعي موادو ترمنځ د اصطکاک له امله (لکه پلستر او نايلون) رامنځته کېږي. دغه سرچينې داسې چاپېريال جوړوي چې پکې برېښنايي وسايل په دوامداره توګه د الکټروستاټيکي تخليې له خطر سره مخامخ وي(7).

د علمي ادبياتو له مخې، د ساکنې برېښنا د خطرونو د کمولو لپاره څو عملي مخنيوي لارې هم پېژندل شوې دي:

۱ -ځمکې سره نښلونه او د ساکنې بريښنا تخليې ضد مېټونه : ځمکې سره نښلونه د برېښنايي وسايلو د ساتنې له تر ټولو اغېزمنو لارو څخه ده. د ساکنې بريښنا ضد ميټونو او دستکشو کارونې سره کولای شو د ساکنې برېښنا د چارجونو د راټولېدو مخه ونيسو ترڅو دغه چارجونه په خوندي ډول ځمکې ته انتقال شي.دغه تدابير په

ځانګړي ډول په هغو ځایونو کې ډېر ګټور دي چې د برېښنایي وسایلو د راټولولو او ترمیم چارې ترسره کېږي، ځکه تخنیکاران هلته له حساسو برېښنایي اجزاوو سره کار کوي(7).

۲ -د چاپېریال کنټرول: د هوا رطوبت د ساکنې برېښنا د مخنیوي په برخه کې مهم رول لري. په وچو چاپېریالونو کې ساکنه برېښنا په اسانۍ سره راټولېږي او د الکټروسټاټیکي تخلیې د پېښو خطر زیاتوي. د هوا د مناسبې رطوبت کچې ساتل60%-40% پورې کولای شي د ساکنې برېښنا راټولېدل کم کړي او د برېښنایي وسایلو ساتنه وکړي.په کورونو او کاري ځایونو کې د هوا لمدونکو وسایلو کارول، په ځانګړي ډول د ژمي په میاشتو کې چې د هوا رطوبت زیات وي، کولای شي د الکټروسټاټیکي تخلیې د رامنځته کېدو پېښې په خرګند ډول راکمې کړي. ټکنالوژیکي پرمختګونه او راتلونکې لارې چارې : دې څېړنې یو شمېر هغه ټکنالوژیکي پرمختګونه هم وپېژندل شول چې موخه یې په برېښنایي وسایلو کې د ساکنې برېښنا خطرونو کمول دي. په عصري برېښنایي وسایلو کې د پرمختللو ساکنې بریښنا تخلیې محافظتي سرکټونو جوړول او کارول ورځ تر بلې عام کېږي. دغه سرکټونه داسې ډیزاین شوي چې الکټروسټاټیکي تخلیه د دې وړتیا ولري چې له حساسو برېښنایي اجزاوو څخه مخکې یې جذب او خپره کړي، ترڅو وسایلو ته دایمي زیان ونه رسېږي(۷).

ساکنه برېښنایي تخلیه تر اوسه پورې د یوې منفي پدیدې په توګه پېژندل شوې ده، ځکه چې دا کولی شي بېلابېل زیانونه رامنځته کړي، لکه :د ګازونو چاودنې، د ځنګلونو اورلګېدنې، د مدغم سرکټونو (ICs) خرابوالی(۱۰).

سربېره پر دې، د نویو موادو په اړه څېړنو، لکه هادي پولیمرونه او نانو مواد ، د ساکنې بریښنا تخلیې د ساتنې لپاره نوې لارې پرانیستې دي. دغه مواد سپک وزن لري، لګښت یې کم دی، او د ساکنې برېښنا د تخلیې پر وړاندې غوره محافظت برابروي. د دغو موادو یوځای کول په مصرفي برېښنایي وسایلو کې کولای شي لا ډېر دوامدار، باوري او اوږد عمر لرونکي وسایل رامنځته کړي(۸).

د دغو ټکنالوژیکي پرمختګونو سربېره، څېړنه خرګندوي چې لا هم د ساکن بریښنا تخلیې محافظتي ټکنالوژیو د لا پراخ پلي کېدو اړتیا شته، په ځانګړي ډول په هغو چاپېریالونو کې چې برېښنایي وسایل په مکرر ډول د ساکنې برېښنا له خطر سره مخامخ کېږي. هغه صنعتونه چې د برېښنایي محصولاتو په تولید او راټولولو کې فعالیت کوي، او همدارنګه هغه مصرفوونکي چې په ورځني ژوند کې له دغو وسایلو څخه کار اخلي، باید د ساکنې برېښنا د مخنیوي موضوع ته لا ډېر لومړیتوب ورکړي(۱۱).

د ســاکنې برېښــنا د مخنیوي لپاره دوامداره پاملرنه، مناســب محافظتي تدابیر او د ســاکنې بریښــنا تخلیي د خوندیتوب اصولو مراعات کول د دې لپاره ضروري دي چې برېښنایي وسایل خوندي، باوري او اوږدمهاله کار وکړي(11).

د ساکنې برېښـنایي تخلیې پدیدې لا هم یوه مهمه سـتونزه ده، ځکه چې د ټکنالوژۍ د کوچني کېدو، د لوړې فریکونسۍ اړتیاوو او د پېرېدونکو د زیاتېدونکو طمعو له امله د برېښنایي وسایلو حساسیت زیات شوی دی.په ورته وخت کې، د ESD ســاتندوی شــبکې، تخنیکونه او د ډیزاین طریقې په نیمه‌هادي ټکنالوژۍ کې د تدریجي او بنسټیزو بدلونونو له امله په دوامداره توګه بدلېږي(۱۲).

د ساکنې برېښنا تخلیه چې د ساکنې برېښنا له امله تولید شوي چارجونه د مدغم سرکټ IC دننه تخلیه کوي، د ډېر کوچنیو برېښـنایي وسـایلو لپاره له مهمو د اعتبار (Reliability) سـتونزو څخه یوه ده .دا سـاکن برېښـنایي چارج کولی شي تر لســګونو زرو ولټونو پورې ولتاژ رامنځته کړي. دا ډېر لوړ ولتاژونه د نیمه‌هادي وســایلو په اوږدو کې ډېر قوي برېښنایي میدانونه او جریانونه تولیدولی شي، چې پایله یې کېدای شي:

- د عایق موادو زیانمنېدل(Dielectric Damage) ،
- د نیمه‌هادي موادو وېلې کېدل(Melting of Semiconductors) ،
- او د برېښنایي تماسونو (Contacts) خرابېدل وي (13).

راپور ورکړل شـوی چې د IC وسـایلو تر ۷۰٪ پورې خرابی د ESD له امله رامنځته کېږي. له همدې امله، اړینه ده چې د هرې پـایې (Pin) لپـاره د ســاتنې ځـانګړی سرکـټ طرحـه شي، څو د ESD انرژي د ځمکې (Ground) پر لور تخلیه کړي(۱۳).

نتیجه ګیري

دا څېړنه د برېښنایي وسایلو پر وړاندې د ساکنې برېښنا د پام وړ اغېز روښانه کوي. ساکنه برېښنا کولای شي له کوچنیو کاري ســتونزو څخه نیولې تر بشــپړ خرابېدو پورې زیانونه رامنځته کړي، په ځانګړي ډول په حســاســو وسایلو لکه ځیرک موبایلونو، لېپټاپونو او سرکټي تختو کې.

مخنیوي تدابیر، لکه ځمکې سره نښلونه (Grounding) ، د ساکنې بریښنا ضد مواد، د چاپېریال کنټرول (په ځانګړي ډول د رطوبت تنظیم (او د وسایلو سره سم چلند ، کولای شي د ساکنې بریښنا راټولېدل په اغېزمن ډول کم کړي او وسایل د ګرانبیه زیانونو څخه خوندي وساتي. که څه هم د ساکنې بریښنا تخلیې محافظتي ټکنالوژیو په برخه کې، لکه د ساکنې بریښنا ضد پوښونه او ساکنې بریښنا تخلیې خوندي بسته بندۍ، د پام وړ پرمختګونه شوي دي، خو لا هم اړتیا شته چې په بېلابېلو صنعتونو کې د دغو ټکنالوژیو پلي کول لا پراخ شي . ځکه ځینې وخت ډېر ارزښت لرونکي مواد له منځه ځي.

په محافظتي سرکټونو، نویو موادو او د ساکنې بریښنا تخلیې د کنټرول د اصولو په برخه کې دوامداره نوښتونه او پرمختګونه د ساکنې بریښنا له امله د زیانونو د کمولو او د بریښنایي وسایلو د عمر د زیاتولو لپاره ډېر مهم دي.

لکه څنګه چې په بریښنایي وسایلو زمور تکیه ورځ تر بلې زیاتېږي، نو د بریښنایي وسایلو صنعت باید د ساکنې بریښنا د مدیریت لپاره هراړخیزې تګلارې او ستراتیژۍ لومړیتوب وګرځوي، ترڅو ټکنالوژي په دواړو صنعتي چاپېریالونو او د مصرفوونکو د ورځني کارونه په شرایطو کې خوندي پاتې شي. د بریښنا وسایلو جوړنکي هم باید داسې وسایل جوړ او تولید کړي چې د ساکنې بریښنا تخلیې څخه خوندي وي.

وړاندیزونه

دا چې په ورځني ژوند کې ساکنه بریښنا سره مونږ او تاسې مخامخ کېږو نو بریښنایي وسایلو د تخریب ترڅنګ نورې ستونزې هم ایجادولی شي، کله کله داسې هم کېږي چې په هغه مناطقو کې چې د هوا رطوبت ډېر کم وي د اور لګیدو باعث ګرځي او په محیط کې د اور لګیدو له امله خلکو ته ځاني او مالي زیانونه رسېږي، نو پکار ده چې لاندې اصول په پام کې ونیسئ:

۱. په هغه ځایونو کې چې د هوا رطوبت کم وي د پطرول پمپونو خاوندان او نور سون توکو څښتنان باید کوښښ وکړي داسې اجناس چې د اور لګیدو چانس پکې زیات وي د هوا رطوبت منظم وساتي.

۲. ددې لپاره چې د الکتروستاتیکي تخلیې مخه مو نیولي وي د بریښنایي وسایلو جوړونکو شرکتونو څخه مو غوښتنه دا ده چې په دې برخه کې داسې مواد بریښنایي وسایلو کې وکاروي چې د ساکنې بریښنا تخلیې چانس پکې کم شي ترڅو په راتلونکي کې ښه تولید وړاندې کړي. او د بریښنایي وسایلو سوزیدو خطر کم شي.

۳. وزارت بریښنا او اړوند ریاستونه باید بریښنا وسایلو پلورنکو ته د ساکنې برېښنا د خطرونو او د هغې د مخنیوي په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره کړي.

۴. د برېښنایي وسایلو کاروونکي باید د وسایلو د لمس کولو پر مهال د ساکنې برېښنا د تخلیې لپاره مناسبې لارې وکاروي، لکه د ځمکنۍ (Grounding) سیستم کارول.

۵. په کورونو، ښوونځیو، روغتونونو، پوهنتونونو او نورو ادارو کې د برېښنایي وسایلو د خوندي کارونې اصول مراعات شي.

٦. په هغو ځایونو کې چې حساس برېښنایي وسایل کارول کېږي، د ساکن بریښنا ضد توکي، لکه مټونه، دستکشې او کڅوړې وکارول شي.

۷. د برېښنایي وسایلو د ساتنې او ترمیم پر مهال تخنیکي او خوندیتوب لارښوونې په جدي ډول مراعات شي.

۸. تعلیمي ادارې دې د ساکنې برېښنا او د هغې د اغېزو په اړه علمي موضوعات د خپلو درسي او روزنیزو پروګرامونو برخه وګرځوي.

۹. خلک دې وهڅول شي چې د برېښنایي وسایلو د اخیستلو او کارولو پر مهال د کیفیت او خوندیتوب نړیوال معیارونه په پام کې ونیسي.

۱۰. اړوند دولتي او خصوصي ادارې دې د برېښنایي وسایلو د خوندي کارونې لپاره لازمې لارښوونې او معیارونه پلي کړي.

۱۱. د ساکنې برېښنا له امله د وسایلو د خرابېدو د مخنیوي لپاره دې د منظمې ساتنې او معاینې فرهنګ ته وده ورکړل شي.

Investigation of the Effects of Electrostatic Discharge (ESD) on Electronic Devices and Prevention Methods

Assistant Professor Tooryalai Hamdard, Department of Basic Science, Medical Faculty of Nangarhar University

Abstract

Static electricity is a common natural phenomenon that results from an imbalance of electric charges on the surface of objects. It is generated through friction between objects, contact, or electrostatic induction. This imbalance can lead to Electrostatic Discharge (ESD), which has the potential to damage sensitive electronic devices. The effects of static electricity on modern electronic equipment have become an increasing concern because electronic devices are becoming smaller, more delicate, and more complex. This study investigates the effects of static electricity on various electronic devices, including computers, smartphones, and other household electronic appliances. It also explains how Electrostatic Discharge (ESD) occurs, the types of damage it can cause, and, most importantly, the methods and techniques that can be used to prevent or minimize such damage. Furthermore, different ESD protection methods and technologies, such as antistatic gloves and environmental humidity control, are evaluated to determine their effectiveness in reducing the accumulation and discharge of static electricity. The findings of this study provide practical solutions for protecting electronic devices against static electricity, thereby improving their lifespan, reliability, and overall performance. In addition, the implementation of these preventive measures helps minimize the harmful effects of static electricity and contributes to the creation of a safer and more efficient working environment.

Keywords: Anti-Static Measures, Electronic Devices, Electrostatic Discharge (ESD), Prevention Techniques, Static Electricity.

ماخذونه

1.Davis, M. S .(۲۰۱۸) .*Investigation into the Effects of Static Electricity on Wind Turbine Systems* .IEEE.

2.Galembeck, F. A .(۲۰۱۷) .*Accidents and losses caused by electrostatic discharge. Chemical Electrostatics: New Ideas on Electrostatic Charging: Mechanisms and Consequences* .Springer.

۳.Gizatullin, Z .(۲۰۱۹) .& .*Research of noise immunity of computing equipment under exposure of electrostatic discharge* .IEEE.

4.Lee, C. H .(۲۰۲۰) .*Electrostatic discharge prevention system via body potential control based on a triboelectric nanogenerator. Nano Energy* .ELSEVIER.

5.LIOU, J. E .(۲۰۰۰) .Electrostatic Discharge in Semiconductor Devices: Protection Techniques .IEEE.

6.Sarbishaei, H .(۲۰۰۷) .Electrostatic Discharge Protection Circuit for High-Speed Mixed-Signal Circuits *© .Hossein Sarbishaei 2007*.

7.Smallwood, J .(۲۰۱۸) .*Reducing static electricity in carpets. In Advances in carpet manufacture* .Elsevier.

8.Voldman, S. H .(۱۹۹۹) .The State of the Art of Electrostatic Discharge Protection: Physics, Technology Circuits, Design, Simulation, and Scaling .*IEEE*.

9.Vorshevskii, A. A .(۲۰۱۷) .*The Influence of Electrostatic Charge on the Stability of Electronic and Electrical Equipment* .Springer.

10.Wenjie Wu, T. Y .(۲۰۱۹) .Application of Displacement-Current- Governed Triboelectric Nanogenerator in an Electrostatic Discharge Protection System for the Next-Generation Green Tire .ACSNANO.

11.Wood, J. S .(۲۰۲۰) .*Static electricity. Hyperbaric Facility Safety* .United state : Best publishing company.

12.Xu, X .(۲۰۲۰) .& .*Grounding techniques for preventing static electricity damage in electronic equipment* .Journal of Electrical Engineering.

1**۳.**Zhao, Y. Y .(۲۰۲۲) .*Principle and Analysis of EMS: Static Electricity Mechanism and Protection:Electromagnetic Compatibility Principles and Applications* . Springer.

د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ د اړیکو څېړل

پوهندوی احسان االله همتي، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، ریاضي څانګه
برېښنالیک: Ehsanullah.hemati@gmail.com

لنډیز

مصنوعي ځېرکتیا (Artificial Intelligence) د معاصرې ټکنالوژۍ له هغو برخو څخه شمېرل کېږي، چې په وروستیو لسیزو کې یې د علم، صنعت، اقتصاد، روغتیا، تعلیم او ټولنیزو چارو په ډګرونو کې پراخ بدلونونه رامنځته کړي دي. د مصنوعي ځېرکتیا سیستمونه د انسان د فکري فعالیتونو لکه زده کړې، استدلال، پرېکړه کولو او مسئلو د حل کولو د تقلید په موخه طرحه کېږي. سره له دې چې مصنوعي ځېرکتیا د کمپیوټر ساینس یوه څانګه ګڼل کېږي؛ خو د دې علم اساس او بنسټیز چوکاټ د ریاضیاتو پر اصولو او قواعدو باندې ولاړ دی. خطي الجبر، احتمالات، احصایه، تفاضلي حساب او ګټوره جوړونه د مصنوعي ځېرکتیا د الګوریتمونو او ماډلونو د جوړښت مهم عناصر ګڼل کېږي . د دې څېړنې موخه د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ د اړیکو علمي ارزونه او تحلیل دی. څېړنه کتابتوني بڼه لري او معلومات یې د معتبرو علمي کتابونو، څېړنیزو مقالو او اکاډمیکو سرچینو څخه راټول شوي دي. د څېړنې پایلې څرګندوي، چې د مصنوعي ځېرکتیا پرمختګ په مستقیم ډول د ریاضیاتو له پرمختګ سره تړاو لري او د مصنوعي ځېرکتیا د مفاهیمو ژوره پوهه د ریاضیاتو له پیاوړې پوهې څخه پرته ناشونې ده. همدارنګه څېړنه ښیي، چې د ماشیني زده کړې، ژورې زده کړې او نورو پرمختللو ځېرکو سیستمونو دقت او اغېزمنتوب د هغه ریاضیکي ماډلونو له کیفیت سره تړاو لري، چې پکې کارول کېږي.

کلیدي ټکي : احصایه، احتمالات، خطي الجبر، ریاضیات، ژوره زده کړه، ماشیني زده کړه، مصنوعي زیرکتیا.

سریزه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.

په ننني عصري نړۍ کې، د ساینس او ټکنالوژۍ چټک پرمختګ د بشري ژوند هر اړخ اغېزمن کړی او د بشري ژوند په بېلابېلو برخو کې يې ژور بدلونونه رامنځته کړي دي. له دې پرمختګونو څخه يوه مهمه لاسته‌راوړنه د مصنوعي زيرکتيا (Artificial Intelligence – AI) منځته راتګ دی، چې د علمي او صنعتي انقلاب نوی پړاو يې رامنځته کړی او اساسي موخه يې دا ده، چې ماشينونه او کمپيوټرونه بايد د انسان په څېر فکر وکړي، تصميم ونيسي، زده‌کړه وکړي او مسأيل حل کړي. نن ورځ مصنوعي څېرکتيا د روغتيا، بانکداری، کرنې، انجينری، ښوونې او روزنې، مخابراتو او امنيت په برخو کې په پراخه کچه استعمالېږي او د بشري ژوند د مسايلو د حل لپاره اغېزمنې لارې چارې وړاندې کوي.

مصنوعي څېرکتيا د هغو کمپيوټري سيستمونو د جوړولو علم دی، چې د انسان په څېر د فکر کولو، زده کړې او پربکړې کولو وړتيا ولري. دغه سيستمونه د معلوماتو له تحليل، د نمونو پېژندنې او د تجربو له زده کړې وروسته د مسئلو د حل توان پيدا کوي. د مصنوعي څېرکتيا دغه وړتياوې د پرمختللو رياضيکي تيوريو او محاسبوي ماډلونو پر بنسټ رامنځته شوي دي، يعنې سره له دې چې مصنوعي څېرکتيا د کمپيوټر ساينس يوه څانګه بلل کېږي؛ خو د دې علم اساسي جوړښت او محاسبوي ميکانيزمونه د رياضياتو پر اصولو او قواعدو باندې ولاړ دي.

رياضيات، چې د طبيعي علومو ژبه بلل کېږي، د ننې عصر د ډېرو عصري ټکنالوژيو بنسټ جوړوي. په مصنوعي څېرکتيا کې رياضيات نه يوازې د معلوماتو د استازيتوب وسيله ده، بلکې د زده کړې، تحليل، وړاندوينې او تصميم نيونې د پروسو اساسي برخه هم ګڼل کېږي. د خطي الجبر په مرسته معلومات د وکتورونو او متريکسونو په بڼه تنظيمېږي، احتمالات د نامعلومو حالاتو د تحليل لپاره کارول کېږي، احصايه د معلوماتو د تفسير او ارزونې وسيله ده او تفاضلي حساب د ماډلونو د اصلاح او روزنې لپاره کارول کېږي [٤].

د مصنوعي څېرکتيا د اوسني پرمختګ تر شا د رياضياتو رول دومره ژور دی، چې ډېری څېړونکي مصنوعي څېرکتيا د رياضياتو يو عملي تطبيق ګڼي. د ماشيني زده کړې او ژورې زده کړې (Deep Learning) مشهور الګوريتمونه لکه Linear Regression، Logistic Regression، Support Vector Machines او Neural Networks ټول د رياضيکي مفاهيمو پر بنسټ جوړ شوي دي [٥].

د مصنوعي ځېرکتيا چټک پرمختګ د دې سبب شوی، چې د نړۍ په کچه د دې علم د کارونې ساحې پراخې شي. سره له دې چې د مصنوعي ځېرکتيا په اړه ګڼې څېړنې ترسره شوې دي، خو لا هم ډېرې محصلين او څېړونکي د دې علم د رياضيکي بنسټونو په اړه کافي پوهه نه لري. ډېرې خلک مصنوعي ځېرکتيا يوازې د کمپيوټر پروګرامونو او الګوريتمونو مجموعه ګڼي، په داسې حال کې، چې د دې علم تر شا ژور رياضيکي جوړښتونه شتون لري [٦].

د مصنوعي ځېرکتيا د زده کړې په بهير کې د رياضياتو د اهميت ناسم درک د دې سبب ګرځي، چې محصلين د ماشيني زده کړې او ژورې زده کړې د الګوريتمونو له حقيقي ماهيت څخه بې برخې پاتې شي. له همدې امله د دې علم د ژور درک لپاره اړينه ده، چې د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو ترمنځ اړيکه په علمي ډول وڅېړل شي.

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی، چې د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو ترمنځ اړيکه روښانه کوي او ځرګندوي، چې رياضيات د مصنوعي ځېرکتيا د اساس او بنسټ په توګه څه رول لري. دغه څېړنه د رياضي، کمپيوټر ساينس او معلوماتي ټکنالوژۍ د محصلينو لپاره ځانګړی اهميت لري، ځکه چې د مصنوعي ځېرکتيا د پرمختللو مفاهيمو د زده کړې لپاره د رياضيکي بنسټونو پوهه اړينه ده [٤].

دغه څېړنه هڅه کوي، چې د مصنوعي ځېرکتيا رياضيکي بنسټونه روښانه کړي او د دواړو علومو ترمنځ متقابلې اړيکې وڅېړي. همدارنګه، دغه څېړنه د پوهنتونونو او څېړنيزو مرکزونو لپاره د يوې علمي سرچينې په توګه کارېدلی شي او د مصنوعي ځېرکتيا د تدريس او څېړنې په برخه کې مرسته کولی شي.

موخې

د دغې څېړنيزې مقالې عمومي موخه او ځانګړې موخې په لاندې ډول بيان شوي دي:

عمومي موخه

د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو ترمنځ د اړيکو علمي ارزونه.

ځانګړې موخې

- د مصنوعي ځېرکتيا د مفهوم تشريح کول.
- د مصنوعي ځېرکتيا اړوند د رياضيکي بنسټونه روښانه کول.
- د ماشيني زده کړې په الګوريتمونو کې د رياضياتو رول بيانول.
- د مصنوعي ځېرکتيا په پرمختګ کې د رياضياتو اهميت معلومول.

- د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ د متقابلو اړیکو تحلیلول.

د څېړنې میتود

دا څېړنه کتابتوني بڼه لري. د څېړنې لپاره معلومات د معتبرو کتابونو، علمي مقالو، ژورنالونو او اکاډمیکو ډیټابېسونو او مختلفو الکترونیکي سایټونو څخه راټول شوي دي. د معلوماتو تحلیل د توصیفي او تحلیلي میتودونو له لارې ترسره شوی دی. د موضوع اړوند نظریې، تیورۍ او موندنې سره پرتله شوي او د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ د اړیکو په اړه علمي پایلې ترې اخیستل شوې دي.

تیرو اثارو ته کتنه

دا چې ریاضیات د مصنوعي زیرکتیا لپاره بنسټیزه ژبه او چوکاټ دی او په AI کې د معلوماتو د استازیتوب، د الګوریتمونو د ډیزاین او د موډلونو د زده کړې لپاره ضروري ګڼل کېږي. په دې برخه کې ډېرې څېړونکو ښلاښلې څېړنې، تحلیلونه او وړاندوینې کړې دي، چې یو شمېر یې په لاندې ډول بیان کوو:

د راسل (Russell) او نورویګ (Norvig) نظریه

راسل او نورویګ په خپل مشهور کتاب (Artificial Intelligence: A Modern Approach) کې مصنوعي ځېرکتیا د ځېرکو نماینده ګانو د علم په توګه تعریف کړې ده. دوی باور لري، چې مصنوعي ځېرکتیا د استدلال، زده کړې او تصمیم نیونې لپاره له ریاضیکي ماډلونو څخه ګټه اخیستل کېږي. د دوی د څېړنې له مخې احتمالات، منطق او احصایه د مصنوعي ځېرکتیا د بنسټیزو برخو په توګه پېژندل کېږي [۱].

دوی همدارنګه استدلال کوي، چې د مصنوعي ځېرکتیا د سیستمونو دقت او اغېزمنتوب د هغه ریاضیکي تیوریو له کیفیت سره تړاو لري، چې د الګوریتمونو په جوړولو کې کارول کېږي. د دوی اثر د مصنوعي ځېرکتیا له تر ټولو معتبرو علمي سرچینو څخه ګڼل کېږي.

دبېشوپ (Bishop) څېړنه

بېشوپ په خپل کتاب (Pattern Recognition and Machine Learning) کې د نمونې پېژندنې او ماشیني زده کړې ریاضیکي بنسټونه تشریح کړي دي. نوموړی څرګندوي، چې احتمالي تیوري او احصایوي تحلیل د ماشیني زده کړې د الګوریتمونو مهم عناصر دي [۷].

نوموړی باور لري، چې د مصنوعي ځېرکتيا ډېری مسئلې د احتمالاتو او احصايې په وسيله حل کېدای شي. د هغه څېړنه د دې موضوع د علمي بنسټونو د درک لپاره خانګړی اهميت لري.

د ګوډ فيلو (Goodfellow) او همکارانو څېړنه

ګوډ فيلو، بينګو (Bengio) او کورويلي (Courville) په خپل کتاب (Deep Learning) کې د ژورې زده کړې د رياضيکي بنسټونو په اړه پراخ بحث کړی دی. دوی څرګندوي، چې عصبي شبکې د خطي الجبر، تفاضلي حساب او ګټورې جوړونې (Optimization) د مفاهيمو پر بنسټ فعاليت کوي [۲].

د دوی د څېړنې له مخې، د ژورو عصبي شبکو روزنه د Gradient Descent او Backpropagation په څېر رياضيکي ميتودونو ته اړتيا لري. دغه اثر د ژورې زده کړې په برخه کې يو بنسټيز علمي اثر بلل کېږي.

د ډيزنورټ (Deisenroth) فيصل(Faisal) او اونګ (Ong) څېړنه

ډيزنورټ، فيصل او اونګ په خپل کتاب *(Mathematics for Machine Learning)* کې د ماشيني زده کړې لپاره اړين رياضيکي مفاهيم په تفصيلي ډول بيان کړي دي. د دوی په اند، د ماشيني زده کړې د الګوريتمونو د درک لپاره د خطي الجبر، احتمالاتو، احصايې او تفاضلي حساب زده کړه ضروري ده [٤].

دوی استدلال کوي، چې د مصنوعي ځېرکتيا ډېری مسئلې د رياضيکي ماډلونو له لارې حل کېږي او هغه کسان چې په رياضياتو پوره مهارت لري، د مصنوعي ځېرکتيا د پرمختللو مفاهيمو په زده کړه کې له نورو څخه چټک پرمختګ کوي. د دوی څېړنه څرګندوي، چې رياضيات يوازې يو مرستندويه علم نه دی، بلکې د مصنوعي ځېرکتيا د جوړښت اصلي عنصر دی.

د مورفي (Murphy) نظريه

مورفي په خپل ليکل شوي کتاب *(Probabilistic Machine Learning)* کې د احتمالي زده کړو (Probabilistic Learning) اهميت بيان کړی دی. نوموړی باور لري، چې د مصنوعي ځېرکتيا سيستمونه تل له غير يقيني او نيمګړو معلوماتو سره مخامخ وي؛ نو ځکه احتمالي تيوري د دغو مسئلو د حل لپاره تر ټولو مناسب چوکاټ وړاندې کوي [٦].

مورفي څرگندوي، چې Bayesian Learning ، Markov Models او Probabilistic Graphical Models د مصنوعي څېرکتيا له هغو مهمو برخو څخه شمېرل کېږي، چې د احتمالاتو پر تیورۍ ولاړې دي. د هغه د څېړنې له مخې، راتلونکی مصنوعي څېرکتيا به لا زيات احتمالي ماډلونه وکاروي.

د سټرانګ (Strang) نظریه

سټرانګ په خپل کتاب *(Introduction to Linear Algebra)* کې د خطي الجبر پر مفاهيمو پراخ بحث کړی دی. هغه څرگندوي، چې وکتورونه، متريکسونه، ايگن قېمتونه او ايگن وکتورونه د مصنوعي څېرکتيا د ډېرو الگوريتمونو بنسټ جوړوي [۸].

د هغه د نظريې له مخې، د معلوماتو استازيتوب، د انځورونو تحليل او د عصبي شبکو روزنه ټول د خطي الجبر له عمليو سره تړاو لري. د هغه اثر د مصنوعي څېرکتيا د رياضيکي بنسټونو د پوهېدو لپاره مهمه سرچينه ګڼل کېږي.

د هستي (Hastie) او همکارانو څېړنه

هستي، طيب شيراني (Tibshirani) او فريدمن (Friedman) په خپل کتاب (The Elements of Statistical Learning) کې د احصايې او ماشيني زده کړې ترمنځ اړيکه روښانه کړې ده. دوی څرگندوي، چې د معلوماتو تحليل، طبقه بندي، وړاندوينه او ارزونه ټول د احصايوي تيوريو پر بنسټ ولاړ دي [۹].

د دوی څېړنه ښيي، چې د مصنوعي څېرکتيا سيستمونو د دقت اندازه کول او د ماډلونو ارزونه د احصايوي ميتودونو له لارې ترسره کېږي.

د سټون (Sutton) او بارتو (Barto) څېړنه

سټون او بارتو په خپل کتاب *(Reinforcement Learning: An Introduction)* کې د تقويتي زده کړې (Reinforcement Learning) رياضيکي بنسټونه تشريح کړي دي. دوی څرگندوي چې د تصميم نيونې او غوره کړنو ټاکلو لپاره احتمالات، ګټوره جوړونه او احصايه مهم رول لري [۱۰].

د دوی د څېړنې له مخې، د مصنوعي څېرکتيا راتلونکی پرمختګ به تر ډېره د تقويتي زده کړې له پرمختګ سره تړاو ولري.

د تيرو څېړنو تشه

د تيرو اثارو له کتنې څخه څرګنديږي، چې ډېرى څېړونکو د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو ځانګړې برخې جلا جلا څېړلې دي. ځينو د خطي الجبر اهميت بيان کړى، ځينو د احتمالاتو او احصايې رول تشريح کړى او ځينو د ژورې زده کړې رياضيکي بنسټونه څېړلي دي. خو د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو ترمنځ د عمومي او هر اړخيزې اړيکې په اړه محدودې څېړنې ترسره شوې دي. له همدې امله اوسنى څېړنه هڅه کوي، چې د دواړو علومو ترمنځ متقابلې اړيکې په جامع ډول تحليل کړي.

د مصنوعي ځېرکتيا مفهومي بنسټونه

د مصنوعي ځېرکتيا مفهوم

مصنوعي ځېرکتيا (Artificial Intelligence) چې په لنډ ډول د (AI) په سمبول ښودل کېږي، د کمپيوټر ساينس هغه ځانګه ده، چې داسې ماشينونه او سيستمونه جوړوي، چې د انسان په څېر د زده کړې، استدلال، درک، تحليل او پرېکړې کولو وړتيا ولري [۱].

د مصنوعي ځېرکتيا اصلي موخه دا ده، چې کمپيوټرونه د داسې دندو د ترسره کولو توان پيدا کړي، چې عموماً انساني ځېرکتيا ته اړتيا لري. د بېلګې په توګه، د غږ پېژندنه، د انځور تحليل، د ژبې ژباړه او د ناروغيو تشخيص هغه دندې دي، چې د مصنوعي ځېرکتيا په وسيله ترسره کېږي.

د مصنوعي ځېرکتيا تاريخي شالید

د مصنوعي ځېرکتيا نظريه له ډېرو پخوانيو فلسفي بحثونو څخه سرچينه اخلي؛ خو د يوې علمي ځانګې په توګه يې اساس او بنسټ په ۱۹۵٦ کال کې د ډارټ موت کنفرانس (Dartmouth Conference) پر مهال د جوهن ايم سی کارتي لخوا کېښودل شو. جوهن ايم سي کارتي (John McCarthy) .لومړنی کس و، چې د Artificial Intelligence اصطلاح يې وکاروله [۱].

په ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ لسيزو کې د مصنوعي ځېرکتيا لومړني سيستمونه جوړ شول. په ۱۹۸۰ لسيزه کې ايکسپرټ سيستمونه (Expert Systems) مشهور شول او په ۱۹۹۰ لسيزه کې ماشيني زده کړه (Machine Learning) د څېړنې اصلي موضوع وګرځېده.

د ۲۰۱۰ م کال د وروستیو څخه راپدې خوا د ژورې زده کړې (Deep Learning) پرمختګ د مصنوعي ځېرکتیا په تاریخ کې یو نوی انقلاب رامنځته کړ. د عصبي شبکو (Neural Networks) د پرمختګ له امله د انځور پېژندنې، غږ پېژندنې او ژبې پروسس په برخو کې بې ساري پرمختګونه وشول [۲].

د مصنوعي ځېرکتیا ډولونه

کمزورې مصنوعي ځېرکتیا (Narrow AI)

کمزورې مصنوعي ځېرکتیا هغه سیستمونه دي، چې یوازې د ځانګړو دندو د ترسره کولو لپاره طرحه شوي وي. د غږیزو مرستیالانو، ژباړونکو او د سپارښتنو سیستمونه د دې ډول مثالونه دي[۳]

قوي مصنوعي ځېرکتیا (General AI)

قوي مصنوعي ځېرکتیا هغه نظریاتي سیستم ته ویل کېږي، چې د انسان په څېر په هره فکري برخه کې فعالیت وکړای شي. دغه ډول مصنوعي ځېرکتیا لا تر اوسه په عملي توګه نه ده رامنځته شوې [۱].

فوق العاده مصنوعي ځېرکتیا (Super AI)

فوق العاده مصنوعي ځېرکتیا هغه فرضي حالت ته ویل کېږي، چې ماشینونه د انسان له ذهني وړتیاوو څخه هم لوړ شي. دغه مفهوم لا تر اوسه د څېړنې او بحث په مرحله کې دی [۱۱].

د مصنوعي ځېرکتیا مهمې برخې

ماشیني زده کړه (Machine Learning)

ماشیني زده کړه د مصنوعي ځېرکتیا هغه برخه ده، چې کمپیوټرونو ته د معلوماتو له لارې د زده کړې وړتیا ورکوي. د ماشیني زده کړې په مرسته سیستمونه کولی شي له پخوانیو معلوماتو څخه نمونې زده کړي او د راتلونکو حالاتو په اړه وړاندوینې وکړي [۵].

ماشیني زده کړه په درې اساسي برخو وېشل کېږي:

- Supervised Learning
- Unsupervised Learning
- Reinforcement Learning

ژوره زده کړه (Deep Learning)

ژوره زده کړه د ماشیني زده کړې یوه پرمختللې بڼه ده، چې د مصنوعي عصبي شبکو پر بنسټ کار کوي. دغه شبکې د انسان د دماغو د عصبي سیستم له جوړښت څخه الهام اخلي [۲].

ژوره زده کړه په لاندې برخو کې په پراخ ډول کارول کېږي:

- د انځور پېژندنه
- د غږ پېژندنه
- ژباړه
- د مخ پېژندنه
- طبي تشخيص

د طبيعي ژبې پروسس (Natural Language Processing)

د طبيعي ژبې پروسس هغه برخه ده، چې کمپيوټرونو ته د انسان د ژبې د درک او تحليل وړتيا ورکوي. ChatGPT، د ژباړې سيستمونه او غږيز سيستمونه د دې برخې مشهور مثالونه دي [۱۲].

د NLP سيستمونه د ژبې د تحليل لپاره له احتمالاتو، احصايې او ژورو عصبي شبکو څخه استفاده کوي.

کمپيوټري ليد (Computer Vision)

کمپيوټري ليد ماشينونو ته دا توان ورکوي، چې انځورونه او ويډيوګانې تحليل کړي. دغه ټکنالوژي په امنيتي سيستمونو، د طبي انځورونو په تحليل او همدارنګه په اتومات موټرو کې کارول کېږي [۱۳].

تقويتي زده کړه (Reinforcement Learning)

تقويتي زده کړه د مصنوعي ځېرکتيا هغه برخه ده، چې په کې يو عامل (Agent) د چاپېريال له تعامل څخه زده کړه کوي. عامل د انعام (Reward) او سزا (Penalty) پر بنسټ خپلې کړنې اصلاح کوي [۱۰].

دغه تخنيک په روبوټيک، لوبو او اتومات سيستمونو کې په پراخه کچه استعمال کېږي.

د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو لومړنۍ اړيکه

د پورته برخې له تحليل څخه څرګنديږي، چې د مصنوعي ځېرکتيا هره برخه د رياضي له ځانګړو مفاهيمو سره تړاو لري. ماشيني زده کړه د احصايې او احتمالاتو پر بنسټ ولاړه ده، ژوره زده کړه له خطي الجبر او تفاضلي حساب څخه ګټه پورته کوي او تقويتي زده کړه د احتمالاتو اوګټوري جوړونې مفاهيم کاروي.

همدا موضوع ثابتوي، چې ریاضیات د مصنوعي څېرکتیا د مفاهیمو د درک، تحلیل او پراختیا لپاره اساسي بنسټ جوړوي او د دغه دواړو علومو ترمنځ اړیکې نه بېلېدونکې دي.

د مصنوعي څېرکتیا ریاضیکي بنسټونه

مصنوعي څېرکتیا که څه هم د کمپیوټر ساینس یوه مهمه څانګه ګڼل کېږي؛ خو د دې علم اساس او بنسټیز جوړښت د ریاضیاتو پر اصولو او قواعدو باندې ولاړ دی. د مصنوعي څېرکتیا سیستمونه د معلوماتو د تحلیل، زده کړې، پرېکړې کولو او وړاندوینې لپاره له ریاضیکي ماډلونو څخه ګټه پورته کوي. په حقیقت کې ریاضیات هغه ژبه ده، چې مصنوعي څېرکتیا پرې خپل مفاهیم بیانوي او خپلې ستونزې پرې حل کوي[٤].

د مصنوعي څېرکتیا په پرمختګ کې خطي الجبر، احتمالات، احصایه، تفاضلي حساب او اوګټوري جوړونه څانګړی اهمیت لري. دغه هره یوه برخه د مصنوعي څېرکتیا د الګوریتمونو په جوړولو او روزلو کې مهم رول لوبوي، چې په لنډ ډول یې په لاندې ډول تشریح کوو:

خطي الجبر

خطي الجبر د ریاضیاتو هغه څانګه ده، چې د وکتورونو، متریکسونو او خطي معادلو مطالعه کوي. په مصنوعي څېرکتیا کې ډېرې معلومات د وکتورونو او متریکسونو په بڼه وړاندې کېږي، له همدې امله خطي الجبر د معلوماتو د پروسس او تحلیل اساسي وسیله ګڼل کېږي [٨].

وکتورونه او مصنوعي څېرکتیا

وکتور د عددونو یو منظم ترتیب دی، چې د معلوماتو د استازیتوب او وړاندې لپاره کارول کېږي. د بېلګې په توګه، که د یو محصل عمر ۲۰ کاله، قد ۱۷۰ سانتي متره او وزن یې ٦٥ کیلو ګرامه وي؛ نو دا معلومات د یوه وکتور په بڼه په لاندې ډول وړاندې کېدای شي:

$$X = (20, 170, 65)$$

د ماشیني زده کړې ډېرې الګوریتمونه معلومات د وکتورونو په بڼه تحلیلوي [٤].

متریکسونه او مصنوعي څېرکتیا

متریکس د عددونو مستطیلي جدول دی. په ژوره زده کړه کې د میلیونونو معلوماتو پروسس د متریکسونو په مرسته ترسره کېږي. د عصبي شبکو وزنونه، داخلېدونکي معلومات او پایلې ټول د متریکسونو په بڼه ذخیره او پروسیس کېږي [٢].

ايګن قېمتونه او ايګن وکتورونه

ايګن قېمتونه او ايګن وکتورونه د خطي الجبر له مهمو مفاهيمو څخه دي. د معلوماتو د ابعادو کمولو (Dimensionality Reduction) او ځانګړتياوو د استخراج (Feature Extraction) لپاره کارول کېږي [٨].

د PCA (Principal Component Analysis) تخنيک د همدې مفاهيمو پر بنسټ جوړ شوی دی.

د خطي الجبر اهميت

د پورته څېړنې له تحليل څخه څرګنديږي، چې د مصنوعي ځېرکتيا د انځور پېژندنې، ژبې پروسس او ژورې زده کړې ټول پرمختللي سيستمونه د خطي الجبر پر بنسټ فعاليت کوي. له همدې امله خطي الجبر د مصنوعي ځېرکتيا تر ټولو مهم رياضيکي بنسټ ګڼل کېږي[٤].

احتمالات(Probability Theory)

احتمالات د رياضياتو هغه ځانګه ده، چې د نامعلومو او غير يقيني پېښو امکان اندازه کوي. مصنوعي ځېرکتيا له ډېرو داسې حالاتو سره مخامخ وي، چې بشپړ معلومات پکې موجود نه وي؛ نو ځکه احتمالات د پرېکړې نيولو لپاره مهم رول لري [٦].

شرطيه احتمال

د يو له بله مربوط پېښو احتمال چې د A پېښې احتمال دB پېښې په احتمال پورې اړه ولري د شرطيه احتمال په نوم يادېږي. شرطيه احتمال، د يوې پېښې احتمال د بلې پېښې په شتون کې بيانوي.

$$P(A/B) = \frac{P(A \cap B)}{P(B)}$$

$$P(A \cap B) = P(A).P(B/A)$$

$$P(A \cap B) = P(B).P(A/B)$$

دغه مفهوم د طبي تشخيص، د هوا وړاندوينې او د سپارښتنې په سيستمونو کې کارول کېږي[٧].

د Bayes تيوري

دبايز قضيه د مصنوعي ځېرکتيا له مهمو رياضيکي اصولو څخه دی.

$$P(A \mid B) = \frac{P(B \mid A) \times P(A)}{P(B)}$$

چې پکې :

- P(A|B) = د A پېښې احتمال، کله چې B واقع شوی وي
- P(B|A) = د B احتمال، کله چې A واقع شوی وي .

- P(A) = د A مخکینی (Prior) احتمال .
- P(B) = د B ټول احتمال .

د Bayesian Learning ډېری ماډلونه د همدې فورمول پر بنسټ جوړ شوي دي [٦].

احتمالي ماډلونه

مصنوعي ځېرکتیا د احتمالي ماډلونو په مرسته د نامعلومو حالاتو تحلیل کوي، چې مشهور احتمالي ماډلونه یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

- Bayesian Networks
- Hidden Markov Models
- Gaussian Models
- Probabilistic Graphical Models

دغه ماډلونه د ژبې پروسس، روغتیا او مالي تحلیلونو په برخو کې پراخه کارونه لري [٦].

احصایه (Statistics)

احصایه د معلوماتو د راټولولو، تنظیم، تحلیل او تفسیر علم دی. مصنوعي ځېرکتیا د معلوماتو پر بنسټ فعالیت کوي، له همدې امله احصایه د دې علم یو بنسټیز عنصر ګڼل کېږي [۹].

اوسط (Mean)

اوسط د معلوماتو مرکزي تمایل ښیي.

$$\bar{x} = \frac{\sum_{i=1}^{n} x_i}{n}$$

اوسط د معلوماتو د لومړني تحلیل لپاره کارول کېږي.

واریانس (Variance)

واریانس د معلوماتو د خپرېدو اندازه ښیي.

$$\sigma^2 = \frac{\sum_{i=1}^{N}(x_i - \mu)^2}{N}$$

چې پکې:

- σ^2 = وریانس
- x_i = هر مشاهده شوی ارزښت
- μ = د نفوس اوسط
- N = د مشاهدو شمېر

معیاري انحراف

معیاري انحراف د معلوماتو د خپرېدو یوه مهمه اندازه ده.

$$\sigma = \sqrt{\frac{\sum_{i=1}^{N}(x_i - \mu)^2}{N}}$$

چې پکې:

- σ = معياري انحراف
- x_i = هر ارزښت
- μ = د نفوس اوسط
- N = د مشاهدو شمېر

د ريګريشن تحليل Regression Analysis

ريګريشن د متحولينو ترمنځ د اړيکو د موندلو لپاره کارول کېږي.

د خطي رېګرېشن معادله: y=a+bx

دغه تخنيک د ماشيني زده کړې له مهمو الګوريتمونو څخه ګڼل کېږي [۹].

د احصايې اهميت

د مصنوعي ځېرکتيا سيستمونه د احصايوي تحليلونو په مرسته د معلوماتو نمونې کشفوي او د راتلونکو حالاتو په اړه وړاندوينې ترسره کوي [۵].

تفاضلي حساب (Calculus)

تفاضلي حساب د بدلون کچه مطالعه کوي. د مصنوعي ځېرکتيا په روزنه کې د ماډلونو د اصلاح لپاره له مشتق او قسمي مشتق څخه استفاده کېږي [۲].

مشتق (Derivative)

مشتق د سرعت بدلون ښيي.

$$f'(t_0) = \lim_{t \to t_0} \frac{f(t) - f(t_0)}{t - t_0}$$

قسمي مشتق

قسمي مشتق د څو متحوله تابع ګانو لپاره کارول کېږي.

د عصبي شبکو په روزنه کې قسمي مشتق بنسټيز رول لري [۲].

ګرادياني Gradient

ګراديانت د يوې تابع د زيات بدلون لوری ښيي او ددې په مرسته د خطا کمولو پروسه ترسره کېږي.

ګټوره جوړونه Optimization

ګټوره جوړونه د غوره حل موندلو پروسه ده. د مصنوعي ځېرکتیا موخه دا ده، چې د ماډل خطا کمه او دقت زیات کړي[١٤].

Gradient Descent

دا د ګټورې جوړونې تر ټولو مشهور الګوریتم دی.

$$\theta_{new} = \theta_{old} - \alpha \frac{\partial J}{\partial \theta}$$

چېرې چې:

- θ = پارامترونه دي
- α = Learning Rate د زده کړې کچه
- J = Cost Function د خطا تابع

Stochastic Gradient Descent

دغه میتود د معلوماتو کوچنۍ برخې کاروي او د روزنې سرعت زیاتوي [۲].

Adam Optimizer

Adam د ژورې زده کړې په ډېرې عصبي شبکو کې کارول کېږي او دقت لوړوي [۲].

د ماشیني زده کړې او ریاضیاتو اړیکه

ماشیني زده کړه

ماشیني زده کړه د مصنوعي ځېرکتیا هغه برخه ده، چې کمپیوټرونو ته د معلوماتو له لارې د زده کړې وړتیا ورکوي [۵].

دغه علم په مستقیم ډول د ریاضیاتو پر مفاهیمو ولاړ دی.

Supervised Learning

په دې ډول زده کړه کې سیستم د لیبل لرونکو معلوماتو څخه زده کړه کوي.

بېلګې:

- Linear Regression
- Logistic Regression

دغه دواړه الګوریتمونه د احصایې او خطي الجبر پر بنسټ جوړ شوي دي [۹].

Unsupervised Learning

په دې ډول زده کړه کې معلومات لیبل نه لري.

بېلګې:

- K-Means Clustering
- Principal Component Analysis

دغه الګوريتمونه د خطي الجبر او احتمالاتو څخه ګټه پورته کوي [٤].

Reinforcement Learning

تقويتي زده کړه د احتمالاتو، ګټورې جوړونې او احصايې مفاهيم کاروي [١٠].

عامل هڅه کوي، چې تر ټولو غوره کړنلاره انتخاب کړي او اعظمي ګټه ترلاسه کړي.

عصبي شبکې(Neural Networks)

عصبي شبکې د مصنوعي ځېرکتيا تر ټولو مشهور ماډلونه دي. يو ساده عصبي شبکه:

$$y=f(wx+b)$$

چيرې چې:

- w = وزن
- x = داخلېدونکی معلومات
- b = Bias

دغه ټول مفاهيم د خطي الجبر او تفاضلي حساب برخه جوړوي [٢].

ژوره زده کړه او رياضيات

ژوره زده کړه د لاندې علومو له ګډ استعمال څخه عبارت ده:

- خطي الجبر
- احتمالات
- احصايه
- تفاضلي حساب
- ګټوره جوړونه

ګوډ فيلو او همکاران يې څرګندوي، چې د ژورې زده کړې هر پرمختللی ماډل د رياضياتو پر پيچلو تيوريو ولاړ دی [٢].

د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو متقابله اړيکه

د دې برخې تحليل څرګندوي، چې مصنوعي ځېرکتيا او رياضيات يو له بل سره نه بېلېدونکې اړيکه لري. رياضيات د مصنوعي ځېرکتيا لپاره تيوريکي چوکاټ برابروي او مصنوعي ځېرکتيا بيا د رياضيکي تيوريو د عملي تطبيق لپاره نوې ساحې رامنځته کوي.

د مصنوعي ځېرکتیا (AI) د پرمختګ هر نوی ګام د ریاضیاتو له نوو تیوریو او ماډلونو سره تړاو لري. له همدې امله ویلای شو، چې د مصنوعي ځېرکتیا (AI) راتلونکی پرمختګ به د ریاضیاتو له پرمختګ سره مستقیمه اړیکه ولري [۱].

موندنې (Findings)

د دې کتابتوني څېړنې د تحلیل او ارزونې په پایله کې لاندې مهمې موندنې ترلاسه شوې دي:

۱. ریاضیات د مصنوعي ځېرکتیا اساسي بنسټ جوړه وي.

دغه څېړنې څرګنده کړه، چې مصنوعي ځېرکتیا د ریاضیاتو له بنسټیزو اصولو پرته نه شي رامنځته کېدای. د ماشیني زده کړې، ژورې زده کړې، طبیعي ژبې پروسس او کمپیوټري لید ټول سیستمونه د ریاضیکي تیوریو او ماډلونو پر بنسټ فعالیت کوي [۱].

۲. خطي الجبر د مصنوعي ځېرکتیا تر ټولو مهم ریاضیکي عنصر دی.

دغه څېړنې وښودله، چې د مصنوعي ځېرکتیا ډېرې الګوریتمونه د متریکسونو، وکټورونو او خطي بدلونونو پر بنسټ جوړ شوي دي. په ځانګړي ډول، عصبي شبکې او ژورې زده کړې د خطي الجبر له مفاهیمو پرته فعالیت نه شي کولی [۸].

۳. احتمالات د نامعلومو حالاتو د تحلیل وسیله ده.

دغه څېړنې څرګنده کړه، چې احتمالي تیوري مصنوعي ځېرکتیا ته دا وړتیا ورکوي، چې د غیر یقیني او نیمګړو معلوماتو پر بنسټ منطقي پرېکړې وکړي، Bayesian Models او Probabilistic Learning د همدې اصل پر بنسټ جوړ شوي دي [٦].

۴. احصایه د معلوماتو د تحلیل اساسي وسیله ده.

د معلوماتو راټولول، پاکول، تحلیل او تفسیر د احصایوي میتودونو په مرسته ترسره کېږي. د مصنوعي ځېرکتیا د ماډلونو ارزونه او اعتبار سنجونه هم د احصایوي معیارونو پر بنسټ کېږي [۹].

۵. تفاضلي حساب د ماډلونو د روزنې بنسټ جوړوي.

موندنو وښودله، چې د مصنوعي ځېرکتيا ډېرى پرمختللي ماډلونه د مشتق، قسمي مشتق اوګرادياينټ مفاهيم کاروي. د عصبي شبکو روزنه او د خطا کمول د تفاضلي حساب له لارې ترسره کېږي [۲].

٦. ګټوره جوړونه د مصنوعي ځېرکتيا د دقت مهم عامل دى.

څېړنې وښودله، چې د مصنوعي ځېرکتيا د سيستمونو اغېزمنتوب د ګټورې جوړونې له کيفيت سره مستقيم تړاو لري Adam Optimizer ، Gradient Descent او نورو ميتودونو د ژورې زده کړې په بريالیتوب کې مهم رول لوبولى دى[١٤].

٧. د ماشيني زده کړې ټول مشهور الګوريتمونه رياضيکي بنسټ لري.

د څېړنې پايلې څرګندوي، چې Linear Regression، Logistic Regression، Support Vector Machines، Neural Networks او Decision Trees ټول د رياضيکي تيوريو او معادلو پر بنسټ ولاړ دي [٥].

٨. د مصنوعي ځېرکتيا راتلونکى له رياضياتو سره تړاو لري.

څېړنه ښيي، چې د مصنوعي ځېرکتيا راتلونکى پرمختګ به د نوو رياضيکي تيوريو، احتمالي ماډلونو او اصلاحي تخنيکونو له پرمختګ سره مستقيم تړاو ولري [٦].

مناقشه (Discussion)

د دې څېړنې موندنې د پخوانيو علمي اثارو له پايلو سره پراخ ورته والى لري .راسل او نورويګ [1] استدلال کوي، چې مصنوعي ځېرکتيا د ځېرکو اجنټانو د جوړولو علم دى او د دې اجنټانو د تصميم نيولو بهير د رياضيکي اصولو پر بنسټ ترسره کېږي. د اوسنۍ څېړنې موندنې هم دا نظريه تاييدوي او څرګندوي، چې رياضيات د مصنوعي ځېرکتيا د ټولو مهمو برخو لپاره نظري چوکاټ برابروي.

د خطي الجبر په اړه د ستړانګ [8] نظريه او د دې څېړنې موندنې په بشپړ ډول سره همغږي دي. دواړه څرګندوي، چې د معلوماتو استازيتوب، د انځورونو تحليل او د ژورو عصبي شبکو روزنه د وکتورونو او متريکسونو پر عمليو ولاړه ده.

په احتمالاتو او احصایه کې د مورفي [6] اوبی شوف [7] نظریې هم د دې څېړنې له پایلو سره سمون لري. د دوی له نظره مصنوعي ځېرکتیا د غیر یقیني شرایطو د تحلیل لپاره احتمالي تیورۍ کاروي. د اوسنۍ څېړنې موندنو هم وښودله چې Bayesian Learning او Probabilistic Models د ځېرکو سیستمونو د تصمیم نیونې مهم عناصر دي.

همدارنګه، د ګوډفیلو او دده د همکارانو [2] څېړنې څرګندوي، چې ژوره زده کړه د خطي الجبر، تفاضلي حساب او ګټورې جوړونې له ګډ استعمال څخه رامنځته شوې ده. د دې څېړنې پایلې هم د همدې نظر ملاتړ کوي او ښیي، چې د عصبي شبکو د روزنې پروسه د مشتق او ګرادیانټ پر مفاهیمو ولاړه ده.

د هستي او همکارانو [۹] نظریه دا ده، چې احصایه د ماشیني زده کړې بنسټ جوړوي. د دې څېړنې موندنې هم څرګندوي، چې د معلوماتو تحلیل، طبقه بندي او وړاندوینه د احصایوي میتودونو په مرسته ترسره کېږي.

له دې ټولو بحثونو څخه څرګندیږي، چې د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ اړیکه یوازې یوه مرستندویه اړیکه نه ده، بلکې یوه بنسټیزه او نه بېلېدونکې اړیکه ده، چې د مصنوعي ځېرکتیا د پرمختګ هره برخه ترې اغېزمنه شوې ده.

پایله

د دې کتابتوني څېړنې موخه د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ د اړیکو علمي ارزونه وه. د څېړنې د تحلیل له مخې څرګنده شوه، چې ریاضیات د مصنوعي ځېرکتیا د علمي، نظري او عملي بنسټ په توګه عمل کوي. د مصنوعي ځېرکتیا ټول مشهور الګوریتمونه او ماډلونه د ریاضیکي تیوریو پر بنسټ جوړ شوي دي.

څېړنې وښودله، چې خطي الجبر د معلوماتو د استازیتوب او پروسس وسیله ده، احتمالات د نامعلومو حالاتو د تحلیل لپاره کارول کېږي، احصایه د معلوماتو د ارزونې بنسټ جوړوي، تفاضلي حساب د ماډلونو د روزنې لپاره کارول کېږي او ګټوره جوړونه د مصنوعي ځېرکتیا د دقت او موثریت په لوړولو کې مهم رول لري.

د څېړنې پایلې دا هم څرګندوي، چې د مصنوعي ځېرکتیا او ریاضیاتو ترمنځ اړیکه متقابله ده. ریاضیات د مصنوعي ځېرکتیا د پرمختګ لپاره علمي بنسټ برابروي او مصنوعي ځېرکتیا بیا د ریاضیاتو د عملي تطبیق لپاره نوې ساحې رامنځته کوي.

په ټوله کې ويلای شو، چې د مصنوعي ځېرکتيا د مفاهيمو ژوره پوهه د رياضياتو له پياوړې پوهې پرته ممکنه نه ده. له همدې امله هغه کسان، چې غواړي د مصنوعي ځېرکتيا په برخه کې تخصص ترلاسه کړي، بايد د رياضياتو په ځانګړې توګه د خطي الجبر، احتمالاتو، احصايې، تفاضلي حساب اوګټورې جوړونې په برخو کې پوره مهارت او پوهه ولري.

سپارښتنې

د څېړنې د پايلو پر بنسټ لاندې سپارښتنې وړاندې کېږي:

۱. د پوهنتونونو د کمپيوټر ساينس او مصنوعي ځېرکتيا په نصابونو کې بايد د رياضياتو مضمونونو ته ځانګړې پاملرنه وشي.

۲. محصلين بايد د مصنوعي ځېرکتيا د زده کړې تر څنګ د خطي الجبر، احتمالاتو او احصايې په برخو کې ژوره مطالعه وکړي.

۳. د مصنوعي ځېرکتيا اړوند څېړنيز مرکزونه بايد د رياضياتو او کمپيوټر ساينس ترمنځ ګډو څېړنو ته وهڅول شي.

۴. د ژورې زده کړې او ماشيني زده کړې د پرمختللو الګوريتمونو د درک لپاره بايد د تفاضلي حساب او ګټورې جوړونې عملي روزنيز پروګرامونه جوړ شي.

۵. راتلونکې څېړنې بايد د مصنوعي ځېرکتيا په ځانګړو برخو لکه ژوره زده کړه، تقويتي زده کړه او احتمالي زده کړه کې د رياضياتو رول په لا ژوره توګه وڅېړي.

٦. د افغانستان په پوهنتونونو کې بايد د مصنوعي ځېرکتيا او رياضياتو ترمنځ د اړيکو په اړه ځانګړي سيمينارونه او علمي کنفرانسونه جوړ او ترسره شي.

Exploring the relationship between artificial intelligence and mathematics

Assistant Prof: Ehsanullah Hemati, Faculty of Education, Math Department
Email address: Ehsanullah.hemati@gmail.com

Abstract

Artificial Intelligence is one of the areas of contemporary technology that has brought about major changes in the fields of science, industry, economics, health, education, and social affairs in recent decades. Artificial intelligence systems are designed to imitate human intellectual activities such as learning, reasoning, decision-making, and problem-solving. Although artificial intelligence is considered a branch of computer science, the foundation and basic framework of this science is based on the principles and rules of mathematics. Linear algebra, probability, statistics, differential calculus, and useful construction are considered important elements in the structure of artificial intelligence algorithms and models. The purpose of this study is to scientifically evaluate and analyze the relationship between artificial intelligence and mathematics. The research is bibliographic and the information is collected from reliable scientific books, research articles and academic sources. The results of the research show that the development of artificial intelligence is directly related to the development of mathematics and a deep understanding of the concepts of artificial intelligence is impossible without a strong knowledge of mathematics. The research also shows that the accuracy and effectiveness of machine learning, deep learning and other advanced intelligent systems are related to the quality of the mathematical models that are used.

Key words: Statistics, Probability, Linear Algebra, Mathematics, Deep Learning, Machine Learning, Artificial Intelligence.

مأخذونه

1. Russell, S., & Norvig, P. (2021). Artificial Intelligence: A Modern Approach (4th ed.). Pearson.
2. Goodfellow, I., Bengio, Y., & Courville, A. (2016). Deep Learning. MIT Press.
3. Alpaydin, E. (2021). Machine Learning. MIT Press.
4. Deisenroth, M. P., Faisal, A. A., & Ong, C. S. (2020). Mathematics for Machine Learning. Cambridge University Press.
5. Mohri, M., Rostamizadeh, A., & Talwalkar, A. (2018). Foundations of Machine Learning. MIT Press.
6. Murphy, K. P. (2022). Probabilistic Machine Learning: An Introduction. MIT Press.
7. Bishop, C. M. (2006). Pattern Recognition and Machine Learning. Springer.
8. Strang, G. (2016). Introduction to Linear Algebra (5th ed.). Wellesley-Cambridge Press.

9. Hastie, T., Tibshirani, R., & Friedman, J. (2017). The Elements of Statistical Learning. Springer.
10. Sutton, R. S., & Barto, A. G. (2018). Reinforcement Learning: An Introduction (2nd ed.). MIT Press.
11. Bostrom, N. (2014). Superintelligence: Paths, Dangers, Strategies. Oxford.
12. Jurafsky, D., & Martin, J. H. (2024). Speech and Language Processing.
13. Szeliski, R. (2022). Computer Vision: Algorithms and Applications.
14. Boyd, S., & Vandenberghe, L. (2004). Convex Optimization. Cambridge University Press.

15. James, G., Witten, D., Hastie, T., & Tibshirani, R. (2021). An Introduction to Statistical Learning (2nd ed.). Springer.

د غنمو د لوڅ تورکي پېژندنه او هر اړخيز مديريت

پوهنمل عبدالعزيز وزيري او نامزد پوهنيار محمدرضا خوستی د شيخ زايد پوهنتون، کرنې پوهنځي نباتاتو ساتنې څانګې استادان

بريښنالیک: razakhostai@gmail.com /abdulazizwaziri@gmail.com/ a.waziri@szu.edu.af

لنډيز

غنم (Triticum aestivum L.) د نړۍ او افغانستان له مهمو اساسي غلو څخه ګڼل کېږي. د غنمو لوڅ تورکی (Ustilago tritici) د هغو جدي تخم زېرنده فنګسي ـ ناروغيو له ډلې څخه ده، چې د حاصل او اقتصادي ثبات لپاره لوی ګواښ ګڼل کېږي. دا ناروغي د ګل کېدو پر مهال، په ځانګړي ډول د يخو او مرطوبو اقليمي شرايطو لاندې، د لوړ زيان سبب ګرځي او سره له دې چې د خپرېدنې کچه يې ډېرې وخت ټيټه وي، خو د اخته بوټو لپاره تر نيردې سل سلنه پورې حاصل له منځه وړی شي . که څه هم د دې ناروغۍ د کنټرول لپاره کېمياوي فنګس‌وژونکي شته، خو د لوړ لګښت، چاپېريالي اغېزو او د بزګرانو د لاسرسي محدوديت له امله د عملي تطبيق تشه رامنځته کېږي. د دې کتابخانه يی مقالې موخه دا ده چې د غنمو د لوڅ تورکي د عامل، ژوند دوران، وبايي حالت، پر حاصل يې اغېزې او د ناروغۍ د هر اړخيز مديريت لارو په اړه شته علمي معلومات په منظم او تحليلي ډول وارزوي او د دوامدار مديريت لپاره روښانه تګلارې وړاندې کړي. په دې مقاله کې د معتبرو علمي مقالو، ژورنالونو او د انلاين معلوماتي ډيټابېسونو د سيستماتيکې بياکتنې پر بنسټ ترسره شوې ده. پايلې ښيي چې د تصديق شوو تخمونو کارول، مقاومې ورايټی، د تخم فزيکي درملنه، کرنيزې عمليې، کرنيز تناوب، بيولوژيکي کنټرول، کېمياوي درملنه او د ناروغۍ هر اړخيز مديريت د ناروغۍ د شدت او د اقتصادي زيان کمولو تر ټولو اغېزمنه لاره ګڼل کېږي.

کليدي کلمې: تخم زېرنده ناروغي، د ناروغۍ هر اړخيز مخنيوی، غنم، لوڅ تورکی.

پېژندنه

بسم الله الرحمن الرحیم, الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

غنم (*Triticum aestivum* L.) د ګرامینیسـیایې (Graminaceae) کورنۍ له مهمو غلو دانو څخه دي چې د شـولو (۲۷٪) او جوارو (۲۵٪) وروسـته په ټوله نړۍ کې په پراخه کچه کرل کېږي او په نړیوالو مالي ریکارډونو کې ۳۰٪ ونډه لري. نوموړی فصل د انسان د خوړو لپاره د انرژۍ او پروټین د مهمې سرچینې په توګه د بزګرانو او څېړونکو ځانګړې پاملرنه او ارزښت خپل کړی دی، همدارنګه په پاکستان، هند او بنګله دیش کې د خلکو لپاره د خوړو یوه مهمه سرچینه ګڼل کېږي [٦ ،٨] . غنم د غذایي موادو له پلوه ډېر ارزښـت لري، په زیاته اندازه غذایي پروټینونه، نشایسته، غوړ، پولی‌سکرایډونه او لیپیډونه لري [۱۰]. په غنمو کې په زیاته اندازه ګلوټین پروټین موجود دي[۹]. غنم په نړۍ کې یو له مهمو خوراکي فصـلونو څخه ګڼل کېږي، د نړۍ د نباتاتو ډېرې نفوس اسـاسي غذا بلل کېږي، په نړیواله سـطحه ۲۲۰٬۱۰۷٬٦۰۰ هکټاره ځمکه باندې نوموړي نبات کرل کېږي [۲۰].

غنم د نړۍ په کچه د غلو له ډلې څخه د کرل شـوې ځمکې او تولید له مخې په لومړي مقام کې قرار لري، له همدې امله ورته د غلو پاچا (King of Cereals) هم ویل کېږي[۹] . په افغانسـتان او د نړۍ په نورو هېوادونو کې د غنمو فصل په پراخه کچه کرل کېږي. اټکل شوی چې په ټوله نړۍ کې شاوخوا ٦۰۰ مېلیونه ټنه (MT)غنم تولیدېږي. په پاکسـتان کې د دې خوراکي فصـل تولید ۲۵،۰۹ مېلیونه ټنه اټکل شـوی دی، چې هر کال شاوخوا ۸،۸ مېلیونه هکټاره ځمکه تر پوښښ لاندې راولي [۸]. په نړۍ کې زیاتې ناروغۍ د غنمو په تولید او غـذایي امنیـت بانـدې اغېزه کوي [۱۴] . د غنمو ګڼې نـاروغۍ پـه ټولـه نړۍ کې خپرې دي، خو تر ټولو خطرناکې او ویجاړوونکي ناروغۍ د فنګســونو له خوا رامنځته کېږي. د لوڅ تورکي ناروغي په ۱۷۵۵ م کال کې (Tillet) پـه علمي ډول وڅېړلـه [۴]. د غنمو لوڅ تورکي نـاروغي چې پـه عـامو غنمو (*Triticum aestivum* L.)، (*T. durum* Desf.)، (*T. dicoccum* (Schrank) Schubl.) او همـدارنګه پـه Triticaleکې رامنځته کېږي، د *Ustilago tritici* (Pers.) Rostr. له خوا منځته راځي، چې په سـاړو او لمـدو اقلیمونو کې حاصـــل تـه د پـام وړ زیـانونـه اړولی شي[۱۸]. د غنمو یوه مهمـه او د تخم لـه لارې لېږدېدونکې ناروغي ده، چې په ټوله نړۍ کې خپره ده. په دې ناروغۍ کې، د ګل کېدو پر مهال د وړې ټولې برخې او دانې، پرته له ګلي محور څخه، د *Ustilago tritici* په تورو پوډري سـپورونو باندې بدلېږي[۴]. دا ناروغي عموماً د نبات لپاره یو جدي ګواښ ګڼل کېږي او تر ۴۰٪ پورې حاصـلات له منځه وړلی شي. د غنمو لوڅ تورکی هغه وخت ډېره وده کوي چې مناســب چاپېریالي شرایط موجود وي، لکه: د فصـــل پر وخت د ګل‌کولو په پراو کې یخ او مرطوب اقلیم[۸].

که څه هم د غنمو لوڅ تورکي ناروغي د سیستمیک فنګس وژونکو درملو، لکه: کاربوکسین، کاربینډازیم، تیبوکونازول او تیفلو زامایډ په وسیله د تخم د درملنې له لارې په اغېزمن ډول مدیریت کېدای شي، مګر دا طریقه د بزګرانو له خوا په سمه توګه نه عملي کېږي. د دې عمده لاملونه د فنګس وژونکو لوړ لګښت، د کرلو پر مهال په ېلابېلو سیمو کې د درملو نه شتون او همدارنګه په اخته تخمونو کې د ظاهري نښو نشتوالی دی. د تخم د کرلو مخکې د *Trichoderma viride* د تخم درملنې په توګه کارول یوازې تر یوې محدودې اندازې پورې د تخم له لارې لېږدېدونکي ناروغي راکموي .د لوڅ تورکي پواسطه اخته تخمونه له سالمو تخمونو سره ډېر ورته ښکاري، چې دا چاره هم د تخم د درملنې د نه عملي کیدو سبب ګرځي[۱۸] . له همدې امله، د دې ناروغۍ پر وړاندې د کنټرول لپاره د مقاومو نوعو کارول، لکه: HD2236, WL2087, WL2053 WL1804, WL1798, WL1567 and WL1541) او د فنګس وژونکو استعمال یوه غوره طریقه یا لاره ګڼل کېږي[۴،۱۸] .

نن سبا د دې ناروغۍ شدت او پراختیا په کمېدو ده، ځکه تخم تولیدونکي ادارې تخمونه د Bavistin،Vitavax او Raxil فنګس وژونکو سره معامله کوي[۱۵].

څرنګه چې د غنمو د لوڅ تورکي ناروغي په افغانستان او بالخصوص په خوست کې، چې د نوموړي ناروغۍ لپاره مناسب محیطي شرایط لري رامنځته کېږي او بزګران د ناروغۍ د مدیریت لپاره مختلف کیمیاوي مواد استعمالوي، که څه هم نوموړي ناروغي د دغو کېمیاوي موادو په واسطه په ښه شکل اداره کیدای شي مګر د چاپېریال لپاره زهري اومضر-تمامېږي. له همدې امله، دا اوسنۍ کتابتوني څېړنه د اقتصادي او چاپېریال ته زیان نه رسوونکو کېمیاوي موادو د ارزونې لپاره طرحه شوې ده.

موخې

د نوموړي مقالې اصلي موخه د غنمو د لوڅ تورکي ناروغۍ د عامل، نښو، د ناروغۍ خپرېدو او د هغې د رامنځته کېدو لپاره د مساعدو شرایطو په اړه علمي معلومات راټولول او تحلیلول دي. همدارنګه، په دې مقاله کې د غنمو د لوڅ تورکي د مخنیوي او کنټرول لپاره د اغېزمنو او عملي مدیریتي تګلارو تشریح کول او د دې ترڅنګ، د ناروغۍ د مدیریت لپاره د مختلفو موجودو میتودونو د یوځای کولو له لارې د هر اړخیز مدیریت یوه مناسبه تګلاره وړاندې کول، څو د غنمو د حاصلاتو او کیفیت د کمېدو مخه ونیول شي.

ارزښت

غنم په افغانستان کې د مهمو کرنیزو نباتاتو له جملې یو مهم نبات دي او زیات اقتصادي اهمیت لري؛ له همدې امله، د غنمو د ناروغیو په ځانګړې ډول د لوڅ تورکي ناروغۍ اغېزمن مدیریت د کرنیز تولید د پایښت لپاره ځانګړې اهمیت لري. یاده ناروغي د مناسب مدیریت په نشتون کې د غنمو په حاصل او د تخم په کیفیت کې

د پام وړ زیان رامنځته کولی شي. همدارنګه په دې مقاله کې کوشش شوی، چې د یادې ناروغۍ پیژندنې، د خپرېدو عواملو او د مدیریت طریقو په اړه منظم او علمي معلومات وړاندې شي. دغه معلومات کولی شي کروندګرو، د نباتاتو د ساتنې برخې له کارکوونکو، محصلینو او څېړونکو سره مرسته وکړي چې د ناروغۍ د رامنځته کېدو خطر په سمه توګه وپېژني او د مخنیوي لپاره مناسبې تګلارې غوره کړي. سربېره پر دې، د ناروغۍ هر اړخیز مدیریت د تګلارو پلي کول کولی شي د ناروغۍ د خپرېدو کچه راټیټه، د غنمو حاصل او کیفیت وساتي او د بزګرانو اقتصادي زیانونه کم کړي.

مواد او کړنلاره

د دې لیکنې کړنلاره کتابتوني ده، همدارنګه د باوري انټرنیټي سایټونو څخه هم پکې استفاده شوي ده.لومړی د مختلفو معتبرو او موثقو ژورنالونو څخه تازه چاپ شوي مقالې راټولې او وروسته د نوموړو علمي مقالو په اساس، د موضوع هر اړخ د علمي دلایلو په رڼا کې تحلیل شوي دي.

د غنمو لوڅ تورکی

په نړۍ کې د غنمو ګڼ شمېر ناروغۍ خپرې دي او د غنمو لپاره تر ټولو زیان رسوونکي عاملین د فنګس ببلابل ډولونه دي[۴]. د غنمو د لوڅ تورکي ناروغي چې د *Ustilago tritici* فنګس له خوا رامنځته کېږي [۱۲] یو اجباري پرازیټ دی، چې د تخم له لارې لېږدول کېږي[۱۳] . په علمي ډول د اول ځل لپاره د (Tillet) لخوا په ۱۷۵۵م کال کې وڅېړل شو [۴]. په افغانستان کې د نوموړې ناروغۍ راپور د ننګرهار، کابل او لغمان څخه ورکړل شوی دی[۱] .

نوموړي ناروغي د تخم له لارې لېږدیږي او د نړۍ په ټولو هغو سیمو کې موندل کېږي چېرې چې غنم کرل کېږي [۴].

په غنمو کې د تورکي او بنټ پنځه مهمې ناروغۍ پیژندل شوې دي، چې عبارت دي له:

لوڅ تورکي(Loose smut)

بیرغ تورکي(Flag smut)

عام تورکي(Common bunt)

دانې تورکي(Kernel bunt)

ټیټ قدی تورکي(Dwarf bunt)

د غنمو د لوڅ تورکي ناروغي (*Ustilago tritici*) عموماً د ګل کولو پر مهال، د یخو او لمدو اقلیمي شرایطو لاندې رامنځته کېږي. په هغو سیمو کې، چې دغه مناسب اقلیمي شرایط موجود وي، حاصلاتو کې د پام وړ زیان رامنځته کوي، خصوصاً د وچو او ګرمو سیمو په نسبت په سړو او مرطوبو سیمو کې د ناروغۍ شدت

زیات وي. د دې ناروغۍ د اخته کېدو تر ټولو مناسب وخت د ګل کولو وخت له پیل څخه تر منځنۍ مرحلې پورې دی، خو بریالۍ اخته کېدنه حتی د ګل د وخت له پای ته رسیدو وروسته هم رامنځته کېدای شي [۴] . د یوه اخته بوټي د حاصل زیان نږدې سل سلنې ته رسېږي، حال دا چې د ناروغۍ عمومي خپرېدنه عموماً ۱ ۵ سلنه پورې ده. کله چې د ناروغۍ شدت زیات شي، نو د اختهکېدو کچه تر ۱۰ سلنې لوړېږي، چې په پایله کې د غنمو حاصل ۵ ۲۰ سلنه ته راکمېږي [۲۰] . سره له دې چې د لوخ تورکي له امله رامنځته کېدونکي زیانونه ډېر زیات نه دي، خو بیا هم د منځنۍ کچې اقتصادي زیانونه اړولی شي [۴] .

د ناروغۍ علایم

د غنمو لوخ تورکي ناروغي د وړې د اېستلو پر مهال په اسانۍ سره پېژندل کېږي، د ناروغۍ عامل جنین ته داخلیږي او د دانې د سیستمیکې اخته کېدنې سبب ګرځي [۱] او اخته وړې د روغو په نسبت توربخن شنه معلومیږي [۱۴] ، ځکه ګلان او دانې په بشپړه توګه د تور رنګه، نرمو فنګسي ــ سپورونو په یوې لوخې کتلې بدلېږي (۱- انځور) [۱۹] . نوموړي سپورونه د وړو له راوتلو سره سم خوشې کېږي او په پایله کې یوازې د وړې تش ډنډرکی یا ګلي محور پاتې کېږي [۴] . اخته شوي وړي د وړو د راوتلو پر مهال په کرونده کې ډېر څرګند ښکاري، نو په دې اساس دا ناروغي حتی د ډېرې کمې رامنځته کېدنې په مهال هم ډېره شدیده ښکاري. د فنګس سپورونه په غیر فعاله ډول د نبات د ودې له نقطې سره پورته وړو ته انتقالېږي، چې وروسته په اخته وړې بدلېږي [۴،۲].

په پیل کې دغه سپورونه د یوې نرۍ سپینې یا نقرهیي غشاء له خوا پوښل شوي وي، خو وروسته دا غشاء چوي او شلېږي، سپورونه د باد په واسطه خپرېږي. دا ناروغي هغه مهال هم رامنځته کېږي ، چې د غنمو وړې لا هم د پانې د پوښ په داخل کې وي [۱۲] .



۱- انځور: الف- غنمو لوخ تورکی، ب- په وړې باندې د سپورونو توره کتله، ج- اخته شوی جنین او د سکیوټیلم په سطحه باندې مایسیلیم.

د ناروغۍ عامل

د غنمو لوخ تورکی، چې د Ustilago *tritici* په نوم د بایسدیومایسیت (Basidiomycete) فنگس له امله رامنځته کېږي، د غنمو (*Triticum aestivum* L.) له تر ټولو جدي ناروغیو څخه ګڼل کېږي. دا ناروغي په ځانګړي ډول د ګل کېدو پر مهال د یخ او لمدو اقلیمي شرایطو پر مهال شـــدت مومي [۲۰] . دا یوازینۍ د *Ustilago* جنس فنگس دی چې پر غنمو باندې حمله کوي [۴].

د ناروغۍ د عامل طبقه بندي

Kingdom ……. Fungi
Division……...Eukarya
Subdivision……. Basidiomycetes
Class……Teliomycetes
Order……...Ustilaginales
Family……. Ustilaginaceae
Genus……. *Ustilago*
Species……*tritici*
Scientific name: *Ustilago tritici*

[۳،۱]


د ناروغۍ د عامل ژوند دوران او وبايي بڼه

لوخ تورکی د تخم او باد پواسطه انتقالېدونکي یا خپریدونکي ناروغي ده [۹]. د نوموړي ناروغۍ عامل فنگس په اخته تخم کې په ســیســټماتیک ډول موجود وي. کله چې اخته تخمونه وکرل شي، تخمونه ټوکېږي او د فنگس مایســلیم فعالیږي، چې د ځوان نبات یا نیالګي په داخل کې وده کوي او د نبات مېرېســتیمي یا ودیز انساجو ته داخلیږي [۱۹]. فنگسي هایفاوې د نبات له ودې سره یوځای وده کوي او هغه مهال پوخوالي مرحلې ته رسېږي کله چې په نباتاتو کې وړي رامنځته کېږي[۱].

د ګل کولو پر مهال، تلېوسپورونه د اخته وړو څخه د باد په وسیله روغو نباتاتو ته انتقالېږي. د معتدلې تودوخې او رطوبت په شتون کې هغه سپورونه چې په ګلانو باندې پراته وي ټوکېږي. سپورونه د جرم ټیوب او تخمدان له لارې نبات ته ننوځي او د جنین په داخل کې مایسـیلیم جوړوي. دا مایسـیلیم تر هغه وخته پورې په تخم کې غیر فعال پاتې کېږي، تر څو تخم بېرته وکرل شي او ټوکېدنه پیل کړي[۴].

د ګل کولو څخه لږ مخکې یا د ګل کولو پر مهال یا دوه ورځې وروســته نوموړي ناروغي په غنمو باندې راڅرګندیږي ، مګر د ګل کولو په وخت کې تر ټولو لوړې کچې ته راسیږي. باد، باران، حشرات او نور عوامل د لوخ تورکي تور زیتوني رنګه تلېوســپورونه د اخته وړو څخه روغو ګلانو ته لېږدوي[۱]. که چېرې کافي رطوبت موجود وي او د تودوخې درجه د ۱۶ تر ۲۲ ســانتي ګراد درجو (۶۰–۷۱ فارنهایټ) ترمنځ وي، نو

سـپورونه په تيزۍ سره وده کوي او د ګلانو د ښـځينه برخو له لارې ځوان تخمونه تر حملې لاندې نيسي. ځينې وختونه د کوربه اخته کېدنه په مستقيم ډول د جنين حجروي ديوال له لارې هم صورت نيسي (۲-انځور) فنګس عموماً د نبات له ودې سره ســمه وده کوي. د وړې جوړېدو پر مهال، د اخته نبات ټول وړکي پرته له پېرېکارپ (Pericarp) غشـاء څخه، د تيلېوسـپورونو په توره پوډري ډوله کتله باندې بدلېږي. دا نرۍ خړ رنګه غشـاء ژر خېرې کېږي او د وړکيو د راوتلو پر مهال تيليوسـپورونه خپرېږي او په دې سره د ناروغۍ ژوند دوران بشپړېږي[۴].



۲- انځور: د لوخ تورکي ناروغۍ ژوند دوران

https://agritech.tnau.ac.in/crop_protection/wheat/crop_prot_crop%20diseases_cereals_wheat_4.html

د ناروغۍ هر اړخيز مخنيوی

د تخم له لارې د انتقالېدونکو ناروغيو څخه د پاک او سالم فصل د ترلاسه کولو تر ټولو غوره لاره د مقاومت لرونکو نوعو او د ســالمو تخمونو کارول دي. د دې ناروغۍ د کنټرول او د حاصــل د ښــه والي لپاره تر ټولواغيزمنې لارې چارې د مقاومت لرونکو نوعو اصلاح او د تخم د روغتيا ارزونه ده.

د تخم او خاورې کېمياوي درملنه، د ګرمو اوبو درملنه او د افت وژونکو اسـتعمال د تخم زېږنده ناروغيو پر وړاندې ښـې محافظتي پايلې ښـودلې دي. د تخم درملنه هغه طريقه ده چې د لوخ تورکي د مديريت لپاره تر ټولو اغېزمنه ګڼل شـوې ده.

د تصــديق شــوو تخمونو اســتعمال، چې له پتوجن څخه پاک وي، د ناروغۍ د مخنيوی تر ټولو اغېزمنه لاره ده. نورې اغېزمنې طريقې د مقاومت لرونکو نوعو کرل او يا د فنګس‌وژونکو په وسيله د تخم درملنه ده [۴].

د ناروغيو د وبا وړاندوينه يوه بله مهمه او اغېزمنه وسيله ده، چې د فصل له پيل څخه مخکې، هغه مهال چې د ناروغۍ د رامنځته کېدو خطر لوړ وي، د هر اړخيزې مديريتي ستراتيژيو (Integrated Management Strategies) د جوړولو لپاره کارول کېږي.

په دغو ستراتيژيو کې د منلو وړ د ناروغۍ پر وړاندې د مقاومت کچه او د مقاومت ميکانيزمونه، کرنيزې طريقې لکه د سرې مناسب مديريت، کرنيز تناوب (Crop rotation) ، د کر مناسب وخت تاکل [۷] او همدارنګه د ځمکې قلبه (Tillage)چې د نباتي پاتې شونو تجزيه زياتوي، د ناروغۍ د شدت په کمولو کې مهم رول لري.

سربېره پر دې، بيولوژيکي او کيمياوي کنټرول هم د ناروغۍ د شدت د کمولو لپاره اساسي لارې ګڼل کيږي، چې د حاصل د ضايعاتو په راکمولو کې مرسته کوي [۱۶].

په لاندې ډول د ناروغۍ د هر اړخيز مديريت مهمې طريقې ښودل شوي:

- قانوني لارې (Regulatory methods)
- کرنيزې عملیې (Cultural practices)
- کرنيز تناوب (Crop rotation)
- فزيکي کنټرول(Physical control)
- مقاومې نوعې (Resistant verities)
- بيولوژيکي کنترول (Biological control)
- کيمياوي کنترول (Chemical control) [۷].

۱: قانوني لارې (Regulatory methods)

ددې لپاره چې يو هېواد ته د نباتي ناروغيو د ننوتلو مخه نيول شوي وي نو د قرنطين د څارنې لاندې کرنه او ساتنه او يا ځينې وختونه د کوربه بوټو په له منځه وړلو سره په کار وړل کېږي.

قرنطين د ساتنې او څارنې څخه عبارت دی. دغه يوه داسې موثره او وقايوي طريقه ده، چې په رعايت سره نباتات، انسانان او حيوانات د هغه ناروغيو څخه چې په يوه سيمه کې نه وي، خوندي ساتل کيدای شي.

قرانطين په دوه ډوله دی

- داخلي قرانطين: د هغه قرانطين څخه عبارت دی، چې په عملي کېدو سره يې، د هېواد په دننه کې د يوې سيمې څخه بلې سيمې ته د نباتي ناروغيو مخنيوی کوي.
- خارجي قرانطين: د هغه قرانطين څخه عبارت دی، چې په عملي کېدو سره يې، د خارجي هېوادونو څخه د هېواد داخل ته د ناروغيو راوړلو څخه مخنيوی کوي [۷].

۲: کرنيزې عملیې

په کرنيزو عملیو کې د نباتي توليد او اداري ټول تخنيکونه شامل دي کوم چې د بزګرانو لخوا تر ې استفاده کيږي، تر څو خپل توليد او عايد تر بل هر وخت لوړ کړي لکه:

- حفظ الصحې مرعاتول.
- د خوښې وړ نبات د ودې لپاره د ښو شرايطو اماده کول.
- د پتوجن لپاره د ناخوښو شرايطو ايجادول.
- د ساحې انتخاب.
- په مناسبه توګه د ځمکې قلبه او خښاوه تر سره کول.
- د هرزه بوټو مخنيوی.
- پر وخت ابياري تر سره کول [۷].
- د تصديق شوي او سالم تخم کارول.
- د کر مناسب وخت ټاکل.
- د اخته نباتاتو له منځه وړل.
- د ناروغۍ څخه په پاکو سيمو کې د تخم توليد [۱۹].

۳: کرنيز تناوب

کرنيز تناوب په يوه ټاکل شوي او معينه کرنيزه ځمکه باندې په پرلاپسې ډول د يو نبات يا فصل له کرلو ډډه کولو ته ويل کيږي.

په دې ميتود کې دا مهمې برخې شاملې دي لکه:

- د ښه او دقيق پلان جوړول
- د شنې سرې لرونکو نباتاتو شاملول
- د غذايي موادو د توازون څارنه
- د نبات د ودې وخت په پام کې نيول
- مدغم شوي پوښښ لرونکي نباتات
- د محلي شرايطو سره همغږي [۱۷] .

۴: فزیکي کنټرول

- د ګرمو اوبو درملنه: د غنمو دانې لومړۍ په اوبو کې لندیږي، چې د تودوخې درجه یې د ۲۶ څخه تر ۳۰ سانتي ګراد پورې وي. په همدې اوبو کې دانې د ۴-۵ ساعته پریښودل کیږي، چې پدې سره په دانه کې غیر فعال فنګسي ـ مایسیلیم فعالیږي. وروسته د اوبو تودوخه لوړیږي او په ثابت ډول تر ۵۴ سانتي ګراد درجو پورې رسول کیږي او دانې د همدې تودوخې لاندې شاوخوا ۱۰ دقیقې ساتل کیږي، چې له امله یې فعال شوی مایسیلیم له منځه ځي [۱].
- د لمر د تودوخې پواسطه درملنه: دا کړنه په هغه سیمو کې چې تودوخې لوړه درجه ولري په پراخه توګه کارول کیږي. په دې طریقه کې شکمنې دانې لومړۍ په هوارو او کم ژورو لوښو کې په اوبو کې لندیږي څو د اوبو سطحه د دانې له سطحې څخه شاوخوا ۲ انچه لوړه وي. وروسته دا لوښي د اوړي د لمر مستقیمو وړانګو ته د شاوخوا ۴ تر ۶ ساعتونو لپاره اېښودل کیږي، یعنې له سهار ۸ بجو څخه تر غرمې ۱۲ بجو پورې. د دې مودې په جریان کې، د فنګس غیر فعال مایسیلیم فعالیږي. تر دې وروسته اوبه تویږي او نرمې شوې دانې د غرمې په لمر کې د خښتو پر فرش په نرۍ طبقه خپریږي، څو وچې شي. په هغو سیمو کې، چې هوا نسبتاً یخه وي، سپارښتنه کیږي چې د دانې د خپرولو او وچولو لپاره له ګالوانیزه اوسپنیزو (Galvanized iron) پاڼو څخه کار واخیستل شي، ځکه چې دا پاڼې تودوخه ښه جذبوي. دا درملنه فعال شوی مایسیلیم له منځه وړي. (Luthra) وموندله چې نومورې طریقه په هغه سیمو کې چې د ورځې ډیره لوړه تودوخه ولري ډېره اغېزمنه او موثره ده [۱۹].

۵: مقاومې نوعې

د لوخ تورکي د کنټرول تر ټولو اغېزمنه لاره د ناروغۍ پر وړاندې د مقاومت لرونکو ورایټیو کارول دي[۱۹]. همدارنګه، هغه تصدیق شوي تخمونه چې له فنګسي ــ پتوجنونو څخه پاک وي، د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره تر ټولو غوره او خوندي لاره ګڼل کیږي [۹].

مهمې مقاومې ورایټۍ لکه HS ، HD2236, WL2087, WL2053, WL1804, WL1798, WL1567, WL1541 277, KRL 210, MACS 2846 MACS 2971, VL 829 A-9-30-1 GW 1189, HD 4672, HI 8498, HI 8627, HI 8663, MPO .1215, NIDW 295, PDW 233 PDW 291, WH 896 [۱۹،۴].

٦: بیولوژیکي کنټرول

د Dharam and Maheshwari, (1998) له مخې، د غنمو لوخ تورکي ناروغي چې د *Ustilago tritici* له خوا رامنځته کېږي، نردې په بشپړ ډول د تخم د درملنې پواسطه کنټرولیږي، کله چې لاندې بیولوژیکي عاملین د Vitavax په ۰.۱۲۵٪ غلظت سره یوځای وکارول شي :

- *Trichoderma viride*
- *Trichoderma harzianum*
- *Pseudomonas fluorescens*
- *Gliocladium virens* . [۴]

۱جدول: د بیولوژیکي اجنټونو اغېز پر د لوخ تورکي د اخته کېدو سلنه او د کروندې د نیالګیو د راټوکېدو (Emergence) سلنه

درملنه (Treatments)	د تخم درملنه/ لندول	دوز (%)	د اخته کېدو سلنه (Percent infection) 96–97	97–98	98–99	منځنی	د راټوکېدو سلنه د فصل پر مهال (Per cent emergence during) 96–97	97–98	98–99	منځنی
Trichoderma viride	سلېرۍ (Slurry)	0.4	6.13	9.94	2.14	6.06	25,82	33,09	42,64	33,85
Trichoderma harzianum	سلېرۍ	0.4	5.54	11.19	1.38	6.03	23,75	40,11	41,00	34,95
Pseudomonas fluorescence	٦ ساعته لندول	4.0	7.79	18.28	3.74	9.93	33,98	50,83	50,27	45,00
Vitavax	وچ (Dry)	0.125	0.85	3.53	1.23	1.87	25,74	57,97	51,12	44,94
Trichoderma viride + vitavax	سلېرۍ + وچ	0.3 + 0.125	1.03	0.07	0.80	0.63	37,25	41,03	40,76	39,68
Trichoderma harzianum + vitavax	سلېرۍ + وچ	0.3 + 0.125	1.85	0.02	0.38	0.75	27,63	38,62	46,12	37,45
Pseudomonas fluorescence + vitavax	٦ ساعته لندول	4.0 + 0.125	0.27	0.28	0.83	0.46	32,93	52,27	50,46	44,22
Gliocladium virens	۱۲ ساعته لندول	10^6سپور/ملي لیتر	8.13	17.69	2.81	9.54	35,74	49,39	49,95	43,69
G. virens + vitavax	۱۲ ساعته لندول + وچ	10^6 سپور/ ملي لیتر + 0.125	NT	0.15	0.33	0.24	NT	38,37	48,14	43,42
Water soaking	۲۴ ساعته	—	7.74	16.92	1.97	8.87	40,84	47,48	49,89	46,07
Nimbesidine	وچ	0.5	5.03	14.98	1.81	7.27	24,81	46,48	44,56	38,62
Vitavax	وچ	0.25	0.25	1.58	0.73	0.85	28,04	47,94	44,60	40,19
Untreated control	—	—	5.20	16.37	3.18	8.25	25,89	49,60	41,34	38,94
(CD at 5%)			2,11	3,54	1,09		8,70	7,05	5,72	
د لوخ تورکي اخته کېدل د جنین د شمېرې (Embryo count) پر بنسټ:			4,25	19,57	4,19					

NT : نه دی ازمویل شوی (Not Tested)

(Adopted from Dharam Singh and V.K. Maheshwarl, 1998)

۷: کیمیاوي کنټرول

د لوخ تورکي ناروغي پر وړاندې لاندې کیمیاوي مرکبات کارول کېږي لکه:

- هغه کیمیاوي مواد چې د تخم سره معامله کیږي: کاربوکســزامایډ(Carboxamide) ډوله د تخم درملنې مواد لکه فینوفورام (Fenfuram) او ټیبوکونازول (Tebuconazole) [۴].

- هغه کیمیاوي مواد چې سیستمیکي اغېزې لري، لکه: کاربوکسین(Carboxin) تایوبیندازول(Thiabendazole)، ترایډیمینول(Triadimenol)، فلوټریافول (Flutriafol)، ویتاواکس (Vitavax) او د پلانټاواکس (Plantvax) په نومونو بازار ته وړاندې کیږي[۱۹].
- د لوښ تورکي پر وړاندې اغېزمن فنګس وژونکي عبارت دي له: بینومایل (Benomyl)، کاربوکسین (Carboxin)، ایتاکونازول (Etaconazole)، ډیپینوکونازول (Difenoconazole)، ایتایل ترایانول (Ethyltrianol)، کارباتین (Carbatiin)، فلوټریافول (Flutriafol) او ترایډیمنول(Triadimenol)[۱۱].

پایله

د غنمو لوښ تورکی(Ustilago tritici) ناروغي چې د غنمو له مهمو تخم لېږدونکو فنګسي ــ ناروغیو څخه ده، چې په نړۍ او افغانستان کې د غنمو د تولید لپاره جدي ګواښ بلل کېږي. دا ناروغي د ګل کولو پر مهال، په ځانګړي ډول د یخو او لمدو اقلیمي شرایطو لاندې، په بریالۍ توګه اخته کېدنه رامنځته کوي او که څه هم عمومي خپرېدنه یې اکثره وختونه ټیټه وي، خو د ناروغۍ لپاره د مناسبو اقلیمي شرایطو لاندې د زیاتو حاصلاتو له منځه تللو باعث ګرځي، او په پایله کې د پام وړ اقتصادي زیانونه رامنځته کوي. د ناروغۍ د عامل فنګس ځانګړی ژوند دوران، چې پکې پتوجن په تخم کې په غیر فعاله ډول پاتې کېږي او د نبات له ودې سره یوځای فعالیږي، د دې ناروغۍ کنټرول ستونزمن کړی دی.

د ناروغۍ د بیولوژۍ، وبایي حالت او علایمو ارزونه څرګندوي چې د فصل په جریان کې مستقیم کنټرول اغېزمن نه دی، بلکې د ناروغۍ د مخنیوي لپاره باید د هر اړخیز مدیریت تګلارې عملي شي. د تصدیق شوو او سالمو تخمونو کارول، د مقاومت لرونکو ورایټیو کرل، د تخم فزیکي (د ګرمو اوبو او لمریزې تودوخې) او کیمیاوي درملنه، کرنیزې عملیې، کرنیز تناوب، قرنطیني تدابیر او د اړتیا په صورت کې بیولوژیکي او کیمیاوي کنټرول، د ناروغۍ د شدت او اقتصادي زیان د کمولو لپاره اغېزمنې لارې بلل کېږي.

په ټوله کې، د غنمو د لوښ تورکي اغېزمن مدیریت یوازې د یوې طریقې په کارولو سره ممکن نه دی، بلکې د مخنیوي پر بنسټ ولاړه د ناروغۍ هر اړخیز مدیریت د دې ناروغۍ د دوامدار کنټرول تر ټولو عملي او علمي لاره ده، چې د غنمو د حاصل خوندیتوب، کیفیت او ثبات تضمینولی شي.

وړاندیزونه

په راتلونکي کې د لوښ تورکي ناروغۍ په مخنیوي او څېړنو کې باید پر لاندې اړخونو تمرکز وشي.

۱- د غنمو لوښ تورکي په مقابل کې د کوربه مقاومت.

۲- د غنمو لوښ تورکي په مقابل کې د مقاومو ډولونو رامنځته کېدنه.

۳ـ د غنمو لوښ تورکي د کنترول او مدیریت لپاره په ساحه کې د مختلفو میتودونو په واسطه څېړنې ترسره کول.

Identification and Integrated Management of Loose Smut Disease of Wheat

Abdul Aziz Waziri and Mohammad Raza Khostai, Agriculture Faculty, Department of Plant Protection, Shaikh Zayed University

Email address: abdulazizwaziri@gmail.com

Abstract:
Wheat (Triticum aestivum L.) is one of the most important staple cereal crops worldwide and plays a vital role in food security and agricultural production in Afghanistan. Wheat loose smut, caused by *Ustilago tritici*, is a serious seed-borne fungal disease that can significantly reduce wheat yield. The disease causes high losses during flowering, especially under cool and humid climatic conditions, and although its prevalence is often low, it can destroy up to 100% of the yield of infected plants. Several fungicides are available for the management of wheat loose smut; however, their practical application is constrained by high costs, environmental concerns, and limited accessibility to farmers. This review aims to critically assess the available scientific information on the causal agent, life cycle, epidemiology, yield losses and integrated management strategies of wheat loose smut. Relevant scientific literature, peer-reviewed journals, and reliable online databases were systematically reviewed. The results show that the use of certified seeds, resistant varieties, physical seed treatments, agricultural practices, crop rotation, biological control, chemical treatments and integrated disease management are considered the most effective methods to reduce the severity of the disease and economic losses.

Keywords: Integrated Disease Management, Loose Smut, Wheat, Seed-Borne Disease

اخځليکونه:

۱. پوپل، محمد اکبر. (۱۳۸۳) ل کال. امراض نباتات مزروعی. مطبعه بهیر، شهرنو، کابل. ص،(۲۷۷)، ۷۶-۸۰.

۲. ډاډمن، محمد آغا. (۱۳۹۱) ل کال. غلې دانې. مومند خپروندويه ټولنه ـ ننگرهار. ص، (۲۵۲)، ۳۶-۳۷.

۳. مددی، عبدالخالد. (۱۴۰۲) هـ .ش کال. امراض نباتات مزروعي. کابل پوهنتون. ص، (۲۸۵)، ۳۲-۳۳.

4. Abrahim, A. (2019). Loose smut of wheat (Ustilago tritici) and its managements. *Journal of Biology, Agriculture and Healthcare*, *9*(8), 25-33.
5. Anjum, T., Fatima, S., & Amjad, S. (2012). Physiological changes in wheat during development of loose smut. *Tropical Plant Pathology*, *37*, 102-107.
6. Arshad S, Shafqat A (2012) Food security indicators, distribution and techniques for agriculture sustainability in Pakistan. International Journal of Applied Science and Technology, 2(5).
7. Agrios, G. N. (2005). *Plant Pathology.* New York: ACADIMIC PRESS, INC .115-126.
8. Badar, R., Ahmed, A., Munazir, M., Javaid, S., Waheed, H., Mehmood, R., ... & Firdous, S. Anti-Ustilago tritici potential of aqueous extracts of selected plant species against loose smut of wheat.
9. Chaudhary, R., & Pujari, M. (2021). Major diseases of wheat and their management: a review. *Plant Archives (09725210)*, *21*(2).
10. Curtis, B.C.; Rajaram, S. and Gomez Macpherson, H. (2002). Bread Wheat; Improvement and Production. FAO Plant Production and Protection Series No. 30. FAO, Rome.
11. Fuentes-Dávila, G., Goates, B. J., Thomas, P., Nielsen, J., & Ballantyne, B. (2002). Smut diseases. *Bread Wheat: Improvement and Production*, *567*.
12. Haggag, W. M. (2013). Wheat diseases in Egypt and its management. *Journal of Applied Sciences Research*, *9*(1), 46-50.
13. Kayim, M., Nawaz, H., & Alsalmo, A. (2022). Fungal diseases of wheat. In *Wheat-Recent Advances*. IntechOpen.
14. Kumar, D., & Kukreja, V. (2022, March). Quantifying the severity of loose smut in wheat using MRCNN. In *2022 International Conference on Decision Aid Sciences and Applications (DASA)* (pp. 630-634). IEEE.
15. Kaur, G., Sharma, I., & Sharma, R. C. (2014). Characterization of Ustilago segetum tritici causing loose smut of wheat in northwestern India. *Canadian Journal of Plant Pathology*, *36*(3), 360-366.
16. Simón, M. R., Börner, A., & Struik, P. C. (2021). Fungal wheat diseases: etiology, breeding, and integrated management. *Frontiers in plant science*, *12*, 671060
17. Sumner, D. R. (2018). Crop rotation and plant productivity. In *Handbook of agricultural productivity* (pp. 273-314). CRC Press.
18. Singh, D. P., Sharma, A. K., Karwasra, S. S., Jain, S. K., Pant, S. K., Sharma, I. N. D. U., ... & Bansal, R. K. (2017). Resistance in Indian wheat and triticale against loose smut caused by Ustilago tritici. *Indian Phytopathol*, *70*(1), 131-133.
19. Yadav, R. (2020). Loose Smut of Wheat.
20. Yan, H., Zhang, J., Ma, D., & Yin, J. (2019). qPCR and loop mediated isothermal amplification for rapid detection of Ustilago tritici. *PeerJ*, *7*, e7766.

Shaikh Zayed

Quarterly Academic and Research Journal 2026, No: 42

Editorial Board

- **Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assot. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assot. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **Assist. Prof. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**